په افغانستان کي مهمي تاريخي پيښي

مؤلف

م، ج «سيال» مومند

چهاپونکے

يونيورسټي بک ايجنسی
خيبر بازار ـــــــ پيښور

په افغانستان کې مهمې

تاریخي پېښې

مؤلف : م. ج «سیال» مومند

چاپوونکی

یونیورسټي بُک ایجنسی

خیبر بازار ــــــ پېښور

دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم : په افغانستان کې مهمې تاریخي پېښې

مؤلف : م . ج "سیال" مومند

دچاپ کال : ۱۹۸۹ ع

خپرونکی : یونیورسټی بک ایجنسي پشاور

خطاط : خان بهادر "سرچوال"

قیمت : -/۳۰

دچاپ شمېر : یوزر ۱۰۰۰ ټوکه

انتساب او اهداء

د افغاني مبارزینو په درانه نوم

م ج "سیال" مومند

فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سریزه

تاریخ د یو قام آئینه گڼلی شي او ځینې عالمان خو وائي چې تاریخ د قوم حافظه ده. نو په دی حساب که سړی د افغان ننگیالی او میړني ملت تاریخ وگوري . نو ضرور به د دې ملت شهامت ، غیرت ، حمیت شجاعت او قوي اراده او پوخ عزم ور ښکاره شي او د براعظم ایشیا په زړه کې چې دا قوم تل د تاریخ په قلمرو کې هر وخت او هره زمانه د پردو د تاړاکونو یرغلونو او ظلم او ستمونو سره مخامخ شوي دي او د هر زورزیږ تیری کونکي په مقابل کې یې مقاومت او رشادت او خپله میړانه یې ښودلې ده نو په رښتیا او په حقه دا قوم د ستاینې وړ دی ما په دې کتاب کې کوشش کړی دی چې د دغو لوستونکو ته یواځې او یواځې د پردو د یرغلونو او چپاوونو او د دې ننگیالی ملت د دفاع او مقاومت او د آزادۍ او خپلواکۍ په لار کې د دوی مبارزه او مجادله او د خپل وطن سره مینه او علاقه او د خپلې خاورې

د تمامیت او خپل ملي حاکمیت سره اړیکي وښایم او درانه لوستونکي په دې پوه شي چې دې قوم تل او هر وخت د زورګیرو مخنیوی کړی دی او د هر زورګیر په مقابل کې جنګیدلي دي او قربانۍ او فداکارۍ یې ورکړي دي او خپل وطن او خاوره یې د پردو یرغلګرو نه ساتلې ده او دا د تېرو زمانو یادله دې کېله شوی دی چې محترم لوستونکی پوه شي چې د دې قوم مقاومت او دآزادۍ مبارزه یوازې په دې زمانه کې د روس د زورګیرۍ او یرغلګرۍ په مقابل کې نه ده شوې بلکه په هره زمانه کې پرله پسې دې قوم خپل ملي سنت او ملي پت او عزت له پرد ونه ساتلی او خوندي کړی دی د روسي یرغل د اخوږه او د غم او اندوه نه ډکه قصه اوږده او خاتله کتاب نه کتابونه غواړي او ما او نورو درنو لیکوالو ډېر یاد داشتونه را ټول کړي دي که څه وخت د روس او د هغه دګوډاګیانو سره د افغان مسلمان ملت دا ړ د- آزادۍ او خپلواکۍ جهاد سرته ورسېده او افغاني ملت چې په خپلو پښو ودریږي نو د دې غمجنو پېښو په داستان به ډېر څه ولیکل شي او د دې جهاد او جنګ نظامي ، سیاسي او اقتصادي خواوې به وڅېړل شي او د دې جنګ د ماتې او فتحې عوامل به ښکاره کړی شي او دا کار خاتله او ښه کافي وخت غواړي او په دې کتاب کې یې ځای کول بې موقع او مشکل و نوله دې امله چې دا

د آزادۍ جنګ لا خلاص نه دی او قطعي نتيجه يې لا نه ده معلومه نو موږ نه دا مهم کار بل فرصت ته پرېښودلو، که عمر وو زه او زما د وخت نور محترم ليکوال به دا کار ضرور کوي او د ړنو لوستونکو ته به وېرې درد ناکې او زړه وړونکې او د زړه دردونکې قصې - وړاندې کړي انشاء الله او زه د لته نور د افغان ننګيالي او غيرتي او مېړني مسلمان ملت د برې او برم په هيله بس کوم او د دې تورېالي قام برې او برم د لوی متعال خدای نه غواړم.

و ما توفيقي الا بالله عليه توکلت و اليه أنيب ط

"سيال" مومند

مارچ : ۱۹۸۹ع

هغه افغاني اشخاص چي د عربي تسلط په مقابل کي يي قيام کړی دی

لکه قارن سوري[۱]، نيزک، بازان[۲]، حبان[۳]، سندباد[۴]، استادسيس[۵] اذرويه، ابرم، ابومسلم خراساني، برمکي کورنۍ، د ال سهل کورنۍ حمزه، طاهر، او يعقوب او نور دي

(۱)- دا د سوري کورنۍ يو نامتو شخص وو.

(۲)- بازان د مرو او د ‹اوسني باديغيس› امير وو. ‹ مير تاريخ ›.

(۳) - حبان هغه څوک وو چي قتيبه سره يي مقابله وکړه او اخر قتيبه عرب افسر ،

وو وژل شو.

(۴)- سندباد د هرات په غرب کي د يو کلي هر دانف او سيدونکی زردشتي وو

او د عباسي دولت سره يي جنګونه کړي او اخر مات شو په طبرستان

کي په يو کورکي خپل کوربه و وژلو او سر يي عباسي خليفه ته ولېږلو.

(۵) استادسيس د هرات يو بوه مشر وو چي اخر عباسيانو مړ کړه ‹ مرجيله › د هغه لور وه

چي هارون الرشيد ښځه او مامون د هغې ځوی و.

ابو مسلم خراساني :

اصلي نوم يې عبدالرحمن وو او په ۷۲۰ ميلادي د سفيد نج (سپيدمن) په کلي کې چې د ابنار (وسني سرپل) د مضافاتو نه وو چې د افغانستان په شمال کې د جوزجان په ولايت کې واقع دی پيدا شوی دی تحصيل يې وکړی وو په عرفه پوهېده، منځ ميانه ونه يې وه او غنم رنګه جذابه څېره يې لرله او زړور سړی وو ده د عربي حاکمانو د استبداد په مقابل کې پاڅون وکړو او په (۱۲۹) هـ برابر (۷۴۶ م) په پنځم د رمضان په مرو کې د اموي خلافت نه په بغاوت لاس پورې کړ او په (۷۴۲ م) کې يې مرو آزاده کړه او تر (۷۴۸ م) پورې يې ټول افغانستان د امويانو نه آزاد کړو او په (۷۵۰ م) کې يې کوفه ونيوله او د عباسي کورنۍ پټ غړی يې د بند نه راخلاص کړو، چې د دوی وروڼه وو، عبدالله سفاح يې د عباسي خلافت لومړی خليفه وټاکلو او بل ورور يې منصور دوانيقي چې ور سره وو او وزير يې ورسره ابوسلمه جعفر همداني مقرر کړو او اموي ورستنی خليفه يې (حمار) د تېښتې په وخت کې چې مصر ته تللو په ذات السلاسل کې ونيولو او ووژل شو او د اموي دولت د اموي کورنۍ د خلافت خاتمه وشوه[1]. او عباسي.

---

(۱)- اموي دولت په (۶۶۱ م) کې د خلفاء راشدينو نه پس منځ ته راغی، د خلفاء راشدينو زمانه (۳۰) کاله وه.

خلافت منځ ته راغی - په (۷۵۳م) کې ابومسلم د حج بیت الله د پاره ورغی سفاح لاژوندی وو بنه استقبال وکړو خو د حج په ورځو کې سفاح مړشو او ورور یې منصور د واینتي په (۷۵۳م) کې خلیفه شو او همغه په دغه کال ابومسلم مېلمه کړ او په چل دربار کې یې ووژلو.

په افغانستان کې صفاري دولت

د ۸۷۲م نه تر ۹۱۰م پورې

یعقوب لیث صفاری

دا ځوان د سیستان د یو کلي قرنین او سیدونکی وو او په زرنج کې د یومس گرسره د ورځې په نیم درم مزدور وو او بیا د عیارانو د ډلې سره یو ځای شو بیا د دلته د ابنکاره شوې په دغه وخت کې د اموي خلافت د نارضایانو نه په افغانستان کې د وه- مهمې ډلې چې یوه د مطوعه په نوم وه او بله ډله د عیارانو په نوم مشهوره وه موجودې وې د ایرو ول حزبی تشکیلات وو او کله ناکله به یې لارې هم وهلې د دغه ډلو او سیني اثار د افغانستان په نورو ځایونو کې هم را پیدا شوي دي لکه په قندهار کې د

،خوان، په نوم او په کابل کې دکا کپه نوم دوست بچه ادر ، بچه بهائی، پیرو بچه ادی، کاکه طلا کاکه نقره کا کا شکور ، میرزا عبدالعزیز، لنگر زمین صوفي غني او په کابل کې نورې داسې ځوانې ولې وې د کابل کاکه گانو په پاین چوک شور بازار، اوچنداول کې او مراد خانۍ کې دیرې وې او ولې یې لرلې- د وی به مخصوص پټکی ترل شمله به یې آن د پښو پورې زنګېدله ، او د دوی بقایا او اثار تر شلمې پیرۍ پورې وو- خبره بل پلو لاړه اصل بحث دا وچې یعقوب لوړی د عیارانو په ډله کې شامل وو او بنه قدرت یې وموندلو خو هرڅه به یې چې پیدا کول په ملګرو به یې خرڅ کول- بنه رسوخ یې پیدا کې آخو دی او صالح سره وجنګېدل او صالح یې مغلوب کړو، په «۸۵۸م»، کې درهم بن نصر سیستانی چې د صالح مطوعه یو افسر وو د سیستان امیر شو او یعقوب یې سپه سالار شو د وه کاله پس په «۸۶۰م» کې یعقوب درهم بن نصر د امارت نه خلع کړو او پخپله یې د امارت اعلان وکړو- او اخر په «۸۷۸م» کې وفات شو د افغانستا متمرکز کړو او لومړی بادشاه وو چې د عباسي خلیفه سره به یې په خطبه کې نوم یو ځای یادېدلو او په دغه کال «۸۷۸م»، کې یې ورور عمرلیث بادشاه شو د دې کورنۍ سلطنت تر «۹۲۳»، یا اخر د لسم قرنه پورې دوام وکړو.

د افغانستان ساماني دولت

د ۸۹۲ نه تر ۹۹۹ پورې

د سامان کورنۍ د بلخ او سيد ونکي وو او په زردشتي دين وو. سامان خدا د دې کورنۍ مؤسس او د بلخ دلويانو نه وو او د بلخ حاکم وو د خراسان عربي والي «اسد» دا تر قرنه په نيمائي کې د سامان سره اشنا او دوست شو او سامان دهغه په تلقين مسلمان شو او د خپل ځوی نوم يې اسد کېښود. د سامان زامن لايق سړي وو په نهمه پېړۍ کې د عباسي خليفه مامون په وخت کې د ماوراءالنهر او هرات حاکمان مقرر شو د هغوی نه نوح په سمرقند او احمد په فرغانه او الياس په هرات کې حاکم مقرر شو ابراهيم د الياس ځوی وروسته د طاهري دولت سپه سالار شو. احمد په فرغانه کې په «۸۷۴م» کې مړ شو او ځوی يې نصر يې په سمرقند کې حاکم شو او د نصر ورور اسمعيل په بخارا کې حاکم شو او دا سړی وو چې د ساماني - حسابي دولت اساس يې په «۸۹۲م» کې کېښود خو په «۹۹۹م» کې پايتخت ترک ايلک خان ته تسليم شو او ساماني دورد هدلته ختم شو - او امير عبدالملک دوم ساماني باد شاه د

ایلک خانیه وه په بند کې مړ شو او سامانیانو قصه م دلته
د تاریخ پاڼو ته وسپارله شوه .

د افغانستان دغزنویانو دولت

د ۹۶۲ نه ۱۱۴۸ میلادي پورې

الپتګین د ساماني دربار یو ترکي ژبی غلام ؤ او په شاهي ګارډ کې شامل او آفسر شو او لږ وروسته په لویه رتبه - حاجب الحجاب مامور شو او په (۹۵۶م) کې د بلخ په حکومت مقرر شو او په (۹۵۹م) کال د افغانستان د شمالي ولایت والي او د فوځ سپه سالار مقرر شو او د اپه ساماني دولت کې لوړ مقام وو. په (۹۶۰م) کې عبدالملک ساماني امیر په بخارا کې مړ شو او الپتګین د هغه وزیر ابوعلي بلعمی ته ویلي چې د-هغه ځوی باد شاه که خود دربار متنفذ و امرا و د هغه ورور منصور باد شاه کړه، نوی باد شاه منصور ساماني په (۹۶۱م) کال کې په الپتګین پسې بلخ ته لښکر وکړه الپتګین په خلم کې دغه لښکر ته ماتې ورکړه خوځان یې د افغانستان زړه غزني ته ورساوه. او غزني په توره د ابوبکر ویژک د هغه ځای د حاکم نه ونیوله او په (۹۶۲م) کې هلته یې دیر محلي مستقل

حکومت تادا وکمزور ساماني بادشاه د حکم د ماتي نه پس د -
الپتگین سره پوست او خوږ شو او د خراسان د حکومت فرمان
یې ورته راولیږلو. الپتگین په (۹۶۴م)، کې مړ شو او د غزني -
حکومت د هغه زوی ابراهیم ته په لاس ورغی او بیایې افسرانو
بلکاتگین او پیراتگین ته په لاس ورغی. د وی ۱۳ کاله یو په بل
پسې محلي حکومت وکړ و خو حدود یې صرف د غزنې علاقه ږه پورې
گرځیږ کې بل محلي حکومت موجود وو.

سبکتگین

په (۹۷۷م)، کې سبکتگین نوی مسلمان شوی د الپتگین ریم (غلام)
حاکم شو او هم دی د غزنوی دولت مؤسس وو او د خراسان د
امیر عنوان یې غوره کړه او زر یې ورپسې د بُست بنه و دانه صوبه
(ایالت)، هم رالاندې کړه او د غه ایالت یې د بای توز د هغه -
ځای د محلي حاکم نه ونیولو او د بست مشهور عالم او ادیب -
(ابوالفتح بستي)، خپل د بیر مقرر کړه. او ورپسې خضدار هم په -
بلوچستان کې ونیولو او په (۹۸۶م)، کې د کابل برهمن شاهانو
سره وجنگید او د لغمان ولایت یې ترې ونیو. او د اسلام د دین
خورول یې پیل کړه. د برهمن دولت چې لږ و وړ د وه سوه

کاله د عربو او اسلام په مقابل کې جنگېدلي وو سبکتگين لمن يې تر پېښاوره وررټوله کړه ، برهمن شاهان د اټک په غاړه په « ويهند » کې پاتې شوه .

په دغه وخت کې د بخارا دولت کمزوری شوی وو او دلوی خانانو لکه د فايق او سيمجور د لاس لوبونې وو کله به يې يو شان لوباوه او کله بل شان ! سبکتگين د بخارا په کومک وو رپاڅېد او دغه د واړه سړي وجنگېد او ماتې يې ورکړه سيمجور بندي شو او فايق وتښتېد . په (۹۹۳ م) کال کې سبکتگين هرات هم ونيولو او وروسته نيشاپور م را لاندې کړ وو په دې ډول يې د افغانستان په شمول د تخار ، بلخ ، هرات ، نيشاپور ، بست ، بلوچستان ، د سند د رود تر غاړو پورې په ټولو ساحاتو کې زمکې را لاندې کړې او سياسي وحدت يې تامين کړ وو ، په (۹۹۷ م) کې امير سبکتگين په افغانستان کې او ساماني امير نوح په بخارا کې مړ شو .

سلطان محمود غزنوي

د ۹۹۸ نه تر ۱۰۳۰ ميلادي پورې

سبکتگين د سلطان محمود پلار چې مړ کېده نو محمود په نيشاپور کې وو او (۲۷) کلن وو هلته يې خپله بادشاهي اعلان کړه خو ورور يې اسمعيل په بلخ کې د خپلې بادشاهۍ اعلان کړی وو - د واړه

وروسته په غزني کې سره مخامخ شو او اسمعیل ماتې وکړه او بندي کړی شو او جوزجان ته یې واستولو. بندي وو تر څو چې مړ شو. محمود ساماني لښکر و ته په مروه کې هم ماتې ورکړه او ترې یې تری وشړلو او د بغداد خلیفه مشرور لکه څنګه چې معمول وو ده ته په (۹۹۹م) کال کې رالیږلی او محمود د مملکت د داخلي اداري مترکز کولو ته په پام شو د غرجستان مرکز (افشین) یې د شاه ابونصر نه ونیولو- او د سیستان مرکز (قلعه طاق) د خلف بن احمد صفاري امیر نه رالاندې کړو.

د شرق په محاذ محمود په (۱۰۰۱م) کې برهمن باد شاه جیپال ته ماتې ورکړه او د ویهند مرکز یې د اباسیند په غاړه یې ترې ونیولو او پیښاور یې خپل عسکري مرکز کړو او په (۱۰۰۵م) کې د گومل په لار ملتان ته ورغی او د هغه ځای حکومت یې د اسمعیلي مذهب حاکم نه ونیولو، په (۱۰۰۷م) کې یې په پنجاب حمله وکړه په (۱۰۱۴م) کې یې تانسیر او په (۱۰۱۵م) کې یې کشمیر او په (۱۰۱۷م) کې یې قنوج فتح کړو په (۱۰۲۵م) کې د برهمن شاهانو مرکز بتهنډه یې د ستلج په چپه غاړه د منځ نه ویوړه او گوالیار او کالنجر یې په (۱۰۲۲م) کې ونیولي وو او سومنات یې هم په (۱۱۲۵م) کې فتح شوي وو. او په دغه کال مکران هم نیولی شوي وو او ري، وسنی طهران، همدان او اصفهان په (۱۱۲۸م) کې مجدالدوله د ایلمی نه ونیول شو او د افغانستان قلمرو

د ایران د قزوین نه د شمالي هندوستان د ستلج ترغاړو رسیدلي وو. سلطان محمود آخر په (۱۰۳۰م) کښې (۵۹) کلن وفات شو محمود ښه قوي وجود لرلو او په سورلئ او د هر ډول وسلې په استعمال کې ماهر وو که څه هم په عربي ژبه نه پوهېده خو د ادبي او دیني او اسلامي تاریخ نه ښه خبر وو. د محمود په دربار کې ډېر لوی عالمان، ادیبان او شاعران وو.

د محمود د وفات نه پس یې ځوی محمد د جوزجان نه غزنۍ ته راغی او د خپلې باد شاهۍ اعلان یې وکړو او په عیش او عشرت یې شروع وکړه. خو ورور یې مسعود چې په ایران کې حاکم وو ورپسې راغی محمد خو لا مخکې د سلطان محمود افسرانو نیولی وو او د مندېش په قلعه غور کې بندي وو مسعود د اصفهان نه چې راغی، نو خپل ورور یې محمد چې د سلطنت مدعي وو ړوند کړو او د خپل سلطنت اعلان یې وکړو.

سلطان مسعود

د ۱۰۳۰ نه تر ۱۰۴۱م پورې

مسعود ښه زده کړې کړې وه په فارسي، عربي او ترکي ژبو ښه پوهېده، ښه قوي وجود یې لاره او ښه زړور او مستبد خو

خواه او بدګمانه ، حریص او تجمل پسندسړی وو ؛ د خپل پلار د د لبار مجرب او د کار پوه اشخاص یې خوږ ځ بندیان کړه او چانه یې مال او جایداد ضبط کړه. مسعود د څه حده پورې په د باندې سیاست کې موفق وو خو په داخلي سیاست کې پاتې ووڅپل د دربار مشران ترې خفه وو او د شمال له خوا ترکانو بغاوت کولو او هرات او مرو او ترس او چغانیان به یې تالا کول. دالتونتاش خوی هارون د خوارزم د پلوه د غزني والي د بخارا د بادشاه علي تګین په مقابل کې کمزوری وو او د مسعود د دوه رنګه پالیسی نه خفه وو او د خپل استقلال اعلان یې وکړ. د مسعود خپل رعیت هم خفه وو او زیات تمایل د ماوراءالنهر د ترکانو پلو وو او دا وجه وه چې ترکمنان په افغانستان باندې حملې کولو ته زړور شو. مسعود یواځې د ترکانو په باب خطانه وه کړې د علي تګین په باب یې هم سمه لار نه وه نیولې. مسعود د مجلس وزراوو رائې خلاف د ۱۰۳۲م، نه پس د وه وارې په هند حمله وکړه او د سرستي او هنسي قلعه ګانې یې ونیولې او د هغه سالار احمد لا هګې بنارس نیولی وو. هدا رنګه یې ګرګان او ساری او رمل ته هم عسکر ولیږل او په خلکو یې زور زیاتی وکړ او د رمل او طبرستان په خلکو یې یو میلون طلا ، حواله کړې د مسعود د دربار وزیران لکه حسن میمندي

د میمندي

او خواجه عبدالصمد او بونصر مشکان او نور غټان هم د
مسعود د عیاشۍ او خودرائۍ نه شاکي وو ځکه مسعود پخپله عیاش
ؤ او ډېر شراب به یې څښل او د هرې علاقې حاکم به چې ورته
ډېرې تحفې او هدیه رالېږله هغه به یې خوښ وو که څه هم چې
د ده د رعیت د پوستکي نه به یې ورته د غه تحفې جوړولې
د مسعود تاج او تخت په درې کاله کې د میلونو میلونو روپو په
لګښت جوړ شوی وو چې سره طلا پکې کار شوې وه او ډېر
قیمتي جواهر پکې لګېدلي وو - بیهقي د مسعود د دربار مورخ
لیکي چې دغه تجمل او ښکلا چې چا لیدلې وه نو نور هر څه
ورته هیڅ ښکارېده - مسعود څلور زره غلامان لرل چې د
ځینو کمربندونه د سرو زرو وو او د ځینو د سپینو زرو
او ځینو به یې توري مرصع په جواهرو لرلې - مسعود ډېر سخي
هم وو او غنیمتي بخښنې به یې کولې لکه یوه ورځ ابو
نعیم ندیم ته یو میلون روپۍ او علوي شاعر ته یې هم یو میلون
روپۍ وبخښلې او د اختر په ورځ یې عنصري ته یو زر دیناره
ورکړه او سازندو ته یې (۳۰۰۰۰) دیرش زره درهمه ورکړه
او مانک علي میمون حیل صاحب کار ته چې څو زره دیناره او
پسونه باقي وو ټول بخښش کړه خو د خلکو نه به یې په یوه بهانه
او بله بهانه ډېر څه اخیستل - په دې وخت کې د سلطان مسعود

تر شا خپل ملت ولاړ نه وو او لښکریې هم د زړه څه کارنه کول ترکمنانو او سلجوقیانو ته هم دا حال ښه معلوم شو د ـ مسعود په حکومت یې حمله وکړه او مسعود ته یې پرله پسې ماتې ورکړه او د تخارستان نه نیولې تر نیشاپوره پورې علاقې د ـ سلجوقیانو په لاس ورغلې مسعود د غزني نه هند ته روان ـ شو چې په (۱۰۴۱م)، کې خپلو فوځیانو د اتک سره خلع او بندي کړ او سلطنت یې د هغه تره رانده محمد ته وسپاره چې د هغه نه هیڅ نشو کېدلی هغه حکومت خپل ځوی احمد ته حواله کړ واحمد لومړی کار دا وکړ وچې مسعود یې وواژه ـ او غزني ته بیرته را روان شو ـ مودود د مسعود ځوی چې په بلخ کې حاکم وو ـ ورپسې راغی او د جلال آباد او پېښور په منځ لاره کې دا احمد لښکرته ماتې ورکړه او احمد یې سره د کورنۍ وواژه ـ او ـ مودود غزني ته راغی او په تخت کښیناست خو د غزني سلطنت کمزوری شوی وو په (۱۰۴۳م)، کې سلجوقیانو په بست حمله وکړه او په پنجاب کې هم شورش وشو سلطان مودود په (۱۰۴۹) کې مړ شو او په تاج او تخت باندې د شهزادګانو په منځ کې بې اتفاقي او کشمکش جوړ شو خو اخر عبد الرشید د سلطان محمود ځوی سلطنت قبضه کړ وخو زر یې تن منصبدار طغرل عبد الرشید وواژه او ورپسې طغرل هم وو ژل شو او په (۱۰۵۲م)، کې

فرخ زاد باد شاه شو د فرخ زاد د مرګ نه پس په (۱۰۵۸م) کښې
امیر ابراهیم باد شاه شو او هغه ځمکې چې د افغانستان نه -
سلجوقیانو نیولې وې هغوی ته یې پرېښودلې او د هند ته متوجه
شو او په (۱۰۸۳م) کې د دوه درې قلعه ګانې په هندکې ونیولې
خو په (۱۰۸۸م) کښې مړ شو چې (۳۶) ځامن او (۴۰) لوڼه ترې پاتې
شوې د هغوی نه دویم امیر مسعود باد شاه شو چې تر (۱۱۱۴م)
پورې باد شاه وو او مړ شو په دغه کال ارسلان شاه دویم
یې په ځای باد شاه شو هغه چنل خاندان تباه کړو د هغه د-
ظلم نه بهرام شاه د هغه ورور چنل ماما سنجر سلجوقي ته ورغی
سنجر په (۱۱۱۷م) کښې په غزنې لښکر وکړو او ارسلان شاه -
مات شو او بهرام شاه د غزنې باد شاه شو بهرام شاه د چنل
سلطنت په وخت یو تن د غوری کورنۍ یو شهزاده قطب الدین
محمد چې د چنلو ورور نه مرور راغلی وو او په غزنې کې
استوګن وو په څه اشتباه ووژل شو، او په دې کار ترې د-
غوري باد شاهانو کورنۍ سوریان وقار بېده او د قطب الدین
ورور سیف الدین په غزنې پسې لښکر وکړو او غزنې یې
ونیو او بهرام شاه هند ته وتښتېد بهرام شاه بیا په ژمي کې
چې د غور لارې واورو بندې کړې وې په غزنې لښکر وکړو
او سیف الدین غزنی ونیولو او سیف الدین یې ووژو - د

سیف الدین وورور علاوالدین غوري په غزني پسې لښکر وکړ او- بهرام شاه ته یې ماتې ورکړه او په (۱۱۴۸م) کې یې غزنی وران او وسېزه چې په دغه وجه ورته خلک علاوالدین جهانسوز وایي - په (۱۱۵۲م) کې بهرام شاه مړ شو او ځوی یې خسروشاه په (۱۱۴۹م) کې په- غزني کې باچا شو په دې وخت کې د مرکزي آسیا نه کېږدېږ نشینان راپاڅېدل او په شمالي افغانستان راننوتل او نېږوالي جنګونه جوړ شو ایلکخاني ترکانو د سامان دولت ځای ونیولو او سلجوقیان د غزنویانو په ځای راغلل. داد جرت او هجوم سلسله لاروانه وه چې د غز- ترکانو ډلې د ماوراءالنهر نه را ووتلې او سلجوقیانو ته یې ماتې ورکړه او سلطان سنجر سلجوقي یې مات او بندي کړو او په غزني پسې یې هم لښکر وکړو او د غزنویانو وروستنی بادشاه خسروشاه ته یې ماتې ورکړه او مخه لاهور- هند ته وتښتېد او غزنی هم د غزانو په لاس ورغی خو غوریان پسې راپاڅېدل او غزنی یې بېرته د غزانو نه ونګار کړ وخسروشاه او د مغلو خسروملک په یو وروکې حکومت په لاهور کې د (۱۲۰۱م) پورې ګذاره کوله. او هم مغلته یې خاتمه وشوه- او د غور باد شاه محمد سام سوری دی په هند کې بندي کړ او جوزجان ته یې واستاوه تر څو چې شلور کاله پس مړ شو او د غزنوي کورنۍ- چراغ هدلته خاموش او منست شو.

په افغانستان کې دغوریانو دولت دوره

د ۱۱۴۸ نه تر ۱۲۱۴ میلادي پورې

سوري کورنۍ د افغانستان د ملوك الطوايفي زمانې نه دغور د ايالت حکمداري کوله او د اسلام د ظهور نه مخکې د دغه سوري کورنۍ د حاکمانو نه مشهور يو ماهويه سوري ووا وچې يزدګرد ساساني پخواني بادشاه چې د عربو نه راتښتېدلی وو ده وينولو او ويې وژلو او بيا د عربو سره يې مفاهمه وکړه او اسلام يې ومانه خو سوريانو وکړې شو چې خپل محلي استقلال خوندي هم وساتلی شي ، او د دوی جغرافيايي موقعيت او د هوا د سختې يخنۍ زور او سختې د تنګ راتنګ لارې د غوريانو کمکې وې چې په آسانه يې په چا حمله نشوه کولی . او د دوی ساتنه طبيعي اوضاعو تأمينوله .

د اسلام په دوره کې لومړی سوري افغان حکمران امير فولاد د سوري شنسبي نسمی وو چې په اتم قرن کې د خپل ملت د- پاخون سره مل شو او د اموي دولت د ظلم او زور زياتې مخه يې نيوله او د ابو مسلم خراساني سره يې هر دول کمکونه کول امير کروړ د جهان پهلوان يو بل امير د امير فولاد څوی د امير

شنسب نسي او د خرنک کړوسي دی چې ښه شاعر وو او د پښتو ژبې د حماسي اشعارو مؤسس هم دی گڼل شي ځکه چې ﺟم ده په (۱۳۰ هـ) کې په پښتو کې یو ښه پوخ حماسي شعر ویلی دی چې وایي:

زه یم زمری پردې نړۍ له ما اتل نشته

په هند او سند او په تخار او په کابل نشته

...

بل په زابل نشته   له ما اتل نشته

ویل شي چې امیر کروړ په (۱۳۹ هـ) کې په مندیش کې امیر[1] شو او د پښتو ادب کې خاص مقام لري.

امیر پولاد سنجي د دې کورنۍ بل شخص دی چې د اتم قرن په اخرو کې بغداد ته تللی وو او د هارون الرشید عباسي خلیفه نه یې منشور اخیستی وو او امیر سوري د دې کورنۍ دریم سړی دی چې په تاریخ کې یې نوم یاد شوی دی او د یعقوب لیث صفاري باد شاه معاصر ؤ د ده په زمانه ده چې د اسلام دین د غور علاقې ته راغلی وو او خلک مسلمانان شوي وو. د (۱۱) یوولسمې پېړۍ په لومړیو وختونو کې د غزنویانو په غور کې نفوذ وکړ او سلطان محمود د غور محلي حاکم امیر محمد سوري ونیولو خو ده

[1] کتاب امیر کروړ صـ۳ د افغانستان د علومو اکاډمي کابل (۱۳۶۴ هـ.ش) کال، چاپ

په ځای او حکومت یې د هغه حوی بوعلي د هغه ځای حاکم مقرر کړه او هغه په څه اسلحه باب چې د غورجوړه مشهوره وه د غزني دولت ته په خراج کښې ورکوله - د غور غرونه لوړ او سخت وو او د پردو د حملې د پاره آسان نه وو بل په غور کښې د پرې جنګي قلعه ګانې وې چې په آسانه چا وهلی نشوې نوله دې آمله د غور حکومت او ولس ګوښه او ځانله وو او د عربو او افغانستان د مسلمانو حکومتونو د حملو او یرغلونو نه په امان کې وو. خو د غور د خلکو په خپلو منځو کې د لخلی او مذهبي جګړې وې ځنې خلک مسلمانان شوي وو او ځینې نه وو د هغوی په منځو کې به جګړې وې - د بوعلي وراره عباس[1] په حکومت پاڅون وکړو خو سلطان ابراهیم غزنوي د ۱۱ یولسم قرن په دویم نیمائي کې دی ونیولو او بندي شو او حکومت یې د ویم سوري محمد بن عباس ته وسپاره او د هغه نه وروسته - قطب الدین حسن د محمد دوم په ځای کېناست خو د غور د خلکو په پاڅون وکړو او په هغه جنګ جګړو کې ووژل شو عزیز الدین حسین د ده حوی وو چې ادیب او عالم شخص وو د غور توله علاقه یې د خپلو اولادو په منځ کې وېش کړه او په شمال

---

[1] عباس مشهور په منجم وو

کې د سنجر سلجوقي سره هم ځینې مناسبات بنه کړه په دغه وخت کې د غزنوي دولت مخ په ځوړ وو او خونده یې نه وه ـ نوځکه نوخه ښکېږي شان استقلال هم غور موندلی وو ، قطب الدین محمد د هغه خوی او په ځای ناست لا مستقل شو او ملك الجبال عنوان یې غوره کړ او د « فیروزکوه ، بنار ده ور ساده ، اوډ زاړه مرکز په ځای دامرکز وټاکه ، خو په کورنۍ جنګونو اخته شو د دوی د کورنۍ هر یو تن چې څه علاقه یې په لاس کې وه بېلا بېل د استقلال په نشه مست وو او ځانونه یې ـ ځېلواك ګڼل او د قطب الدین محمد سره مخالف وو هغه د ناکامه د غزنی دولت ته پناه ویوړه سلطان بهرام شاه هغه ته ځای ورکړو ـ خولې وروسته په څه بدګمانۍ یې هغه ته زهر ورکړل او قطب الدین یې ووژلو او د سوري کورنۍ د غور واکداران یې په ځان پسې راپاځول ـ لومړی د قطب الدین ورور سیف الدین سوري په غزني حمله وکړه بهرام شاه د ـ غزني نه ووتلو د غزنوي د دولت منرختیزو ولایاتو ته لاړ چې ژمی شو او د غور لارې د یخ نه وتړل شوې او د غور امداد د غزني ته نشو راتللی نو بهرام شاه بیا په غزني حمله وکړه او غزنی یې ونیولو او سیف الدین او د هغه ـ وزیر مجد الدین ووژل او ځوړ ندې کړل په دې خبره

بها والدین سام بن حسین د سیف الدین جانشین په غزني پسې لښکر وکړو خو په لاره کې ناروغه او مړ شو. او ځای یې علاوالدین حسین بن حسین بن سام ونیولو.

علاوالدین حسین جهان سوز

د غوري دولت حسابي مؤسس په (۱۲) قرن کې هم دا علاوالدین دی. دی د عجیبه شخصیت مالک وو. متضادو صفتونه یې لرل زده کړې یې کړې وه د تاریخ او دري ادب نه ښه خبر وو عربي یې هم زده وه او ښه شاعر هم وو. د عیش عشرت شراب او کباب، ساز او سرود شوقین وو او ورسره ښه زړور او جنګ جوړونکی او قسي القلب او سفاك طبیعته وو او ورسره متکبر او چرب ژبانه هم وو. څه وخت چې د غور د حکومت واکدار شو نو زړه یې په غزني پسې لښکر وکړو د ده ته معلومه وه چې غزني کمزوری او سلجوقي دولت هم د کوچیانو ترکانو په غم اخته دی. بهرام شاه علاوالدین ته د صلح مراجعه وکړه خو علاوالدین ونه منله او په ډیرو جنګونو کې چې په زمینداور او تکین آباد او غزني کې وشو بهرام شاه ته یې ماتې ورکړه او په (۱۱۴۸) کې علاوالدین بریالی او د غزني

بنارېي را لاندې کړ او بهرام شاه و تښتېد او خپلو شرقي ولاياتو ته يې پناه وړوړه ترڅو چې په ۱۱۵۲ ام، کې مړ شو.

علاوالدين د بنارونو ناوی غزني سره داسې څه وکړه چې د تاريخ تر اوسه هم يا د دی د غزنی بنارېي لوټ لوټ کړ او ويې سيزلو چې اوه (۷) شواروزه پکې اور بل وو او د هغه وخت مورخ منهاج السراج جوزجانی وايي چې د دود له امله وروځ هم شپه وه غير د سلطان محمود او سلطان مسعود د قبرونو نه نور قبرونه يې هم ونړول - او وه ورځې نورې هم د غزني په کنډ والو کې علاوالدين په عيش او عشرت تېرې کړې، او دا فارسي شعرونه يې وويل؛

جهان داند که سلطان جهانم
چراغ دودهٔ عباسيانم -
علاوالدين حسين بن حسينم
که باقی باد ملک جاودانم

علاوالدين د غزني د سوځولو وروسته چې دافغانستان د اقتصاد، علم او د هنرکان وو او د زماني نه د تمدن زانګوه د قندهار او بست په لاره بېرته غورته لاړ او د سلطان لقب يې غوره کړ د علاوالدين نه پس په ځای ناستو شاهانو د غزني د ودانۍ بيا څه کوشش ونه کړو او د څه نه څه

غزني بيا ودان شو خو د مغلو او چنګيز يرغل داسې پسې وران
کړو چې د پخوانۍ مدنيت نښې نښانې يې له منځه لاړې علاوالدين
چې اوس په جهان سوز مشهور شوی وو د سلجوقيانو نه هم
خراج منع کړو سنجر سلجوقي په غور پسې لښکر وکړو او -
علاوالدين هم مخې ته ورغی خو شپږ زره لښکريې چې اکثر ترکان
غز او خلج وو د علاوالدين نه واوښتل او د سلطان سنجر
سره ودرېدل په دې د علاوالدين ښه په وښوېده لښکرې يې
مات شو او دی بندی شو خو په دې چې ډېر ژبه ور شخص
وو او په سلجوقي دربارکې اثر وکړو او د بند نه په دې
چې سلجوقيانو د نورو کوچيانو غزانو او خوارزم شاهانو -
خطره درلوده نو علاوالدين يې له بنده خوشې کړو او بېرته
د فيروزکوه په حکومت مقرر کړی شو. سنجر په (۱۱۵۲م)
د قراختائيانو د يرغل نه مات شو او په (۱۱۵۳م) کې د خپلو
کوچيانو غزانو د ښمنانو پلاس بندي شو او سلجوقي دولت
هم له نه روستو سلګۍ ووهلې، علاوالدين هم فرصت وموندلو
غوريې سره را ټول کړو او د کشې د علاقې يو زر جنګي قلعه ګانې
ورانې کړې او د چېل حکومت دبدبه يې قايمه کړه وروسته
باميان، تخارستان، ګرم سير، زمينداور، او بست د -
مرغاب د حوزې سره يې راالاندې کړه او ور سره يې غرجستان

او تولک هم وینول خو تخارستان ، بامیان او بدخشان یې چل
مشر وروریې ملک فخرالدین ته ورکړه ، او له دې وخته نه
د بامیانو د حکمدارانو سلسله منځ ته راغله چې د خوارزم شاهانو
تر نفوذه یې د وام وکړ و ـ د ملک فخرالدین نه یې روسته
ځوی شمس الدین محمد د بامیانو امیر شو او د غور د دربار نه
د بلخ ولایت هم ده ته ورکړه شو ـ او غیاث الدین غوري اجازه
ورکړه چې ملک شمس الدین دې تورچتر چې د امارت نښه
ده و دروي ـ او ملک بهاوالدین سام د شمس الدین ځوی د
بامیانو د مشهورو امیرانو نه وو چې یو یې تعصبه سړی ؤ د ـ
علماوو او پوهانو سړی یې چې د هر مذهب به وو منه گذاره
او رویه کوله ، امام فخرالدین رازي د ده په نوم د «بهایه»
رساله ولیکله او تاج الدین زوزني د ده زماني د دربار
ملک الکلام وو او جلال الدین او راسل د ده د وخت د ـ
حکمرانۍ د مرکز قاضي او شیخ الاسلام وو د ده د حکومت د کشمیر
د بریدونو نه ینولی کاشغرستان پورې او ان تر غور د
حدودو پورې وو ـ ملک بهاوالدین «۱۴» کاله حکومت و
کړ او بیا یې ځوی جلال الدین علي په ده پسې او ووه
کاله حکومت وچلاوه خو سلطان «محمد شاه» خوارزم پرې
یرغل وکړ او دی وینولو او مړ یې کړ او د بامیانو

خزانې تالاترغه شوې او د امارت د اسلسله هم دلته غوڅه شوه.

علاوالدين جهانسوز چې د نورو د روم د اول قرن د امپراتور په شان چې خپل پایتخت سېزلی وو غزنی وسېزه او غوښتل یې چې د سکندر په شان د نورو ځمکې رالاندې کړي خو په دې مطلب کې پاتې راغی او حتی چې د نورو ځمکې څه کوي چې د غور خپل لېرختيز حدود یې هم رالاندې نه کړې شوې چې په (۱۱۵۵م) کې مرګ ورته را ورسېد او د ده د تاج او تخت سره مخه ښه وکړه او وفات شو د ده په مرګ د قرمطي فرقه ډېره خفه شوه ځکه چې علاوالدين مذهبي تعصب نه لاره او وله بازې یې نه کوله ځکه خو د اسمعيلي فرقې مبلغين د ازالموت د ایران نه د ده در بار ته راغلل او سلطان علاوالدين یې احترام وکړو او دوی ته یې د تبليغ اجازه هم ورکړه. سره د دې چې فقهاوو د ده په دې وضيعت هم د غزنويانو د پخوانۍ روش نه چپ وو خفه شو د علاوالدين د مرګ نه پس په (۱۱۵۵م) کې یې ځوی سيف الدين محمد د مغه په ځای کېناست مغه کوشش وکړو چې د خپل پلار د ظلمونو ازاله وکړي او خلکو سره یې مينه مدارا او ښه ګذاره کوله خو د فقهاوو د تاثير لاندې وو

او مذهبي تعصب يې لاره او امر يې وکړ چې د اسمعيلي فرقې مبلغين دې ووژل شي او د غور نه دې وشړل شي - په دې وخت کې غزانو د خراسان سلجوقي دولت مات کړی وو او د غزني او غور او غرجستان بريدونو ته رارسيدلي وو -- سيف الدين يې هم د دفاع ته ور پاڅېد او په (۱۱۶۲م) کې د مرو او د مرغاب، او غرجستان پلو ورغي خو د جنګ په ميدان کې د خپل سپه سالار ابوالعباس له خوا په شا په نېزه وواهه شو او ووژل شو سيف الدين ځکه د ابوالعباس ورور په منديش کې ووژلی وو ابوالعباس هغه انتقام واخيست. سيف الدين - غياث الدين او مشهور شهاب الدين د اجيرستان د قلعه د بندي خانې نه خوشې کړه.

ابوالعباس د بيعت لاس غياث الدين ته ورکړ و خو غياث الدين ابوالعباس د خپل تره د ځوی سيف الدين د قتل انتقام کې ووژلو.

د سلطان غیاث الدین زمانه

سلطان غیاث الدین سره د خپله وروره شهاب الدین محمد سام او وه کاله د خپل تره علاو الدین جهانسوز په بندي خانه کښې تېر کړي وو او په لږ معاش يې گذاره کوله. غیاث الدین د سیف الدين د مرګ نه پس په (۱۱۶۲م) کې بادشاه شو او ورور یې شهاب الدین محمد سام د هغه د شاهي گارډ قوماندان مقرر شو. دې دواړو ورونو دافغانستان تللې عظمت بېرته تر لاسه کړو او د خپل واك دری څلوېښت کلن سلطنت په زمانه کښې يې د غزنوي د ورتللي د بدبه بيرته د افغانستان په نصیب کړه او افغاني عظمت بېرته په ځای شو غیاث الدین خپل ورور شهاب الدین محمد سام غوري په غزني او قندهار کښې د فوځ سپه سالار مقرر کړو او بلخ او هرات يې په (۱۱۷۵م) کښې د تاج الدین او علاو الدین سنجری نه ونیول او غزنی په (۱۱۷۳م) د غزانو نه او نیشاپور او مرو په کال (۱۱۷۹م) کښې د خوارزم شاهانو نه بېرته اخیستي وو او غرجستان او تخارستان او سیستان او مکران او گرگان او کابلستان او گردېز هم د غور د مرکز تابع کړي وو او په کال (۱۱۷۸م)

کې ملتان او په کال (۱۱۷۹م) کې پېښور او په کال (۱۱۸۱م) کې لاهور هم فتح شوی وو او ملک شاه د خسرو ملک غزنوي ځوی د غزنویانو ورستني بادشاه [۱] هم یرغمل ونیول شوی چې په غرجستان کې ووژل شو په (۱۱۸۶م) کې پنجاب هم فتح شو شهاب الدین که څه هم د هندوستان د گجرات په جنگ کې د بهیم دیو راڼې نه په (۱۱۷۸م) کې ماتې خوړلې وه، او په کال (۱۱۷۸م) کې بیا د ډیلي سره نژدې پتهو راڼې د راجستان او گاندي راڼې د ډیلي چې دوه لکه لښکر، دري زره پیلان یې درلودل غوریانو ته ماتې ورکړې وه، خو په کال (۱۱۹۱م) کې شهاب الدین بیا پتهو راڼې د راجستان او گاندي راڼې د ډیلي والاته چې دري لکه لښکر یې درلودل ماتې ورکړه او په کال (۱۱۹۲م) کې بنارس د چیچن راڼې نه ونیولو او په کال (۱۱۹۵م) کې تر اگره پورې یې سرقیات او مخکې تګ وکړ، وروسته قطب الدین ایبک د غور والي ډیلي ونیو او د غلته یې پایتخت جوړ کړ. همداډول یې قنوج او نهرواله او بدایون او نور ځایونه ونیول او د سلطان غیاث الدین په نوم خطبه د خذر د بحیرې نه ترجنا تر غاړې او د جیحون نه تر بلوچستانه پورې ویل کېدله؛ او د دې نه

---

(۱) ملک شاه په غرجستان کې ووژل شو (۱۱۸۲م).

ر وروسته مسلمان افغاني دولتونه لکه قطبیسی ، شمیسی ، غیاشیمی خلجیسی ، تغلقیې ، خضرخانیې ، لودي او سوري او کرلاني دولتونه یو په بل پسې د هند په بیلا بیلو علاقو کې منځ ته راغلل چې د دغه لوی ملک په تاریخ او تمدن او فرهنګ کې ډېر اثر پرېښود او شین پېړه د دغه لوی ملک په تاریخ کې یې نوې پاڼې ور ډېرې کړې. د غور د دولت زور د ومره ډېر شوی وو چې ویلی شي د تکش خوارزم شاه د مرګ نه وروسته سلطان محمد خوارزم شاه د منهاج السراج مورخ په قول سلطان غیاث الدین - شهاب الدین غوري ته پیغام راولېږه چې ما په چېل حوزه ولې قبول کړي یعني چپلوي راسره وکړه او که دا نه وي نو زما مور دې سلطان غازی شهاب الدین په نکاح واخلي او ما دې په فرزندي قبول کړي خوارزم شاه په دې چل غوښتل چې نیشاپور او د خراسان ځینې برخې یې په لاس کې ور پاتې شي خو غوري شاهانو دا ونه منله او د خوارزم او غوري دولتونو په منځ کې جګړې پېښې شوې او خوارزم شاه مات شو او شمال مغربي افغانستان یې د لاسه لاړ او سلطان شاه هم چې د کاشغرستان او قراختایانو قوه هم ورسره وه د غوریانو په مقابل کې په (۱۱۹۱م) کې ماتې وکړه. او غوري دولت بنه په زور کې شو عباسي خلیفه مقتضي والناصر د بغداد نه د غور دربار ته سفیران —

«ابن ربیع او ابن خطیب» را ولیږل او غور هم قاضي مجدالدين
قدوه او مولانا سراج منهاج د طبقات ناصري د مؤلف پلار د-
سفیرانو په توګه د بغداد د خلیفه عباسي دربار ته ور ولیږل آخر
سلطان غیاث الدين د «٦٢» کلنۍ په عمر کې په «١٢٠١» کې په هرات کې
مړ شو او هم هلته ښخ دی او ځای او سلطنت یې غازي شهاب الدين
ونیوه.

غازي شهاب الدين غوری؛ شهاب الدين خپل ارث مملکت

په ډېره هوښیارۍ او ښه تدبیر اداره کړه او د خوارزم د
زورور دولت سره یې د دوستۍ معاهدې وکړې خو کله چې «١٢٠٤» کال
د جنګونو نه یې په زړه پورې نتیجه نه وه اخیستې او د قراختایانو
او د ماوراءالنهر د ترکانو چې د ختائی نومیالي جنګیالي تاینکو په
مشرۍ د غوریانو افغانانو سره جنګېده او د جیحون په غاړه
او اندخوی سره نژدې یې افغانانو ته سختې ځپېړې ورکړې
وې اند ښمن وو او غوښتل یې چې د دغې بدل واخلي خو
عمر یې لنډ وو دی د پنجاب د ککرانو یا غیانو په تادیب پسې
هغه خوا ته لاړ او هغه شورشیان یې په قرار کړه خو غزني
ته د بېرته راتګ په لاره د جهلم یا نیلاب او یا داباسیند په
غاړه د شورشیانو یوې ډلې په خپله خېمه کې شهید کړو -
جنازه یې د کرمې په لاره غزني ته راوړله شوه او په غزني
کې ښخ شو او د غور افغاني قوي دولت مخ په ځوړ او توټې

ټوټې شو- د شهاب الدين د مرګ نه پس يې ځاى وراره - محمود بن غياث الدين په کال (۱۲۰۵م) کې ونيوه - خو يې کفايته او مسرف سړى وو د فيروزکوه غټه خزانه چې اته سوه صندوقه طلايي لرلې ټولې په عياشۍ او درباري تجمل ولګولې او دغه ټول ډېره د خوى تاج الدين خزانه يې د يو جشن په ورځ په درباريانو او خلکو وو يشله چې بې شماره طلا او سپينو روپو هميانانې د کې پکې وې او نور ضروف او لوښي هم وو.

د شهاب الدين د مرګ نه پس د افغانستان د غوري دولت مرکزيت پاتې نه شو او لکه مخکې چې ويلې شوي دا لوى دولت ټوټې ټوټې شو او د شهاب الدين افسرانو لکه تاج الدين يلدوز په کرم او غزني او پنجاب او ناصرالدين قباچه په سند او ملتان او قطب الدين ايبک په منځني هند او پنجاب او غياث الدين خلجي په لکهنوتي او غوريه په باميانو او ملک تاج الدين په سيستان کې خپل خپل مستقل حکومتونه اعلان کړه او د افغانستان د غوري دولت مرکزيت له منځه لاړ- لکه چې ويلې شوى محمود د غياث الدين ځوى د مشهور شهاب الدين وراره او په ځاى ناست بادشاه بې کفايته شخص وو ټولو جاګيرو دارانو په خپله خپله برخه د ده د بې کفايتۍ او بې وسۍ له امله پخپلو خپلو علاقو کې محلي حکومتونه جوړ کړه او د خپلواکه

دعوی کوله. د محمود د سلطنت په دوېم کال رکن الدین محمود بن علاوالدین د غزني نه په فیروزکوه د غور حمله وکړه خو ماتې وخوړه او کامیاب نشو په دریم کال پرې اتسز حسین د پلار د تره ځوی یې د بامیانو نه خوارزم شاه ته راغی او کومک یې ترې وغوښت چې د هغه په مرسته فیروزکوه رالاندې کړي هدغسې وشوه. محمد شاه خوارزم کمک ورکړو. اتسز په فیروزکوه حمله وکړه خو د فیروزکوه خلکو د فاع وکړه او د خوارزم شاه او اتسز لښکر و ماتې وکړه او د فیروزکوه پایتخت بچ شو. د دې لوی او حادثې خوارزم د افغانستان نیولو ته امید وارکړو او اتسز یې پخپل دربارکې وساتلو خو یو کال پس علي شاه د خوارزم شاه ورور فیروزکوه ته راغی او پناه یې واخیسته؛ خو د غور سلطان د هغه پیشنهاد په اساس چې خوارزم شاه له غوري سلطان نه وکړو هغه علي شاه په فیروزکوه د «کوشک برین» په ماڼۍ کې بندي کړو دا هغه مشهوره ماڼۍ وه چې په سر یې پنځه د طلاو منارې چې هر یوه پنځه پنځه گزه لوړه او دوه گزه پلنه وه رلاړې وې او دوه د هما مجسمې د طلا ونه جوړې د او بنې د جسامت هومره جوړې وې د علي شاه ملګري د هغه په بند کې شو او د شپې په غلا د مشرف عزه نه په (۱۲۱۲م) کې

د سلطان محمود په ماښځ راپرېوتل او دغه مست او بې خوښه مدهوش بادشاه یې ووژه. په سباله یې درباریانو دده په ځای څوارلس کلن ځوی بهاوالدین سام ودراوه - هغه د شاهي کورنۍ سړي بندیان کړل او د علي شاه پخنځه خلوښت ته ملګري او د پلار قاتلان یې اعدام کړه په دې وخت کې سلطان محمد خوارزم شاه مداخله وکړه - او اتسز یې د خپل ازمایلي لښکر سره فیروزکوه ته راولېږه او جنګ جوړ شو په دوو ورځو کې د فیروزکوه ښار اتسز ونیولو او پکې بادشاه شو او بهاوالدین سام یې سره د موره او خوېندو او وروڼو بندیان کړه او سره د پلار د تابوته او د غور د خزانو یې د هرات پلاره د خوارزم پایتخت ته واستول - اتسز سره د دې چې د ولس خلک ترې په دې خفه وو چې د غوري دولت یې د خوارزم شاه په کومک او لسون له پښو وغورځاوه بیا یې هم تر (۱۲۱۴م) حکومت وکړو په - دغه کال (۱۲۱۴) تاج الدین یلدز د غزني حکمران په غور پسې د نصرالدین حسین د غزني د امیر شکار په مشرتابه لښکر وکړو او جنګ جوړ شو په نتیجه کې اتسز ووژل شو او د غور حکومت علاوالدین محمد بن ابوعلي د غیاث الدین غوري د تره ځوی ته ورکړه شو دی سړی هم په دغه کال (۱۲۱۴م)

کې غور د خوارزم شاهانو ته وسپارلو او پخپله هم خوارزم ته ورغی او هم هلته مړشو داسې مخکې په نیشاپور کې حاکم وو اوس نیشاپور هم خوارزم شاهانو ته ورکړې وو او دا وعده یې ور سره کړې وه چې د خوارزم شاه په مقابل کې به کله هم توره نه گوابنه وي. د دغه نامردانه وعدې د وفا د پاره یې خپل آزاد مملکت پردو ته بخشش او هدیه کړو. فعتبروا یا اولالارباب او د غوري د دولت دشان او شوکت همدلته خاتمه وشوه!! چې د (۱۱۴۸) نه منځ ته راغلی وو او تر (۱۲۱۴م) پورې دوام وکړو. د غوري دولت په وخت کې په مملکت کې فیوډالیزم پیدا کړی وو د مملکت وړې برخې د شهزادگانو او د شاهي کورنۍ د خلکو په لاس کې وې او د دهقانانو ژوند تنگ وو تمدن او فرهنگ هم د غزنوي دورې بقایا وې چې په ورثه ور پاتې وې د غوري بادشاهانو دځینو مذهب کرامیه وو او د دغه مذهب حمایت به یې کولو د دې مذهب باني د سیستان یو عالم وو چې کرامیه مذهب هغه ته منسوب دی. چې اصلي نوم یې ابو عبدالله محمد بن کرام وو دا مذهب د کلامیه مذهبونو نه یو وو او مرکز یې نیشاپور وو ابوبکر محمد بن اسحاق یې په نیشاپور کې مبلغ وو چې د سلطان محمود په وخت کې سره د وی چې د زندیقانو او مرتدانو په مقابل کې

به یې د سلطان محمود مرسته وکړه خو هغه ورته مخه نه
وړکوله او هغه هلته د روحانیونو مشر ابو علي حسن بن
محمد ټاکلی وو، او آخر یې ابوبکر بندي کړو او مال یې ترې
ضبط کړو او نور علویان یې هم ووژل. د غوري دورې د
معارۍ نمونه د هرات جامع جومات دی چې د مغلي دورې نه
شل کاله مخکې منځ ته راغلی دی، د غور د وسلې جوړولو صنعت
هم منلې کاریګري وه، ښښې زغرې، تورې، خولونه او نیزې
به په غور کې جوړېدلې او دې صنعت ته د غور د خلکو
جنګیالیتوب ګڼور هم انکشاف ورکړی وو، دوی به پخپلو منځو
کې هم جنګونه کول او د نورو پر دو یرغلګرانو سره به هم
جنګېده او د غور دفاع به یې کوله د غوري دورې څېل خاص
اثر لا په تاریخ کې شته دی او وي به، خو چنګیزي یرغلونو
د غزنوي او غوري دورې هر څه د خاورو سره خاورې کړه
او اوس د هغه د وړو تش په تاریخ کې نوم پاتې دی او بس.
تلك الايام نداولها بين الناس.

په افغانستان کې طاهري دولت

د (۸۲۱ م) نه تر (۸۷۲) میلادي پورې

په اتمه پېړۍ کې د هرات په ولایت کې پوشنګ یا اوسنی زنده جان، بنه ودان او ښکلی ځای او ورکوټی ښار وو چې مدرسې او مسجدونه یې درلودل چې د اسلامي دین د علومو تدریس به پکې کېده. د طاهري کورنۍ هم د دې ښار وه او د مملکت د نورو معززو کورنو لکه د برمکي کورنۍ د سهل کورنۍ شوې نه وه درنه کورنۍ دا م وه. د دغې ځای د محلي حکومت او د بغداد د خلافت سره یې ښه او دوستانه مناسبات لرل او زړیې د خلافت په دربار بغداد کې ځای پیدا کړ او طاهر ذوالیمینین د امین او د مامون د واقعې نه وروسته د بغداد د نظامي قوې قوماندان مقرر شو، او منصور بن طلحه طاهري د مرو او خوارزم محلي حاکم شو او عبدالله بن طاهر حاکم (شحنه) د بغداد وو او سلیمان بن عبدالله په ایران کې د طبرستان والي وو د طاهري کورنۍ اشخاص د بغداد په عباسي خلافت کې ښه نفوذ کړی وو او ښه مقامونه او ځایونه

ېږي ښيولي وو. عباسي خلافت د اموي خلافت په خلاف د هرځای د خلکو سره ښه سلوک کولو او د محلي حکومت چارې به هم هغه خلکو اداره کولې اموی د وره صرف د پیسو را ټولول مهم ګڼل او خالص نژادي تفوقِ خوښاوه او عرب خلک به یې په حکومت مقرر ول عباسیانو بر خلاف د مختلفو ځایونو د خلکو نه کار اخیست ځکه خو اموي دولت زر د پښو ولوید او ایله یې یوه پیړۍ څه کم عمر وکړو خو عباسي دولت پنځه پیړۍ دوام وکړی شو. په هر صورت د طاهري کورنۍ د علم او پوهې برخه در لودله او غوښتل یې چې په افغانستان یو ښه منور حکومت منځ ته راوړي او د ماوراالنهر علاقه هم د خپل تاثیر لاندې ولري. طاهر پخپله عالم وو او په عربۍ کې ادیب او شاعر وو او عبدالله د هغه ځوی هم د پلار په شان شاعر وو او طلحه په علم نحو کې ښه وارد وو. او منصور د طلحه ځوی د مرو حاکم په فلسفه کې ځیني رسالې لیکلي دي. طاهري دولت په افغانستان کې د پوهې په خپرولو او د کروندې په ښه کولو کې ډیر کار وکړی شو. حتی چې په فقهاوو یې داو بوولګولوا و حقوقو په باب یو قانون هم جوړ کړو. طاهریانو خپل ملي استقلال او خپلواکي غوښتله خو ورسره یې د عربي ژبې او اسلام د دین او اسلامي خلافت مرسته او حمایت هم کولو ویلی شي چې د اسلام

په مرسته عبدالله ابن طاهر د زړ د شتیانو څو کتابونه هم په (۸۲۸م) کې سیزلي وو، په هر حال پوشنګی طاهر بن حسین په کال (۸۲۲م) کې افغانستان ته راغی او د افغانستان خپلواکي یې اعلان کړه او د افغانستان شمالی او غربي ایالتونه چې مسلمانان شوي وو په اداره کې راوستل او یو مرکزیت یې جوړ کړه د طاهر نه پس یې ځوی طلحه په کال (۸۲۲م) کې واکدار شو او د بغداد د خلافت سره یې ښه رویه او ګذاره کوله او ساتله په (۸۲۸م) کې یې وروروړ علي ابن طاهر بادشاه شو او د خلکو د یو شورش په منځ کې ووژل شو او په (۸۲۹م) کې د بغداد نه عبدالله د طاهر مشر ځوی راغی او په ځای یې کېناست.

د طاهریانو پایتخت نیشاپور وو. عبدالله ډېر تجربه کار او ښه لایق آفسر وو او د خلیفه د پاره یې د مصر او شام په شورشونو کې ډېر ښه کار کړی وو او د (۸۲۱م) نه تر (۸۲۹م) پورې یې د خلیفه په ګټه یې ډېر کارونه کړي وو د عبدالله د زمامدارۍ په وخت کې په افغانستان کې ښه کارونه وشو او د دهقانان تقویه شو او پخپلو حاکمانو به یې د دهقانانو سپارښتنه کوله - د ده په باب عبدالحی ګردیزي پخپل تاریخ کې ډېر ښه څه لیکلي دي او د دوی د حکومت.

ستایلی دی. د عبدالله د مرګ نه پس یې خوی دویم طاهر په کال (۸۴۴م) کې بادشاه شو او تر (۸۶۱م) پورې ورخود پلار په شان اداره یې ونکړی شوه د سیستان او بست خلکو پاڅون وکړو او د صالح سیستاني په مشره کې ولس پاڅون نه وکړل او مملکت تجزیه شو. بیا محمد د طاهر دویم خوی واکدار شو چې (۸۷۲م) پورې وو خو یولټ او بې کفایته عیاش سړی وو او کارې نشو کولی چیل ځای[ولی] د افغانستان صفاري دولت ته چې یو نوی او بنه دمه وو پرېښود چې یادې په مخکې پاڼو کې تېر شوی[دی] طاهري دولت په افغانستان کې د صفاري دولت نه مخکې منځ ته راغلی وو. د طاهري دولت په وخت کې دري ژبه بیا ژوندۍ شوه که څه هم عربي لغت پکې ډېر ننه وتلي وو او د حنظله بادغیسي عباس مروزي او ابوحفص سغدي په شان شاعران یې پیدا کړل او نوی رسم الخط هم منځ ته راغی. د دولت عواید د کال (۴۸) میلونه درهمونه هم پورته وو په دې دوره کې د هقانو او کروندې ترقي کړې وه د خلافت د بغداد سره یې ښه تعلقات وو او څه خراج به یې ورکاوه، امنیت ښه وو خو د خوارجو او د عیارانو د ټولګو نه به کله کله سردردي وره پیښیدله. چې آخر په ځای په افغانستان کې صفاري دولت یعقوب لیث تاسیس کړه او تر دې په افغانستان کې د تللو-

راغلو چپاو د ولتونو څه سرسري ذکر او یاد وشو. او س به د پردو یرغلګرو دیرغلونه او تاړاکونو او د افغان ننګیالی ولس د پرله پسې مبارزو په باب څه لیکل وغواړو په دې هیله چې ګوندې د بناغلو لوستونکو په کار راشي او د تېرو واقعاتو نه عبرت واخلي. او د پردو یرغلونو ته موقع ورنکړي.

د پردو یرغلونه او تاړاکونه

او د افغاني ولس مبارزې

په افغانستان کې هخامنشي دولت

د میلاد نه زرکاله ترمخه په افغانستان کې کرونده اوده او به خوره چارې او ورسره د لاسي صنایعو پېښه بنه پرمخ روانه وه - باختریان چې د منځنۍ ایشیا ، هندوستان او ایران د سوداګرۍ لارې له د نه تېرېدلې - د اقتصاد له نظره یې په منځنۍ ایشیا کې ښه نقش درلود او د ودانۍ او ښتوله کبله د خلکو په سترګو کې وو، د دې مملکت په شمالي خوا کې د سوبرو او کوچیانو ، ترک ، مغل ، تاتار او نورو[1] تاخت بې و، چې د دوی شتو ته به یې تل سترګې نیولې وې او کله ناکله به یې پرې یرغلونه هم کول.

د ایران ماد قبایل د ایران په مغرب او شمال مغرب کې او د فارس په جنوب د ایران کې لا د حکومت جوړولو قابل نه وو او دا قدرت یې نه درلود، داووم قرن قبل المیلاد پورې به تل پرې د اشوریانو له خوا حملې او یرغلونه کېدل هدارنګه

(۱) په اصل کې د اتول د یو مغل نسل نه دی.

د هندوستان په لوی مملکت کې هم چې د افغانستان په نسبت کې واقع وو خلک قادر نه وو چې یو لوی مرکزی حکومت جوړ کړي شي البته واړه واړه محلي حکومتونه لکه کوروس او پنچالا «د جمنا او گنگا په حوزه کې» وواو وریسي د «کوسالا» دولت په اوده دکاشي د بنارس په حدودو کې منځ ته راغلي وو د غسې نور واړه حکومتونه هم وو خو د هند مرکزیت لا نه وو تامین شوی، ترڅو چې د «مکده» سلطنت منځ ته راغی او د هند مرکزیت یې جوړ کړو خو افغانستان نه ترې څه وېره او تره نه وه. دغه حکومت د څلورم قرن قبل المیلاده پورې عمر وکړو.

په افغانستان باندې لومړی د سور کوچیانو له پلوه د شمال له خوا حملې پیل شوې او د افغانستان باختري دولت یې ولړزاوه او حکومت د سیاسي نظره کمزوری شو او آخر توټې توټې شو او په هره توټه یې یو ځانله محلي حکومت جوړ شو او مرکزیت یې ورک شو او نور د دفاع قوان پکې نه وه پاتې - په ایران کې د اووم قبل المیلاد پېړۍ کې لومړی د ماد دولت او بیا د هخامنشي فارس دولت تاسیس شو چې دا بنه زور اور شو او داشور د دولت په شان یې د نورو ملکونو نیولو ته سترګې خړې کړې. د هخامنشیانو اووم بادشاه

«کوروش» په شپږمه پېړۍ قبل المیلاد کې د ماد دولت له منځه ویوړ او په وړه آسیا کې د لیدي دولت هم چې د دوو پېړیو نه هلته موجود وو له منځه ویوړ او ورپسې یې یونانیانو ښیولې ځمکې هم رالاندې کړې او په ایران پورې یې وتړلې او کوروش د کلده حکومت ړنګ او منقرض کړ او دبین النهرین ځمکې یې ترې رالاندې کړې او په ایران پورې یې وتړلې او دا وخت و چې کوروش بندي یهودیان له بنده خلاص کړه - کوروش د دې زور سره د باختریان خواته په پام شو او د (۵۴۵م) نه نیولې تر (۵۳۹م) پورې د افغانستان د خلکو سره هم چې یو مرکزي حکومت یې نه درلود وجنګېد اود افغانستان ولسي حکومت شپږ کاله د کوروش د قوت سره جنګېدل کوروش کرمان، پارتیا، باختر، ستاګید یا «هزاره جات» سیستان بلوچستان او کندهار وینول او کاپیسا کې سخت جنګونه وکړه او د (۵۲۹) قبل المیلاد په دغه جنګونو کې کوروش ووژل شو او په ځای کامبوزیا ځوی یې کېناست هغه د ومره قوت درلود چې (۵۲۵) قبل المیلاد کې د مصر دولت او حکومت یې د فرعونیانو د سلسلې له (۲۶) شپږ ویشتم روستني فرعون نه ونیوه اول داریوش د سکې ضرب وکړی شو او دا په ایران کې لومړنۍ سکه ګڼلې شي، اوچې د اسکتینو مملکت او تراس او مقدونیه هم

په «۵۱۲» قبل المیلاد کې ونیول، نو د دغه ځایونو د نیولو نه وروسته افغانستان ته متوجه شو او په افغانستان هم راغی او د سنده پورې علاقې یې ونیولې خو وروسته بیا دهخامنشي شاهانو توجه چې د ایران غرب پلو ته وه نو تمرخانه د شرق، ته یې فرصت پیدا شو چې د افغانستان شمال او غرب والیانو ورو ورو قوت پیدا کړو او پخپله د یو سلطنت د جوړېدلو په فکر کې شو - په څلورمه پېړۍ قبل المیلاد کې یونانیانو په ایران لښکر وکړو نو دریم داریوش یې په «۳۳۸ - ۳۳۰ق‌م» په دفاع کې پاتې راغی او افغانستان ته یې مخه وکړه خو د افغانستان ولس یې په مقابل کې پاڅون او دفاع وکړه - او په دې وخت کې د باختریان والي «بسوس» د خپلې خپلواکۍ اعلان وکړو او ځان یې د مشرقي ځمکو بادشاه وباله - او هم ده په جنګونو کې داریوش ووژلو - مقدوني سکندر هم په دغه مال کې په ایران حمله وکړه او دغه معروف جهانګیر په افغانستان هم یرغل وکړو او د بسوس د لښکر سره یې جنګ وکړو او پخپله بسوس ووژل شو او د ایران مقتدر هخامنشي دولت د پښو نه ولوید او افغانستان هم د تاریخ یوې نوې دورې ته راغی - د شپږم قرن نه نیولې تر څلورم قرن قبل المیلاده پورې افغانستان د سیاسي نظره کمزوری وو او نه یې

شو کولی چې د اتمې او شپږمې قبل المیلاد پېړیو په شان وسعه او وېر خلک پیدا کړي شي نو سیاسي مرکزیت ورک شو او محلي حاکمان د خپلو گټو د ساتلو په غرض د هخامنشي سیاست تابع وو خو د اد خلکو او مملکت د سیاسي ژوندانه پوره تړلي وو خو د تدریجي اجتماعي تکامل خواته روان وو، د افغانستان خلکو د اتمې پېړۍ قبل المیلاد نه مخکې په زردشتي دین وو او د غه دین یې ایران ته هم نقل کړی وو او د شپږمې پېړۍ قبل المیلاد نه یې رسم الخط (خروشتي) ووچې مبداء د «ارامي» الفبا نه شوې وه او د ایران د لارې نه راغلی وو او دا په مملکت کې یو نوی اجتماعي انکشاف گڼلی شي ارامي الفبا مخکې هند او ایران ته رسېدلې وه او په ایران کې ځینې اصلاحات هم پکې شوي وو خو بیا یې هم نقایص درلودل خروشتي رسم الخط د ښي نه چپ خواته لیکل کېده - دې خط په افغانستان کې تر پنځم قرنه پورې دوام وکړو او رسمي د نثري رسم الخط ووچې اثار یې د تیږو په کتیبو او فلزاتو باندې شته او سکې هم میندل شوي دي ، داخط په یوه پراکریتي شعبه کې معمول وو او په قلم او تور رنگ به لیکل کېده - د دې خط اثار د وردگو په (خوات) او د درونټې په بیمارانو کې میندل شوي دي او د جلال آباد په هډه کې

هم وو. دا په اول او دوم مسیحي پېړیو کې دکوشاني دورې پورې مربوط دی . دا منلې خبره ده چې په افغانستان کې دیانت وو او دافغانستان د یندار وخلکو معبد و نه . درلودل - خو په افغانستان کې د میخي خط او نه د مادي او هخامنشي خطونو نمونې په لاس نه دي راغلي ، خو د کابل د حضوري چمن د ځینو سکو نمونې پلاس راغلي دي هخامنشیانو د علم په برخه کې په افغانستان کې څه نه دي کړي خو په معارۍ او اداره او ابیاري او حجاري کې د څه نه څه کړي دي په دې منځ کې هخامنشي دوره لاړه او په افغانستان هم دیونان د جهانګیر دولت تاثیر راغی .

د یونان دولت په افغانستان کې
د ۳۳۰ نه تر ۲۵۰ قبل المیلاد پورې

یونان یو ورکوټی ملک دی چې یو نیم میلون نفوس یې - د رلود ، د دوو زرو (۲۰۰۰) او یو زر (۱۰۰۰) کلونو قبل المیلا دنه دوی د کلیوالو او شپنو سره او سیدل دې خلکو دا نه ، سیند شبه جزیره ، پلوپونز ، یونان او دا نه جزایرو او د آسیا - صغیر غاړې نیولې وې اولاد قبل التاریخ او د گټې د نوې دورې د زمانې په شان ژوند کولو . د دوی خط او لیکل نه وو او د پخوا نه به یې په خولې قصې او ریدلې او مشهورې افسانې د رلودلې لکه د «تراوه» مشهوره افسانه - د دې خلکو مذهب د ارباب الانواع پرستش وو - او څه خاص اخلاق یې نه لرل . خو وروسته د یونان تولنې تکامل وکړو او یونانیانو د (انه) ، د جزیرو د او سیدونکو نه چې قرنونه مخکې متمدن شوی وو او په خط کتابت پوهېدل او صنایعو هم پکې رواج مینده وو د هغوی نه اداب او هنر زده کړو او د پخوانو شرقي قومونو په بنیاد ونوې لکه د

مصري ، کلداني ، فنيقي او نورو په شان ښه روښانه تمدن
تشکیل او منځ ته راوړي د هغه وخت د بشر اوجمود تفکر
او ذوق ښه نماینده ګي کوله ، که څه هم د یوناني خلکو په
بشري تمدن کي لويه برخه په ادب او فلسفه او نکلو صنايعو
کي ده ، خو بیا هم دوی د علومو کروندګر ګڼلی شي او د-
میلاد نه اووه پیړه مخکي حکیم تالس د ټولو موجوداتو
بنیادي هیولي ته په پام شو او هغې ته یې مادة المواد-
ویلو ، د قبل المیلاد نه مخکي شپږمه پیړه کي سولون چیل
مشهور قانون د اتن د پاره ولیکلو په پنځمه پیړه قبل المسیح
کي دیمکریت د اتوم نظریه وړاندې کړه او د جهان د ټولو
اشیاو او اجسامو وجود یې د خلا او اتوم نه مرکب ګڼل
او د «اجبزه» پلوی وو - سقراط هم د اخلاقو د تدریس دپاره
را پاڅېده ، په څلورمه پیړه قبل المیلاد کي افلاطون هغه
مشهور فیلسوف وو چي د عالم «مثل» نه یې خبري وکړي او
څه یې «تمثیل» او «جمهوریت» کتاب یې هم ولیکلو - ارسطو مشهور
فلسفي او عالم په هغه وخت کي د یونان د فلسفي د تکامل
روستنی طونه وو ، د هغې د فلسفي مکتب د «اتن لیسه» و
چي د هغه روحاني د علم او فلسفې اثارو کان ګڼل کېده او د
پخوانۍ زمانې د جهان لوی دایرة المعارف حسابېده ، روسته

د یونان د سیاسي، اقتصادي او علمي ماتې نه د علمي او فلسفي مطالعو سلسله اسکندریه ته نقل شوه او هلته د فلسفي مختلف مکتبونه منځ ته راغلل لکه د اپیکور مادي فلسفې او مکتب د سینیک او کلبیانو او د اصحاب شک او نور وو - خو د سیاست له نظره یونان شل بېلابېل دولتونه وو چې هر یو یې ځانله پایتخت درلود - خو مهم د مغو نه د اتیک، د شبه جزیرې دولت وو چې اتن یې مرکز وو، د لاکونې مرکز اسپارت او د بویشې مرکز تب وو، او د ټولنیز ترکیب له نظره د یونان ملت په درې طبقو ویشل وو، لکه آزاد، بنده او پردي.

د آزادې طبقې د حکومت اداره په لاس کې وه او د مغوې زده کړه او پالنه هم په خاص ډول کېده خو د نجونو د زده کړې پلو ته څه پام نه وو شوی.

آزادو خلکو چې د معاش د تکلیف نه خلاص وو او ددوی د معاش د پاره زحمت د بنده او پردي طبقې په غاړه وه او دوی فرصت میندلی وو چې په فلسفي او اجتماعي چارو کې فکر وکړی شي - په دغه وخت کې د اتیک د شبه جزیرې خلک په پنځمه قبل المیلاد پېړۍ کې څلوېښت زره تنه وو خو ورسره (۱۵۰) زره تنه مریان او پردي وو په دا رنګه ټولنیز ترکیب کې اسقراطي او سوفیستي تعلیم نورم د پر شو چې خلک په-

استدلال او خبرو وغولوي او د ځاني ګټو د پاره يې استعمال کړي. دې خبرو نه د يونان انحطاط او زوال منځ ته راغی له دې امله چې دولت فاسد شوی وو، د پنځمې پېړۍ په آخري نيمايي کې د ښارونو خلک په دوو ډلو وېشل شوي وو يوه ډله شتمن وو او بله ډله يې خواران او بې وزلي وو او د يو بل په ضد يې مبارزه کوله.

د غريبانو ډله د اتن د حکومت ملګري وو او د شتمنو ډله د اسپارت د مېشتان حکومت ملګري وو د دې جګړو ډېر وډېر دوام وکړو چې ترڅو رومیانو په شرقي مديترانه کې نفوذ وکړو او شتمنو د روميانو نه کومک وغوښت او خپل خوار وطنوال يې په روميانو ووهل او آخر يې دا شوه چې په (۱۴۶) قبل الميلاد کې د يونان استقلال او خپلواکي د روميانو د تسلط لاندې شوه او وطن يې ړنګ شو، خو د يونانيانو تمدن او فرهنګ په شرق او غرب کې لا پاتې وو او روميانو هم په مديترانه کې دغه تمدن او فرهنګ خور ولو.

د مقدوني سکندر زمانه

یونان په پنځمه ق م پېړۍ کې د ایران او اسپارت په یرغلونو اوجګړو اخته وو او په څلورم قرن ق.م کې د فلیپ مقدوني باد شاه له خوا و نیول شو په (۳۳۸ ق.م) کې یو کال وروسته فلیپ ووژل شو (۱). او د هغه ځوان ځوی د هغه په ځای کېناست داځوان یو قارندوکی او مبارزچي د ارسطو شاګرد هم وو او په زړه کې د قهرمانۍ او د ملک ګیرۍ هوس هم وو په (۳۳۴ ق.م) کې د دېرش زره پیاده او څلور زره سوړو عسکرو سره چې د څلو ښتو ورځو اذوقه او خوراکه یې هم درلوده د ایران په هخامنشي دولت یې یرغل وروړ . په دریو جنګونو کې چې په ـ وړه اسیا (اسیا صغیر)، د اسکندرون د خلیج په غاړه او په ـ کردستان او اوسنۍ ترکیه کې وشو ایراني فوځونو ته یې ماتې ورکړه او وروستۍ ورځې ایران یې هم لاندې کړو . سکندر چې یو تن د مشهورو جهانګیرانو نه وو وکړی شو چې د خپلو زورو او ړو عسکرو په قوت د وړې اسیا (اسیا صغیر) نوي

---

(۱) ویلی شي چې فلیپ خپلې ښځې او ځوی سکندر وژلی دی.

دولتونه لکه مکد، ایران او مصر یې په څلور کاله کې له منځه یوړل
نو د هند د نیولو په فکر کې هم شو او په دغه تکل او عزم -
روان شو نو په لومړي قدم کې یې په لاره کې افغانستان په مخکې
وو - سکندر د مور له خوا یې ځان د «اشیل» افسانوي قهرمان
ته منسوبولو او د پلار د پلوه به یې «هرکولیس» د قوت رب النوع
ته منسوباوه - د مصر د گتې نه پس هلته ده د «پرامون» لقب -
فراعنه یی، غوره کړو - په کال «۳۳۰ ق.م» کې د ایران نه -
افغانستان ته ورغی چې هلته کوم مرکزي حکومت هم موجود
نه وو او سکندر په یرغل وکړو خو خلاف د توقع د افغاني
ولس د سخت مقاومت سره مخامخ او د افغانستان او سغدیانه
په نیولو یې څلور کاله وخت تېر شو او ډېر وکړاوونو او
تاوانونو او جنگونو نه پس د توس په لاره هرات او قندهار
او کابل او بیا بلخ او د جیحون غاړو ته ورسېد او «۱۹» زره
نوی فوځ چې ور ته راورسېد نو بیا د هندوکش نه را تېر شو
او په «۳۲۷ ق.م» کې په هند ورغی د سکندر لښکرو په توس
او هرات، قندهار، غزني، کابل او بلخ په جنگونو کې دری کاله
زحمتونه لیدلی وو او پخپله سکندر سره د بطلموسه په شرقي
افغانستان کې زخمي شوی هم وو نو نور په جنگونو ستړی شوی
وو خو د ومره یې وکړي شو چې د اباسیند نه ور تېر شي

او دجهلم په غاړه «پورس»، دپنجاب بادشاه ته ماتې ور کړي او تر بیاس سینده پورې مخ په وړاندې لاړ خو نور یې په فوځ کې دجنګونو طاقت نه وو پاتې نو سکندر بېرته ستون شو او د بلوچستان او ایران په لاره بابل ته روان شو او هم هلته د «۳۲» کلنۍ په عمر مړ شو(۱).

سکندر پېرلي لوی ملکونه د اباسیند نه پېولې دبحرارا تیک پورې او د مصر نه پېولې تر قفقازه پورې د یونان د قدرت طلبه سردارانو پلاس ورغلل او د مقدونې سلطنتي کورنۍ د غړو دحمایت په نوم د یو بل سره په جګړو اخته شو ترڅو چې نور د منځ نه لاړل او دری تنه یکې پاتې شو او هغه لویه بادشاهي د دوی په منځ کې وېش شوه. مقدونیه او یونان انتي‌ګونس او مصر بطلموس، شام او ایران د سیلوکس برخه شوه، نو د افغانستان د باختر او سغدیانه علاقه او دکابل او د هغه اطراف او هرات او سیستان علاقه او د قندهار او بلوچستان علاقې د شام د والي په «۳۱۱ ق.م» لاس ورغلې، لن څه وروسته سلوکس پخپله د ایران په لاره افغانستان ته راغی او په کال «۳۰۵ ق.م» کې د اباسیند نه ورتېر شو او هند ته ورغی په

---

(۱) مورخین وایي چې په ملریا ناروغه او مړ شو.

دې وخت کې هند کې ډېرې تبديلې راغلې وې او د موريانو مقتدر حکومت ، د چندرګپتا، په مشرۍ منځ ته راغلی وو دا هغه شخص دی چې د هند مقتدر دولت يې جوړ کړو او د سکندر د مرګ نه پس يې د مکدونيه سلطنت ته ماتې ورکړه او يوناني متصرفات تر پښو لاندې کړه او د افغانستان شرقي اياټوته متوجه شو د دې باد شاه (چندرګپتا) سيلوکس مجبور کړو چې د اباسيند د غاړې نه بېرته وګرځي او په عوض د پنځه سوه فيلانو کې د هندوکش بښې غاړه جنوب پلو ټولې زمکې (ګپتا) ته پرېښوې له دې وخته نه بودايي دين او مبلغين افغانستان ته راستول د سيلوکس اخلافو په افغانستان کې څه مهم رول نه دی لوبولی او د افغانستان د يوناني حاکمانو له خواتش په اطاعت قناعت کولو خو اخر د شام او مصر د اختلافاتو له کبله د افغانستان والي - استفاده وکړه او په (۲۵۰ ق.م) کې يې د خپلې خپلواکۍ اعلان وکړو او خپلواک شو او د يونانيانو د زورګيرې مستقيمه دوره له منځه لاړه .

په دغه وخت کې د افغانستان ټولنيزه وضعه

سکندر او يونانيان افغانستان ته يوازې د فوځي قوت سره نه وو راغلي بلکه علمي او هنري قوتونه هم ور سره وو د سکندر او يوناني علما او هنرمندان هم وو او د معنوی ثروت

اثر ضرور د افغاني ولس په ماده او روح کېدی شو. شک نشته چې د افغانستان اجتماعي وضعې او تمدن او فرهنګ ته يې تکان ور کړو خو په قطعي صورت يې له منځه نه دی وړی او د دوا ړو مدنيتونو د ګډون سره د تمدن يوې نوې دورې ته ور داخل شو خو افغاني جامعې سره د هر رنګه زور او قوت خپل مشخصات او اجتماعي خصوصيات ساتلي وو چې په دغه ګډون کې هم ځلېده. او د افغان ملت د مقاومت لويه نښه ده.

په افغانستان کې يوناني باختري دولت
د ۲۵۰ ق.م نه تر ۲۳۵ ق.م پورې

اول ديودوت د انتيوکوس دوم شاهي بادشاه له خوا د باختر او سغديانه والي مقرر شوی وو او هم ده د افغانستان د يوناني باختري دولت د استقلال اعلان وکړو.
دوم ديودوت په (۲۳۰) ق.م کې د اشکاني يا پارتي نوې ايراني دولت سره ښه مناسبات جوړ کړه چې د افغانستان په شمال غرب کې او سني خراسان کې منځ ته راغلي وو او په ۲۴۹ ق.م کې يې خپله خپلواکي اعلام کړې وه او د شام د سيلوسي

سلطې په مقابل کې سره متحد وو۔

ایوتیدم د یونان باختر مقتدر بادشاه وو چې په کال (۲۲۷ ق.م) کې د انتیوکوش دریم شامي بادشاه سره چې په افغانستان یې یرغل کړی وو په قرارۍ څه صلحه وکړه او په شاپې کړو او د هندوکش په جنوب کې ځمکې یې هم .یې جنګه د هند د دولت نه یې آزادې کړې۔ ایوتیدم تر ترسه پورې د مملکت په غرب کې مخ په وړاندې لاړ۔ او دا کار غالباً په (۲۰۶ ق.م) کې شوی وي او هم ده کاشغرستان هم رالاندې کړ او بلوچستان هم د ده په وخت کې په افغانستان پورې تړلی شوی دی په دی وخت کې مالداریه، زمینداری، تجارت او صنعت په افغانستان کې وده کړې وه د مملکت صوبې د والیانو په واسطه اداره کېدلې چې غالباً د شهزادګانو نه به وو او هر یوه به یې خپله سکه هم په خپل نوم وهله۔ دایوتیدم طلائي او نقره یې سکې په موزیمونو کې شته دی او په کابل موزیم کې یې نمونې پرتې دي۔

د دمتریوس (۲۰۰-۱۶۰ ق.م) تر سنده او نږدې تر پنجابه مخکې لاړ او ټیکسالا یې ونیوله او د مغاندرد دمتریوس یو جنرال یې شمالي هند د ګنګا تر غاړې ونیولو۔ نو په دې حساب د مملکت سیاسي بریدونه د ایران د د بښتونه ینولی

د ګنګا تر غاړو او د سیحون او جیحون د حوزو نه نیولې تر د ریابه پورې غزېدلې وو د یونان باختري دولت – فتوحات په (۱۷۵ ق.م) کې بس شي.

او وروسته ایوکراتید په (۱۷۵ ق.م) کې پاد شاه شو دده په وخت کې د یوناني باختري سردارانو په مفتوحه هند کې خپله د بېل دولت اعلان وکړو او له دې نه پس د یونان باختري دولت مخ په ځوړ شو - په دننه کې یې نفاق و و او له دباندې نه اشکاني دولت پرې زور راوړ او د مملکت په غربي ایالت کې یې نفوذ وکړو خو لویه حادثه د «سیتي» قبایلو مهاجرت و وچې د شمال مشرق له خوا او د سیحون له حوزې نه په سفلیانو راتوی شو لومړی د دې مهاجرت لومړۍ چپه د اسکایانو له خوا په ماوراالنهر باندې راغله او وروسته چې د جیحون نه تېر شو په باختر باندې وروېوتل خو دې چپوا وطوفان په غرب کې د اشکاني او پارتي د دولت سره ټکر وکړو له ناکامه جنوب خواته وګرځېده او سیستان او قندهار یې راولاندې کړه او دا وجه وه چې پخوانو درانګیانو به اسکایان په «ساکستانا» بلل - او اسکایان د سیستان او قندهار نه د سند د حوزې پورې مخ په وړاندې لاړه.

د اسکایانو زور او د اشکاني د دولت یرغلونو داوکړه

چې هیلوکس د یونانیانو باختري بادشاه په (۱۲۵ ق.م) کې خپل پایتخت د شمال نه د هندوکش جنوب خواته را نقل کړو او ـ کاپیسا (اوسنی تګاو) یې مرکز کړو دا دولت په منځخانه تې ابا سینده غزېدلی وو د هیلوکس په ځای ناستو بادشاهانو لکه انیتال کیداس او امین تاس او هرمایوس او نورو د لومړی ق.م پېړۍ پورې د یونانیانو باختري دولت ته دوام ورکړو خو د دې پېړۍ په آخر کې د پارتیانو او اسکایانو د زور په اثر په کلي توګه له منځه لاړ. پارتیان او اسکایان په (۱۲۰ ق.م) تر اول میلادي پېړۍ تر آخره (۲۵ ق.م) پورې په سیستان او قندهار او د سند تر غاړې پورې حکومت وکړو خو تاریخ یې روښانه نه دی د دوی ـ مسکوکات په درو ژبو یوناني ژبه او رسم الخط او پراکریت او خروشتي وو.

په افغانستان کې کوشاني دولت
د ۴۰ نه تر ۲۲۰ میلادي پورې

سیستي قبایل لومړی اصلاً د کاشغرستان او سیدونکي وو او د چین همسایه وو، هغوی دوی د سیحون په حوزه او د خزر د بحیرې په شمال کې او د توزې بحیرې په شمال کې هم اوسېدل او د ۲ وم پېړۍ میلادي نه تر دریمې پېړۍ پورې د بیانشان نه تر ارال پورې وغزېدل،

کوشانیان یا یوچیان د سیستي قبایلو د نرختیزې خوانه وو چې هوڼو هوانګ او کی لین په منځ کې اوسېدل، او د هوانګ هوڼو سره په جنګ جګړو اخته وو کوشانیان د هوانګ هوڼو د زور له کبله له خپل ځای نه په کوه شو او دایلي او تارم د سیحونه تېر او د بین النهرین زمکې د سیحون او جیحون ته - راغلل او د دوی زور وو چې د اسکای قبایل د تخاریانو سره له نغه ځایه افغانستان ته راغلل او د تخارستان سیمه د دوی په نوم تخار مشهوره شوه، خو یوچیان د میلاد په لومړنۍ پېړۍ کې راغلي او له جیحونه را تېر شوي وو او د افغانستان شمال کې یې باختر ونیولی وو - د افغانستان په شمال کې د شمنیو-

د پروالی او د دفاع پقوت په منشتوالی تل به داملك د شمالي خواد کوچیانو او سوارکارانو د تهدید او یرغل منبنه وو او پېړه پېړه به یې ناآرام ژوندکولو. محدغسې دکوشانیانو هجوم هم په شمال افغانستان راغی او هم دلته یې کډه واچوله او ورو ورو په نورو قبیلو لکه یوچیانو زورور شو او وې کړلی شوچې د نورو قبایلو واړه واړه ریاستونه یې رالاندې کړه او یوکوشانی دولت یې منځ ته راووړ دکوشانیانو لومړنی مقتدر باد شاه (کجولا کدفزس، وو چې د هندوکش نه په جنوب تېرشو او د مسیح په (۴۰) کال د کابلستان دولت او د پارتیانو (پهلویان، نفوذیې له منځه لرې کړو - کجولاکدفزس کاپیسا او کابلستان د اباسینده پورې د باختر او سغدیانه سره یوځای کړو او د غرب خواته د پارتیا ایالت (او سني خراسان) هم رالاندې کړو او په دې ډول د یونانی باختر دولت په شان یې د افغانستان سرتاسري یو دولت تشکیل کړو - او داکاریې تر (۷۸) میلادي پورې تر سره کړو.

ویماکدفزس دوم د پلار نه پس د هند شمالي خوا هم رالاندې کړې او د رومي امپراطورۍ ، ترجان ، دربار ته یې د دوستانه مناسباتو د جوړولو دپاره نماینده ګان وروليږل ځکه چې رومیانو د مدیترانې اسیایي غاړې نیولې وې او د ورېښمو د تجارت په

په لارکې خنډ وو - رومیان پښه دار ووا و تجمل پسندم
ووا و د ورېښمو توټې یې خوښولې چې په چین کې جوړېدلې
او عطرونه او داروګان یې هم چې له هند نه به راتلل پکار وو
او په بدل کې به یې طلا ورکوله خو دې مبادلې لار په
افغانستان ورغلې وه او څه طلا به په افغانستان کې هم ترې
پاتې کېدله.

دوم کدفزس دا غوښتل چې د کاشغرستان په نیولو سره
د ورېښمو د لارې بنه سرښته وکړي. خو د چین حکومت
چې په ۱۲۱ میلادي کې د ورېښمو لار په څو جنګو نو خلاصه
کړې وه نو د کدفزس د غسې اقدام په مقابل کې کله غلې پاتې
کېدی شو! د چین حکومت راپاڅېده او په کاشغر کې کوشاني
لښکرو ته ماتې ورکړه او کوشاني دولت سره د زوراو قوته
د چین د حکومت باج او خراج ومانه او د غه باج او خراج به
یې د چین دولت ته کال په کال ورکولو.

د کوشانیانو ډېر مقتدر باد شاه (کنښکا) دی چې په ۱۲۰
او ۱۶۰ میلادي کلونو کې یې سلطنت کړی دی. هم دا باد شاه وو
چې د هندوکش د شمال نه یې پایتخت جنوب خواته را واړاوه
او په کاپیسا کې د ګرمو داورې او پېښور یې د ژمي پایتخت وو
کنښکا وکړی شو چې په شمال مغرب کې اشکاني دولت مغلوب

کړي او په شمال شرق کې یې چیني ترکستان د کاشغر، یارکند او ختن، یې دچین نه فتح کړه او څو تنه چیني شهزادګان یې هم یرغمل کړه او دخپل دولت حدود دګنګ او جیحون د سیندونو په منځ کې او د تارم نه ښولی تر ایرانه پورې ورسول.

دکنشکا نه وروسته یې په ځای ناست اشخاص دلوی هند قوي جاذبې رابنګل او لاړل پکې ورک شو. (داسودوا، د کوشانیانو وروستني بادشاه ورچې تر (۱۸۲-۲۲۰ میلادي پورې) ورچې په هند کې له منځه لاړ او په افغانستان کې یې ځای ـ ورو ورو محلي حکومتونو ونیولو چې قوي او زورور حکومت پکې دکابلستان ورچې دکاپیسانه ښولی تر اباسیند دغاړو پورې مسلط وو.

د دغه وخت ټولنیز حال:

د غتو کوشانیانو په وخت کې د میلادي اول قرن نه ښولی تر دریم میلادي پورې هم هغه د یونان باختري سلسله روانه وه خو ورو ورو پکې ځینې بدلونونه راتلل ـ د عقیدو او مذهبونو به د پخوا په شان به احترام کېده او د دولت به زردشتي برهمني او بودایي د ینونو ته احترام کاوه خو بودایي دین پکې ودې کوله او اخر کنشکا پخپله بودایي شو کد فزس د پخوانه په شیوایي مذهب وو.

د کوشانیانو ژبه ختني ویل کېده د تخاري ژبې نه بېل۔
رنګه وه او په سکوکاتو او کتیبو کې به ترې کار اخیستل کېده.
د یوناني حروفو نه هم کار اخیستل کېده خو یوناني حروف۔
د ومره وران شوي وو تر دې چې د لوستلو نه هم پاتې شو
د هندوکش په جنوب کې سانسګرېټ او پراکریت خطونه او ژبې
هم وې د دې وخت رسم الخط هم د افغانستان پخواني۔
رسم الخط «خروشتي» وو چې د ښي خوا نه په چپه لیکل کېده
او په افغانستان کې د میلاد نه پنځه پېړۍ مخکې تر پنځمې پېړۍ
میلادي پورې رواج وو چې زرکاله عمر یې کړی دی، او د
سیستان نه تر پنجابه او د بلخ نه د مهنجودړو پورې خور
وو، او د هغې اثار په بلخ، بامیانو او وردګو او هډه کې۔
پیدا شوي دي او مذهبي اثار دوی په پوټکو چې د کاغذ په
شان وو په تور او سور رنګ لیکل کېده په جنوب د هندوکش
کې برهمي رسم الخط هم وو چې د چپې خوا نه به ښي خوا ته لیکل
کېده.

عالمان او پوهان او هنرمندان د دربار له خوا او هم په ولس
کې د احترام وړ وو فرهنګ او ادب د بودایي مذهب له وجې
بنه د مخکې تګ په حال کې وو، صنایع هم پخې وو چې اثار یې
په سمرقند او ختن کې میندل شوي دي د معارې او هیکل۔

تراشي کارونه هم ښه مخکې روان وُو چې د باميانو حيرانونکی لوی (۴۵) متره مجسمې لويه بلگه ده - چې دجهان دلويو مجسمو نه گڼل کيږي.

د افغانستان تجارت هم په دغه وخت کې ډېر ښه وو - ځکه چې د چين او هند د مال التجاره ترانزيتي لار په افغانستان راغلې وه - موسيقي او گډا په دغه کوشاني وخت کې ښه ترقي کړې وه چې د باميانو رنگه تصويرونه يې او د موسيقي نوازانو مجسمې چې د هډې نه راوتلي دي د دغه وخت د ذوق ښه نمايندگي کوي د موسيقي د دغه وخت الات رباب، طبله، ډول او شپېلۍ او نور وو، د نارينه وجامې پرتوگ او کميس وو او موزې به يې په پښو کولې، ښځو به يې اوږد کميس او پرتوگ اغوسته او د مرواميلونه به يې په غاړه کول، وېښته به يې شاته د وه چوټې کول چې په اوږو به يې زنگېدلې.

دکوشانیانو نه تر یفتلیانو پورې
د ۲۲۰ نه تر ۴۲۵ میلادي پورې

د کال «۲۲۰» نه د لویو کوشانیانو د دولت تجزیه شو، د یفتلي دولت تر ظهوره پورې «۴۲۵» میلادي پورې چې-تقریباً دوه سوه کاله زمانه وه په دې منځ کې په افغانستان کې د ننه او خوا و شا ډېر مهم تغیرونه وشو. په چین کې د-«هانها» دولت توټې توټې شو او په «۲۲۰» میلادي کې په هند کې د «گپتایانو» دولت منځ ته راغی چې د کوشانیانو بقایا یې د منځه وېوړل او په شمال د هندوکش د جیحون په شمال کې د سوږو کوچیانو زور زور هم ډېر شو د دې له ناکامه وارې کوشانیان د هندوکش د شمال نه د هندوکش جنوب ته راغلل او د دریم قرن میلادي په اخر کې یفتلیانو د جیحون په شمال کې ځمکې ونیولې-او د افغانستان په غرب کې پارتي دولت چې د دوم قرن نه مخ په خوړي روان وو په «۲۲۴» میلادي کې د اردشیر ساساني له لاسه د منځ نه لاړ او هم دا پیړه وه چې د روم امپراطور «والیرین» ساساني پادشاه شاپور ته ماتې ورکړه «۲۶۰» میلادي وه چې هغه امپراطور بندي شو- د

افغانستان په گاونډ کې د ساسانیانو یو قوي دولت منځ ته راغی او د افغانستان غربي ایالتونه او شمال مغربي ایالتونه یې لاندې کړه. ساسانیانو د ورپښمو لار بنده کړه او رومیان مجبور شو چې بحري لاره پیدا کړي او د هند سواحلو ته ځان ورسوي د دې واقعاتو د اثر و شو چې ځینې کوشانیان چې په باختر کې پاتې وو هغوی هم د هندوکش جنوب ته راواوښتل د دې وړلې مشر «کیدار» وو او هم دې د وروو کوشانیانو د وباني ګڼلې شي دې دولت د کاپیسانه د سند تر غاړو پورې د ملکت اداره په لاس کې ونیوله او د یفلیانو د ظهوره پورې یعنې تر پنځمې میلادي پېړۍ پورې عمر وکړو او د دې کورنۍ حکمرانان د کیداریانو په نوم یادیږي او د ساسانیانو سره یې ډیرې جګړې کړې دي او تر پنځمې پېړۍ میلادي پورې یې خپل موجودیت ساتلی وو او ګپتایانو سره یې هم ښه ګذاره کوله.

افغانستان دیفتلي دولت په زمانه کې
د ۴۲۵ نه تر ۵۶٦ میلادي پورې

هیاطله یا یفتلیان په څو نومونو په تاریخ کې یاد شوي دي په اصل کې د سیستي قبایلو د اجزاوو نه دي او د شمال له خوا د سیحون حوزې ته راغلي شوي او راغلي دي، او د دریم قرن د آخره پورې د جیحون (آمو) نه هم تېر او شمالي افغانستان ته راغلي او لومړی وارې په (۴۲۵) میلادي کې په تخارستان کې یې یو لوی دولت جوړ کړی شو، د یفتلي قبایلو نه یوه مشهوره قبیله "زوالي" وه چې د غزني په ولایت کې استوګنه شوه او هغه علاقه په زابل یا زابلستان یاده شوه.

یفتلي لومړی بادشاه "افتالیتو" او "مهرپوره" وو او په تاریخ کې په دغه نومونو یاد شوي دي، دوی د ایران ساساني دولت سره چې د افغانستان شمالي او غربي ایالتونه یې نیولي وو په جنګ اخته شو او د مرو سره نژدې یفتلیانو د بهرام ګور ساساني نه ماتې وخوړه خو د پنځمې پېړۍ په نیمایي کې ساساني دوم یزدګرد د مرغاب په علاقه کې ماتې

وکړه - د یفتلیانو قوي ترین بادشاه « اخشنوار » وو چې په « ۴۶۰ » میلادي په حدود کې بادشاه شوی وو اخشنوار هم د ساساني دولت سره وښت او په سختو جنګونو کې د ایران لښکر ته ماتې ورکړه او د ایران شهنشاه « فیروز » چې په « ۴۵۱ » میلادي کې بادشاه شوی وو بندي یې وینولو فیروز باج او خراج ومانه او د دواړو ملکونو په سرحدي ځای پاتې مناره کې خوشې کړی شو او څلور څوی یې « قباد » یې یرغل پر پېښور. باج ورکړو او قباد آزاد شو خو د وه کاله پس یې په « ۴۸۰ » میلادي کې بیا په افغانستان یرغل وکړو خو د ایران لښکر بیا ماتې وکړه او فیروز په جنګ کې ووژل شو او په ایران کې دغه وروره « بلاش » د زردشتي روحانیونو په مرسته بادشاه شو - خو اخشنوار یفتلي بادشاه قباد چې دغه خور د اخشنوار ښځه وه او په یفتلي دربار کې پناه اخیستې وه اخشنوار ورسره فوځي کومک وکړو او دی د ایران بادشاه شو او د یفتلیانو خراج یې ومانه، له دې نه پس اخشنوار د هندوکش د جنوب کاپیسا نه نیولې تر پېښوره پورې ځمکې د کیداري دولت نه چې په پېښور کې متمرکز وو ونیولې او مغزي ځواک خوا غرونو ته لاړل او په دې توګه یې د افغانستان سیاسي وحدت او « یووالی » جوړ کړو - د اخشنوار د مرګ نه

وروسته يفتلي باد شاه « تورامانا » د هند خواته متوجه شو او تر پنجابه پورې يې ځمکې رالاندې کړې د تورامانا نه- وروسته يې ځوی « مهراکولا » د خپل پلار پاليسي ورپسې تعقيب کړه او هندوستان ته ور ننوت او د گپتا يانو- قوی دولت ته يې ماتې ورکړه او دغه لوی دولت تجزيه شو او واړه محلي حکومتونه په هند کې منځ ته راغلل خو د هند خلک د يفتليانو د زور زياتي نه په تنګ وو، نو ټول واړه محلي حکومتونه سره يو شو او په کال « ۵۲۸ » ميلادي کې يې يفتلي دولت ته ماتې ورکړه او په شاتللو ته يې مجبور کړو چې د- سند او کشميره پورې په شا لاړل - هدا واقعه د هند د آزادۍ او د يفتلي دولت د ټوټې ټوټې کېدو سبب شوه او افغانستان د ځو محلي يفتلي اميرانو په لاس کې وو چې د ځينو سکې هم شته او په دې ډول يفتلي امراو تر ۵۶۶ ميلادي پورې دوام وکړو

د يفتلي دولت ټولنيز حال:

يفتليانو په افغانستان کې څه خاص نوی تحول نه و وکړی هم هغه د ورو کوشانيانو په زاړه پله روان وو خو په مذهبي ساحه کې د کوشانيانو په شان د بودايت پيرو نه وو او د بودايت په ځای يې برهنيت او مترا پرستۍ ته اهميت ورکولو

یفتلي دولت یو منظم دولت وو نو په ښارونو کې پخوانۍ رونق پاتې نه شو که څه هم د هند او چین سره یې تجارت روان وو، صنایعو هم څه خاص پېشرفت نه وو کړی او د ګرې ګوبو دیک صنعت هم له منځه تللی وو.

د خیرخانې د کوتل د حفریاتو نه د یفتلي دورې ځینې بلګې په لاس راغلې دي چې د پنځم قرن د یفتلي دولت متعلق ځینې اثار پکې میندل کیږي. د یفتلي دولت اهمیت د سیاست په ساحه کې وو چې پس د لویو کوشانیانو نه یې د مملکت وحدت تامین کړی شو او د افغانستان د وو برهمني او مترا پرستي دین ته به یې په ـ ښه درنه ستر ګه کتل.

په افغانستان کې ساساني دولت
او د ترکي عنصر نفوذ

مرکزي او شرقي آسیا د نمرخاته خوا نه د منچوریا او خینګان غرونو او د چین دلوی دیوال سره او په نمرپرېواته د خزر ـ بحیرې سره لګېدلې ده د دې ارتې زمکې په شمال کې د سایبریا د ښتې او په جنوب کې د تبت او همالیه غرونه پراته دي ـ د خذر او بایګل په نمرپرېواته برخه زمکې او د پامیر دلوړ او

د بایګل حوزه دچین د ډېواله او خنګان پورې نمرخاته خوا ته دالویه علاقه تشکیلوي :- د مغلستان علاقه هم د دې شرقي « نمرخاته» پلو په شمال کې واقع ده د دې علاقو شګلنې صحرا او سختې ګرمۍ او سختې یخنۍ او لوړ و غرونو او ښو ګیاوو او ډېرو اوبو د ژوندانه مساعد شرایط منځ ته راوړي دي، دا مساعدې برخې دي ؛ اول حوزه بایګل وو چې د مغلو اصلي ټاټوبی دی. دویم ؛ د بالخاش حوزه چې د د ترکانو اصلي مسکن دی،. دریم :- د تارم حوزه چې د اریایانو اصلي مسکن وو، او دا تم قرن نه ترکانو لاندې کړه - څلورمه د ارال حوزه د ماوراءالنهر سړ او د سیحون او جیحون په منځ کې زمکې او د خوارزم علاقه - د ارال حوزه لوېدیځ د اریایانو د او سېدو ځای وو خو وروسته ترکان او ترکمانان پرې راغلل او هلته یې حکومتونه جوړ کړه - ځینې مغل چې د اریایانو سره ګډ شو نو د ترك نوم پرې کېښود شو او ترکمانان هم د دې مخلوط نسل نه را پیدا شوي خلك دي. سلجوقیان هم د دې ترکمانانو نه دي او ازبك د شرقي ترکانو نه دي او ژبه یې هم هغه چغتائي ترکي او ترکمني ژبې ته نژدې ده - او دا د واړه ژبې د یو بل سره نژدې او د مفاهمې وړ دي - او د واړه قومونه د یو بل په ژبه پوهېږي - خو ننني ترکان د دې ترکانو

دجملي نه دي ، د مرکزي او شرقي اسيا خلکو اکثرو بدويانو
د کېږدو ژوند کاوه نو ځکه به يې په خپلو ګاونډيو ښارونو
ولسونو او ملکونو يرغلونه کول - او په چين او ماوراالنهر -
افغانستان او ايران باندې به يې چپاوونه او يرغلونه راوړل
او په هند باندې دغلي کولو مانع خود هماليه غرونو او هند
ته د تللو لاره په ماوراالنهر او افغانستان ورغلي وه او دغې
ته د مهاجمينو سترګې وې چې بابري مغلو هم له دغې لارې نه په
هند ورغلل او هلته يې پرلوی بابري دولت تشکيل کړو او
سلجوقي دولت د ايران له لارې تر ورې آسيا (اسيا صغير)
پورې ورسېده ، او دې دواړو د ولتونو د ري ژبه او
ادب په هند او وړه آسيا کې خپاره کړه او رواج ئې ورکړو
ترک خلکو چې کوچي ژوند يې کاوه خپل شرقي ترکستان کې متمدن
شو او علم يې هم زده کړو او خط او ادب او صنعت هم ياد
کړو او سرياني خط يې په ترکي الفبا سره ومانه او د اويغورو
ترکانو په شان چې د ترکانو او مغلو د اتمې پېړۍ د تمدن په
سر کې وو - ښو ښاري ژوند ورن او اوبه خوړ او کروندې
ته يې توجه وکړه ، مغلو په دولسم قرن کې ، خط د همدې
اويغورانو نه زده کړو - او قراخاني ترکانو سره چې څه د -
اويغورو او څه د چيني متمدن د تاثير لاندې راغلي وو

× اويغور

په شرقي ترکستان او غربي ترکستان او ماوراالنهر کې سياسي مؤسسات تاسيس کړه. مدني ترکان او بدوي ترکمانان دواړه په مذهبي چارو کې د شرك نه ېنولي بت پرستي کړې ده او په زردشتي او مانوي بودايي عيسوي دينونو پيروي هم کوله. او څنې د لسمې پېړۍ نه پس د اسلام د دين سرښندلي شو او بيا د اسلام د دين کلك مدافع شو.

او هغه ترکان چې ماوراالنهر افغانستان او ايران ته تللي وو ورو ورو د هغه ځاى د تمدن د تاثير لاندې راغلل او بيا د هغه ولسونو ټينګ ملګري وو او د مهاجو بدوي ترکانو او مغلو په مقابل کې به جنګېدل؛ او هم دوى په اسيا صغير او هند کې د اسلامي تمدن د خورولو په کار کې مهمه برخه واخسته ترکو خلکو چې پخواني کوچي ژوندون کولو ورو ورو مدني شوه څه فرق او تفاوت چې د ترکو او ترکمانانو په راتللو کې وو هغه دا وو چې ترکانو وکولى شو چې په څينو ملکونو کې اکثريت ترلاسه کړي او هلته يې حکومتونه تشکيل کړه او ديو مسلطي قوى په تګل هلته واکدار شو لکه ترکان په ماوراالنهر او خوارزم کې او ترکمانان په اسيا صغير او سنه ترکيه، کې حو په څينو ملکونو کې ترکان د هغه ځاى په اصلي ملت کې ورګډ شو او ژبه او تمدن د هغوى يې ومانه او د هغوى په شان شو

لکه په افغانستان او هندوستان او ایران کې په ادب او تاریخ
کې یې بیا ځانګړې بېلتون نه لیدل کېده .

او په هند کې خو ملت په دوو طبقو مسلمان او غیر مسلمان ـ
وېش وو ملته خو یې هېڅ تفاوت نه درلود شان تورل ـ
مسلمانان یو ملت ګڼل کېده ، ترکي عنصر د شپږمې پېړۍ نه لوړی
وار ـ افغانستان ته راننوت او التاي ترکان په پنځمه پېړۍ کې
کله چې پرې د « توپا » د امپراطورۍ زورورې راغلې په منګولیا
کې په ځینو ځینو قبیلو غالب شو او بیا نو د غرب خواته متوجه شو
او د تارم د حوزې نه تر د سیحون د حوزې پورې ورو ورو غزېدل
او په سغدیانه کې یې تللیان هم لاندې کړه او د شپږمې پېړۍ په
دویمې نیمائي کې د دوی قوم د جیحون په غاړو کې هم راخور شو
د ترکو لوی امپراطور « تومن » چې د منګولیانه تر اراله پورې
فرمان چلېده ـ په دغه وخت کې مړ شو او د هغه لوی قلمرو
په دوو برخو شرقي او غربي ووېشل شو ـ په شرقي برخه
کې « موګان خاقان » د تومن خان ځوی با د شاه شو چې په منګولیا
کې وو ـ او په غربي برخه یې « ایستامي خان بیغو » با د شاه شو
چې د مملکت ساحه یې کاشغرستان او د سیحون حوزه او
اورال وو .

ترکي غربي دولت زر د ایران د ساساني دولت سره یو ځای

او متحد شو او په افغانستان کې واړه یفتلي حکومتونه ـ مات او له منځه یوړل ، او په « ۵۶۶ » میلادي کې یې د جیحون په بښي غاړه د ترکانو او چپه غاړه یې باختریان یې د ساسانیانو سلطه راغلله او د افغانستان شمال غربي ایالتونه هم ساسانیانو ونیول په دغه وخت کې د ایران ساساني باد شاه «خسرو نوشیروان» وو . خو وروسته د دې دواړو اتحاد په دې چې د وریښمو د تجارت په لار کې ایراني دولت واقع وو او ترکانو ازاد ترانزیت غوښتو او ایرانیانو داخبره نه منله د دوی اتحاد وران شو او د دواړو په منځ کې ـ جنګونه جوړ شو او د غربي ترکانو « تاردوخان » پیغوی یې د عیسوی شپږم قرن په اواخرو کې د ساساني دولت د قوت سره سره د افغانستان د شمالي ایالتو د بدخشان نه نیولې ترمیمنې پورې د غرب خواته په شاکړه او د ساسانیانو ځای دغلته دوی ترلاسه کړو او دا وو چې غربي ترکانو دا د له شمالي افغانستان ته رانوته او د هندوکش په شمال کې طوایفي الملوکي حکومتونه جوړ کړه چې تقریباً « ۲۰ » واړه امارتونه وو او د ټولو مرکز قندوز وو چې دلوی واکمن تابع وو دا حکومت د افغانستان په شمال کې او د کاپیسا ـ حکومت د هندوکش په جنوب کې چې د کابلستان نه نیولې تر

سنده پورې (۱۰) محلي امارتونه وو او مرکزي باګرام وو او لمن یې په جنوب کې تر ارغنداب رسېدله - د مملکت غټ حکومتونه وو چې لومړی یې د ساسانیانو او بیا د عربو په مقابل کې د افغانستان د استقلال او خپلواکۍ ساتنه کوله، دغه شمالي حکومت چې د افغانستان په تاریخ کې د «تګین شاهي» په عنوان یاد شوی دی د کابلستان د حکومت په شان د بودایي دیانت پیرو وو - «هیوان تسنګ» مشهور چیني سیاح چې د عیسوي اوومې پېړۍ په اول کې - (۶۳۰) میلادي کې چې د افغانستان د شمال نه نمرخاته خواته په سیل راغلی وو د خپل سفر په اوږدو کې د بلخ، قندوز، بامیانو او کاپیسا نه ترلغمان او ګندهارا پورې یو زر معبدونه لیدلي وو چې اته زره بودایي راهبان پکې په تبلیغ بوخت وو - له دې نه نور ډېر بودایي معبدونه او راهبان چې چیني سیاح لیدلي وو په دې علاقه کې وو، چیني سیاح د تخارستان د باد شاه «تاردو شاه» د مېلمه پالنې او دین داری ستاینه کړې ده.

د دې بودایي دین نه په غیر په افغانستان کې نور دینونه لکه برهمني او شیوایي دینونه او افتاب پرستي په شمال‌الشرق او څه په جنوب د مملکت کې او پخوانی

زردشتي دين يې په غرب کې لاړو - د مملکت په شمال کې
د تگين شاهي حکومت او په جنوب يې د کاپيسا حکومت وو
او د مملکت غرب د ساسانيانو په لاس کې وو او نور
وار په محلي امارتونه ويشل شوي وو خو په اوومه ميلادي پېړۍ کې
د چين د تانگيانو دولت وکړى شو چې کاشغرستان
ونيسي او په چين ورته يې او خپل سياسي نفوذ د سيحون
او د افغانستان تر شماله پورې خور کړى. خود تگين شاهي
د حکومت د دوامه او د اسلام د ظهوره پورې پرّ نور
څه ونکړى شو.

د زماني په تېرېدو سره د نورو اغلو ترکانو او د -
ولس په منځ کې چې گنتي سره گډې وې د اسې يو والى
راغى چې تو پير يې نشو کېدلى او په نتيجه کې يو ملت شو
او اسلام د ا وحدت لا پسې نور هم ټينگ کړو - چې -
بيلتون او توپير يې هيڅ هم نه شو پاتې - او يو دين او
يو ملت شو.

دعربو استیلا او دافغاني ولس پاڅونونه

د ۷ پیړۍ نه تر ۹ میلادي پیړۍ پورې

«ظهور اسلام»

د دوهمې مسیحي پیړۍ پورې اکثر عرب خلک په داسې ځمکه او سیمه کې چې اوبه پکې لږې وې او ګیاه یې هم لږه لرله چې په اصطلاح عربستان ورته وایه شي - او قبیلوي ژوند یې کاوه په هغه وخت کې سوریایي عرب د بېزانتش[1] تابع وو او د فرات د وادۍ عرب د ساساني ایراني دولت تابع وو - عرب خلک که څه هم مالدار وو او مالداري یې کوله خو په ښارونو کې تجارت هم ښه روان وو او د مکې معظمې ښار د تجارت مرکز وو او د چاپېریال اقتصادي مرکز هم ګڼل کېده - او د مصر او شام تجارتي کاروانونه به د عربستان له ښارونو نه تېرېدل ، او د دې کاروانونو سره به نوي فکرونه د نورو خلکو سره تلل راتلل - په منځ کې راغلل ، مکه.

---

(۱) د روم دولت

مکرمه چې د عربو مذهبي مهم مرکز وو هغسې د تجارت مرکز هم وو. د بيت المقدس او شام، يمن او عمان رومي او حبشي او نورو خلکو مکې ته تګ راتګ کولو او تجارتي کاروبار به يې کولو. متوحې او کريمه احجار، بنه کاڼي، او نور به مکې ته واردېدل او بيابه ترې صادرېدل د ټولو شيانو د مکې د بښار په مادي رونق کې نور هم پراخه «اضافه» کوله. د مکې خلکو ورځ په ورځ نوې معلومات وصولول او په معلومات کې به يې ورځ په ورځ د پوهې ډېرېده او ديهودو د توحيد وعقيدې او د نصاراو د معنويت نه هم خبرېدل او په دغه وخت کې د عربو دا حال وو چې پخپله په بيت الله شريف حرم مکه کې د عربو د مختلفو قبيلو (۳۶۰) بتان پراته وو او خلکو به باطله پرستي کوله د قريشو قبيله چې د اقتصادي او مذهبي مشرۍ اداره د مکې د ښار د دوی په لاس کې وه د ټولو نه مخکې د منظم او اداري او د مرکزيت د لزوم احساس کولو او دا حکه چې د ښروندانه په ساحه کې لوی اختلاف او تضاد د ښاروالو او نورو خلکو په منځ کې موجود وو او د ايران او روم نه په عربو باندې د تجاوز او تيرې د مخنيوي د پاره او پخپله د عرب قبيلو په منځ کې د جنګ جګړو د مخنيوي د پاره د مرکزيت او امنيت د جوړولو په فکر کې وو او هغوی دا غوښته چې د بحر

هند او بحر روم تجارتي لارې چې دوی ته یې ډېرې گټې راجع وې ښې وسائل شي - عربو خلکو چې ښه ادبي او جنگي استعداد درلود او د آزادۍ خواهش او استقلال تمایل هم وو - خو د خپل اقتصادي طبعي تنگسې نه هم په تنگ وو او غوښتل یې چې د گاونډیو ملتونو په شان د خوشحاله او آرام ژوندانه خاوندان شي عربو د علم نه څه برخه نه لرله یواځې طبابت او گیاه شناسي او څه نجوم او بیطاریه سره اشنا شوي وو چې د بابلي سابیینو یې زده کړې وو - طب یې هم عبارت وو د دم، دوعا او د اندامونو غوڅولو نه وو - او ځینې دارگان او شربتونه به یې هم استعمالول، په فال گیرۍ یې هم عقیده وه او جادوگري هم کوله، خو د دوی قوي ژبه خطابو، شعراو د انسابو علم ته - وقف وه - د بلې خوانه د عربو په څواکې دوه لوی امپراطورۍ ایران او شرقي روم پرتې وې او معنوي د ترقي قوس صعودي وهلی وو او اوس څه مخ په ځوړ ښکاریده د ایران ساساني دولت چې د افغانستان نه تر فرات(۱) پورې او د قفقاز نه نیولې تر خلیج فارس پورې حکم چلیده - او د چین او هند د تجارت لاره هم د مدیترانې پورې په لاس کې وه نو د تجارتي -

---

(۱) فرات او دجله د عراق مشهور سیندونه دي -

مالونو نه به یې محصول او مالیات اخیستل، بنه غني مرکز دولت وو د ساسانیانو د دولت پایتخت په تیسفون کې چې د دجله په سرکې واقع وو پروت وو او د ایو معظم او ښکلې ښارونو د ساسانیانو هنرم په مخ تللی وو د ساسانیانو نساجي او فلزکاري ډېر شهرت درلود - مخابرات او مواصلات هم هغه دچاپار په سیستم روان وو او هم په مخ تللی وو مصنوعي اوبه خوړ ابیاري، هم وده کړې وه خو د ایران د دربار اسراف او تجمل د خلکو ملا ماتوله ځکه چې ډېره اوبې شماره مالیه به ترې اخستل کېده.

ویلی شي چې دریم یزدګرد ساساني بادشاه چې د عربو د لښکرو نه ماتې وخوړه او د افغانستان خواته تللو نو م یو زیر اشپزان او یو زر سازنده ګان د ده زر بازوانان او ښکاریان د هغه سره ملګري روان وو د ایران فیودالانو هم حرکت کولو قدرت په لاس کې وو او په ایران کې به یې یو حکومت لرې کولو او بل به یې په هغه ځای د خپلو منافعو د پاره راوستلو او د مرکزیت نه یې ګرکه کوله او په ضد یې وو، د وی د دریم خسرو د مرګ نه پس په څلور کاله کې د ولس بادشاهان په تخت کښېنول او بیا یې ترې لرې کړل تر څو چې دریم یزدګرد بادشاه شو - د ایران په جامعه کې طبقه بندي او اجتماعي تصنیف

ډېر سخت ونړچې چا نشو کولی چې لوړې طبقې ته ورشي او ځان ورسره ګډ کړي، جبر او مذهبي تعصب د ومره کلک وو چې خلک مقید ساتل شوي وو که چا به غاړه وغړوله دقولو حقوقو نه به محروم کېدلو، اشرافیت میراثي او قانوني وو او رسمي مقامونه هم په میراثي ډول دخو کورنیو په لاس کې وو د شهزادګانو او متنفذو خلکو روحانیونو په لاس کې ځینې ځمکې وې چې د هغو مالیه هم معاف وه مالیه او نور هم الابلا د دهقانانو په سروه.

ګروندګر د ځمکې جز ګڼل کېده چې د چا په لاس کې به ځمکه وه د هغه ځمکې کروندګر هم د هغه مال ورله دې او ضاعو نه خلک ډېر په تنګ وو د قضاچارې هم د پادشاه او روحانیونو په لاس کې داویستانې سیاست په بنا وې او سختې جزاګانې به ټاکلې کېدې.

د پنځم قرن په اواخرو کې «مزدک»[1] نومې یو سړی پیدا شو او یو ډول کلي وال اشتراکیت یې منځ ته راوړ یې د سره خلکو د هغه د نظریاتو حمایت وکړو خو حکومت «نوشېروان» د خپلې ورېرې مزدوک په (۵۲۹ م) ووینوا و بندي

---

(۱) ویلی شي چې باد شاه قباد د نوشېروان پلار هم د مزدوک پېرو وو.

کړو او له منځه یې یووړ.

ساساني دولت د افغانستان د یفتلي د دولت سره په جګړو ستړې شوی وو او کامیاب تر یې راوتلی وو. د سوریې او ارمنستان د نیولو په سر د روم د دولت بیزانس سره په جنګ جګړو اخته شو دې جګړو د واړو جانبو ډېر ستړي او تاوانی کړه، دا جګړه د شپږم قرن او اووم قرن په اوایلو کې وه. د ایران د دولت تجارت، صنعت د رلو دل خوښم علوم نلرلې په لږو ډېر طبابت پو هېدل او هنر او موسیقي یې هم درلودله، آهنګري او نساجي وده کړې وه، او د طلا او نقرې مسکوکات هم وو او ښکلي ښارونه یې هم لرل او د تجارت لار یې مشرق او غرب ته خلاصه وه.

د عربستان په شمال کې د روم شرقي امپراطوري پرته وه چې د اروپا د پخوانی تمدن وارث ګڼلی کېده، اروپا پخوا د جرمن او هون قبایلو د یرغلونو له کبله د څلورم قرن نه تر پنځم قرن پورې مروړلي شوي او مضمحل شوي وه او د روم د امپراطورۍ او د هغه د بردګۍ نظام د سقوط او راچپه کېدو سره یې ښارونه ژرند ګډ وډ شوي وو صنعت او تجارت کمزوري شوي وو او علم او فرهنګ یې مخ په ورکاوې وو او اروپایي ملتونه چې مسیحي شوي وو په خپلو

منځوکې سره د فیوډالي دولت حکومت په جوړېدو او د-
کلیسا په اغېزو سره ننبنتي وو. او مسیحیت هم دارتقاپلو
دخپلو پیروانو د تللو مخنیوی په توجه سره کاوه - مسیحي
اروپا هم د هغه څلورم قرن نه د یونان د پوهې سره
مخالفه وه - او د خرافاتو او تقلیدي حکومت په ولسونو
کې چلېده - اوهم د دغه قرن په آخر کې د دیني غوندې
(کاوتاژ) د عیسویت نه پرته د نورو اثارو لوستل بند کړه
او په پنځم قرن کې د قسطنطنیه دیني شورا د کلیسا اسقف
او نسطوریان په دې گناه چې عیسوي دین يې د یونان
د فلسفې سره موافق ښودلو د پایتخت نه وشړل او شپږم
قرن کې ژوستینین د شرقي روم امپراطوریه واکدار دا تن
پوهنتون بند کړو او عیسوي پوهانو به هم د ونو په پوټکو
او یا په څرمنو د پخوانو علم کتابونه لیکل چې پکې به موهومې
د واگانې وې - نو په دغه وخت کې اروپا د منځنیو پېړو
په دورانه خوب تر ډېره پورې ویده وه خو د شرق
روم امپراطوري چې څه د اروپا په جنوب شرق او د-
اسیا صغیر کې او په شمال شرقي افریقا کې لا پاتې وه-له هغه
وخته چې د پخواني روم امپراطوري په دوو برخو شرقي او
غربي په (۳۹۵) میلادي کې وېش شوه شرقي برخې د

غربي برخې په نسبت قوي او مالداره وه او علم او فرهنګ
يې هم درلود او په دغه شرقي برخه کې يې ښه غټ غټ
ښارونه او تجارتي مرکزونه او صنعتي موسسې هم وې لکه د
قسطنطنيې ښکلی او لوی ښار چې و او په هم دغه دوره کې
معارې ښه ودې کړې وې چې د سنت صوفي کليسای مهمه
بلکه ګڼل کيږي او د قسطنطنيې نور عمارتونه او ميدانونه
هم ډېر مشهور وو او د روم د امپراطورۍ هم دغه شرقي
برخې چې د وچې او اوبو له لارو د شرقي ممالکو سره
تړلې وه نو تجارت يې هم ښه مخ په وړاندې روان وو
او د چين او هند او افغانستان او ماوراء النهر او د
عربستان او حبشې مالونه به يې بازارونو ته راتلل - او
پخپله په دغه مملکت کې ډېرې ښکلې او ښې توکې هم
جوړېدلې او شيشه يې لوښي هم پکې جوړېدل او وريښم
د شېږم قرن نه د غلته راپيدا شو، او د بيزانس[1] سودا
ګرو به د اروپا د مالدارو او لويو طبقو د خلکو د پاره
تجملي اشيا رسول - او د دولت يې د ګمرکي محصول له عايداتو
نه ښه غني او موړ وو او د غلې تجارت هم انحصار وو

---

[1] بيزانس د دغه امپراطورۍ مشهور ښار وو.

او د دولت په ولقه کې ووړې ګټه یې لرله - له دغه امله د
شرقي روم امپراطورۍ نظامي قانون وکړلی شو چې چېل -
حدود او سرحدات د کوچیانو کېږدۍ والوله داړو او
یرغلونو نه وساتلی شي او مملکت او قلمرو یې د شبه جزیرې
بالقان او وړې اسیا، اسیاصغیر، نه تر سوریه او فلسطین
او مصر او د مدیترانې د نمرخاته پورې ساتلی شوی وو او
امپراطور ژوستنین د واندالیانو قلمرو د افریقې په شمال
او په ایطالیا کې پېرشرقي ګوتیانو هم بریالی شو او په غربي
ګوتیانو یې د هسپانیه په جنوب کې هم بری ومونده او په دې
توګه د مدیترانې فرمان دوه وګټلی شو - د بل پلوه د امپراطور
استبداد او بې سرحده اختیار او واك خلك د ملك په اداري
چارو کې د برخې اخېستو نه محروم کړي وو او د مریتوب
نظام پرې چلېده - او مالیات ورځ تر ورځه پرې زیاتېده
په نتیجه کې خلك په تنګ شو او پاڅونونه یې وکړه د دې -
پاڅونو نه یو د قسطنطنیه په ۵۳۲، میلادي کې پاڅون وو چې ۳۰،زره
د پرش زره شور شیان پکې ووژل شو - همدا ډول پاڅونونه
په مصر او سوریه او فلسطین کې هم وشو چې د دولت هغه یې
د پرن ورا و شدت غلی کړی شو خو خلك د یو مساعد فرصت په
لټه کې وو لمبار د یانو ایطالیه د بیزانس د امپراطورۍ نه خلاصه

کړه، په دې ترتیب او ډول د روم شرقي امپراطورۍ په ښکاره
خوځنګ زوړ جلال او لوړتیا په رسمي ډول ښودله خو ښتیا
دا وه چې ټولنیز حالې مخ په ځوړ او انحطاط وو او قسطنطنیه
چې د پخوانه یو علمي مرکز د ټول جهان ګڼل کېده اوس
د یو دیني او مذهبي مستخدم پوړ په او ځای ته راغلی وه
او په ولس کې په مذهبي تعبیرونو او تفسیرونو شخړې
او وهل او ټکول کېده او دا سبب وو چې د دولت د اجتماعي
ژوندانه د نور سمبنت نه پاتې وو. هم دا د شرقي روم
د دولت او د ایران د دولت د فسادونو نه ډک حال سبب
هم وو چې نوی ښکاره شوی عرب ملت په دواړو دولتونو
باندې حملې کولو ته تشویق کړ او په قوي عزم عربو وکړې
شو چې د ۶۳۳ نه تر ۶۵۱ م، پورې د ۱۸ کاله په موده کې د
ایران ټوله شهنشاهي ونیوله او سوریه، مصر او فلسطین هم د
روم د شهنشاهۍ نه رابېل کړه د دغه رنګه اجتماعي شرایطو
د اوومې میلادي پېړۍ په اوایلو کې په عربو کې د اسلامي
حقوقیات اعلان وشو او په لسو کلونو کې عربو او د قریشو قبیلې
دغه دین ومانه او ورسره یې مرسته هم وکړه و رپسې نورو
عربي قبایلو د اسلام دین هکه ومانه چې د دوی مادي ګټو سره
سره برابر او موافق وو د اسلام دین یو مرکزیت او یو دین

او عمومي امنیت او ملي استقلال د وی ته ورکولو او د دې نه هم ورتېر عرب ورځ په ورځ ډېرېدل او مملکت یې فقیرېدو او عمومي اقتصاد یې حقیر، سپک، وو نو د کلمة الله د لوړتیا په شعارونو راپاڅېدل او د پخوانۍ دنیا په جللو او شتمنو امپراطوریو راغلل او مشرانو به یې عرب د فتح او غنیمتونو د ګټلو پلوړ رهبري کول د اسلام دین قادر وو چې د مختلفو ملتونو او قبیلو تر منځه یو والی او کلک ملي وحدت جوړ کړي.

د اسلام دین وکولی شو چې خپل پیروان د اسلامي دین په اساس او عقیده په مرګ مقدر پوه کړي او ایمان یې ولجاوه نو څکه عربي لښکر نه ماتېدونکی اردو په شکل منځ ته راغی چې د اطاعت روحیه او د اسلامي قوانینو منځه هم ور سره وه دا داسې سره ګډ وو چې هېڅ نه بېلېدل نو د دغسې اردو وظیفه د دنیا فتح کول وو او اجر یې په ژوندانه کې سرلوړي او ډېر غنیمتونه ولجې، وې او پس له مرګه موعود جنت وو ـ عربو د خپل ژوندانه مراد په نړلنه او سیاست او قضا او حکومت کې مانه او حتیٰ چې مراد د فکر او معیشت یې هم په دین ولاړ وو، نو له دې امله د عربو یو قوي او فاتحه عربي جامعه منځ ته راغله البته د ینونو هر یوه پخپل وخت کې

نوي ساز ما نونه د خان سره راوړي وو لکه تورات شريف
دوه زره کاله مخکې د اسلام نه راغلی وو او احکام او مقررات
يې راوړي وو او رايج کړي وو او د خلکو حقوق او د
ملکيت حدود يې او د کورنو حدونه او د جرم جزاء يې
ښودلې او معلوم کړې وې هم داډول مسيحيت د غلامۍ په
سخت وخت او دور کې راغی چې د مريونو دردونه اوکړاونه
او فقر لږ کړي او د مريونو دردونه تکور او تسکين کړي
تحمل او تحمل د افراط نه ډډه وکړي او د مينې او
محبت اعلان وکړي، موسوي دين اکثره په د نيايي جنبه
او عيسوي دين په معنوي جنبه ولاړ وو او د اسلام دين
دا دواړه دينوي او معنوي جنبې سره يو ځای کولې او
د مسلمان په يو لاس کې به قرآن او بل لاس کې توره وه
که څه هم عربو د خپلې ژبې د خورولو دپاره په خلکو زور نه
اچولو او توره يې نه ګوا ښوله خو کله يې چې معنوي علم حاصل
کړ او ژبه او ادب يې مخکې ولاړ نو د عربې ژبې
خوربدل په اسانه سره وشو او عربي ژبې د اسلامي
ملکونو په دفترونو کې رواج وموندە او حال دا چې داوومې
پېړۍ د اواخر و پورې عربو به په دفتري چارو کې د بومي
منشيانو نه کار اخستلو او هغه څوک به يې د چارو داجرا

دپاره استخدامول چې د هغه محل په ژبه به پوهېدل، اسلام د خپلو تعليماتو سره د پښتوانه د نيا په مقابل کې يو مبارز دين وو او د ټولنې زاړه نظامونه يې لغوه کړل او د دولت اختيارات يې دا دول مشخص کړه چې په نيمايي د اول قرن کې اسلامي ديموکراسي د يونان د ښاري ديموکراسۍ او د مريتوب د رژيم نه يې توپير او امتياز درلود.

د اسلام پيغمبر او خلفاء اربعه راشده يعني څلور ياران

حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د اسلام پيغمبر په (۵۷۰) مسيحي کې د نيا ته تشريف راوړ او په (۶۱۰) ميلادي کې يې د اسلام د دين په ښکاره تبليغ پيل وکړ و پخپل اصلي وطن مکه معظمه کې ورته کفارو ډېر تکليفونه پېښ کړه او اخر دلوی خدای جل جلاله په امر د مدينې منورې ښار ته په هجرت کولو مجبور او مکلف شو. او په (۶۲۲ ميلادي) کال کې يې مدينې منورې ته هجرت وکړ او د شلو کلونو په موده کې چې څو جنګونه يې د کفارو سره وکړه لکه د بدر مشهور جهاد د احد جهاد، د خيبر جهاد، د او متة الجندل جهاد شو او -

ملحي لکه د حدیبیه صلحه ، د تبوك صلحه شوه ، د عربستان څخه برخه یې فتح او ونیوله او د شام خواته یې د فتحې دپاره اسلامي لښکر ولیږلو او د اسلام پیغمبر د شرقي روم باد شاه او د ایران او حبشې باد شاهانو او دیمامه او بحرین او غسان امیرانو ته هم د اسلام د دین لیکلي بلنې ولیږلې او په (۶۳۱ میلادي) کې مکه معظمه هم فتحه کړه او د اسلامي دولت مرکزیت جوړ کړی شو او په (۶۳۲) میلادي کې یې د ژوندانه سره څنه بنه وکړه او د دې فاني دنیا نه یې کوچ وکړو.

د پیغمبر اسلام په ځای ناست کسان «خلفای راشدین اربعه» «امیرالمؤمنین ابوبکر صدیق (رض)، عمر ابن الخطاب (رض)، عثمان غني (رض)، او امیرالمؤمنین حضرت علي (کرم) ابن ابی طالب وو» دوی وکړی شوچې په (۶۳۲) میلادي نه تر ۶۶۱ میلادي پورې د «۳۰» کلونو په موده کې د بیزانس یعني د روم دامپراطورۍ آسیایي برخه تر دمشقه شام پورې او مصر او شمالي افریقا تر قرطاجنه د دروازې پورې او عراق او دایران مملکت د افغانستان تر بریدونو پورې فتحه کړې او د اسلامي لوی شهنشاهي یا اسلامي خلافت تاداو یې په دنیا کې کېښود لو

د دغه قوي اسلامي دولت یا خلافت د اخاصیت وو چې په چارو کې به یې د اسلامي مشرانو سره مشورې کولې او په

دربار کې ساده شوي ول او په تقوا متصف وو او په قول و فعل کې د قرآن د ارشاداتو سره او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سنتو سره سم وو او د خلکو په منځ کې برابري او مساوات او اسلامي عدل د اسلام د قانون موافق - چلېده او دجهاد عزم او اراده او جذبه په جهان کې د اسلامي اصولو دخورولو د پاره په مسلمانانو کې وه - خو افسوس چې دغه اسلامي او عربي خصوصیتونه په مسلمانانو کې تر ډېره پاتې نشوځکه چې امویان منځ ته راغلل.

امویان

اموي لوی شهنشاهیت په «۶۶۱ میلادي» کې د خلافت راشده ځای ونیولو او تر «۷۵۰» میلادي پورې وو په دغه موده کې څوارلس تنو امویانو سلطنت کړی دی او دغه وخت کې بنکاره په سیاسي او اجتماعي او اقتصادي وضع کې تغیر پیښ شوی دی، اموي دولت په کال «۶۶۱م» کې او «۶۶۲م» کې د افغانستان په شمال غرب کې د نېشاپور او هرات ولایتونه ونیول او مخ په بلخ روان وو او په غرب

او جنوب د افغانستان کې د کرمان ولایت او سیستان او مکران یې هم ونیول او وروسته یې د سند په حوزه کې هم قدم کیښود.

همدارنګه په (۶۷۴م) کې د بخارا په مملکت کې هم سوقیات وکړه او په (۷۱۱م) کې ماوراءالنهر ونیول. اموي فوځونه په کال (۶۹۳م) د قرطاجنه نه د اتلانټیک د بحر سواحلو ته ورسېدل، او په کال (۷۱۰م) کې اسلامي فوځونه د اروپا په سواحلو کې ورښکته شو، او په کال (۷۱۲م) کې د مولیدو ښار ونیولو او د بونیک حکومت یې له منځه ویوړ د دغه کار د انجام نه وروسته اسلامي دولت په کال (۷۳۲م) کې د فرانس د مملکت په جنوبي برخه کې هم عسکرکشي وکړه سره د دې چې مخکې یې د سیسیل او ساردنې او همدغسې یې بلاد ارض روم یې تر (۲۰۰م) پورې نیولې وو او د شرقي روم د امپراطورۍ پایتخت قسطنطنیه یې یو وارې قلعه‌بند کړې وو نو پدې ډول اموي پادشاهت شرقاً او غرباً د اباسیند د غاړې نه تر بحراطلسه پورې اوږد شوی وو دا ارت او پراخه دولت په دنیا کې د خپلې زمانې د ټولو نه لوی دولت ګڼل کېده، دالوی اموي دولت د پیدا ښت نه آن تر مرګه پورې د افغانستان د ولس د خلکو سره په

جنګ جګړو اخته وو او په دې دومره ډېر وخت کې سره د
قدرته امویانو ونکړی شو چې ټول افغانستان را لاندې کړي
او د افغانستان خلګو په دې ټول وخت کې د سیاست
په صحنه کې او نظام کې د خان نه دفاع کوله او اخر افغانانو
وکړی شو چې دغه لویه او زوره وره بادشاهي د پښو وغورځوي
او په ځای یې عباسي دولت ودروي. اموي دوره
د خلفاء راشده د دورې سره فاحش توپیر درلود. په دې
معنی چې د خلفاء راشدو په وخت کې د ژوندانه ټول شرایط
او د عربو معیشت یو برابر (متوازن) وو او طبقاتي توپیرونه
دومره سخت نه وو او امویانو په نیولو ملکونو کې په مړو
(غنی) او مخکې تللو ملکونو کې چې دوی نیولي وو هلته
د تجارت پراختیا او د پیسو د راټولولو کار د ملاکې او تجاري
طبقې په ګټه وو او د دهقانانو او زحمت کښو غلامانو او
فقیرو خوارو خلګو سره یې ډېر توپیر او تفاوت وو او د
امویانو یو بل غټه خطا خو دا وه چې په خپلو نیولو ملکونو
کې د خلګو سره د عربي او نژادي عصبیت په اساس رویه
کوله او د نیولو ملکونو خلګ به یې سپکول او تذلیلول او
د یو برابر حقوقو نه چې د اسلام د دین خاصه وه خلګ
محروم وو، په اموي کورنۍ کې یوازې «عمر ابن عبدالعزیز»

اموي واکدار وو چې د اسلام د اصولو په اساس چلېده او په دغه کار کې ښه کامیاب هم وو او خلک یې د خلفاو راشده وو په ډله کې هم حسابوي - امویان ډېرو فتحو او ډېرو ملکونو ولاندې کولو متکبر او مغرور کړي او بې دریغه او بې شماره دولت عیاش او تجملي کړه او د اسلامي قانون نه به چپ چلېده مثلاً په اسلام کې بادشاهت یا خلافت انتخابي وو. دوی هغه میراثي کړو او عربي دربار چې د راشدو خلفاو په وخت کې به ډېر ساده وو دوی د روم د امپراطورۍ په شان ډولي او مجلل کړو او د دولت لوی کارونه به د کورنۍ خلکو او چېلوانو او د شاهي قوم خلکو ته او دولتمندانو ته ورکول کېده او په لمړۍ مرتبه کې به عربي نژادو خلکو ته هم ورکول شو، او هم په دې دوره کې د عربو نژاد د قرآن په لحاظ او د عربي ژبې له امله او د لوړو بشري اخلاقو په درلودلو د دنیا په ټولو ملتونو لوړ ګڼل کېده - نو حاکم او قاضي او امام به په ټول ملک کې د عربي نژاده خلکو نه مقررېدل او هغه عرب چې مور به یې عربه نه وه بل څوک به وه - هغه به ناقص ګڼل کېده - او د امویانو دا تبعیض او توپیر او امتیاز دار اموي دولت د ټولو ټولو ملکونو د خلکو د ګټو او مالو په ضد ضرور وو ؛ نو ځکه د خلکو د مقاومت او پاڅون

سره مخامخ شو اموي دولت ته به چې چا د اصلاحاتو ویل مخکې
به لا شدت او سختي را واخېسته او خلکو ته به یې رنګارنګ
جزاګانې او شکنجې ورکولې حتی چې د محکومینو نه به یې هډوکي
په ژوندانه غوڅول او مثله کول به یې او د هېڅ سختۍ بندي
خانې یې جوړې کړې وې. د امویانو دا خوی وو چې د خپلو
سیاسي مخالفینو نه به یې سر غوڅ کړه او هغه به یې د چا پار
«واګیانو» په واسطه به یې د «دمشق» پایتخت ته لېږل -
محمد غښي کار د افغانستان د مدافعینو سره شوی دی چې د خلکو په
زړونو کې یې د ضدیت کرونده وکړه - او ورځ په ورځ به
د مظلومانو او محرومانو شماره زیاتېدله چې په اخر کې دغه دولت
عاقبت لړزېد په یوه پېړه کې له پښو ولوید او د امویانو
د دولت خلف، عباسیانو، ٥٠٠ کاله عمر وکړی شو ځکه چې د
خپلې رعیت سره به نسبتاً ښه ګذاره او مداره کوله په هرحال د
امویانو دوره د جنګ او جګړو، جهاد او فتح او د اسلام او
عربي ژبې د خورېدو په دنیا کې ګڼلی شي د امویانو د خاتمې
سره د اسلامي فتوحاتو هڅې هم پاتې نشوې او فتوحات په ځای
ټپ ودرېدل.

د امویانو په دوره کې علوم بس تفسیر، حدیث او فقه وو
او د نورو پخوانو علمونو سره بلد نه وو، خو څه وخت چې فتوحات

وشو او عرب خلک نورو وطنونو ته ورغلل نو د نورو دينونو فلسفي او هنر او علوم سره هم بلد شو نو دا ديو نوي گډ تمدن دراتلو د پاره زمينه شوه . اموياتو يو کار وکړو چې عربي ژبه او تمدن يې بيته وساتلې شو سره د دې چې مفتوحه ملکونو ته ورغلل خو د هغوی د تمدن نه دومره متاثر نشو لکه مغل او جرمنيان چې نورو ملکونو ته به فاتح ورغلل خو خپل هرڅه به يې پرېښودل او د هغه ځای د تمدن د تاثير لاندې به راغلل او هغه به يې ومانه .

عباسي دولت

داخلي گډوډۍ او د خلکو پاڅونونه د اموي دولت د ورکاوۍ سبب شو . او کله چې ابوالمسلم خراساني د خلکو لار ښوونه وکړه او د اموي دولت له پښو وغورځېد او عباسي دولت او خلافت منځ ته راغی نو ۱۳۲ تنو عباسي خلفاو د «۷۵۰» نه تر ۱۲۵۸ مسيحي پورې پنځه پېړۍ د خلافت چارې اداره کړې او دا يواځې عربي دولت نه بلکه بين الاسلامي دولت گڼل کېده چې د افغانستان او ايران ترکانو او د -

ماوراالنهر خلکو د دولت اداره او سیاست کې مهمې برخې درلودلې لکه ابوالمسلم خراساني چې عباسیانو ته سیاسي قدرت په لاس ورکړو او امویان یې مات کړه - د برمکي بلخي کورنۍ د عباسي دولت په سیاسي او اداري چلند کې ډېر دخل ورو او د سهل سرخۍ کورنۍ کلونه کلونه د عباسي دولت په اداري چارو کې برخه درلوده - او د افغانستان د ټولو شوو ولایاتو اداره هم اکثره د محلي خلکو په لاس کې وه د خلافت مرکز هم د دمشق نه بغداد ته را وړل شو، عباسیانو وکړی شول چې په افغانستان کې (۷) کاله نور هم خپل نفوذ او حکومت وچلوي - څو وروسته د افغانستان خلك آزاد شو او د خپلې خپلواکۍ اعلان یې وکړو.

د عباسیانو دوره په تاریخ کې د تمدن او علم له پلوه او د نظریو ودانولو دوره ګڼلی کیږي د عباسیانو علم او فرهنګ خوښولو او عالمان به د هر دین او مذهب او خیال خاوندان چې وو غیر له خپلو سیاسي مخالفینو نه به په عباسي دولت کې په امن او سېدلی شوا او احترام کېده، عباسیانو د پخوانو علومو نه ډېرې ترجمې وکړې او په دې لار کې د برمکي کورنۍ ډېر خدمتونه هم کړي دي چې د یادولو وړ دي په عباسي دربارونو کې په فلسفي مباحثې او علمي مناظرې کېدلې او خلك د نورو

پخوانو علومو نه خبر شو.

عباسي دولت د اموي دولت په نسبت پوره متعدله رويه کوله او غير عرب عجمي خلکو ته يې هم د مملکت په اداره کې ځای او برخه ورکوله خو اخر په دغه دولت کې هم ځيني داخلي گډوډۍ منځ ته راغلې او د خلکو د پاڅون باعث شوې او له بله پلوه د مغلو يرغلونه راغلل او عباسي دولت يې له منځه يوړ لکه د هلاکو خان مغل تاړاک چې د افغانستان او ايران نه تېر شو او بغداد يې هم لوټې لوټې کړو. او عباسي دولت له منځه لاړ.

په افغانستان کی دعربو نفوذ

دخلفاء راشدو په وخت کې د (۶۴۲) نه تر (۶۶۱) ميلادي پورې

په اوومه پېړۍ کې کله چې عرب د افغانستان د خلکو سره تماس او تصادم پيدا شو نو هغه وخت د افغانستان وگړي د اقتصاد له تلره مخ په وړاندې روان وو زراعت بنه دا بياري سستم هم بنه کافي وو تجارت يې هم بنه روان وو او د هند او چين مالونه به د دوی په لاره تلل راتلل او له دې د رکه د کابل شاهانو دولت د مال التجاره د محصول نه کافي عايد تر لاسه کېدلو لنډه دا چې د عربو خلکونه د افغانستان

خلک د ژوندانه په چارو کې مخکې وو. د علم له پلوه هم افغانستان هغه وخت نسبتي ترقي بنه وو. په رياضي، نجوم، طب الهيات به پوهېدل او دغه علوم پکې رواج وو. او ديوناني علومو او هندي فلسفي سره هم بلد وو او خروشتي رسم الخط او ورسره په يوناني او برهمني رسم الخطونو هم چلېدل کارونه چلول او مختلف دينونه لکه زرتشتي، بودايي، شيوايي او ميترا پرستي دينونه پکې رواج وو. او ديني مراکز او د ټولو دينونو معابد هم پکې لکه چيني سياح هيوننتسنگ چې د هغه وخت لنړو وړيو د (۱۲۲۰) معبدونو يادونه کړې ده او ورسره يې (۸) زره تنه روحانيون هم ياد کړي دي.

د هغه وخت اداري او مذهبي روښ د افغانستان خلک تصنيفول او ډلې ډلې کړي وو او ملوک الطوايفي وړو طبقاتو اختلافونو نه پالېسي ونړېدل.

د هغه وخت جغرافيه ليکونکي په افغانستان کې (۱۷) محلي حکومتونه او امارتونه يادوي په دې ډول: کتار شاه نيشاپور - ماهويه ملک مرو - زاذويه، ملک سرخس، بهمنيه ملک ابيورد ابراز ملک نسا، ميراز بنده ملک غرجستان، گيلان، ملک مرو الرود، مرغاب، فيروز شاه زابلستان «کابلشاه»، ترند شاه شير باميان، خلاق، شاه جوزجان خسرو ملک خوارزم «رتبيل»

ملك سنجستان رخج داور «برازان» ملك هرات باد غيس او پوشنګ «مکران شاه» «قيقانشا» «بلوچستان، قشميران شاه وو، د -
کابلشاهانو حکومت پکې نسبتاً لوی وو نو په «رتبيل» ملقب وو
او تګين شاهان په تخارستان کې وو هم دخپلې علاقې واړه
امارتونه به يې په (۳۰) تنو خانانو اداره کول او د غوخانانو به
يوه برته زمکه پخپله ولقه کې لرله او له هغه زمکې د پيداواره
به يې خپل کار چلاوه او ډېرې پيسې به يې په لاس راوړلې
چې دغه محلي اميران به ډېر شتمن وو لکه چې ويلې شوي دي
د رستم ځوی د سيستان محلي حاکم د ومره شته لرل چې «د ربيع»
د عربو د يرغلي لښکر مشر ته د صلحه په بدله کې په «۶۵۲» ميلادي
کې يو زر د طلاو جامونه او يو زر غلامان ورکړه نو د دې نه
دا معلوميږي چې د افغانستان محلي حاکمان څومره شتمن وو او
د اُمراو او روحاني طبقې د معشيت لوی برج په دهقان پروت وو
چې کار به يې ډېر کولو او ګټه او حاصل به يې لږ وو نو دافغا
نستان سياسي او اجتماعي محيط دا ډول وو چې د عربو اسلامي
لښکر پرې راغی او د هغوی شعار د ورورګه ' برابرۍ وو او په
ايران کې يې دغه حده پورې د اشعار رشتينی کړی هم وو
نو د دهقان او مزدور د عربي لښکر په مقابل کې مزاحمت نه کولو
يواځې حاکمه طبقه له دې وېرې چې د دوی ګټې په خطر کې وې

او روحاني طبقې چې د اسلام دين يې دخپل دين زوال ګڼلو
د عربو په مقابل کې جنګ ته ولاړ وو. خو د عربي لښکر په
مقابل کې عام ولس چې طبقاتي وو د زړه نه دفاع نه کوله او د
محلي امراو او عربي لښکرو جګړې روانې وې چې د (٦٤٢)
ميلادي نه تر (٦٦٢) ميلادي پورې چې د اموي دولت د جګړو
داغازه — پورې روانې وې او شل کاله يې دوام وکړ وعربي
لښکرو پرې حملې کولې او د افغانستان ولسي خلکو به دفاع کوله
آخر عربي لښکر په دې نامه چې يزدګرد د ايران نه راتښتېدلی
ساساني بادشاه لټوي د طبسين له لارې چې عربي ليکوال ورته
د خراسان دروازه وايي افغانستان ته رانوتل او حال دا-
چې عربي لښکرو د ايران لوی دولت په دولسو کلونو کې ونيولی
وو خو د افغانستان په يوه څنډه کې شل کاله عربي لښکر مصروف
پاتې شو ايله عربو وکړی شو چې په (٦٤٢) ميلادي کې د طبسين
له لارې مرو ته داخل شو او د ترکي ماوراالنهري خان
په مرسته يې يزدګرد د جيحون نه هغه پلو غاړې ته ورتېر
کړ و. او همدارنګه نيسا او کرمان او سيستان او مکران هم
عربي لښکرو ونيول او لاندې يې کړه خو دا ټول فتوحات زر
تېريدونکي وو او د عربو اساسي حمله د (٦٥١) ميلادي نه چې
افريقا او قفقاز يې ونيول، په افغانستان پيل شوه عربي-

لښکرو لومړی وار امیرشهر (نیشاپور) د محلي حاکم نه ونیولو او
هم هلته یې د عسکري حرکاتو مرکز وټاکو وروسته یې د سرخس
د محلي فرماندار او د ابیورد د محلي حاکم سره معاهده او مصالحې
وکړې نو وروسته د هرات او مروې وار راغی په کال (۶۵۲)
میلادي کې عربو د هرات د حاکم سره په بدل دیو میلون درهمو
وروکولو او په خراج د کال په دریې سوه زره درهمو منلو
باندې مصالحه وکړه او خپله لارې د افغانستان د شمال
ولایاتو ته خلاصه کړه. ماهویه سوري (ویل شي چې د اسور
د تایمني قبیلې یوه طایفه ده، او دا هغه لودي سوري چې شیرشاه
هغه قبیلې ته منسوب دی نه ده)، د مروې محلي حاکم هم دیوې
دوستانه معاهدې په واسطه د عربو د حمایې لاندې راغی.
په دغه وخت کې یزدگرد ایران راتښتیدلی باد شاه په بلخ
او تخارستان کې وو او په بلخ او تخارستان کې پخپله
تعبیه او د چین نه د لښکري امداد په طمعه خوځیده خو هیڅ و
نشو او هیچا یې مرسته ونکړه. عرب لښکرې د هرات نه د یزدگرد
په لټې پسې د هرات نه مرغاب او جوزجان ته وروانې شوې
او د لارې خلکو څه خاص مزاحمت ونکړو او خلکو ته وویل شو
چې ستاسې خپل معتقدات محفوظ دي او نورو محلي حکومتونو
هم د عربو سره مصالحې وکړې او د هغوی فرمانروائي –

پرېښودلې شوی لکه چې په کال (۶۵۲) میلادي کې د عربو سردار احنف د هرات سره د صلحې نه پس چې د بلخ په خوا روان شو نو د «بازان» د مرو رود (مرغاب) د محلي حاکم سره مخامخ شو او د ځه لږ وړ جنګ نه پس هغه د اسلام دین ومانه او جزیه یې هم قبوله کړه - بازان خپل ورور (ماهک) د یوتن ترجمان او لیک سره احنف ته ولیږلو او په هغه لیک کې یې لیکلي وو:

زما نیکه د دې علاقې یو نامتو سوارکاراو نامتو توریالی وو او دا علاقه یې نیولې او ساتلې ده که ته د موږ سره مصالحه غواړې نو باید چې زموږ د ازمکه موږ ته راپرېږدې او زموږ کورنۍ ته باج هم وبخښې نو موږ به (۶۰۰۰) درهمه د خراج په عنوان درکړو. عربو سردار داسې ځواب ورکړو:

ستا غوښتنې ومنلې شوې په تا او ستا په کورنۍ خراج نشته خو د مسلمانانو سره کومک په تاسې ټولو لازم دی که ته مسلمان شې ستا منزلت او مقام به محفوظ وي او ستا کافي نفقه به درکول شي او د موږ او نورو مسلمانانو سره به یو شان برابر وي - یکشنبه محرم کال (۳۲) هجري د احنف مهر او د پنځه تنو عربي سړو مهر و نه، دا د واړه لیکونه طبري په کتاب الرسل او ملوک په پنځم

اُمم

جلد کې نقل کړی دی. د فیوډالانو داخاصیت دی چې د دوی
شخصي گټوته تاوان ورته نو دفاع کوي او که کله د دوی گټې
تضمین شي نو بیا د ملک نه دفاع ورته دویمه درجه اهمیت
لري، او د یرغلگرو سره بیا سازش کوي.

محدغني په دغه کال کې د سیستان حاکم (ایران بن رستم)
دخه جنگ جگړو نه پس د ربیع عربي سردار سره جرگه وکړه
ربیع لوړ سړی وو او غښتې شوندې او غټ غاښونه یې لرل د جنگ
د مړو د پاسه ناست وو، په دې وخت کې ایران د ښار د
مشرانو او ملگرو سره په آس سور راغی او د مجلس سره نږدې
پیاده شو اوچې ربیع ولید نو تاثیر پرې وشو د ایران او
ربیع معاهده وشوه او ایران یو زرطلایي جامونه او یو زر
مریونه ربیع ته ورکړه او د عربو د تللو لارې پرانستله.
عربو په دې سیاسي او عسکري روش مخکې تگ کولو د خلفا
راشدو په (۲۰) کاله موده کې د نیشاپور ایالت (۱) وسنی
خراسان، هرات، مرو، جوزجان، او بلخ په شمالي افغا
نستان کې او کرمان او سیستان د افغانستان په غرب
کې او د بلوچستان او قندهار او د الرخاج یارخد، یې د
مملکت په جنوب کې څه وینول او څه یې د چپل نفوذ لاندې
کړل، او په (٦٥٥) میلادي کې د کابلشاه رتبیل سره د غزني

له لاري جنګ او صلحه وکړه - په دې موده کې په کرمان کې د « سيرجان » ښار د عربي لښکرو مرکز شو ، کاريزونه يې وکنستل ، جماعتونه يې جوړ کړه چې د « ارجان » لوی جماعت يې يادګار دی په بلوچستان کې عرب تر قيقان (کيسکانان ، پوری وړغلل او په سيستان کې ولې ولې زرتشتيان مسلمانان شو ځکه چې د عربو د سردار عبد الرحمن سمره سره ډېر لوی اسلامي فقها م سيستان ته راغلل او د اسلام دين يې خلکو ته تبليغ کړ او ډېرو خلکو د اسلام دين ومانه - او يو شمير خوارج م سيستان ته لامخکې راغلي وو او د مهاجرو په توګه هلته مېشته وو او د هغوی د سياسي او انقلابي افکارو جرړې خښې کړې وې .

په زابلستان او کابلستان کې لومړی وار د عربو عسکر وليدل شو او د اسلام نوم واورېدل شو - په شمالي افغانستان کې د هرات نه نيولې تر بلخه پورې عرب غير د - مرغاب د يو جنګ نه د خلکو د سخت مقاومت سره مخامخ شو په همدې وخت کې (۶۵۲ ، ميلادي کې ساساني بادشاه يزد ګرد چې د عربي لښکرو نه راتښتېدلی وو - ماهويه سوري محلي حاکم په مروه کې ووژلو - او يو کال پس هراتي قارن د عربو په مرکز چې نيشاپور کې وو حمله وکړه

خو وروسته د فتحې نه پرې عبدالله عربي افسرشپږون وکړو او قارن په میدان جنګ کې وو ژل شو.

په دې ډول د عربو د لومړي تصادم دوره د افغانستان د خلکو سره چې شل کاله یې دوام وکړو سرته ورسېده، او بله دویمه دوره به داموي دولت د شروع نه تر دغه دولت د خاتمې پورې چې د افغاني خلکو په لاس وشوه ۹۰، نوي کاله دوام وکړو.

د اموي عربي دولت په وخت (۶۶۱م نه تر ۷۱۶م) پورې د عربي دولت د استيلا په مقابل کې د افغانستان د خلکو مبارزې

د خلفاء راشده وو د دېرش کلن دولت د دورنه وروسته په (۶۶۱) ميلادي کې د اموي دولت منځ ته راغی چې اشرافي او نظامي ماهيت يې درلود، دا حکومت لومړی وار د شام په دمشق کې اعلام شو او امير معاويه د اموي کورنۍ لومړی باد شاه د وېرونکي نظامي سياست په سوري کې د ملک گيرۍ تصميم او هوس درلود نو حکم غفاري يې افغانستان ته وليږلو حکم د المهلب په واسطه د غور ولايت ته عسکر وليږل خود هغه ځای د خلکو له خوا رامات شو او په شا لاړل، حکم غفاري مرو ته ولاړ او د ماوراءالنهر د قطعي نيولو په فکر کې شو د هغه نه وروسته عربي افسرانو يو په بل پسې د نيمې پېړۍ په موده کې د هټل بخارا ولايتونه فرغانه او خوارزم ونيول شو خينو ملاکانو (زمکه والو) چې په کلکو قلعه گانو

کې او سېدل او ځينو شخصي حاکمانو، چې خپل مقولگي يې -
درلوده مدافعه او څه جنگ جگړې کولې خو په (۶۷۰م)
کې د عربو (۵۰۰۰) پنځوس زره عسکر د کډو سره شمالي افغا
نستان ته راغلل او تر بلخه پورې لاړل او هم د لته اوسېدونکي
شو دې وضيعت دا وکړه چې عرب د هغه ځای د خلکو په خوی
بوی پوه شو او افغانان د عربو او د اسلام په عمومي روښ
بنه خبر شو او دې کار د اسلام د دين په خورولو کې ډېر
مهم رول ولوباوه - او گمتور ثابت شو چې د هغو بقايا لا اوس
هم په هغو علاقو کې شته دي د دې نه وروسته عربي اموي
افسران يو په بل پسې راتلل خو د اموي دولت اساسي خواهش
د پيسو ټولونه او زور زياتي نه بل څه نه و، لکه چې اساساً
هم دغه ولاړ وو، د خلکو نه يې درنې ماليې اخيستلې او په
نامسلمانو به يې درنې جزې لگولې او موږ سره يې څه خاصه
علاقه نه وه -

عربو افسرانو په لږه موده کې ډېر مال او شته پيدا کړه او
خزانې به يې ډکې کړې نو په دې ترې خلک منزجر، متنفر او خفه
وو نو دخپلې د فاع د پاره افغاني ولس راپاڅېده او د اموي
دولت په مقابل کې (۷۰) کاله پر له پسې وجنگېدل چې ترڅو چې
اموي لوی دولت په افغانستان کې خپلې گېتې لېدلې نو څکه به يې

ډېر پام ورته کړلو چې د لاسه یې و نه وځي !! خواموي خلیفه مروان چې په «۶۹۱م»، کې په دمشق کې مړ شو نو په مروه کې عربي حاکم «خازم»، د خپلواکۍ اعلان وکړو- مروه په هغه وخت کې د خراسان مرکز وو- خازم خپله سکه هم جاري کړه خواموي دولت پخپل رقیب «بکیرو شاح» باندې په جنګ و وهلو

د افغانستان خلک هم د عربو په قبیلوي دښمنیو پوهیدلي وو بله پېره پخپله بکیرو شاح د خپلواکۍ اعلان وکړو او دا کار د ورجنګونو باعث شو او عربو په خپلو منځو کې سره وجنګړل او دې جنګونو تر کال «۶۹۶م»، پورې دوام وکړو او آخر- بکیرو شاح ووژل شو او په ځای یې «امیه»، کېناست او په جنګ اخته وو خو د بلخ په جنګ کې مات شو او مروې ته وتښتېد دا وارې د مشق خپل لوی افسران او سرداران لکه «قتیبه»، په کال «۷۰۲م»، کې افغانستان ته راولېږل هغه دا وکړه چې د سپید د بلخ د محلي شاه سره یې لویې جنګ او بیا صلحه وکړه او په کال «۷۰۷م»، کې یې بلخ و نیولو او هم په دې جنګونو کې د بلخ مشهور ښار وران شو چې په لیدو به یې هرڅوک اندېښمن کېده . په «۷۲۵م»، کال کې د بلخ دلویانو او خلکو له خوا بیا دغه ښار ودان شو- د بادغیس محلي امیر «نیزک» د صلحې نه- وروسته چې د قتبه سره یې وکړه د مروې نه بلخ ته راغی

اولوړې وارېي د طوائف ملوك نه يوه اتحاديه جوړه كړه. سپهبد
د بلخ جغبويه شاه د تخارستان د مرو د اميې بازان او د جوزجان
او فارياب امراء سره راټول شو او د عربو په مقابل كې متحد
شو او د كابلشاه رتبيل سره يې هم خبرې وشوې او هغه
دا وعده وكړه چې كه تاسې كله مغلوب شوئ نو كابلشاه به ستاسې
د پناه وركولو ذمه واروي، نو د دې اتحادېې امراء ـ
خان او فوځونو د جوړ ولو او جنګي لوازمو په لټه كې شوا و
لوړى عرب نماينده يې د تخارستان نه طرد كړ وا و ويې
شاړه ـ په دې وخت كې عبدالرحمن د قتيبه ورور د ۱۲۰۰۰
د ولس زره فوځ سره په بلخ حمله وكړه او شخصاً قتيبه په
مرغاب حمله وكړه او پس له فتحې نه د مروې رود په ـ
تالقان كې چې په څلور ميله كې واقع وو ټول جنګي بنديان
په دار كړه، نېزك او جغبويه د بلخ نه سمنګانو ته لاړل ـ
قتيبه ورسره خوجنګونه وكړه خو بيايې په تنګه او صلحه وېنول
او خپله وعده يې ماته كړه او چل يې وكړو د صلحې د مذا
كرې په وخت كې يې هغوى وېنول او بنديان كړه او دګرز
قلعه يې وېنوله او د دغه ځاى ۱۲۰۰۰ دولس زره مدافعين
يې ووژل ـ او د نېزك او جغبويه سرونه يې غوڅ كړه
او د مشق كې د خليفه حضور ته وليږل ٠

د جوزجان ، شومان او فارياب خلك جنګ ته راپاڅېدل قتيبه
چې فارياب وينولو نو ويې سېزلو چې عربو به وروسته ورته
« محترقه » ويلو . قتيبه په كال « ۷۱۴ م » كې په افغانستان كې اموي
نوی خليفه سليمان خلع كړه او د خپلې خپلواكۍ اعلان يې وكړو
او پخپله وينا كې يې د دې كوښښ وكړ چې د خراسان خلكو
ته داوښايي چې زه د موږ د پلوه خراساني يم ، خو خلكو داخبره
ونه منله او د قتيبه د رقيب « وكيع » سره ودرېدل او د قتيبه
او وكيع په منځ كې جنګ ونښت او خلكو د حبان خراساني په مشرتابه
د وكيع په پلو ودرېدل چې آخر قتيبه پخپله او د ده د كورنۍ
غړي ووژل شو ، خو وروسته عربو حبان ته زهر وركړل .
پسته خلكو د عباسي مبلغينو مرسته كوله او د امويانو په مقابل
كې د عباسيانو ملګري شو په « ۷۲۴ م » كال كې د عربو يو بل -
مشهور افسر « اسد » د قتيبه په ځای كېناست او غرجستان ته
يې لښكر وكړ او د « نمرون » محلي حاكم څه جنګ ورسره وكړو
خو بيا يې صلحه وكړه او مسلمان شو خو اسد چې غور ته لښكر په
څه مقصد لېږلی وو هغې څه مثبته نتيجه ترې وانخستلی شوه په
« ۷۳۰ م » كال كې عربو « ۱۸۰۰۰ » اتلس زره لښكر تخار ته واستولو
او « ۱۰۰۰۰ » لس زره نور لښكر يې هم په د ده د ده كې ورسره
روان كړ خو پوره قطعي نتيجې ته ونه رسېدل - خو په « ۷۳۷ »

میلادي کې مشرانو او ځینو خلکو او زمکه والو په بلخ کې د-
اسلام دین ومانه او پنځه کاله پس د بلخ په ښار کې لوی مسجد
جوړ کړی شو، په دې وخت کې عربي لښکرې یواځې په شمالي
افغانستان کې (۵۴) زره په شماره وې او په دې ټولو چې
د بصره نه (۹) زره نفر او د بکر نه (۷۰۰۰) تنه، د عبدالقیس
د قوم نه (۴۰۰۰) تنه او د آزادو قومونو نه (۱۰۰۰۰) تنه د کوفې
نه (۷۰۰۰) نفره او د آزادو شوو عجمیانو نه (۷۰۰۰) تنه او دا
ټولې عربي لښکرې په افغانستان کې په درېو محاذو نو-
جنګېدلې د شمالي افغانستان چې د خلفاء راشدو په وخت کې یې
نظامي او اداري مرکز یې په نیشاپور کې وو خو د اموي
دولت په وخت کې مرکزیت مرو ته نقل شو- د غربي افغا
نستان چې مرکز یې په سیستان کې د زرنج ښار وو، د جنوب
شرقي افغانستان، بلوچستان او د سند لاندینو برخو کوم معلوم
مرکزیت نه لاره خو آخر تمیم بن زبیر عربي حاکم د سند په غرب
کې د منصوره ښار ودان کړو او هلته یې مرکز جوړ کړو.

افغانستان ته د فرمان ورکولو عمومي ځای د عراق بصره
وه او کله به د دمشق نه مستقیم هدایات صادریدل، په (۶۶۲)
میلادي کې د غرب په محاذ کې ربیع حارثي عربي اموي حاکم په
کال (۶۶۷م) د رتبیل کابلشاه سره په قندهار کې مخامخ شو خود

جنګ نتیجه ونه وتله ، په کال (۶۷۱ م) کې یو عربي حاکم عباد د سیستان نه په کابل حمله وکړه خو رتبیل شاه یې مخه ونیوله او عربي حاکم په قندهار کې معطل شو او مخکې تګ یې تپ و درید په کال (۶۸۱ م) کې یزید او ابوعبیده عربي افسرانو د سیستان نه په کابل حمله وکړه او د کابل د خلکو لښکر په لاره کې ورسره مخامخ شو او جنګ جوړ شو د عربو فوځ ماتې وکړه او تباه شو یزید و وژل شو او ابوعبیده بندي کړی شو خو ابوعبیده وکړی شو چې د نیم میلون درهمو په ورکړه ځان خلاص کړي .

یو کال وروسته د سیستان نوي والي عبدالعزیز د عبیده او یزید د بدل اخیستو په مقصد بیا په کابل لښکر وکړ خو ده هم قطعي ماتې وکړه . په کال (۶۹۱ م) کې عبدالله عربي حاکم د سیستان نه د کابلشاه سره د جنګ په نیت بُست ته وروړسید کابلشاه په یوه غرنۍ ځمکه کې عربي لښکر راګیر کړو او ماتې یې کړه ، عبدالله هم (۳۰۰۰) درهمه فدیه ورکړه او ځان یې خلاص کړه .

په کال (۷۹۷ م) کې د عراق مشهور والي حجاج چې د مفتوحه افغانستان عمومي فرمانده هم و و عبیدالله سیستان ته ولیږلو او د کابلستان په فتح کولو یې هم مامور کړو ، هغه بست ته چې راورسید کابلشاه لاد پخوانه د ده منتظر او تیار

وو، کابلشاه هم د دفاع ته ور پاڅېد او په هغه پخواني جنګي تکتیک یې عبدالله هم د غرونو تنګو او مهیبو درو ته ور کش کړ او د څلوېښت زرو لښکر په یوه تنګه محاصره کې راګیر کړ او سختې ضربې او ګذارونه یې ورکړه - عبدالله هم ناچاره شو (۷۰۰۰۰) درهمه یې ورکړه او ځان یې خلاص کړ، عبدالله بېرته بست ته وګرځېد نور ماتې د ننګ او پر قهر او غضب نه د پښتو ولوېد - ځکه چې عربو ځوانانو د اسیا صغیر نه د ساحل پورې لوی لوی ملکونه فتح کړي وو او په (۶۰) کاله موده کې د ټول افغانستان د فتح کولو نه لا تر اوسه هم عاجز پاتې وو.

حجاج هم د دې واقعې نه چې خبر شو ډېر متنفر شو او د دمشق نه یې هم استئذان وغوښت چې د کابلشاه د قطعي ټولو د پاره د بصرې او کوفې نه ټولې قواوې دې راشي چې موږ په افغانستان کې قطعي نتیجه واخیستی شو نو د دې کار د پاره (۱۲۰۰۰۰) د نامتو او توریالو ځوانانو او ننګیالو نه یو لوی لښکر غونډ او جوړ کړ او د عبدالرحمن بن اشعث د قوماندانۍ او قیادت لاندې د افغانستان د فتح د پاره په (۷۰۰م) کې افغانستان ته ولېږلو، دا لښکر د ډېرو کامل او مجلل وو چې د «جیش الطواویس» یعنې لښکر طاوس په نوم مشهور شو - حجاج هم د دوه میلونه درهمه هدیې لښکر سره کومک وکړ و، کابل

شاه هم دغه وخت په بُست کې وو او دا ټول واقعات ورته
رارسېدل او هغه په دقت د اوضاعو څارنه کوله او تیاري یې
نیوله، رتبیل عبدالرحمن ته جرګه ولېږله چې د تېرو جنګونو
د وېرولو او د خراج په باب ورسره خبرې کول غوښتل خو
عبدالرحمن په خپل فوځي قوت غاوړه وو د هغوی خبرې یې
وانه اورېدلې نو رتبیل ورو ورو د کابل خواته روان
شو او په قرارۍ به په شاتللو او د لارې په ټولو قلعه ګانو
کې وېرقیمتي شیان هم ایښودل او پرېښودل چې عرب لښکرې
ولجه او غنیمت کړي. عبدالرحمن هم ورو ورو په رتبیل پسې
روان وو او د هغه تعقیب یې کاوه او په لاره کې د لارې
د حفاظت د پاره څه ناڅه قطعات هم پرېښودل څکه چې عبدالرحمن
د افغانستان د خلکو د ناڅاپي جنګونو نه هم خبر وو. خو
د عبدالرحمن لښکرو چې په لاره کې کومې قلعه ګانې ونیلي وې
او د هغو نه یې دومره غنیمتونه په لاس ورغلي وو چې د
دوی بارونه یې ښه درانه کړي وو چې د چابکو (چالاکه)
تللو نه وتلي وو دا په ورو ورو تلل او د ژمي سختۍ را-
رواني وې او نږدې شوې وې نو عبدالرحمن مجبور وو چې
د کابل جنګ یو مساعد موسم پسرلي ته پرېږدي خو د حجاج-
دا خبره نه وه خوښه او په عبدالرحمن په قهر شو او رټنه

یې ورته وکړه ، او هغه ته یې ولیکل چې ته یو ویریدونکی سړی یې ځکه دا فکر کوې او د منصب د عزل تهدید هم ورته شوی و.

عبدالرحمن هم یو بنه دلیر او زړه ور سړی وو په دغه فرمان و قهریده او توله سپایان یې را ټول کړه او د حجاج دغه فرمان یې ورته په زوره (په واگه ، ولوستلو چې پکې لیکل شوي وو چې یې ځنډه او معطلۍ په کابل او زابل ورشي ابادي ورانې کړه او بنځې او سړي بندیان کړه ، د عربو سردارانو چې د دغه فرمان مضمون واوریده نو ځینو لکه یو یوصفیل مرا و عبدالمؤمن ربیعي و ویل چې کله سپایان غالب وي نو د هغوی مکافات د حجاج وي او کله چې سپایان ماتې وکړي او ناچار شي نو د حجاج په نظر کې هغوی تیت او بې همته شي او حال دا دی چې دا افغانستان ای عسکروا ستاسې ابدي هدیره ده او نور نو د چپلو کورنو خلک بیا نشي لیدلی ، د حجاج دلت دا فوځ کشي د فرعون د فوځ کشي په شان ده چې په سر و د نیل کې یې کړې وه . نو را ځه چې د کابل په ځای په کوفه ور شو او دغه حجاج د چپل وطن نه لرې کړو سپایان را پاڅېدل او د عبدالرحمن په لاس یې بیعت وکړه عبدالرحمن د تبیل بر قراره پر ښود او خراج یې هم ورته و بابښه او ورته وې ویل چې که موږ ه مغلوب شو نو په کابل

کې به ځای او پناه ورکوي او دا ومنله شوه.

د عبدالرحمن د حجاج سره جنګونه اوږده شو او آخر-
حجاج چې د عراق مرکزي حکومت مرسته هم ورسره وه غالب شو
او عبدالرحمن مغلوب او کابل ته راغی او پناه یې واخیسته او په
(۷۰۳م) کې په کابل کې مړ شو او ویلې شي چې سر یې حجاج
ته ولیګل شو، په کال (۷۰۴م) کې قتیبه د عمر او خپل ورور
په واسطه د رتبیل سره جنګ جوړ کړ خو رتبیل هغوی ته اته
سوه زره درهمه ورکړه او صلحه یې ورسره وشوه.

په (۷۰۶م) کې کابلشاه دوه میلونه درهمه قتیبه ته ولیږل
چې د عربو او کابلستان جنګونه نور بس کړي. دا متارکه (۲۳)
کاله اوږده شوه خو آخر په (۷۲۷م) کې د سیستان عربي حاکم
اصفح شیباني په کابلستان حمله وکړه خو څه ګټه یې ونکړه او بې
نتیجې بیرته ستون شو، د سیستان خلکو هم د اموي دولت مخالفت
ته ورپسې زور ورکړو او په کال (۷۲۰م) کې د عربو په ضد
شورش جوړ شو، او په کال (۷۲۵م) کې بشرالحواري امیرشوط
د عربو د امنیه قوماندان، په زرنج کې وواژه او د ښار قضایي
د عربو نه واخیستله او یو سیستاني محدث (معمر بن عبدالله) ته یې
وسپارله او د سیستان خلک د خوارجو د فرقې سره یوځای شو او
په (۷۳۴م) کې د اموي دولت په مقابل کې یې پاڅون وکړو او په

کال (۷۴۲م) کې د سیستان عربي حاکم (سوار بن اشعر) یې ووژلو.

خو په جنوب مشرق د افغانستان کې د خلفاء راشده و لبنکرو د مکران د فتحې نه وروسته په کال (۶۵۹م) کې په شرقي بلوچستان کې ترقیقان (کیکان) پورې مخکې تللي وو. اموي لبنکرو په کال (۶۸۰م) کې (قصدار) م په بلوچستان کې رالاندې کړو او ځان یې هلته ښه ټینګ کړ، چې عربي حاکانو به له هغه ځایه تر قندابیل یا (قنداوه) پورې حکم چلاوه.

یو ځل عربو په کال (۶۳۵م) کې د بحرین نه په کشتو کې د «دیبل» تر بندره چې د بلوچستان او سند په منځ کې دی راغلي وو، خو څه نتیجه یې نه وه اخیستې د عربو اساسي حمله د حجاج له خوا پیل شوه او عربي لبنکر تر دیبله ورسېد پس له هغې حجاج محمد بن قاسم ثقفي عربي مشهور افسر، چې د حجاج چېلوان م وو، چې د قتیبه او اسد په ردیف کې به ګڼل کېده د وچې اولمدې نه سره د لبنکرو مقرر کړو. ثقفي په کال (۷۱۱م) کې د شپږ زره پیاده لبنکر او شپږ زره سورو او درې زره اوښانو سره د شیراز او مکران له لارې او د لوازمو کشتۍ یې د بحر له لارې د دیبل بندر ته ورسېده، پس دیو اوږده جنګه چې ۹ ورځې یې اوږده وه وکړو د «دیبل» معبد یې چې په قلعه یې شین بیرغ ولاړ وو

فتحه کړه. ثقفي د حجاج په امر خلکو ته امن ورنکړ او دری ورځې یې عام قتل وکړ. ثقفي د معبد خدمه (۷۰۰) ځواني ښځې وینولې او د دیبل د حاکم دوه لوڼه یې سره د ډېرو غنیمتونو حجاج ته ولېږلې، ور پسې محمد بن قاسم ثقفي د سند علاقې یو په بل پسې په جنګ او صلحه سره ونیولې او پخپله د سند نه پورې ورت «داهر» د سند محلي حاکم دفاع وکړه خو په میدان جنګ کې ووژل شو، او سر یې حجاج ته ولېږل شو. او ښځه یې «لادی» پخپله ثقفي په نکاح کړه، د سند د برهمن آباد خلکو شپږ میاشتې د عربي لښکر سره جنګونه وکړه خو آخر مغلوب شو او ښاریې عربي لښکر فتح کړ او دري زره نفریې بندیان شو خو عربي سردار ویل ونکړو او مخامخ په ملتان ورغی او ملتان یې هم فتح کړه او بې شماره دولت یې په لاس ورغی د ملتان د معبد نه یو طلائي بت پلاس ورغی چې (۲۳۰) منه وزن یې وو او د ځنو خزانو نه هم (۱۳۲۰۰) منه زر را پیدا شو او د یو بل کور نه دوه میلونه او څلورسوه زره (۲۴۰۰۰۰۰) مثقاله طلا را پیدا شوې

د حجاج د مرګ نه پس محمد بن قاسم هم اموي خلیفه سلیمان عراق ته وغوښت او ویې واژه.(۱) او عربي فتوحات په (۷۱۳م) کال کې په ماوراء سند کې تپ ودرېدل. او بلوڅ او سندیان هم د عربو سره په وارو وجنګېدل.

---

(۱) مسیر تاریخ (۷۴) صفحه.

د افغاني ولس پاڅونونه او د اموي دولت

له منځه تلل

د عربو د حملې لومړۍ ورځې نه چې په (۶۴۲م) کې افغانستان ته راننوتلي وو تر (۸۴۲م) کال پورې تقريباً دوې پېړۍ د برموده په منځ کې وتله چې درې نسله منځ ته پکې راغلل او لاړل دا - دواړه قومونه افغانان او عرب مستقيماً سره په تماس کې وو او راشه درشه، ورکړه راکړه يې سره لرله نو په دې دوره اوږده موده کې د يو بل په خوی او بوی ښه وپوهېده، افغانانو د عربو د قومونو ملي او د معنوي دين او ژبې يې هم ومنله خو چېله ژبه يې وساتله دا دواړه ملتونه د يو بل د مادي او معنوي اغېزو نه اغېزمن شو د دين اسلام په خورولو کې تر ډېره او وسلې د زور کار نه دی کړی لکه څرنګه چې د ملتونو تماسونو او د يو بل په فکر او نظر په پوهېدلو او اشنا کېدلو چې څه کړي دي، په يوه پېړۍ کې د جيحون د غاړې نه نيولې د سيستان د هامون پورې او د ارغنداب د حوزې نه نيولې د اباسيند تر غاړې پورې يې

شماره مدرسې جوړې شوې چې خلکو به پکې اسلامي زده کړې کولې
ویلی شي چې د دغه مدرسو په یوه مدرسه کې دری زره کسانو
زده کړه کوله، او ویلی شي چې یو افغاني لوی عالم دین تفسیر او د
اسلامي فقه (ضحاك بن مزاحم هلالي)، د هر څه لیکلي وو هغه چې په
(۷۱۹م) کال کې په شمالي افغانستان کې وفات شو نو دری زره
شاګردان تری پاتې شو.

خو د اموي دولت تېرې چې دي هغه نړلې د هغوی د تعصب،
تبعیض سخت ګیری او په زور او جبر حکومت کولو نه وکې دي
او درنې مالیې به یې له خلکو وصولولې، مړینه به یې اخېستل
چې دا په خلکو درانه بار و نه وو او د تحمل وړ نه وو نو مجبوراً
به خلك اموي دولت ته را پاڅېدل او جګړې به یې ورسره کولې
که څه هم د وسلو او وسیلو څه توازن او برابری په منځ کې
نه وه د ولس خلك بې وسلې او بې سره وو او اموي دولت
یو لوی دولت او په وسله بنه بار وو - خو نه خلکو د خپل زړه
براس وېستلو او د خوارجو او عباسي (د بني هاشم) د کورنۍ
مرستې به یې کولې - په دې کې (خداش) یو سړی چې د
«خرمیه» طریقې موسس وو او د اموي دولت د بنمن وو او څینو
نورو کسانو لکه یماني او مضري هم د امویانو په مخالفت کار کاوه
او چا به چې دا اور بلولو نو دوی به ورته لمن وهله - او ورځ

په ورځ به د اموي د ولت مخالفتونو زور موندلو، هر کله نا کله به د امخالفت د فوري په زورم غلی شو خو خلك د امويانو د دولت د ورکاوي په لټه کې وو او د امويانو زور به دخلکو نفرت او کرکه لا پسې ډېروله یو وار یې یو اموي حاکم د سمرقند په شاوخوا کې په (۷۲۲ م) کال کې د نوو مسلمانانو نه هم جزیه غوښتله او دکفر د وخت جزیه یې هم ترې اخیستله او خلك د اسلام نه بې زاره شو او د ترکو ملګري شو او د عربو سره وجنګېدل د افغانستان خلکو یو وار خلیفه عمر بن عبد العزیز[1] اموي ته چې ډېر ښه مسلمان شخص وو شکایت وکړو او ورته ویې ویل چې عرب متعصب او قوم پرور دي د موږ نه د اسلام د مخکې وخت جزیه هم غواړي او په غنیمت کې هېڅ هم نه راکوي.

خلیفه د دوی په شکایت غوږ سې وکړو - جز قتیبه د افغانستان د ولس سره معاهدې ماتې کړې او د غلې تیمت یې ډېر کړو او ډېر خلك یې په دار کړو. او ظالم حجاج د کوفې حاکم زرو نه مسلمانان ووژل او ویې یې ترې کړې. او عبد الله زبیر چې خلافت یې په عراق، حجاز او افغانستان کې خلکو منلی وو، حجاج ویښولو او خوړندیې کړو تر څو چې مړ شو.

د امویانو د اوضیعت نور د خلکو دتحمل وړ نه وو او دخلکو د انزجار او نفرت او کرکې د حد نه وتلی ووا و آخر دا

---

(۱) عمر بن عبد العزیز ځیني خلك په خلفاء راشد ین کې ګڼي . د بیپال)

شوه چې خلکو پاڅون وکړو او د دغه پاڅون رهنمایي ابومسلم خراساني کوله چې قصه یې مخکې تېره شوې ده او نتیجه یې د اموي دولت چپه کېدل شو او د عباسي خلافت منځ ته راتلل.

عباسي دویم خلیفه منصور د ورانیتي په ابومسلم خپل محسن سره څه وکړه؟ او څنګه یې ووژلو؟ دا هم یو دردناک داستان دی چې مخکې یادې تېر شوی دی.

د مغلو یرغل او د افغاني ولس مبارزه

د یارلسم (۱۳) میلادي قرن

مغل د مغلو په مغلستان کې په کېږدیو کې ژوند کولو او په څو قبیلو کې سره وېش وو. مشهورې قبیلې یې دا وې: تاتار، قنقرات، اوبرات، ارلاد، جلایر، کرائیت او تایین وې. د مغلو یوه بله وړه قبیله د «بورچیقین» په نامه هم وه چې د چنګیز د راپیداکېدو سره مشهوره شوه.

د مغلو طایفې د شرقي ترکانو په شان د چین په خواخوا

کې او سېدلې او هغه پخوانۍ مدنيت ته يې سترګې وې ، شرقي
ترکانو زر اسلام ومانه او د اسلام د مدافع په څېر يې عربي دنيا
او بحرالروم ته سترګې وښولې او د چين او افغانستان او ايران
او هندوستان او ماوراءالنهر تجارت هم د دغه ترکانو او مغلو په
لاس کېدلو نو د دوی سترګې هم د دغه ملکونو او چين په شتمنيو
او مالدارېو او تجمل ولګېدې او د ترکو او مغلو په زړونو کې د
دغه شتمنيو د حاصلولو او په هغوی د حملو انګېزې پيدا کړې ، په
هغه وخت کې ترک او مغل په څرګاوو او کېږديو کې اوسېدونکي
وو ، نو مېنې ونه يې هم له دغه دوله جوړې وې او د موسم
او آب و هوا سره سم به ديو ځای نه بل ځای ته او ورشو
ګانو ته د عرادو "ګاډو" په واسطه په اسانه نقل کېدل شو

د مغلو طايفې د چنګېز د پيدا کېدو نه مخکې اکثر د حيواناتو
(څارو) ، په ښکار او د هغو د پوستکو په تجارت د ترکانو
او ختن والاو سره مشغول وو ، او خوراک يې غوښه او
لبنيات او اغوستن يې د څارو و پوستکي وو او کرونده
يې نه کوله - او بېل بېل د خپلو مشرانو د مشرۍ لاندې د -
مالدارېه ثروند کولو او د يو بل مخالف هم وو د دوی د -
مشرانو د تجملي شيانو نه يوازې د اوسپنې رکابونه د رلودل
خو مشران يې په زړونو او سوبو په شمار مالدارېه درلودې

او د نورو خلکو نه ممتاز او ښکاره وو. او معنوي په جادو
او خرافاتو هم عقیده لرله؛ او په پسرلي او اوړي کې به په روانو
اوبو کې نه کښېناستل او حیوانات به یې هم نه حلالول او
سینه به یې ورڅیروله. طلایي پېژندلي څو د سپینو او سرو
زرو په لوښو کې به یې اوبه نه اخیستلې او لمبا او غسلونه به
به یې نه کول. او وینځلي جامې به یې په صحرا کې له دې امله
چې تنا او بربښنا ډېرېږي نه غوړولې او د مغلو آسونه په
لوږه او تنده کې ډېر مشهور وو او په سفرونو کې د نورو
آسونو نه مړي وو مغلو به مجرمانو ته سختې سزاګانې ور
کولې. په مغلو کې ازدواج یعنې ښځې کول په شمار نه وې
او په تېرو لویو خانانو ته لکه چې ویلې شي د چنګیز خان نه.
پس له مرګه یې څه سوه ښځې په میراث پاتې وې چې د نورو
شتو سره یې په ځای ناست ځوی ته منتقلې شوې. مغل هم د ترکانو
په شان ښه سوارکار او غشي ویشتونکي وو. او د معنوي لښکرو
او بړدو لیندو به تر درې سوه، څلورسوه متره پورې ښه ویشتلی
شوه. د معنوي وسلې به چاړه او خنجرونه وو، او ور وویشتونکي
منجنیقونه چې د کټېرو په واسطه به ورېل کېدل د مغلو مهمه او غټه
وسله ګڼل کېده. ختایي بادشاهانو د چین په شمال کې له دوی نه
باج غوښتلو. د منچو او مغلو او ترکي قبایلو شمالي او مرکزي آسیا

په چنلو سځو کې سره ویشلي وه ، د قنقرات او تاتارو قبیلو د ارګون د سیند په ښي غاړه او سیدل او ترونډې کاوه او د « برچقین » قبیله چې چنګیز خان له دغه قبیلې نه وو د « کرولن » او « اونن » رودونو په منځ کې او د « انګورا » په غاړو ځلور قبیلې او وه سره تیجي نژاد ، قوت ، جوبارات ، اړلات او جلایر ا دي و د ترکو روستنه وینې هم جذب کړې وې ، دوی په پاس ښودلي ځای کې استوګن وو . او د « بایکل » په غاړو د « مرکوت » طایفه چې د مغو او مغلو له ګډون او اختلاط نه منځ ته راغلې وه اوسېدله او په غربي غاړو یې د مغلو د الوت قبیله پرته وه او د بایکل په جنوب کې د کنتي د غرونو نه د چین دلوی دېواله پورې د « کریت » د دولت قلمرو وو ؛ چې د نورو ټولو قبیلو نه زوروره وه او د مغو قبیلو د اعتقاد نه چپ دا قبیله په عیسوي دین هم وه ـ او تایمن د اورخون علیا او التاي کېږ کې اوسېدل او مذهب نسطوري عیسوي وو د تایمنو په جنوب غرب کې او بغور ترکانو ژوند کاوه او بغور ترکان په مسیحي اتمه پېړه کې د قراقرم د غرونو نه شرقي ترکستان ته هجرت کړی دی او دغه ځایونه یې د تغاریانو نه ـ لاندې کړل او یو حکومت یې پکې تشکیل کړو ـ دوی د ماوراءالنهر او چین او افغانستان او ایران د تجارتي لار په سر پراته وو نو زر د مغو د ژوند او تمدن نه متاثر شو او د عیسوي او بودائي

او زردشتي د افغانستان دين او مانويانو مبلغينو نه لې
ډېرڅه زده کړه او ويې منل ؛ او د ټولو نه مهم سرياني
خطيې منلي وو او بغور ترکان د ماني مذهب پيرو وو
او وروسته څه بودايي او عيسوي هم شو - او د سرياني
الفبا د منلو نه وروسته د مغلو او ترکو د تمدن په سرکې و
دربدل. د وی او د قرلق قبيلي خلک چې د تارم د رود دمجرا
په ښکته غاړو اوسېدل د چنګېزخان د را ښکاره کېدو په وخت
کې د وی خپل سياسي اعتبار د لاسه ورکړی وو او د قراختائي
کاشغر د حکومت تابع ګڼل کېده او دا هغه مقتدر دولت وو چې
د د ولسمې پېړۍ په اوايلو کې تشکيل شوی وو او د ديارلسم قرنه
پورې ئې وکړو او د غربي او شرقي ترکستان ټولو خلکو قراختائي
باد شاه « اوګورخان» خپل شهنشاه ګڼلو. او د دې دولت -
پايتخت « يلا ساغون» په کاشغرستان کې وو. د کاشغرستان خلک
ځنې مسلمانان او څه بت پرست او ترسا وو خوڅه د اخلي کمزو-
ري له کبله او څه د خوارزم شاهي دولت د ټوليو او د تايمن
کوچلوک خان خيانت چې د ګورخان زوم هم وو د قراختائي دولت
د مغ' نه لاړ او ځای ئې کوچلوک ونيولو چې د چنګېزخان دحملو
سره مخامخ شو - محمد ارنګه په د ولسمه پېړۍ کې د چنګېزخان د
ښکاره کېدو سره نژدې - د چين لوی دولت د دوو رقيبو پلو

د حکومتونو په منځ کې وېش وو. شمالي چین په «مانچویانو»
ترلې وو چې پایتخت یې پیکنګ وو، د پیکنګ نه تر کایفونګ پورې
د «کن»، په عنوان یا باد شاهان (طلاو، فرمان چلېده او په
جنوبي چین کې چینایي شهنشاهي د «سونګ». د کورنۍ په لاس
کې وه او پایتخت یې د (کونسې، ښار وو. او د د وارو-
حکومتونو په غرب کې تبتي پولې او تانکوت او سېدلې. خو
اسلامي ملکونو په منځنۍ آسیا او نژدې آسیا کې د چنګېزخان د
رابنکاره کېدو په رخت کې په لاندې دول وو چې د ماوراالنهر
ملکونه او د افغانستان او ایران ـه خوارزم د مقتدرې شهنشاهي-
اجزا ګڼل شو او د هغې بادشاهۍ په قلمرو کې داخل وو. او
زور زیاتی د لاندې په ناراضه ژوند کولو مجبور وو. داباسیند
په ماوراء یعنې د سند ولایت او ملتان د غوري ناصرالدین قباچه
په لاس کې وو او په منځني هند کې غوري سلطان شمش الدین
التمش هر یو خانله مستقل حکومت کولو او په داخلي چارو مصروف
وو او د نورې اسلامي دنیا نه لرې پراته وو. په ورو آسیا
(اسیا صغیر) کې د سلجوقیانو زورا و حکومت وو چې بادشاهان
به یې تل د اروپایي دولتونو سره په صلیبي جنګونو نښتي او
لاس په کرېوان وو. او د شام مملکت او مصر د ایوبي بادشاهانو
او شهزادګانو په لاس کې وو چې پخپلو منځو کې هم سره بې اتفاقه

وو او په صلیبي جنګو کې هم اخته وو.

د منځنو پېړو د اروپا اقتصادي او اجتماعي او سیاسي او مذهبي اوضاع چې سوداګرو به د سود په ګټه پسې وو او اشراف او فیوډال طبقه به د ځمکو د رانیولو په فکر کې وو چې ثروت او شته یې نو رهم ډېر شي او دهقانان وږي تږي په بد حال د یوې مړې وړوې او د ظلم او زور نه د خلاصي په لټه کې وو خو تولو د مشرق د خلکو ښتوته سترګې نیولې وې.

چنګیز خان

دا یو عجیبه سړی وو چې د خپلې حیرانونکې فطري ذکا په قوت د توري په سوري کې چې سیاست مداري هم ورسره وه تراني خلک یې د خپل وحشتناک بیرغ د لاندې راټول کړه - دا قوي سړی چې لوږه ځنګه وه او لږیه بږیره او پراخه تندې یې لرله بلکل بې سواده وو او د خپلې مورنۍ ژبې نه پرته په بله یوه ژبه هم نه پوهېده - په خدای یې عقیده لرله خو د چارېه[1] د سوري په فال

---

(۱) د چارېه په منځ کې یو سوری جوړ کړي او په هغه کې د لاس ننبې ګوري.

هم باور وو او پابندي يې وو، ده به د غټو حوادثو په سرکې خلوت کولو او په غاړه کې به يې رسمه اچوله او د خپل معبود نه به يې کومک او مرسته او کاميابي غوښتله دی ډېر جاه طلب هم وو او فرمانروائي يې هم خوښه وه او غوښتله يې، او دا هرڅه يې د ځان او خپلې کورنۍ او بيا د مغلو د پاره غوښتل او دې سره يې علاقه او مينه وه چې د ده لوی نوم دې په دنيا کې پاتې شي - او د دې مقصد د حصول د پاره يې د خلکو او ولسونو د تباه کولو او علم وژلو او د وطنونو ورانولو پکار وو دا د هغه مقصد وو.

چنګېزخان به د خپلې کورنۍ د آينده په باب داسې ويل:

داسې ورځ به راشي چې زما د کورنۍ پاتې خلک به ښه - اغوندي او ښه به خوري او په نامتوا سونو به سوريږي خو دا فکر به نه کوي چې دا نعمتونه چا ورکړي دي او د چا د احسان مديون يو؟ او د خپل نوم د پاتې کېدو په باب يې يوه ورځ د افغا- نستان يو بندي قاضي، وحيدالدين فوشنجي، ته د مرغاب په اردو گاه کې وويل: دا امر ګوره چې ما د محمد او غزي غله يعنې، سلطان، محمد شاه خوارزم، په ملک کې وکړه نو په خلکو کې به زما عجيبه نوم پاتې شي.

قاضي هم د مرګ په وېره ولاړ وو په جواب کې يې ورته وويل:

چې خان حو تول خلك وژني نو نوم به يې په چاکي پاتې شي؟ چنګېزخان
غوښتل چې د مغلو د پاره د تېر وخت د امپراطوري عظمت د توکو يا نو چې
په شپږم قرن کې يې درلود « يعني ايل خان توقان او د ويوخان ،
بېرته راوګرځوي او هغه لوړتيا او عظمت چې يو وخت په ټولې اسيا
يې فرمان چلېده - نو دا وه چې قراقرم يې د منګوليا په طبيعي مرکز کې
خپل پايتخت وټاکه او دا هم هغه مرکز وو چې د شپږم قرن د توکي
لوی خاقان تاکلی وو چې په اتمه پېړۍ کې د او بغور د لوی خاقان
هم پايتخت وو چې د کول تکين او منګوبين تاريخي کتيبې د دغه ځای
په خوا وشا کې ميندلې شوي دي - د قراقرم ښار هغه وخت چې
د افغانستان ښارونه وران شو او په ماوراءالنهر کې هم څه پاتې
نشو او کاريګر او صنعتکاران د دې ښارونو او چين نه راغلل او
قراقرم کې ميشته شو - او مغلو چې د منځنۍ آسيا خزانې وېنولې نو
مغل په مغلستان کې ښه دولتمند او شتمن شو - او د ډېرو پيسو
تجارت او معاملې به پکې کېدلې - په قراقرم کې يې کرونده وکړه
او مالګې يې کېنول او دا کار د چنګېزخان د ځوی اوګتائي خان
په وخت کې شوی دی او د قراقرم شتمني دې پورې رسېدلې
وه چې د اوګتائي په وخت کې چې قحط راغی نو خلکو به يوه ډېره
غله په يوه طلا اخيستله او خرڅوله که څه هم چې د مغلو خانانو به
د او رې او زېږ په کلو کې استوګنې کولې او ښارونه او د قراقرم

ښار د تجارت او اداري دپاره ټاکلی وو- اولویه جرګه به هم په دغه ښارکې راټولېده ، دې ښار دېوالونه او دروازې او بازارونه درل او سیاسي نماینده ګان او تجاران به هلته اوسېدل د دې نه مخکې پخوا د مغلو دخان دایمي پایتخت به پېکنګ دچین په ښارکې وو او کوچیتوب یې پرېښی وو.

چنګېزخان دلیک لوست د ژوندي کولو دپاره اطفال ، واړه ، د اویغور ترکانو ته دزده کړې دپاره ورکول چې لیک او لوست ورته زده کړي.

چنګېزخان د تجارت د ودې دپاره دلارو بنه ساتنه کوله چې تجاران مامون او محفوظ وي او رباطونه یې د ‹‹یام›› په نوم په لارو کې ځای په ځای جوړکړي وو او دخوا وشا خلک د مسافرو احتیاج د پوره کولو دپاره مامور وو ، دی قهار بادشاه چنګېزخان یو قانون هم جوړکړی وو چې د ‹‹ یاسا›› په نامه مشهور وو او د زنا او غلا د پاره سختې جزاګانې لیکلې شوې وې ، او دغه بند- اخلاقه یې د مغلو نه ورکې کړې او فوځیان هم په پېتو سترګو د حکومت د امرونو منلو او اطاعت کولو د پاره مؤظف وو او دا فوځ یې دجهان د فتح کولو د پاره منظم ساتلی وو او دا ټولګی به دلسونو نه جوړ وو چې یو به پکې مشر وو او د دې ټولګي ته به یې ‹‹ده›› ویلو او د لسو ده وو نه به یو ستّه جوړېدله او د لسو صده وو نه به یو

هزار ټولی جوړېده او د لس هزاره نه به یو تومان تشکیلېدلو، فوجیانو د خپلو ټولګو نه په شړوند نشو بېلېدلی او مخالفت کوونکي ته به د مرګ سزا ورکول کېدله؛ او خپل خان ته به یې پخپله خپل لباس او جامه هم جوړوله او په دې مکلف وو او وسله به یې هم خپله وه چنګېز به خپل فوځ ته د جنګي سفر په وخت کې د دریو میاشتو د سفر یوازې دومره ته درې لاندې کړې رقاق پېشي ترتیبه ورکول، د عسکرو پاتې بنځې مکلفې وې چې کار وکړي او خان هم پرې وساتي او د حکومت مالیات هم ورکړي - چنګېز د اول نه چې په اقتدار قبضه کړله نو په خلکو یې بې قیده و بسته خپل حکومت - منلی وو او د خلکو نه یې وعدې اخیستې وې چې که خوی ته امر وشي چې پلار دې مړ کړه نو ویل به نه کوي، هم دغسې خوی به هم د خپل پلار په مقابل کې په چنګیزي امر دغه کار کوي - دا به کله بنکار هم د یو جنګي مانوري په څېر کولو چې د سفر په وخت کې به یې خو میاشتې موده نیوله؛ او حیوانات به یې څخلول او خلک به ترې چاپېر وو ترڅو چې راحصار یې کړي او په یو معلوم ځای کې به یې وینول پرته د ناروغه او زاړه نه چې خلکو به یې سفارش وکړو نو تول به وژل کېدل او عین هم دا روش د لاندې شوو ملکونو د خلکو سره هم کېدلو او په دې لړکې د تبعیه او د ښارونو د ورانولو کار او عسکري انضباط روان وو او برابري د دین احترام د زاهدانو او

د صنعت کارو ساتنه او د لارو ساتنه چې تجاران پرې په امن او امان تګ راتګ وکړي شي او مال یې وساتلی شي موجود و واو نور القاب یې لرې کړي وو او یواځې نوم به کفایت کولو او د دربار حجاب هم لغو وو، د مړي مال به په ورثو وېشل کېده او که ورثه به نه وو نو شاګرد او غلام ته به یې مال ورکېده ـ بندیانې ښځې به د چنګېز حضور ته راوستل کېدلې چې د چالاس به پرې نه ولګېدلی، چنګېز به انتخاب کړې او نورې ښځې به په نورو خلکو ووېشلې ،،خو د دې قانون احکام په مسلمانانو ملکونو نه تطبیق کېدل،، د غسې نور قوانین هم وو چې خلک د هغو په منلو مکلف وو او چا غاړه نشوه غړولی، او د حکومت د چلولو کار په هم دې دول ښو راورېد روان او چلېده ـ خو د دې قوانینو تشکیل کوونکی او مؤسس او واکدار چې قهار او جبار وو کله نا کله به یې د هیلواو د سیسونه هم کار اخیست او د ورانه به یې څوک نه وېرول او نه به یې په تهدید کوونکو خبرو بوګنول او په احتیاط او اعتدال به ورته را وړاندې کېدلو او معذورانه انداز به یې نه وو کله به یې جانب مقابل ته د ومره لیکل چې که انقیاد ونکړي او غاړه کېنښېږدي نو خدای پوهېږي چې څه به درسره وشي!! زه نه پوهېږم پخوان قدیم خدای پوهېږي او خلک به یې د خدای په دربار کې ګنهګار او خان به یې د هغوی د اعمالو

کیفر حسابوه - د چنگیز دې خبرې به د مسلمانانو په ذهن کې د ده د
نورې نه لږ اثر نه کولو هغه چې سلطان محمد شاه د خوارزم مغلوب
کړو او تعقیب کاوه ، کلي او ښارونه یې وران او د خاورو سره
خاورې کړو ، چنگیز په دې سفر کې د آسیا یو لوی مهم ښار
بلخ چې بې جنګه تسلیم شوی وو وسېزلو او د خاورو سره یې برابر
کړو او خلک یې قتل عام کړه ، ده به چېرته چې لښکر لېږلو نو
خلکو ته به یې فرمان لیکلو چې خدای زمکه د نمرخاته نه تر نمرپرېواته
ماته بخښلې ده که چا اطاعت وکړو نو هغه په خپلو خپلوانو رحم
وکړو او که نه نو د خپلو خپلوانو سره به هلاک شي - چنگیز یو وار
په بخارا کې په څلورو ارکانو د اسلام تصدیق وکړو او د حج
په باب یې وویلې چې هرځای د خدای کور دی ټوله زمکه
د هغه ده په دې خبره او تقریر د اسلام فقها په دوو ډلو
وېش شو ، یوې ډلې ویلې چې : مسلمان دی چې څلور بنا د اسلام
مني !! او بلې ډلې ویلې چې کافر دی چې د حج فریضه نه مني !!
او حال دا چې چنگیز د بخارا جامع مسجد هم وران کړو او د بخارا
ښار یې لوټې لوټې کړو ، او د بخارا مشهوره کتابخانه یې وسوځوله
ځېنې اروپائي مورخین په چنگیز بد نه وائي او د خپل مقصد د
حصول په لار کې د ده اعمال بد نه ګڼي لګه ګومان دی چې دوی
په هغه څرک وي چې د صلیبي جنګونو نه متاثر شوي وي او مسلمانانو

خوارزم افغانستان او ترکانو ته یې په زړه کې غوټې لرلې - خو-
تعجب په دې کې دی چې ځینې شرقي مورخین هم محض د هغوی
تلقید کوي او دوی محض په اروپائي منابعو تکیه کړې ده او څه
چې هغوی وایي دوی یې سم گڼي او د خپل اجتهاد نه هیڅ کار نه
اخلي - البته ځینې نور جهانگیران لکه اسکندر، او سزار، امیر تیمور
گورگان او ناپلیون فرانس هم د چنگیز په ردیف کې راتللی شي خو نه
د وطنونو په ورانولو او عام قتلونو کې چنگیز او اتیلا د دوی نه-
مخکې دی ځکه اتیلا به ویلې زه د خدای بلا او د جهان چکش-
(شټک) یم او هغه ځای ته چې زما د آس نال ورسیږي هلته بیا گیاه
نشي شنه کیدلی او چنگیز په آسیا کې دا وینا عملي ثابته کړه خو
د وی دواړو په تاریخ کې توپیر شته دی او هغه دا چې د اتیلا
د مخکې تگ په لار کې لومړی د فرانسویانو د کلک مقاومت سره مخامخ
شو او په ایطالیه کې د کلیسا د تدبیر سره او د زور او زرو د
تاثیر لاندې بیرته گرځیدو ته مجبور شو او پس له مرگه یې په-
(۴۵۳م) کې د پښتو تنو اولادونو په منځ کې په تاج او تخت شخړې
جوړې شوې او دا د واړه حادثې د اروپا د نجات سبب شو-خو
د چنگیز په مقابل کې نه چیرته نظامي مقاومت وو او نه مذهبي
تدبیر او پس له مرگه یې د (۱۵۰۰) اولادونو په منځ کې د تاج و تخت
په مسئله هیڅ لانجه هم پیښه نه شوه او د مفتوحه ممالکو په منځ کې

لا هم مغضي د نفاق او شقاق شخړې لا روانې وې او په قرار نه وو او د بې اتفاقه په اور سوزېدل.

د مغلو د دولت تشکیل

د چنګېز پلار «یسوکا» د بورچقین د مغلي قبیلې[۱] و او د آمو د رود د لوی درېڅي په مغلستان کې واقع ده او سېدونکی وو او په (۱۱۷۵م) کې مړ شو او د یارلس کلن ځوی یې (تموچین) ترې پاتې شو، تموچین د قیات په کورنۍ کې په (۱۱۶۲م) کې پیدا شوی وو او د پلار د مرګ نه پس د قبیلې د مخالفتونو سره مخامخ شو نو د طغرل خان (اونګ خان د کریت د طایفو بادشاه (کرانیت او ساقین، پورې ونښت او دغه نه یې کومک وغوښت ځکه چې دغه وخت د کریت حکومت ډېر قوي وو او د کنتي دغرو نه نیولې د چین د دېواله پورې فرمان چلېده - دا ترک کریت د نسطوری مسیحي مذهب پیروان وو او د اوخون علیا او التایي

---

(۱) چنګېز په (۱۱۶۲م) کې زېږېدلی او د (۷۲) کالو په عمر په (۱۲۲۶م) یا (۱۲۲۸م) کې پخپل وطن کې مړ شوی دی.

په منځ زمکه باندې اوسیدونکی وو «اونګ خان» د تموچین چې
وروسته چنګېزخان شو خواهش ومانه او د مغه په مرسته یې
شرک او او مغل رالاندې کړو- خو وروسته تموچین باندې هم
مشتبه او بدګمانه شو او غوښتل یې چې دی هم د منځه لرې
کړي د تموچین او د اونګ خان په منځ کې درې جګړې پېښې شوې
خو په وروستي جنګ کې اونګ خان مات شو دا جنګ په (١٢٠٢م)
کې پېښ شوی وو او تموچین د اونګ خان ټوله کورنۍ د تېغ نه
تېره کړه او په دې ډول د کریت قلمرو هم د تموچین تابع شو او-
د ده د خاورې جز وګرځېد او تموچین په (١٢٠٦م) کې د چنګېزخان
لقب یعنې لوی شهنشاه غوره او اختیار کړو- او چنګېزخان چې په
اونګ خان بریالی شو نو د خوارزشا قبایلو یې خپل اطاعت ته را-
وبلل تنغرات او اوبرات قبایلو دا دعوت ومانه خو تاتار او تایمن
قبایلو او ور سره جویرات او مرګیت خلکو او نورو تموچین ته
غاړه کېښوده خو چنګېزخان د غه ټول یو په بل پسې رالاندې کړه
او د التایځ په جنګ کې د تاتارو رئیس «تیانګ» و وژل شو او د
تایمنو مشر رئیس کجلوک وتښتېده- او د چنګېز ټول مخالفین را
لاندې کړی شو، او په دې ډول د مغلو دولت جوړ کړی شو.

پس له هغې چې چنګېزخان مختلفه قبایل لکه بورجقین، کریت
تایمن، اوبرات، ارلات، برلاس، جلایر او نور راغونډ کړه

او په يوه لويه جرګه کې د خپل قانون نه خبر کړه او هغه يې پرې ومانه ، نو دى د ټولو قبايلو شهنشاه ومانه شو ، چې د هغو ورشو-ګانې د بحر خزر نه واخله د جاپان د بحره پورې غوړيدلې وې ، او د کېږديو او خېمو نه يې ښارونه جوړ وو - او خلك به يې په ديګونو او جوش او بوکې ترونډي واچول او نورې مهيبې سزاګانې م وې چې خلکو اورېدلې هرڅوك و وېرېدل ، نور نو د چا د جنګ جګړو مجال نه وو - د اويغور مقدنو ترکانو چې دا حال وليد ټوله يې تابع شو.

د مغلو فتوحات

په چين کې چنګيزخان د مغلو د دولت د ټينګښت نه وروسته د لوي چين د نيولو په فکر کې شو نو لومړى يې په کال (١٢٠٧م) کې "هيا" يعني تانګوت چې د چين په غرب کې پراته وو او د منځنۍ آسيا او چين کاروانونه به يې لوټل او وهل او له منځه يې وړل ، د شمالي چين دولت له دې پېښې نه خوښ شو او د مغلو په مقابل کې چنلې د روازې پرانستلې ، پس له هغې چنګيزخان د سونګ د جنوبي چين امپراطورۍ او ختايانو د شمالي چين په خلاف

پاخول، او پخپله چنگیز خان په (۱۲۱۱م) کې په شمالي چین په پایتخت (لی چی لی، یا، لجلی، حمله وکړه خو د شمالي چین د خلکو د سخت مقاومت سره مخامخ شو، او مجبور شو چې د خپلو څلورو خامنو سره چې ملګري وو، د غلته وجنګیږي، پنځه کاله د ه او خامنو یې د شمالي چینا یانو سره جنګونه وکړل، خو اخر په کال (۱۲۱۵م) کې چې د پیکنګ ښار یې محاصره کړ او د چین طلائي باچا، او تو بو، د زړه د ریاب نه هغه خوا کانفونګ ته وتښتېد او د هونان په ولایت کې په (۱۲۲۴م) کال کې د ناامیدۍ په حال کې مړ شو - چنګیز په شمالي چین کې ډېرې مړګ ژوبلې وکړې او ډېرې ورانۍ وشوې - په دې وخت کې د مغلستان نه د چنګیز خان ته د پخوانو مخالفینو د راپاڅون خبر را ورسېدل او چنګیز خان بېرته ګرځېد وته مجبور شو او د نورو چین د وهلو کار معطل شو که څه هم د مغلو یوا فسر، موکولي، څه نور فتوحات هم وکړه او د لیجي لي نه تر شان تونګ پورې تسی نان او چانسي ته ورسېد - خو د ټول د چین نیول د چنګیز په نصیب نه وو او د اکار یې وروسته نسو وکړو، او اګتائي پس د پلار د مرګ نه ټول چین په (۱۲۳۳م) کې د کوریا تر علاقې پورې را لاندې کړو او د چین خاص پایتخت کایفونګ یې هم فتح کړو - او د سونګ امپراطورۍ یې ړنګه کړه - ګیوګ خان د اوګتائي خان ځوی او د هغه په ځای ناست تر (۱۲۴۹م) پورې د مغلو خاقان وو او د جنوبي چین په

خلکو یرغل پیل کړ او پس له ده قبلائي خان تر کال (۱۲۵۹م) نه تر (۱۲۹۳م) پورې جنوبي چین پوره تسخیر کړی شو او د سونګ امپراطورۍ قطعاً ړنګه کړه او جلا سرې ورځې د پیکنګ د ښار د نوم (په خان بالغ) بدل کړو - او د مغلو چینو پایتخت د «یوان» په نوم مشهوره کړه - او د ده په زمانه کې ورځې په (۱۲۷۵م) او (۱۲۸۱م) کې په جاپاني مملکت د هاکوزاکی او کوشو په سواحلو کې د مغلو حملې پیل شوې او (۳۰۰۰۰) نه تر (۵۰۰۰۰) عسکرو پورې مغلو او کوریاني لښکر په جاپان ورغلی - چې جنګي د اوبو جاروته هم ور سره وو، د جاپاني خلکو سخت مقاومت او د جاپاني بیلابېلو مشرانو د چین حمله اوره په شاکړه خو چینیانو برما په (۱۲۸۷م) کې ونیوله او د دوی د حملو آن تر اندوچین جزایرو ته او جاوې ته ورسېد مغلو د لوی چین د نیولو نه وروسته په منځنۍ آسیا کې خپل روش څه بدل کړ او د صنایعو ترقۍ او تجارت ته پام شو - او په چین کې یو ډول صنعتي انقلاب راغی خپل پخواني صنعت چیني سازۍ ته یې توجه وکړه او د وړینو د ټوکو په جوړولو کې ودې وکړه خو خلک د مغلو نه خوښ نه وو پیراځي د دهقانان نه بلکه زمکه وال او نجبا ان هم ناراضي وو او کرکه یې ترې کوله جلا وجوهات ورځې په خزانه پېښه کې په چین کې انقلاب راغی او خلکو پاڅون وکړ او په نتیجه کې د مغلو امپراطورۍ ماتې وخوړه او چین خلکو مغل تر

مغلستانه وخغلول او تابع کړه او د چین د «مینګ» امپراطورۍ تاسیس شوه او تر شپاړلسمې پېړۍ پورې مغل د ګوبي د صحرا په شمال کې بند پاتې شول او په اوولسمه پېړۍ کې د دوی د اقتدار نه څه پاتې نه وو او مغل په وړو وړو قبیلو کې سره وېش شول او د چین ملت د چاپانې زورګیرو او یرغلګرو په مقابل کې هم دغه شان وکړوا او د مغولي خطرې هم دفع کړو.

او س مخکې قصې ته بېرته ګرځو هغه داچې چنګېزخان د شمالي چین د فتح نه وروسته د خپلو دوو جنرالانو په قیادت کې ـ اوستبای کاشغرستان ته په غاصب کچلوخان پسې لښکرې ولېږلې هغو جنرالانو فتحه وکړه او کاشغرستان یې لاندې کړ او کچلوخان چې بدخشان ته تښتېده په لاره کې ونیول شو او ووژل شو او د تارم او ایلي حوزه او علاقه دیارکند او کاشغرستان تر د نیاد بام پامیره پورې د مغلو د امپراطورۍ جز وګرځېده دا فتح ځکه زر او اسانه وشوه چې مسلمانان او عیسویان او ابغور او قرلق او الایق قبیلې هم د کچلوخان نه خفه وې او د مغلو کومکي شوې ـ او کاشغرستان پس له دې د چغتیانو د ادارې لاندې راغی.

په منځنۍ آسیا د مغلو حمله

چنګېزخان وروسته د مغلي دولت د تشکیل نه او په شمالي چین باندې مسلط کېدو نه او د شرقي ترکستان د نیولو نه وروسته نور نو د مخکې تللو خیال په منځنۍ آسیا کې نه وو ځکه چې هغه د خوارزم بادشاه او دولت په دنیا کې د هر قوي دولت ګڼلو او چنګیز حوالۍ دولت ورته د هغه په مقابل کې کمزوری بریښېده - ځکه چې خوارزم شاه د سیحون نه تر عراق پورې فرمان چلاوه او په دې هم خبر وو چې د خوارزم شاه شلور سوه زره سوار شته وې او د جنګ په چلونو هم بنه پوهېږي او د چین او د ایران او هند تجارت تر مدیترانې پورې هم د خوارزم په لاره روان وه خوارزم سفیرې په پکینګ کې په (۱۲۱۵ م) کې سید بهاؤالدین رازی ډېر درونډ استقبال کړو هغه د تجارت د پاره لارې اوارې کړې وې او د خوارزم کاروانې چې کله ولېدل هم ډېر خوښ شو - او چنګېز ور سره خپل سفیر محمود بلوریج سره د تحفو او پیغامونو سلطان محمد خوارزم شاه ته ولېږل - او چنګېزخان په دې پیغام کې محمد شاه د غرب بادشاه او ځانېې د شرق بادشاه ښودلی وو او د دواړو د دوستۍ خواهش کړی وو خو داکار ونشو او محمد شاه د مغلو

یو لوی کاروان په اترا کې د چنګیز حاکم «ینالـق» معروف په غایر خان تالاکې او خلک یې ووژل او دا د دې دپاره چې په چین د حملې بهانه مینده کړي چنګیز چې خبر شو نو داګمان یې نه کاوه چې محمد شاه به داسې لېونتوب کړي وي خو چې صحیح خبر ورته ورسېد نو بیا دري تنې جرګه یې چې د وه تنه تاتار مغل او یو مسلمان یعني یو د سفارت په ډول محمد شاه ته ولېږل چې قاتل ماته راکړه او مالونه هم واپس کړه چې زموږ تعلقات به خراب نشي محمد شاه په ځای د دې چې څه معقول ځواب ورکړي سفیران یې مړه کړه چنګیز چې د دې واقعې نه خبر شو نو ویې ویل چې داخو بادشاه نه دی بلکه یرغل او قطع طریق دی نو په (۱۲۲۰م) کې د دوه لکو فوځ سره چې ترک او مغل یعني وو ماوراءالنهر ته ور روان شو سلطان هم د خپل فوځ سره د سمرقند نه بخارا ته روان شو او د سیحون پلو روان وو ځکه چې د د بنهن دحملې ویره هم له هغه پلوه وه، او د سیحون د واړه غاړې ېنولې وې خو مغل د دغه ځوانه نه بلکه د کاشغرستان نه په فرغانه ورغلل خوارزم د دفاع د پاره څه لښکر ور ولېږلو خو مغلوله دغې وضعې نه ګته واخیسته او د بالخاش له خوا یې حمله پیل او د خوارزم شاه قوماندانانې مات کړو جلال الدین د بادشاه ځوی له بنې خوانه څه دفاع وکړه او شپه راغله او جنګ خند شو خو بادشاه دومره وېرېدلی وو چې نور د پاتې

کېدونه وړکه هرڅو یې جلال الدین او نورو افسرانو د مقاومت
ورته وویل خو باد شاه نه منله او شپې پرې سپاپانو د مرګ
اقدام هم وکړو خو چېل احتیاط بچ کړو او چېل افسران یې دغه -
فوځونو سره د دفاع په غرض یو ځای بل ځای مقرر کړه او پخپله د
افغانستان په لوري وخوځېد - دا بدګمانه هم د سلطان د دفتر
یو منشي چې پلار یې مخکې سلطان وژلی وو د وی د اترار اشراف
وو او د ده چېل نوم بدرالدین حمید وو د غه کاغذونه د چنګېز
له خوا د سلطان د افسرانو په نوم ده خواره کړي وو او بیا م ده
سلطان ته څه وښودل او سلطان یې په چېلو افسرانو بدګمانه کړو
خو یواځې دغه سړی م نه وو نور مسلمانان او د کاشغر خلکو او هغه
څوک چې د ماوراالنهر د سلطان د بې عدالتۍ نه ناراضه وو م پکې -
ګډون درلود - دا چال یې جوړ کړی وو، سلطان ګرګانج ته امر
ورکړو چې د ده کډې ایران ته بار کړې او په افغانستان کې م لویو
ښارونو او مرکزونو ته امر ورکړی شو چې د دښمن یعنې د چنګېز
د لښکرو سره جنګ او مقاومت ونکړي او تسلیم شي چې د ورانۍ نه
بچ پاتې شي سلطان چېل وطن م دغسې خوشې په خوشې مغلي -
لښکرو ته پرېښودو او پخپله د افغانستان نه ایران ته لاړ دخذر

---

(۱) ګرګنج د امپراطورۍ مرکز وو.

د بحیرې په یوه جزیره کې پټ شو تر څو چې هم هلته پسې مړ شو؛
او خپل ځامن جلال الدّین او رکن الدّین او غیاث الدّین ته یې هم د
جنګ او د دفاع اجازه ورنکړه او نه یې په خپل ځای څوک انتخاب
کړ او نه یې د مملکت ساتنه چاته وسپارله دا په هغه زمانه کې
بې جنګه د یوې لویې شهنشاهۍ چنګیز ته تسلیمي وه او بس دا د ول
مطلق العنان حکومتونه داسې مثال لري لکه چې یوه لویه خېمه په یوه
لویه ستنه ولاړه وي او چېرته تیرګ دخېمې یعنې ستنه ولوېږي لویه
خېمه هم چپه شي. د یو مطلق سلطان د ماتې سره ټول مملکت هم مات
شي او د ښمن وړیا هرڅه تر لاندې کړي د سلطان محمّد شاه او
چنګیز هم دغه حال وو خو په ماوراءالنهر او افغانستان کې خوقدم
په قدم جنګ او دفاع وکړی شوه چې ټول ښارونه او خلک یې
د منځ نه لاړل خو د ماتې ذلت یې تش په نوم ونه مانه.
چنګیز د ماوراءالنهر او خوارزم نه تېر شو او ایران ته ورغی
هلته چې څه شوي هغه زموږ د موضوع نه بېله خبره ده.
موږ د افغانستان په باب څه لیکل غواړو دا موږ مخکې
وویل چې د بلخ ښار لکه څنګه چې سره ودې چې مشران او روحانیون
یې تسلیم شوي وو خو د بلخ ښار چنګیز خان وران کړ و چې د آسیا
دا نامتو ښار یې لوټي لوټي کړ او د خاورو سره یې خاورې
کړو.

په افغانستان د مغلو یرغل
او
د خلکو دفاع

د مغلو یرغل د افغانستان د اقتصاد او فرهنګ د پاره ډېره موده د انحطاط او تباهۍ سبب شو چنګیز پس له دې چې ماوراءالنهر ته ورغی او بخارايې فتح کړه نو خوارزم شاه له افغانستان نه ایران ته لاړ او د چنګیز د یرش زره (۳۰۰۰۰) سپاهیان د خوارزم شاه په تعقیب پسې هم افغانستان ته ورغلل او د بلخ نه زاوه ته تېر شول او په بلخ کې څه جنګ ورپېښ نشو بادشاه مخکې - خلک د مقاومت او جنګ نه منع کړي وو خو د زاوه خلکو چې ناڅاپه ګیر شو د مغلو د لښکر مخنیوی وکړ او ډېر مړي پکې وشول د چنګیز فوځونه د خوارزم شاه په تعقیب پسې روان وو د زاوه نه تېر شول او څه اوږد جنګ یې ونکړ او په مخ روان وو خو په هرات کې د پوشنګ ښار چې لږ څه مقاومت وکړ او مغلو په جنګ جګړو رالاندې کړ او مرګ ژوبله او تالانونه پکې وشول او د مغلو یو امیر هم پکې ووژل شو او مغلي فوځونه د نیشاپور په

لاره په ایران ورننوتل د مغلو دغه چابک تېرېدل دافغانستان
د هرځای خلک راپورته کړه او یوه جذبه او ولوله او د پردو
په نسبت کرکه پکې پیدا شوه او ځای په ځای یې لازم د فاعي
ترتیبات ونیول خو یو مرکزي دولت نه وو او د رهبرۍ مقام یې
نه درلود چې د مغلو د زورور اردو په مقابل کې خپل ځانونه
مجهز کړي ، د ې خلکو خپلې قلعه گانې ترمیم کړې او خپل حصارونه
یې هم تازه کړه او د دښمن دراتگ انتظار یې کولو په دې وخت
کې د خلکو لارښوونه دې څو تنو کوله اول سام سرهنگ «کرنیل»
د تخار د لوی ولایت په مرکز کې او تخارستان حصار سنه تینگ وو
او ویلی شي چې شلو فرسنگه اوږد والی یې درلود او امیرعمر په
بامیانو کې او ملک اختیار الدین محمد بن علي خرپوست په پښتنو کې
او ملک حسام الدین او ملک قطب الدین په غور کې او ملک الکتاب
اختیار الملک د بادغیس او هرات په منځ کې په قلعه گانو کې او پهلوان
اصل الدین د فیوار په قادس کې او ملک شمس الدین محمد جوزجاني
په هرات کې او د ملک شمس الدین اعتبار یانو په نصیحت کړه د تالقانو
او علاقه مرغاب ، کې او د الغ بېگ افسرانو د گرزیوان په حصار کې
او عمید ابو پهلوان د غرجستان په قلعه کې او امیر حبشي په تولک
کې او کربر ملک په غزنې کې او اعظم ملک په ننگرهار کې او ملک شیر
په کابل کې - د غور مختلفو امیرانو په غورانو کې او ملک نصرت الدین

بن حرب په سیستان کې او ځینې نور مهم ځایونه م ټینګ کړی شو او خلکو ځان د فاع ته چمتو کړو، خو د ولس خلک په دوو ډلو ویش وو یوه ډله تاجران، روحانیون او نور اشراف وو چې د حکومت نه چې متنفر او ناراضي وو د مغلو پلوي وو او بله ډله خوار او غریب د مغلو سره په سازش کولو پلویان شو ځکه چې سلطان خوارزم وتښتېد او خلکو ته د مغلو زور معلوم وو چې موږ به یې مخه نشو نیولی او محض ځانته مصیبت ولې راپیدا کړو، خو ځینې خلک په دې فکر وو چې د وطن نه دفاع زموږ پلرنۍ وظیفه ده او پخپل وطن قربانول ورکول زموږ د پخوانو روایاتو جز دی او ضرور به په هر قیمت چې وي د وطن نه دفاع زموږ ملي دنده (وظیفه) ده او دا کار به په ایماندارۍ سره کوو- دې ګډوډۍ او مختلفو افکارو په خلکو کې د یو والي قوت او انتظام راپیدا نکړی شو او هر څوک په خپل سر او خپل فکر روان وو لکه چې ویلی شي د قندهار والي علاء الملک چې واورېدل چې خوارزم شاه ایران ته وتښتېد نو دی م د دوه زره عسکرو سره په سیحون "آمو"، ور پورېوت او د چنګېز د فوځونو سره مل شو او همدا سړی وو چې غلجو او په غوراتو او ننګرهار کې د مغلو د ګټو د پاره د پرځه وکړی شو او ملک رکن الدین کرت دوم سړی وو چې د خیسار قلعه یې په لاس کې وه چې د چنګېز خان بلنه یې ومنله او د مغلو اطاعت یې ومانه او خپل منسی -

ملك شمس الدين د چنګيز حضورته ورولېږل او همدارنګه قتلغ خان
د کرمان والي هم د چنګيزخان اطاعت ومانه. امين الملك والي هرات
چې د خوارزم شاه اوښی او د جلال الدين د خوارزم د خوی خسر
وو د مغلو د راتلو سره چې د شمال مغرب نه په هرات راغلل د
مغلو یې اطاعت ومانه او خپل خان یې بېچ کړو. دا ټولې ګډوډې په
افغانستان کې وې او مختلف حالات او مختلف افکار وو چې په
۱۲۲۱م، کې چنګيزخان چې د ماوراالنهر نه تسلي شو نو د افغانستان
په فکر کې شو. اوله درې پلوه یې په افغانستان خپلې لښکرې درې
برخې را سوق کړې اوله برخه فوځ د تخارستان د ولايت د نيولو
د پاره د بدخشان نه د هندوکش پورې او د بدخشان د ورانه
او ورسره د ولخ او اندراب او نورو د پاره وګمارل شو دا
فوځ په خپل کار بنتی وو مرګ ژوبلې او ښارونه یې وران کړل
چې ناڅاپه جلال الدين د سلطان محمد شاه د خوی له خوا د پروان
د پلوه پرې حمله وشوه جلال الدين خوصې نوم وو افغانان
د پروان نه د چنګيزي فوځ مخکې ودرېدل زړور نه مغل وژل
شو او نورو تېښته وکړه.

دويمه برخه مغلي فوځ چې ۸۰، زره تنه وو د تولي د چنګيز
د خوی د قوماندانۍ لاندې د شمال مغربي افغانستان په لاندې
کولو وژلو او ورانولو مامور وو. د تولي عسکرو د مروچاق

له لارې او او بغشور نه کشک ته نژدې لاره یې ونیوله او ټول دا
ځایونه تر ا بیورد او نسا بارزا و طوس او جاجرم او بیهق او
خاف او سنجان او سرخس او زوزابد او سیستان پورې دلټول
ځایونه له منځه وړل او له خاورو سره یې برابر کړه هدغسې
تولي د مرو ښار ورک کړو او هرات یې تابع کړو او د درې
میاشتو په موده کې دا د ښارونو ورانولو او د خلکو د وژلو کار
سرته ورساوه - تولي چې واوریدل چې پلار یې اوس د نصرت
کوه دحصار په تسخیر لا نښتی دی او ناکام دی نو ځکه
یې د هغه خواته راوګرځوله او د پلار کومک له ورغی او مرغاب
ته ورورسید لکه مخکې چې ویلی شوی د مغلو درېم برخه لښکر
چې څه منظم عسکر وو او څه ورسره اثري خلک ووا و تولي به
یو لک نفره وو پخپله د چنګېزخان د مشرۍ لاندې د جیحون نه را
تېر شوا و مخامخ د بلخ په خوا وان وو هغه (۴۰) زره عسکري
رساله په دې موظفه کړه چې د خوارشا خلک ووژني او تالاکړي
او اذوقه او خوراکي مواد له منځه یوسي چې د دښمن قواوې
ترې استفاده ونکړی شي او دغه فوځ هدغسې وکړه خلک یې
ووژل او بنځې او واړه ماشومان یې چېل غلامان کړه او مالونه ترې
ولجه کړه - او دغه ټول ښارونه او ځایونه یې جزیرې او صحراګانې
جوړې کړې او زړونه آسونه او غوایان یې له ځان سره بوتلل

دې کار لږ او ډېر اته میاشتې وخت ونیوه او چنګېزخان هم په ورو
ورو راروان وو او بلخ ته نژدې را ورسېد.

الف: د بلخ ښار:

دالوی ښار د مرکزي آسیا او هندوستان د تجارت په لاره کې
پروت او دا چې پېړۍ نه پس مخ په ودانېدو روان وو او هغه
ورانېدنې چې د عربو سره په جګړو کې شوې وې د
غزنویانو په دوره کې هغه بېرته ترمیم شوې چې نه څه دغه ودانۍ
پر مخ لوېږې او ډېرې لوړې تللې وې دالوی ښار دیو لوی دېوال
د ننه وو او ښه لوی د دېوال تر پای تاو وو، او دا تقریباً (۱۲)
فرسخه اوږد وو او په هغه وخت چې چنګېز بلخ ته نژدې
راغی نو د ښار «اشراف حکام روحانیون تاجران او افسران» سره
د تحفو مخې ته ورغلل او بې له جنګه تسلیم شوا او صرف خپل امان
یې وغوښت چنګېز په اول کې دا خبره ور سره ومنله او د بلخ خلکو
له یې دامان وعده ورکړه، د بلخ د ښار دروازې دښمن ته
پرانستلې شوې او مغلي لښکرې ښار ته راننوتلې دي وروسته کو
مغلو ښځې نر او واړه او سپین ږیري حتی ټول ساکنین یو د ښتې
ته بوتلل او وږيې تږيې يې وساتل تر څو چې د مرګ امر يې را-

ورسیږي ، د مرګ حکم وشو اووژل شو او ښار لوټي لوټي شو تکه چې مخکې هم یاد شوی دی داکار د دوی د هغه عمل چې د چنګیز ښار نه یې دفاع نه وه کړې سزا وه .

مارکوپولو اروپایي سیاح پنځوس کاله وروسته له دغې واقعې شمالي افغانستان ته ورغلی وو هغه وایي نه هلته څه د ودانۍ اثار نه مدرسې وې نه کتابخانې چې نوموړې یې اوریدلې شوې وې صرف هلته د دورمو ځنګلونه ولاړ وو او د شاهرځنګل جوړ وو . پنځوس کاله نور وروسته ابن بطوطه هم افغانستان او بلخ ته ورغلی وو هغه هم دغه خرابه لیدلې وه او څه ودانۍ نه وه دا ښار همدغسې وران پروت وو ترڅو چې په څوارلسمه میلادي پېړۍ کې دامیرتیمور اوښي امیرحسین د بلخ پخوانۍ ارګ ، قلعه هندوان ، دخان د پاره د اوسېدانې ارګ او قلعه جوړه کړه ، او همدغه ځای ئې د حکومت مرکز کړ ، خو امیرتیمور بلخ بیا وران کړ او تراوسه هم د بلخ ښار پخوانۍ بلخ نه دی شوی (۱)

وروسته له پنځلسم قرن نه ۳ ربحان قلي خان د بلخ حاکم او

---

(۱) ښاغلی وزیر محمد ګل خان مومند په (۱۳۱۲ هـ . ش) چې د شمال ایالاتو تنظیمیه رئیس وو ، هغه د بلخ د ښار د ودانۍ اقدام وکړ او مستر کیش یو اطریشی مهندس (۲) کار کاوه .

« بیسیال »

او واکدار د بلخ د جوړېدو اقدام وکړو او یوه مدرسه یې جوړه
کړه خو دا څغه پخوانی ځای نه دی بلکه دا د مزار شریف ښار وو
په دولسمه پېړۍ کې د خیبر روایاتو او خوبونو په اثر په قریه «د خیر»
کلي کې یو قبر دی چې ویلې شي دا د حضرت علی کرم الله وجهه دی،
دی د ابي طالب ځوی او د پیغمبر اسلام تره وو د « ۱۴۸۱ م » نه
دغه ځای د بلخ مرکز ګرځېدلی چې په مزار شریف شهرت لري،
په دې موضوع فاضل حافظ نور محمد خان د اعلحضرت محمد ظاهر شاه
سر منشي یو مستند کتاب هم لیکلی دی.

« سیال »

ب ؛ د تالقان د خلکو مبارزه ؛

چنګېز د بلخ د ورانۍ نه پس پخپله جوزجان او میمنې ، فاریاب
په لوري روان شو او د مدافعینو په کلو او تنو ور روان وو چې نړل
ونړل شوي او پراته وو. ترڅو مرغ رود او د « مرغاب » ته ورسېده
سیده سره د دې چې د دې ښار کلي او مضافات او خواوشا تولې
و دانۍ ورانې شوې او خرابه ګرځول شوې وې.
د تالقانو ښار د او بدلو له لحاظه ډېر مشهور وو چې هلته به
د ډېر ښه توکران جوړ ېدل ، د دې ښار ارګ د « نصرت کوه » په
نوم د یوې غرۍ په سربانډې جوړ وو او د نظامي نظره محکم او

تینګ او خلکو چې د چنګېز د راتګ واورېدل نو تصمیم یې ونیوه او په یو جامع جومات کې سره غونډه شو او قسمونه یې واخیستل چې موږ به د خپلې ځمکې نه تر مرګه دفاع کوو- او خپلې فاتحې واخیستلې او په عزم پاڅېده چې د دښمن سره به جنګیږي، دوی ښې جامې واغوستلې او د یو بل سره یې مخه ښه وکړه- او دروازې وتړلې او د ښار په دفاع یې لاس پورې کړو- په دې ډله کې پنځه سوه عیاران[1] او څه سواره چې د خان او سرنه تېر وو هغوی میدان ته راووتل مغلو د خپل عادت برابر خلکو ته د اطاعت کولو خبره وکړه خو د تالقان خلکو د مغلو استازی ونه مانه او بېرته یې رخصت کړو- د چنګېز لښکر لکه د مار د ښار نه تاو شو خنګه چې د مغلو حمله سخته وه د ومره د تالقان د خلکو دفاع هم ښه قوي وه. عیاران به د ښار نه راووتل او په مغلو به یې ځای په ځای حملې کولې او بېرته به ښار ته واپس ورتلل. او بیا به ښار نه په بل پلو راووتل، دې دفاع ورځې، هفتې او میاشتې دوام وکړو، چنګېز په قهر شو او قسم یې یاد کړو چې د مغلو سواره به ضرور ښار ته ننوځي، خو د اخراسان کار نه وو؟ دې خلکو خان په مرګ ګڼلی وو. د چنګېز درې واړه

---

[1] عیاران هغه ازمایل شوي تینګ دله ایز کسان و ته ویل کېده چې د افغانستان په اکثرو ځایو کې به وو او د هغه ځای اصلي خلک به وو.

خامن ,,چغتائي خان،، اوګتائي خان او تولي خان، چې په ماوراءالنهر
کې د خپل پلار د حاله خبر شو د هغه کومک له تالقانو ته راغلل
دا لومړي وار وو چې چنګېز د خپل قوت په مقابل کې بل محکم قوت
هم ولیدلو او حیران شو یوه ښار اورګنج، او تراکی او نورو خلکو
هیڅکله هم دغسې دفاع نه وه کړې او نه یې په منځنۍ آسیا کې شال
وو، چنګېز او د هغه عظیم اردو او خامن یې د یو وړو کوټې ښار
په فتح کولو کې لاعلاج او حیران پاتې وو - داڅه وو؟ دا د دغه
خلکو عزم، همت، غیرت، شجاعت، تصمیم او اراده وه چې د چنګېز
زورورې ونه رسېده - پدې کې آوازه شوه چې سلطان جلال الدین
د خوارزم شاه ځوی راغی او په غزني کې یې مرکز دی او د جنګ
د پاره ترتیبات نیسي نو د چنګېز هم نور د معطلی حوصله نه وه -
حکم یې وکړو چې خندقې، کټې او لرګي راوړه او د تالقانو دارګ
برابر بله غونډۍ جوړه کړه چې د هغې نه په جنګ پیل وکړو.
همدغسې وشوه او د نصرت کوه په شان یوه پشته غونډۍ -
جوړه کړه او نصرت کوه د حصار د قلعه ګوره وران شو او دښمن
دروازه هم وینوله او په حصار کې د ننه تن په تن او لاس پلاس
جنګ جوړ شو څه خلک پرې راووتل او په لښکر کې هم ډېره -
مرګ ژوبله وکړه او څه چې ګیر شو هغه د چنګېز په حکم قتل
و وژل شو ځکه چې چنګېز هغه شجاع او زړور شخص نه وو

چې د زړورو تدردانۍ به یې کوله څه یې جابر ظالم فاتح وو وطنونه به یې نیول او ورانول او خلک یې وژل، رحم او عاطفه د څخه په زړه کې نه وه - چنګېز د تالقانو ښار په (۱۲۲۲م) کې ونیولو خود افغانانو نه یې سترګه ورسوه او د افغانانو په زړو کې هم له ده نه کرکه او نفرت را ولتېده خو چنګېز هم عزم وکړو چې د دې وطن خلک ژوندي پرېښودل نه دي ښکار، نو امر یې وکړو چې خلک و وژنې او سرونه یې غوڅوي چې بیا را ژوندي نشي -

چنګېز د تالقانو د نیولو نه وروسته فوراً د غزنې خواته ور روان شو بامیانو ته چې ورسېد هلته یې یو بل حصار ولید و او ویې ویل چې د دې ورانول ښکار دي او دا د «ګرزیوان» حصار وو.

ج: د ګرزیوان د خلکو دفاع:

د ګرزیوان وړه قلعه وه د دغه ځای زړور خلک د دښمن د زور نه ښه خبر وو او د بلخ، جوزجان او میمنې او تالقانو د ورانۍ او ریدلي وو - نو دوی هم د خپلې دفاع د پاره چمتو او کلک و درېدل او جنګ جوړ شو یو پلو خوې وسلې افغانان وو او بل پلو د چنګیزي فاتح فوځ وو - خو ورځې دې جنګونو دوام

وکړو خود قلعه وهل اونیول څه آسان کار نه وو؟ او مغلي لښکرې ورېږې تاراني شوې دیوې میاشتې جګړو نه پس مغلي لښکرې په بنار ور وختلې او د ګرزیوان وړې قلعې وینوله چې داد بخارا او ماورالنهر او خوارزم د بنارونو په مقابل کې هیڅ هم نه وه خو په دفاع کې د ټولو نه ممتازه قلعه وه. د چنګیز په حکم ټول خلک او ساکین، تنفس، ووژل شو، او دا قلعه هم دخاورو سره خاورې شوه او چنګیز له دې نه پس د افغانستان زړه ته روان شو.

د: د بامیانو د خلکو ټینګار:

دا پېږه د مغلي لښکر په مخکې د بامیانو کلکه او لویه قلعه وه او ورېږو خلکو له دې قلعه نه دفاع کوله د دې ځای د خلکو د اول قرن نه تر شوارلسم قرن نه پورې دوی او د دوی پلرونو او نیکونو شروندونه درلود، او دا تاتورې پورې ګران وو او دولس سو ٢٠٠١ کلونو د افغاني مختلفو او څو تمدنونو نه یې نماینده ګي کوله او له اسلام نه د مخه قرنونه زماني، هغه وخت چې بلخ د بین المللي تجارت مرکز او د هغه شاهراهونو (لارو)، محور وو چې آسیا ته تللي راغلي وې چې د غرب نه به د روم امپراطورۍ ته او د شمال مشرق

نه به د چین پلو او د جنوب مشرق نه هندوستان ته ورغلي وې
او راغلي لاړې وې - او گروگو بو دیک صنعت د کابل او گندهارا -
د سروکي د لوړوالي حد (عروج) ته رسېدلي وو او د باختریان پلو
مخ په وړاندې روان وو په دغه وخت کې بامیان هم د مخصوص
تمدن خاوند ښار وو د هغه ځای لوې لوې سمڅې او په گټوکې
کنستلي مجسمې چې د دنیا عجایباتو نه دي د یادولو وړ دي او په
تېره د پنځم قرن عظیمې مجسمې چې یوه (۳۵) او بله یې (۵۳) متره -
لوړوالی لري او په ډېر مهارت کنستلې شوې دی د یادولو وړ دی
چې د دغو مجسمو کار د اووم قرنه پورې دوام درلود او د عربو
ترهجوم پورې لا داکار روان وو او د دغه زینوکار د (۵۳) متره
بت پاتې وو - د بامیانو د اووې پېړۍ ښار د دې لویو بتانو جنوب
غرب خواته واقع وو چې د عربو حملې پرې راغلې او دا ښار وران کړې
شو او هغه لویه مجسمه هم زخمي کړې شوه[1] په بامیانو کې یو بل لوی
ښار هم وو چې د ضحاک په ښار مشهور وو هغه د ورانۍ د سرنوشت
سره مخامخ شو - خو د دې پخوانو ښارونو په بدل او عوض کې د
اسلامي نفوذ په وخت کې یو بل نوی ښار د غوره په لمنه په جنوب

---

(۱) بیا وروسته د ظاهر شاه په وخت کې د هند د حکومت په کومک دغه -
مجسمې بیا ترمیم شوې چې د لیدلو وړ دي. (سیال)

مشرق برخه کې مخامخ دغه بتانو ته ودان کړی شوي چې خلکو به ورته
ښار غلغله ویلو- او اوس یې هم خلک دغه وړانه د غلغلې د ښار په
نوم یادوي دا ښار د دیارلسمې پېړۍ پورې د بامیانو اداري مرکز
او د اسلامي علم او فرهنګ کان وو او په همدغه پېړۍ کې د چنګېز
مغلي فوځ په راغی او دغه ښار یې وران او لوټې لوټې کړ، چې اوس
یې هم اثار شته دی، د بامیانو لوی ۵۳ متره بت نادر افشار هم یو
وار په ۱۸ قرن کې په توپونو ویشتلی وو او ښپې یې لوېدلې وې-
او ویلی شي چې د امیر دوست محمد خان کډې چې مزار ته تللې د مخه
یې بي دا بربنډ بت چې عورت یې ښکارېده حکم وکړ چې په توپ
یې وولي، خو بیا لکه د تېر مخ په حاشیه کې چې ولوستل شو ترمیم
شوی وو- چنګېز چې دې ښار ته راورسېد نو خلکو ته یې د تسلیمېدو
خه نا امیده بلنه خو ورکړه خو د بامیانو خلکو دا بلنه رد کړه او جنګ
ونښت د بامیانو خلک هم د تالقانو او ګرزیوان د خلکو په شان ښه
په مړانه جنګېدل د چنګېز خان ډېره تادي وه چې دا کار ژر یې خواته
شي ځکه چې اورېدلي یې وو چې نوی د مه لښکر د سلطان جلال الدین
سره د دوی جنګ ته راروان دی او د غزنی نه پروان ته رارسېدلی
دی او د ده لېږلی لښکر یې مات کړی هم دی او د توري په زور
یې د مغلي لښکر نه د والیان قلعه آزاده کړې ده او د مغلو د محاصرې
نه یې خلاصه کړې ده او مغلي سپایان د تخارستان په پرېښودلو-

هم مجبور شوی دی نو داوو چې چنګېز هېڅ دمه نه کوله او په بامیانو به یې پرله پسې حملې کولې . او د بامیانو خلکو ورته پښه ټینګه کړې وه چې آخر په دې جنګونو کې د چنګېز نمسی «موتوجن» د چغتائي ځوی په غشو زخمي شو او بیا ورپسې مړ شو، او چنګېز دومره و قهرېده چې ټوله خوله یې په زمکه وویشتله او سرتوري د لښکر په مخکې جنګ ته روان شو مغلو چې دا حال ولید لکه مچ مېږي په قلعه ور وختل او نور د ګټوا وغشو ویشتلو اش پاتې نشوا و خلک د سره په مړو په د پوالونو وروختل او قلعه یې لاندې کړه او د چنګېز قهرا وغضب او وحشت چې په جهان کې مثال نه لري او مشهور وو او هلته یې ښکاره کړوا وپه دې خلکو یې انتهائي ظلمونه وکړه واړه یې حلال کړه او د ښځو ګېډې یې څیرې او بچې ترې وویستل او بیا یې حیوانات سپي او پیشوګان هم ژوندي پرېښودل . او ونې بوټي له بېخه وویستل او شینکي او ګلان او هرڅه یې د زمکې له مخه ورک کړه او بیاد ګټو وار راغی برجونه د پوالونه ګټې ګټې ته د ماتولو سزا ورکړه او توپې و دانه یې پې له اشتشنا ورانې کړې چې آینده پکې کوم ساکن و نه اوسېدلی شي او په دې وران ښار یې م د «ماء بالیغ» نوم کېښود او پخپله چنګېز چې دا کارونه خلاص کړه او فارغ شو نو غزنې ته ور روان شو.

هـ :- د نورو قلعه گانو او حصارونو مدافعه :

دافغانستان ټولو خلکو او د هرې قلعه او حصار او سپېدونکو د چنگېز د لښکرو سره د غښې جنګونه وکړه او د خپلې علاقې او وطن نه یې ایماندارانه او په مېړانه مدافعه وکړه او د تسلیمې پېغور یې ونه مانه د افغاني ولس د دفاع او د مغلي فوځونو او چنګېز قهر او دهغه د اخلافو سره یې د دېغه وجنګېدل چې مورخین او ورته حیرت پرې کوي او بل چېرته یې د غښې مثالونه نه لیدلي اونه اورېدلي او نه یې لیکلي دي لکه د «کالیون» چې د هرات نه په شل فرسنګه واقع دی او په یوه لوړه باندې جوړ دی یو کال او څلور میاشتې یې د مغلي لښکرو په مقابل کې مدافعه وکړه او سره تېنګ ولاړ وواو تسلیم نه شولو او اخر چې ټول ووژل شو او له منځه لاړل ، مورخ منهاج السراج چې پخپله د چنګېز خان معاصر دی په دې باب وایي :

چې د ابوبکر د وه خانې چې د سلطان محمد پهلوانان وو دغه په قلعه کې وو او د دغه قلعه کوتوالان وو او یو د خوارزم شاه حکمران هم هلته راغلی وو - د چنګېز د کفار لښکر سره د غښې په مېړانه وجنګېدل چې د مېړانې قصې یې پاتې شوې او مغلو به له دوی د وېرې چې د دغه قلعه خلکو او عیارانو به پرې داړې کولې د شپې هم خوب

او آرام نه وو- د قلعه او سيدونکي په ايمانداره جنګېدل او -
«۱۸» مياشتې يې قلعه بندګوکړه خو د لاندې «وچه غوښه» اوپسته
به يې خوړله ټول ناروغه شوا و وبائي نارغه اکثره د منځه ولاړل
اخر ټول «۵۰» تنه پاتې شو چې «۳۰» تنه يې نارو غه او «۲۰» جوړ
وو، مغل چې خبر شو په قلعه ورو ختل او هغوی هم توري پلاس
مقابله کوله ترڅو چې ټول شهيدان شوا و قلعه حصار «کاليون» د -
مغلو په لاس خوړه مرده پس ورغله ۰
او هدا د ول «اشيار» د قلعه خلک چې په غرجستان کې واقع ده
د مغلو په مقابل کې يوکال او درې مياشتې مقاومت او ټينګار وکړو
چې آخر قلعه ورانه او د وی ټول وژل شو خو تسليم نشو- د قلعه
حکران ميرمحمد خان مرغزي وو چې د چنګيز د فرخ سره په تالقان او
ګرزيوان کې جنګېدلی وو او بيا به يې د چنګيز په فوځونو داړې کولې
او د هر خلک ترې بنديان کړي وو او د هر قيمتي شيان يې ترې ولجه
کړي وو او د هر يې ترې وژلي وو او د هر ورسره بنديان هم وو
چنګيز چې د سنده د فتحې نه بېرته راوګرځېد چل څوک «تولي» -
مؤظف کړه چې د افغانستان پاتې قلعه ګانې هم ورانې کړي تولي د لس
نرو منجنيقونو په اشيار قلعه ورغی هرڅومره وسه يې چې وکړه
قلعه فتحه نه شوه ترڅو چې ټول قلعه وال د لوږې او ناروغۍ نه مړه
شو نو بيا پرې مغل ورو ختل خو امير محمد خان بيا هم د خپلو «۳۰» تنو

ملګرو سره مقابله کوله ترڅوچې ټول شهیدان شول.

د تولک د حصار خلکو م اته میاشتې جنګونه وکړل ترڅوچې مغل پرې غالب نه شو او ناکام ترې وګرځېدل ، او د «فیوار» د قلعه خلکو هم چې په قادس کې وه سره د دې چې خوراک یې نه درلوده خو دوه میاشتې وجنګېدل - خو آخر مغلو لاندې کړه ، د «سیفرود» د حصار خلک چې په غور کې واقع وو د څښلو اوبه یې نه لرلې (۲۴) نفره - حیوانات یې له تندې مړه شول سره د دې هم د دښمن ته تسلیم نه شول - د دې حصار خلکو د او بو یو تالاو درلود چې د (۴۰) ورځو د - څښلو اوبه پکې وې - منکوته نوین او قراچه نوین مغلو سردارانو مخکې له دې چې دا قلعه محاصره کړي د خوا وشا خلکو نه یې مالونه تالا کړي وو په قلعه کې حاکم ملک قطب الدّین وو په دوی د تندې نه ډېرې سختې تېرې شوې آخر پرې خدای باران وکړو او اوبه یې ذخیره کړې او مغل پوه شول چې نور د قلعه وهنه نه کېږي نو ترې په شا شول او موقتاً د سیفرود حصار پاتې شو - چې ژمی تېر شو مغل په سیفرود بیا راغلل خو ګټه یې ونکړه او بیا په شا شول.

جوزجاني معاصر مورخ یې د ډېر بیانونه کړي دي خو موږ نه د - وخت د کمي له امله ترې تېرېږو - د فیروزکوه د ښار خلکو م ایماندارانه (۲۱) ورځې جنګونه په مېړانه وکړل او ژمی پرې راغی مغل بېرته ترې په شا شول - جدغشي په لار کې نورو قلعه ګانو او حصارونو د مغلو د -

یرغلونو په مېړانه سره مقابله او مدافعه کوله او تسلیم شوي نه دي چې د هغوی نه د هغوی وران حصارونه او قلعه گانې په میراث پاتې دي او اوس یې هم نښې نښانې شته دی؛

د جوینی، یو مورخ په څای ویلي دي چې او سني خلک د هغوی په لسمه هم ترور زن نه دي د افغانستان ښارونه د مدنیت او فرهنگ او تجارت مرکزونه وو خو د چنگېز څه ډول ماجرا پرې راغلې او څه بدې ورځې یې ولیدلې او څنگه وران شو؟!!

و، د مرو د خلکو مبارزه؛

د مرو ښار هم د افغانستان د نورو لویو ښارونو لکه، بلخ، هرات او نیشاپور په شان ودان ښار وو او د ډېر خوار او شا او سیدونکو سره (۷۰۰۰۰)، تنه آبادي درلوده، چې د هغه جملې نه (۶۰۰۰) یوازې ترکمانان وو - مغل د مرو د خلکو سره جنگونه وکړه خو بریالی یې ونه موندو ترڅو چې بیا په (۱۲۲۱م)، کې تولی د ډېر مهاجم او یرغلگر لښکر سره بیا مرو ته راغی او شپږ ورځې سخت جنگونه وشو خو مغلو څه بری ونه کړو خو آخر مجیرالملک د مرو حاکم او ځینو شرافو خیانت وکړ او تولی ته پلاس ورغلل - په مرو کې څو مره کتابخانې او کتابونه او طلبه وو د هر ودان او موږ ښار وو (یاقوت حموی)، د مغلو نه

مخکې هغه د مرو ښار ليدلی وو او هغه يې د ودانۍ او مالدارۍ او علم ذکر کړی دی. آخر تولي مجيرالملک او د مرو ټول خلک ووژل او ويلی شي چې د دې خلکو شمارې له دوه پر لس لکه يو ميلون ته وو، د دې ورانۍ او قتل او غارت نه وروسته تولي نېشاپور ته روان شو. د مرو ښار د ګورګانيانو په وخت کې شاهرخ ميرزا چې د تيمور ځوی وو باد شاه شو نوی آباد کړی او ودان شو؟

ز؛ د نېشاپور د خلکو مبارزه؛

د خوارزم شاه د تېښتې نه وروسته چې ايران ته ورغی د نېشاپور حکومت يې د مجيرالملک کافي وخي (چې دا د مجيرالملک مروزي نه، بل شخص دی) ورکړی شوی وو او مرستيالان يې فخرالملک جامي او ضياء الملک زوزني مقرر شوي وو. نيشاپور يو وار يې په (۵۳۱۱م) کې د غزان د لاسه وران شوی وو او دا د نېشاپور نوی ښار وو چې اوس د مغلو د حملې او يرغل په مخکې وو. د نېشاپور د دفاعي ترتيبات لا ښه نه شوي نه وو چې مجيرالملک د مغلو سره سازباز وکړ او د مغلو شحنه (حاکم) يې زمانه خو خلکو د مغلو حاکم ووواژه او يو علوي روحاني دغه رپوټ مغلو ته ورسا وه او داوو چې د مغلو لښکر د چنګيزخان ځوم (تغاجار) په مشرۍ کې نېشاپور

ته راورسېد او نېشاپور يې محاصره کړو. سخت جنګ جوړ شو او ښار يانو ښه په کلکه دفاع کوله او پخپله تغاجار مغلي افسر په يو غشي ولګېد او ووژل شو او مغلي لښکر په شا شو او د نېشاپور په ځای يې په سبزوار حمله وکړه. د سبزوار خلکو هم مدافعه وکړه خو د دې ورځو جنګ نه وروسته مات شو او ښار يې د مغلو لښکر ته وسپاره. مغلو دغه ښار چې اويا زره (۷۰۰۰۰) نفوس يې درلوده ټول ووژل.

په (۱۲۲۱م) کال تولي خان د چنګېز خان ځوی چې د مرو ښار وران کړی وو نېشاپور ته سره د لښکره راورسېد چې دري زره منجنيق او د څلې ګاډي هم ورسره وو. د ښار خلکو بيا په دفاع-لاس پورې کړو مغل هم ښه په سختۍ جنګېدل. غوښتل يې چې د چنګېز د ځوم انتقام او بدله د دې خلکو نه واخلي او د وينو سېلاب ونه روان کړي. د همدې مقصد د پاره د تغاجار ښځه د چنګېز لور هم د دې لښکر سره راغلې وه. د نېشاپور په خلکو مخکې قحط راغلی وو او پوره خوراک غله او اذوقه يې هم نه لرله او پرېشانه وو. خو د خپل ښار نه يې په کلکه دفاع کوله په څلورمه ورځ مغلو په ښار کلک يرغل وکړو او د حصار په دېوالونو ورواوښتل او ښار يې راولاندې کړو او ټول خلک يې ووژل او ښار يې وران کړو او په يې پرې راسپرېښودلې چې آوار يې کړي او د نېشاپور ښار

م د افغانستان د نورو ښارونو لکه بلخ، مرو، هرات، او نورو منځ لاړا او د مغلو لښکر بیا هرات ته را وګرځېد.

د هرات د خلکو دفاع:

د هرات مشهور او لوی ښار چې یو د افغانستان د پخوانو ښارونو نه وو او د اسلام نه مخکې هم موجود وو. د هرات ښار څلور دروازې لرلې او د ښار په منځ کې یې ارګ وو او دارالاماره یې د ښار نه د باندې درلوده ویلې شي او حمدالله قزویني لیکلي چې:- په دولسم قرن کې د هرات ښار د غوریانو په وخت کې د ولس زره دوکانونه درلودل او اته شلوېښت زره کورونه او (٣٥٠) مدرسې او خانقاوې هم درلودلې. او دا ښار د میوو او رنګارنګ نعمتونونه ولک ښار وو. او په ټول جهان کې یې مثال نه وو؛

په (١٢٢١م) کې چې مغل راتلل د هرات حکومت د ملک شمس الدین جوزجاني پلاس کې وو څکه چې د جلال الدین ماما امین الملک خوارزمي پخواني حاکم د مغلو د پخوانۍ حملې په وخت کې لا پخوا تښتېدلی وو او په سند کې وو او د مغلو سره یې جګړې پرېښې وه ملک شمس الدین د هغه په خلاف یو مېړه شخص وو او وخپله وظیفه یې ښه پېژندله، څه وخت چې تولي خان د نیشاپور د ورانۍ نه پس هرات ته

راغی او خپل استازی ملک شمس الدین جوزجانی او د ښار قاضي او
خلکو ته ولیږلو او د تسلیمۍ غوښتنه یې کړې وه ملک شمس الدین-
هغه استازی ووژه په دې گناه چې دبلد هرات د خلکو سپکاوی کړی
وو چې د تسلیمۍ پیغام یې راوړی وو او د مغلي لښکر سره یې د-
جنګ عملی اعلام وکړو؛ جگړه جوړه شوه او پرله پسې روانه وه په اوومه ورځ
ملک شمس الدین چې په اول صف کې ولاړ وو د مغلو په یرغلي و
لگېد او مړشو نو د ښار روحانیونو او اشرافو ته موقع پلاس ورغله
او په نوم د صلحې د مغلو اردو او لښکر ته ورغلل او ښار یې مغلو ته
وسپاره د وی ته امان ورکړی شو خو تولي خان ښار ته ورننوت
او «۱۲» زره مدافعین د ښار یې قتل ووژل خو ښار یې وران نه کړو
ځکه چې د تولي خان دا ښار او د دې صنایع او په تېره د زربفتو
اوبدل یې ډېر خوښ وو- او بیړه یې هم کوله چې ژر د خپل پلار کومک
ته ورورسیږي چې هغه د تالقان د نصرت کوه د حصار په جگړو لخته
وو، تولي خان د وتلو شوي ښارونو نه ځه ځه تحفې هم د ځان سره
وړي ووړلې خو یو شی پکې زیات وو او هغه دا چې د هرات نامې قاضي
وحیدالدین پوشنگي هم د ځان سره بندي بوتللو دا یو لوی فقیه او
قاضي وو، د دې قاضي دا امتیاز وو چې چنله زړه او وسله هم ور
سره وه او د ښار د خلکو سره د مدافعینو په ډله کې سم ولاړ وو
چنگیزخان ده ته په یو مجلس کې وویل چې خلک به زما څخه عجیبه یا د

کوي او زما قهر به کوي ؛ قاضي په خواب کې وویل چې خلک خو قول تا وروژل څوک به ستا قهر وکړي ؛
خان په قهر شو او قاضي ترې پټ شو.

د هرات ښیول چې تولی وکړه دا په زور نه وو بلکه په صلح وو او روغه ته ورته وو ـ څه موده وروسته بیا خلک پاڅېدل او د مغلو ، شحنه ، حاکم ووژه او ملک مبارزالدین او ملک فخرالدین یې خپل مشران وټاکل ، او قسمونه یې وکړل چې ترمرګه پورې به د وطن نه د د ښمن په مقابل کې دفاع کوي ؛ چنګیز چې خبر شو خپل خوی تولي وسراته چې تاولې زما د قانون پاسا په خلاف قتل عام په هرات کې نه وو کړی ؟

او بیا یې اتیا زره لښکر او پنځوس زره حشریان د بلچیکیدای په مشرۍ هرات ته ور ولیږل ورته امر یې وکړو چې یو ساکښ به هم ژوندی نه پرېږدې !! او و دالند به ټولي ورانوي ، مغل ورو رسیدل او شپه او ورځ بیا جنګونه ونښتل او خلکو په مېړانه دفاع کوله دمغلو په هره حمله کې به لږ تر لږه پنځه زره تنه ترې وژل کېدل ـ دې جنګونو ډېر دوام وکړو او میاشتې میاشتې تېرې شوې چې ټولي شپږ «۶» میاشتې او «۱۲» ورځې وشوې ، مغلو ته له هر خوا خوراک او خطونه را رسیدل او د هرات په خلکو ټولي لارې بندې وې او صرف د ژوندي ساتلو د پاره لږه څه خوراکه یې لرله خو بیا هم په مېړانه یې دفاع کوله او پخپله وعده ولاړ وو اخر د هرات د قلعه د پوال چې دمغلو

په ډېرو ګټو ویشتل شوي وو او کمزوري وو اخر ولوېدا او د مغلي
لښکر پنځوس تنه يې لاندې کړل او مړه شول. د قلعه د لويدلي د پړال نه.
مغلي لښکرې ورننوتې او په ښار کې يې قتل عام جوړ کړه. قاضي جوز
جاني ليکي چې دغه وخت د هرات په ښار کې شپږ سوه زره (۶۰۰۰۰۰)
نفوس وو او خوا و شا د وه ميلونه او څلور سوه زره خلکو ژوند.
کاوه چې مغلو دا ټول خلک د تېغ نه تېر کړه او ودانۍ يې ورانې کړې
او مغلي افسر ولچيکيداى خپل لښکر د هرات شرق ته اوبه ته لړې کړو
او په ښارې اوړ پورې کړو او بيا يې رساله ښار ته ولېږله چې که
څوک ژوندي پاتې وي چې هغه هم ووژني هغوى چې وليدل لږ وو پر
درې زره تنه ژوندي او راغونډ شوي وو په دې کې د مغلو رساله
ورورسېدله او هغه يې هم ټول ووژل او رساله بېرته خپل اردو
ته ستنه سوه او دا (۱۲۲۱م) کال وو. وروسته بيا معلومه شوه چې د هرات
د ډېرګڼ ښار نه صرف (۱۶) تنه ژوندي په پټو ځايو کې پاتې شوي
وو چې يو يې د ښار خطيب شرف الدين جغرتان وو چې د جماعت په
يو چارد کې ستوتلی وو دا هغه لوی جامعت دی چې سلطان غياث الدين
غوري جوړ کړی دی او په جهان کې يې مثال نشته دی او ودانۍ
خښتونه جوړ دی او د مغلو د ورانۍ نه بيخ پاتې شوی وو چې وروسته
بيا ملک شمس الدين کرت ترميم کړو. د هرات ورانۍ ډېره موده د بلخ
په شان پاتې نه شو بلکه بيا يې ودانۍ د امير عزالدين مقدم هراتي د

اوګتائي د چنګیز د ځوی په عهد کې دا ودانه پیل شوه او هرات څه ودان شو او د کرتانو امراو ورپسې وروسته د هرات په ودانۍ کې د پراس کړې دی - د بلخ او مرو ښار وران وو او هرات یواځې دیو تجارتي لارې د اتصال ډیوې کړه په شکل پاتې وو ترڅو چې منځنۍ اسیا ته د ریل ګاډي پټلۍ را ورسیدله.

امیر تیمور ګورګان په (۱۳۸۱م) کال کې د هرات ودان شوی ښار بیا وران کړ و خود هغه د ځوی له خوا دغه تاریخي ښار بیا ودان کړی شو او هغه شهزاده میرزا شاهرخ وو چې هرات په (۱۴۱۵م) کې ودان کړه او د ابوسعید میرزا په وخت کې په (۱۴۵۸م) کې او (۱۴۶۹م) کې او سلطان حسین په (۱۴۶۹م) او په (۱۵۰۶م) کال کې د هرات ودانۍ ته خاصه پاملرنه وکړه - او په تېره تېره د شاهرخ میرزا ملکې ګوهرشاد د هرات د ښار او جامع جومات او مدرسې او منارو د جوړولو په کار کې ډېره برخه اخیستې وه خو دغه ښار د اوزبکو د حملو په وخت او د صفویانو د حملو او یرغلونو په وخت کې بیا د پېر تاوانونه ولیدل او ورسره نږدې د اسفزار ښار هم مغلو وران کړی وو او خلکو بیا څه جوړ کړي وو خو امیر تیمور ګورګا بیا په (۱۳۸۳م) کې وران کړو. او د دوو زرو سرو د سر نه یې مناره ورسره جوړه کړه.

ط: د سیستان د خلکو چې هغه وخت د افغانستان جزو و، مبارزه:

د مغلو لومړی حمله په سیستان په (۱۲۲۱م) کې وشوه چې مغلي لښکر د تولي‌خان په مشرۍ کې ورغلي وې تولي د مرو او هرات او نیشاپور او د شمال مغربي افغانستان د ورانۍ د پاره مامور وو. دغه وخت د سیستان حاکم ملك نصرت الدین بهرامشاه حرب وو. د تولي لښکر په سیستان راوګرځېده او ښار یې محاصره کړو خلکو م ښه په مېړانه مدافعه وکړه او مغلو ونکړې شو چې کامل بری پلاس راوړي پخپله ملك نصرت الدین په دغه جنګونو کې ووژل شو، دویم وار د مغلو سوقیات د اوګتاي په مشرۍ کې وشو چې دوه تنه مغلي لوی افسران د منګده چربي او سعدی چربي، م ورسره وو، د اپېره د پخواني امیر ورور او جانشین یې ملك رکن الدین محمود بن حرب وو چې د سیستان خلك بیا د مغلو مقابلې ته د زړو په خېر ودرېدل او جګړې کېدلې آخر امیر مات شو او تول کورنۍ یې د مغلو د تېغ نه تېره شوه او شهیدان شو. مغلو قتل عام وکړو او ښار او برجونه یې وران کړه.

مؤرخ منهاج السراج جوزجاني د خپل کتاب په دوم جلد کې په ۱۲۸ پاڼه کې لیکي چې د سیستان زړو ښځو په ایماندارۍ جنګونه کول

ترخوچې ټول شهیدان شو، بیا وروسته تاج الدین نیالتگین خوارزمی د مغلو سره جنګ جګړې وکړې.

په (۱۲۲۲م) کې بیا مغلي لښکرې په سیستان ور ورختلې خو دا پېره د سیستان خلك د هر ډینګ ولاړ وو او یو کال او اوه میاشتې جنګونه روشو خو اخر نیالتگین په جنګ کې زخمي او ونیول شو او بیا مغلو اعدام کړو او قلعه مغلو ونیوله او پکې ټول غوري او تولکی او سیستاني خلك ووژل شو. او ودانۍ یې ټولې ورانې کړې څه موده وروسته د جلال الدین یو حاجب (قراچه) راغی او د مغلو سره په داره ((گوریلا)) جنګونو لګیا شو. او پدې جنګونو یې مغل سره تنګ کړو اوګتائي خان د سلطان جلال الدین په پیرلوپسې ایران او طایر بهادرته ولیږل او یوڅه فوځ یې د قراچه حاجب پسې مؤظف کړو. قراچه حاجب په (۱۲۲۳م) او (۱۲۳۵م) کې مغلو سره سره په میړانه وجنګېدل او د مغلو په چنل منځ کې یې اتفا قي راغله او په شا کېدو ته مجبور شو. او خلکو څه د آرام سا واخیسته د کرو واري ورانۍ او د سیستان د لوټې لوټې کولو نه وروسته د سیستان مرکزي ښار جلال آباد شو او د دغه ښار د څه نه څه ودان شو خو چې د امیر تیمور لښکرې پر ... ایغلي دغه ښار او بند رستم چې د زرنج نه یو منزل برو وو هم وران کړو، په دغه بند کې به د هلمند نه راغلي اوبه جمع کېدې او سیستان ته به یې د

ضرورت وراوبه وركولي دا بندچي وران شو زمكي شاړې اوشګې شوې او هغه پخوانۍ ښايست او زرغونتيا يې مغلو د منځ نه وړوړه.

۱۱: د پروان جنګ:

د چنګيز د راتلو په وخت كې د غزني ښار په افغانستان كې په داخلي اغتشاشاتو اخته وو او حال دا چې د هندوكش په جنوب كې دا يو لوى او مركزي ښار وو او د ټولو جنوبي ايالتونو اداري مركز هم وو. دا ښار علاوالدين غوري جهانسوز وران كړى وو خو د هغه اخلافو دا ښار بيا ودان كړى شو او سلطان شهاب الدين محمد سام په خپل وخت كې د دې ښار ودانۍ ته ډېر پام شوى وو او د غوري سلطنت د تجزيه كېدو نه وروسته د غزنى ښار بيا د يلدوز تاج الدين غوري په وخت كې هم د هغه د حكومت اداري مركز وو وروسته غزنى او څېنې خواو شا علاقې د جلال الدين خوارزم شاه د محمد شاه د مشرځوى په جاګير كې حساب وو نو توجه به ورته كېدله او خپل اداري اهميت يې هم ساتلى وو.

څو وخت چې مغلي لښكرې غزني ته راتللې د غه وخت په غزني كې محلي حاكم او مدافع (كربر ملك وو) او د ښار كوتوال — صلاح الدين محمد نسائي وو. سلطان محمد شاه د تېښتې په حال كې

چې ایران ته تللو نو غزني ته یې اختیارالدین محمد بن علی خرپوست
غوري د پېښور حاکم یې غزني ته راوغوښت چې د مغلي لښکر -
مدافعه وکړي - خلکو د ده د بنه نوم اورېدلی او ټول خلک
ورته راټول شو او په لږ وخت کې تقریباً یولک لښکر راټول شو
او د ده نوم په خوار شا خلکو کې هم خپور شو او د ده د بنه شهرت
نه خلک خبر وو دی هغه سړی وو چې د تالقانو د نصرت کوه
قلعه یې لږ او د پرلس کاله د مغلي لښکر په مقابل کې وساتله دی
د مغلو سره د جنګونو متخصص ګڼل شو - په دې وخت کې د -
سلطان جلال الدین نامتو وزیر شمس الملک شهاب الدین الپ
چې غزنی او غور یې پلاس کې وو هغه غزني ته راغلی وو د خوارزم
شاه خپله سکه چلوان او مخکې د هرات نه سنده ته تبنېدلی
وو هغه د اختیارالدین د واکداره چې وارورېدل نو د حسد او
کینې نه یې په طوطیه او چالونو لاس پورې کړو او شمس الدین
وزیر او صلاح الدین کوتوال یې ولمسول چې اختیارالدین ووژني
امیت الملک د خوارزم شاهي کورنۍ یو فرد هغه هم په دې سازش
کې شامل وو - اختیارالدین په یوه میلمستیا کې خاینانو وواژه
او د هغه لښکر چې له دې واقعې نه خبر شو ټول یو پلو بل پلو
لاړل او خواره شو د وی خو د دغه نومیالی او توریالي قوماندان
اختیارالدین په نوم راټول شوی وو هغوی کله غوښتل چې د -

شمس الدین وزیر او صلاح الدین خوندې خاینانو سره پاتې شي - مغلو
ته لار اواره شوه سلطان جلال الدین چې خبر شو نو متاثر شو او د
نیشاپور او هرات په لاره غزني ته راروان شو خو دده نه مخکې
وخت شناس امین الملک غزني ته را ورسېد او د چارو واک یې په
لاس کې ونیولو او شمس الدین وزیر یې بندي کړ او د غزني واک
یې صلاح الدین کوتوال ته ورکړ او دی د سلطان جلال الدین د -
چپلي ترور ځوی وو او مخې ته ور روان شو او پس د تشریفاتو نه
غزني ته راغلل جلال الدین شمس الدین وزیر له بنده خوشې کړو
خو د غزني خلک د چپلو مشرانو او ځینو اشرافو نه چې ګوندی او -
پرې کولې او د مملکت دفاع ته یې هیڅ پام نه وو خفه وو آخر
خلک راپاڅېدل او صلاح الدین کوتوال یې ووژلو. او ځای ترمزي
ورونو ته ورکړه چې رضی الملک او عمدة الملک ، نومونه یې
وو خو ملک شیر د کابل والي د ترمزي ورونو مخالف وو او په اتفاق
د اعظم الملک د ننګرهار د والي ، د بلخ د پخواني والي د عماد الدین
خوی په غزني حمله وکړه او غزني یې د ترمزي ورونو نه ونیوه خو څه
وخت چې سلطان جلال الدین په (۱۲۲۰م) کې چې غزني ته راورسېد
نو د غزني خلک بیا پدې زړور شخص را ټول شول او د ده د بیرغ
لاندې خلک د چپل وطن د فاع ته په تینګه و درېدل او یو لوی
اردو چې تقریباً درې لکه خلک کېدل تشکیل شو - اعظم ملک د ننګرهار

والي ، ملك شېر د كابل والي او سيف الدين اغراق د پېښور والي او ـ
ملك مظفر د پښتنو قبايلو مشر د دې اردو پر منلي او ستر قوماندان
وو ـ خو د سلطان جلال الدين خسر او د ماما خوى امين الملك
د مملكت د لستوني ښامار وو او د خان د گټي د پاره فعاليتونه كول
او هم دا امين الملك د مغلو په مقابل كي د خلكو فعاليتونه سست
او فلج كړه او قومي لښكر ته يې غټه صدمه ورسوله په هرحال سلطان
جلال الدين د غزني نه د كابل په لاره پروان ته راغى او پروان يې
د خپل فوځ مسكر كړو او هلته يې بارونه پرېښودل او دى په خپله
د خپل لښكر سره «ولليان» ته ورروان شو د مغلو لښكر د صفه ځاى
نه په شا شو او د چنگېزخان اردو ته ورغى او د جلال الدين د
راتګ د پر اثر وشو خو چنگېزخان زر (۲۵) زره عسكر «كوتو
قونويان» په مشرۍ كي پروان ته واستول جلال الدين د پروان په يو
فرسنګ كي د چنگېز د لښكر مخه ونيوله جلال الدين د عسكرو په منځ كي
وو او امين الملك په ښي خوا او سيف الدين اغراق په چپه خوا كي
د لښكر ولاړ وو جلال الدين له دې امله چي چنگيزي لښكر ته د تېښتي
په باب د فكر كولو مجال پيدا نشي امر وركړو چي سواره دې ښكته
شي او په جګړه دې لاس پورې كړي خو چنگيزي لښكر سواره جنګېدل
جنګ سخت شو او دوه ورځي يې دوام وكړو مغلو مړه او زخميان په
ميدان كي پرېښودل او ماتې وكړه د چنگېز اردو ته ورونښتېدل

او د جلال الدین لښکرتر ډېره تعقیب هم کړو د دې جنګ آوازې په افغاني ولس کې دزې روح واچاوه او مغل وارخطا شوا وافغاني اولس کې بیا د مملکت د دفاع د روح راڅرګندی شو. او په هرځای کې خلکو د مغلو په لښکرو حملې پیل کړې او چېرته چې د مغلو حاکم د و هغه وژل یې یو په بل پسې و واژه. چنګیزخان د غه وخت د بامیانو په جګړو اخته وو او حلته معروف پاتې وو خو د جلال الدین په لښکر کې بې اتفاقي راپیدا شوې د جلال الدین خسر امین الملک د غنیمت د وېش په سر د سیف الدین اغراق سره روان شو. چې سیف الدین ۴۰۰۰ زره لښکر او د ټول افغانستان جنګیالي هم تر شا ولاړ وو آخر دا د واړه سره ونښتل هغوی د آسونو وېش بهانه کړ او د سیف الدین په سر یې دیوې متروکې ګذار وکړ خو. سیف الدین د جلال الدین د خسر او ماما په حوی د متروې ګذار ونکړ او د سلطان د پوښتنې په طمعه کېناست خو سلطان جلال الدین بې کفایته شخص وو نه هګ ورخو ور سره یې تدبیره او بې سنجشه هم وو او په دې مسئله کې څه عاقلانه رول ونه لوبولی شو او سکوت یې اختیار کړو خو د اردو ټول سپایان د امین الملک په دې وضعه د زړه خفه وو. لومړی سیف الدین اغراق د خپلو سپایانو سره د جلال الدین له لښکره بېل شو او پېښور ته روان شو چې د خپل حکومت منطقه یې وه او د اختیار الدین د خرپوست نه پس د ده په لاس کې وه. د ننګرهار والي اعظم الملک

هم نه غوښتل چي د امين الملك د لاس لاندې دې وچليږي نو
دی هم د چنل لښکره سره د مملکت شرقي خواته د سيف الدين سره
روان شو. سلطان دغه وخت کوښش وکړو چي د دغه نفاق مخنيوی
وشي خو هيڅ هم ونشو او په چله سلطان هم مجبوريږده چي دی پلو ويسي
او د امين الملك سره په پروان کې اوسيږدل وروته خطرناك ښکاره شو
نو غزني ته يې حرکت وکړو. غزني ته چي ورسيږد نو کوښش يې وکړو
چي يو نوی فوځ را ټول کړي خو دا وسعه يې هم نه وه نو د غزني نه د.
گرديز په لاره د مملکت نه په وتو مجبور شو په دغه وخت کې چنگيز د
باميانو په وهلو مصروف وو. جلال الدين د افغانستان نه ووتلو
او سند ته ورغی چنگيزخان هم د جلال الدين د اردو د بدحالا و.
نفاق نه چي خبر شو نو جرات يې نورهم ډير شو او د باميانو د ورانه
نه پس فوراً غزني ته ور روان شو غزني کې د ومره ځوك نه وو چي
د چنگيز د فوځ مقابله يا مدافعه کړي وي چنگيزخان غزني رالاندې
کړو خو هرڅه يې ځای په ځای پرېښودل او په جلال الدين پسې روان
شو د جلال الدين هم نور د تېښتي فرصت په لاس کې نه وو نو په
سند کې د چنگيزي فوځ مقابلي ته راستون شو او د وه سوه سوړ
سره جنگ ته ودريږد او د فوځ په منځ کې وو او د فوځ په ښي
پلو امين الملك و وچي د سلطان جلال الدين اتلکان ورکوموچی ځوی
هم ور سره وو خو دغه لږ شانته فوځ چي پرله پسې مات او په

تېښته وه د چنګېز د فاتح او بریالي فوځ ته کله ودرېدلی شو؟! د
امین الملک لښکر ماتې وکړه د جلال الدین ځوی هم ووژل شو او همغه
د ورکوتي ځلک په چنګیزي تورو دوه نیمه کړې شو- او امین الملک
چې پېښور ته په تېښته روان شوي و، چنګیزي سرو په لاره کې لاندې
کړو او وې واژه او د خپلې ګناه په کفر ورسېد- جلال الدین په
خپله د خپل ورسره لښکره بنه په ایمانداري وجنګېد خو برابري کله وه؟
اخر مات شو او خپل آس ئې سیند ته وغورځول پخپله چنګېز خان
هم د سیند غاړې ته راغی او په جلال الدین او ملګرو ئې د غشو
باران جوړ کړی وو چې په سیند کې د وینو سور رود بل هم روان
شو خو جلال الدین ژوندی پورې وتلو او د چنګېز پلو ئې کتل او
په خندا و وخوځېدم او مورې د چنګیزي اردو په بند کېوتلې، او
چنګېز هم د حیرت په سترګو ورته کتل او آفرین ئې پرې وایه!!
چنګېز خان امر وکړو چې د جلال الدین نارینه اولادونه ټول ووژني
او ښځې ئې مغلستان ته ولېږلې او خپل ځوی اوګتائې ئې مامور کړو
چې بېرته ور وګرځي او غزنی د غشې وران کړي چې د آبادۍ نښه
ترې پاتې نشي او خپل بل ځوی چغتائې ئې مامور کړو چې دې سند
او مکران او زابل او خوارشا علاقې دغسې ورانې کړي چې که جلال الدین
بیا را وګرځي چې د ناستې ځای ئې پاتې نه وي- خو د چنګېز خامن هم
د چنګېز نه څه کم خونه وو هغوی د پلار امرونه یو په یوه په ځای

کړه خو چنګیز د افغاني ولس د بیا پاڅېدونو نه چې خبر شو هرچېرته یې
د ده حاکمان وژلي دي نو تعجب یې وکړ چې دا خلك څنګه ماوژلي
وو دا بیا څنګه راژوندي شو؟
نو حکم یې وکړ چې افغانان هرچېرته چې وو ژوندي تش په مرګ یې اکتفا
مه کوئ دا بیا راژوندي کېږي سرونه یې غوڅوئ چې بیا دژوند نه
وي !! د دې حکم افغانان دغسې محوه کړه چې تر ډېره بیا څوك نه وو
چې د چنګیزي لښکر په مخکې ودرېدلی وای او د مملکت ټولې ودانۍ
داسې ورانې شوې چې بیا د بنده داو سېدانې ځای پکې نه وو پاتې
چنګیز بیا څه لښکر د یو افسر تور باڅ نقشي په مشرۍ د جلال الدین په
تعقیب پسې مامور کړ او مخه م څه ونکړ او چنګیز م لوړې وار
د خپلې کمزورۍ لکه مقدوني سکندر په شان احساس وکړ او دا (۸۸)
کلن مېړه نور د جنګونو نه ستړی شوی وو او خپل وطن ته روان شو
او په ټولو بندیانو یې امر وکړ چې هر یو دې په یوه هفته کې څلور
سوه منه وریجې د فوځ د پاره پاکې کړي او بیا دې اعدام شي هغسې
وشوه او په (۱۲۲۱م) کال کې چنګیزخان د جیحون د رود نه د ترمذ
په بندر د افغانستان نه پورې شوی وو او بیا په (۱۲۲۲ م) کې د
جیحون نه پورې وتو او سمرقند ته ورغی - چنګیز لا سمرقند کې وو
چې تور باڅ نقشي م یې نتیجې ور ورسېد او جلال الدین یې لاندې
نه کړی شو چنګیزخان اوربېلي ووچې په چین کې خلکو پاڅون کړی

دی نو د سیحون غاړو ته ور روان شو. دی لا علته وو چې خامن یې اوگتای او چغتای د افغانستان نه او جوجي یې د قیچاق د دښتې نه پلار ته راورسېدل، چنگېزخان جوجي بېرته قیچاق ته ولېږلو. او دی او نور خامن یې مغلستان ته روان شو او په (۱۲۲۳م) کال کې خپل وطن اصلي یورت ته ورغی. او د تبت د خوارشا د ځپلو پاتې نورو د دفع په فکر کې شو او لښکرې یې پسې ولېږلو خو په ده باندې مرض نو رم وېر شو او دا (۷۲) کلن چنگېزخان په (۱۲۲۶م) کال کې مړ شو او د نیا نه یې سترگې پټې کړې چې د دغه د نیا نیمایي برخه تمدن ده تباه کړی وو!!!

په افغانستان کې د مغلو اداره:

د چنگېزخان د مرگ نه پس د دغه وسیع قلمرو په لاندې ډول او ترتیب وېش شو: خو د دې وېش مقصد د مملکت تجزیه نه وه بلکه د دغه سیمو حکداران ټول د لوی خان (خاقان کل) تابع وو چې په مرکز کې د چنگېزخان د جانشین په حیث ناست وو. البته وروسته په تدریج سره د مغلو مرکزیت ضعیف شو او بېلو شوو برخو خانان مستقل گڼل پیل کړه او هر یو د مستقل دولت په شکل واو بنتل او ځینې پکې په وړو وړو برخو م وېش شو. په دې ډول:

الف :- شمالي چين (او توګين مزيان، د چنګېزخان د ورور برخه شوې وه چې مرکز يې پيکينګ و واو وروسته په خان باليغ نوم واوښت چې اوس ترې پيچنګ جوړ شوی دی.

ب :- د کاشغرستان د بريده (سرحد، نه بيولې تروراڼی دبلغاق د ښاره پورې د اوسني مرکزي روسيه قازان ته چې د سيحون پورته درو م پکي راتلله او د قيچاق د ښته او خوارزم د ارال د امان او غربي سايبيريا پکې ووا او مرکزيې د سرای ښار وو د اجوجی خان د چنګېز خان د خوی برخه وه.

ج :کاشغرستان او فرغانه او ماوراالنهر چې مرکز يې د فناس ښار چې د الماليغ په ګاوندکې وو، د چنګېزخان د بل خوی چغتائی خان برخه.

د :يورت اصلي (او د کرولن د درې ويالی نزن او خوز او دامان او د قراقرم غرونه)، چې مرکز يې د قراقرم ښار وو د تولي خان د چنګېزخان د کشر خوی برخه رسېدلې وه.

هـ : او نواحي جبال تاريا ګاتائی او دراوکول سيندغاړې او د بورا يميل د مغلستان په غرب کې. اوګتائی خان د چنګېزخان د مشر خوی او وليعهد په برخه رسېدلې وه. په دې وېش کې ايران او افغانستان شامل نه وو بلکه افغانستان په مستيقه د خاقان کل له خوا ديوتن ملکي آمر او يوتن نظامي آمر له خوا اداره کېدو او دوالي ياحاکم به د خراسان دوالي په نوم ياديده دی به کله په بادغيس

اوکله به په بخارا اوکله به په طوس یا نسا کې و و او هم ده په شمالي ایران او افغانستان م اداره کوله - خو جنوبي ایران خلکو مالیات مستقیماً د مغلو مرکزي دولت ته ورکول - دې دول اداري دوام و کړ و چې منگوخان خاقان کل شو او هغه خپل ورور - هلاکوخان مامور او موظف کړ و چې په ایران کې اسمعیلیان و وهي او بغداد م ونیسي. هلاکوخان په (۱۲۵۴ م) کال کې په شمالي ایران کې مرکز ونیوه او عراق یې م فتح کړ و او افغانستان یې م د خپلې اداري لاندې راوست او افغانستان یو دول د دغه امیر د حکم لاندې و و چې په امیر خاسلن مشهور و و او په طوس کې استوگن و و او خپل وزیران او د فتر او د یوان درلود - د چنگیز د زماني نه د امیر تیمور د وخت پورې افغانستان او ایران م پاس دول اداره کېدل - خو افغانستان د ایران د ایلخاني دولت او د چغتائي دولت ماورالنهر په منځ کې د کشمکش سبب و و ځکه چې چغتاییانو په بلخ او تخارستان په بامیانو او غزني م د استحقاق دعوه درلوده او کله ناکله به جنگ او جگړې م پېښې پېښېدلې چې دی جنگونو خپلو خلکو ته زغلي او د دې سره ورته په شمال مغرب نه د کرت د دولت فشار م متوجه و و - خو چغتائي باد شاه براق خان د ماورالنهر نه په (۱۲۶۹ م) کې د جیحون نه را پورې وت او افغانستان ته راغی او د بلخ ولایت او د بدخشانه پورې علاقې او د مرو ولایت

او نیشاپوریې هم رالاندې کړه او د ایران په ایلخاني باد شاه ـ
اباقان پسې هم لښکر ولیږلو او د هرات په پنځه میلۍ کې یې ورسره
جنګ وکړ او براق مغلوب شو او بېرته ماورالنهر ته لاړل خو
ملک شمس الدین کرت د هرات حکمران د دواړو د ښمنو ډلو په
منځ کې کامل بې طرفه و، خو په کال (۱۲۷۷م) کې شمس الدین کرت
د اباقان له خوا په زهرو ووژل شو او په (۱۲۹۵م) کال د ماورالنهر
نه د «اوجای خان» چې د براق چغتائي څوی وو او قصه یې مخکې
ذکر شوې وه د زور ور لښکر سره افغانستان ته راغی او ډېرې
ورانۍ یې وکړې خو امیر نوروز وکړی شو چې د هرات سره نژدې
یرغلګر مغلو ته ماته ورکړي او د جیحون نه یې تېر کړه خو په
دې کار امیر نوروز د غازان خان د ایلخاني مشهور باد شاه ـ
د عتاب لاندې راغی او ویې تړاته په (۱۲۹۶م) کال کې مغلو د (۷۰)
زره ولښکرو په قوت په افغانستان حمله وکړه او هرات یې محاصره کړ
چې بیا نوروزخان د فخرالدین کرت د قتلغ خان له خوا قوماندان
وو ماتې ورکړه او غازان خان ووژل شو.
هدارنګه په (۱۳۱۶م) کې شهزاده (یسور) چغتائي د بادغیس
او سپید ونکی د ایلخاني دولت په ضد پاڅون وکړ او د طوس ـ
ولایت یې رالاندې کړ او د هرات او سیستان د نیولو په فکر کې
وو خو امیر غیاث الدین کرت وکړی شو چې د شاد پلوه یې دې وواهه

او خلک یې د ده د شر نه بېچ کړه.

په کال (۱۳۲۶م)، کې ترماشرین خان چغتائی بادشاه بله پېره هم په افغانستان لښکر وکړو او تر غزني ورغی خو سلطان ابوسعید بهادر خان ایلخاني د محلي خلکو په مرسته د ترماشرین خان فوځونو ته ماتې ورکړه خو د غزني پاڅي ودانۍ هم ورانې کړې او حتی د سلطان محمود قبر یې هم ونړاوه.

محمد غښې مغلو په (۱۳۴۱م)، کې د هند د ډیلو د پاره حمله وکړه او په کال (۱۳۴۴م)، کې بیا او په (۱۳۴۵م)، کې بیا او په (۱۳۴۸م)، کې بیا د هند د ډیلو په نیت حمله وکړه خو د مغلو دا ټولې حملې د افغاني ولس په تاوان او ضرر تمامېدلې. د مغلو د استیلا نه تر تیمور ګورګان د ظهوره پورې افغانستان او د تیمور د تسلط په وخت کې یوه نیمه پېړه مسلسل افغانستان په یوه تیاره دوره کې وو چې اقتصاد یې تباه او برباد شوی وو او مادي او معنوي ژیانونه یې د مغلو د لاسه لیدلي وو او په دېره تنګسه کې یې د خلکو ژوند تېرېده او په دې موده کې په افغانستان کې نه یو مشهور عالم او نه شاعر پیدا شوی دی.

په دې منځ کې د کرتانو دوره راغلې ده چې د مملکت په ودانۀ کې یې څه لاس کړی دی او د افغانستان د ودانۀ سره علاقمندو خو وړیسې زر د تیمور ګورګاني دوره راغله چې هغه هم مغلو وله

مغلي خاصيتونه درلود په ځای د ودانه ورانه کولې ، او وران کاري کار وو.

افغانستان په څوارلسمه او پنځلسمه میلادي پېړیو کی

،الف،

نوی یرغل

امیرتیمور گورگان ؛

د امیر تیمور گورگان د راڅرگندېدو په وخت کې د ماورالنهر - اوضاع د سیاسي او اداري له پلوه ډېره گډه وډه وه او یو زورکړ او قوي لاس ته اړه وه چې بیا دیو دولت تنظیم وکړي ځکه چې د پخواني چغتائي حکومت مرکزیت ضعیف شوی وو او په هرځای کې د مغلو هرخان او د قبیلو مشران هرچېرته پخپل ځپل ځای کې دیو مستقل امارت او حکومت په حال کې وو او پخپلو خلکو یې هر رنگه زور - زیاتی او په مالیاتو کې ډېر والی کولو.

د چغتائي لوی دولت هم دوه ټوټې شوی وو یوه برخه یې په ماوراءالنهر کې د خانانو او مشرانو د مبارزې میدان وو او بله برخه یې په کاشغرستان کې د تغلق تیمورخان د قیادت لاندې د خپل پخوانۍ قوت او استحکام د ساتلو د پاره هڅه کوله ؛ په ماوراءالنهر کې یو سړی چې اشرافي نه ګڼل کېده میدان ته راغلی وو چې باد شاهان به یې لوبول یو به یې د تاج او تخت نه محروم کړو او بل به یې باد شاه او د تاج او تخت خاوند کړو - نو خود به ورته خلکو تاج بخښوایه دا امیر قذغن وو ، ده د چغتائي خزنان سلطان د مرګ نه پس په سمرقند کې ځای نیولی وو غوښتل یې چې د هر فعال او کاریګر عنصر نه د خپل اقتدار په ساتنه کې کار واخلي او پذیرائي وکړي او د ځان ملګري پیدا کړي چې د هر داخلي او خارجي مخالف په مقابل کې له هغو نه کار واخلي او ځوځښت ده د وژلو اقدام ونکړي - تیمور هم په دغه وخت د غه رنګه یو وتلی ځوان وو او ډېر راپورته شوی او د اقتدار غوښتونکی وو د امیر قذغن دربار ته ورغی او امیر قذغن هم دی په ورین تندي ومانه او تیمور ته یې « منګباشي » رتبه چې افسر هزاري به بلل کېده ورکړه او د خپلې کورنۍ نه یې یوه پېغله - « الجای خاتون » هم ور واده کړه نو تیمور هم د ماوراءالنهر په سیاست کې ډېر راڅرګند شو ، د امیر قذغن خپل پخواني افسران په دې چې په (۱۳۵۰ م) کې ده په شمالي افغانستان حمله کړې وه او بیا یې د

کرت د هرات دولت سره صلحه وکړه او افسرانو د اصلحه نه غوښتله بلکه غوښتل چې هرات تالا کړي او کرتان په تطاي زور تابع کړي. نو امراو او افسرانو غوښتل چې امیر قذغن ووژني او په مملکت کې ملوک الطوایفي راولي نو امیر قذغن د دغه سازش په اثر په (۱۳۵۸م) کې ووژل شو او د مغلو غلوږ و قبیلو ارلات، برلاس، جلایر او فاوچي د امیر قذغن د کورنۍ په خلاف شو او د هغو نه حاجي برلاس او امیر بیان سلدوز او امیر عبدالله د امیر قذغن په ځای ناست ځوی هم ووژه تیمور چې چېل محس دلاس نه ورکړو او د قذغن کورنۍ له منځه لاړه نو دې چېل تره حاجي برلاس ته ورغی او ځپله مستقله لاره یې ونیوله تیمور دغه وخت (۲۵) کلن او بنه توی ځوان وو او دکار شوقي یې درلود.

تیمور څوک وو؟

تیمور[1] د «ترغای» ځوی و وچې ترغای د برلاس ترک قبیلې د فوځي اشرافو نه یو تن وو او د کش یاد «شهر نو» او سبز و نکي ووادا ترکي قبیله چې څه وخت دې علاقې ماوراالنهر ته راغلله نو هلته د شهر سبز خوا و شاو ځای ونیوه او هم د لته و دانه شوه. او بیا

---

(۱) تیمور په (۱۳۳۳م) کې تولد او په (۱۴۰۴م شعبان ۸۰۷ هـ) کې وفات شوی دی.

هم دلته له منځه لاړله د برلاس قبیله په اقتصادي لحاظ خواره وه
او د تیمور پلار هم یوګوشه نشین سړی وو د تیمور مور ته مکنه خاتون
وه او تیمور په (۱۳۳۶ م) کال کې زیږیدلی وو د قدغن د مرګ
نه پس د تیمور پلار هم مړشو او دې یواځې پاتې شو د تیمور د ځوانۍ
او وړوکوالي څه حال معلوم نه دی خو دامې معلومیږي چې تیمور په
یو متمدن محیط کې پالل شوی او لوی شوی دی ځکه چې فارسي د مغه
وخت یو علمي ژبه وه او د تیمور بنه زده وه ، تیمور یو راسخ العقیده
متعصب مسلمان وو او د مولانا شیخ شمس الدین کلال شهرستاني مرید
وو او د مذهبي روحانیونو او علماوو او پوهانو دانشورانو به یې
ډیر عزت او احترام کولو خو دا اعتقاد د ده د شخصي اعمالو مانع ـ
کیدلی نه شو ، بنه لونږۍ به یې کولو ، صدقې به یې ورکولې خو شراب به
یې څکل او وینې به یې تویولې ، تیمور یو باهمته او ماجراجو سړی وو
او په عین حال کې ډیر سرسخت او ثابت قدم هم وو او ورسره
عجول او سرکش هم وو ـ تیمور چې په منځنۍ ایشیا کې خپل شهنشاهیت
جوړ کړو نو خپلو درباریانو ته به یې ویل چې : د ښیا د ړمړه لوړیه
نه ده چې دا ټول بادشاهان وزغمي او د دې ټولو د پاره یې کې د
او سیدانې ګنجایش وي ـ یو با د شاه د دې ربع مسکون د پاره بس دی
ځکه په خپله راتلې ولاړ وو او په خپل نفس یې باور درلود او په دې
کې د افراط د حده پورې ټینګ وو ـ او د خپلوا مراو مشورو او فتوو

ته یې څه اعتنا نه کوله - تیمور د فزیکي نظره یو ښه قوي سړی او ښه ماهر سوارکار او قابل تیرانداز وو او د ښکار او شطرنج سره یې ډېره علاقه وه - انرژي او قوت یې چې لاره د نور و د تاثیر او اغیزې نه یې دی ساته او د لویانو په شان یې خپل سړي نه وه خو ښه ده چې تر پوره عمر په حرکت او فعالیت تیرکړ او ډېر زحمتونه او سختۍ لیدلې وې.

ویلی شي چې دی د قندهار نه د آس په سپرلۍ په (۱۴) ورځو کې سمرقند ته تللی وو او د قبچاق د دښتې په سفرکې (۱۸۰۰) میله - واټن (مسافه) په څلور میاشتو کې وهلی وه - او کله یې چې غوښتل آسیا صغیر فتح کړي نو دی (۷۰) کلن وو چې د سمرقند نه تر انقره پورې تقریباً (۲۰۰۰) میله واټن یې د اس په سورلۍ وهلی وو - سره د دې تیمور خپلې عواطف لرل لکه د ښځو سره مینه او د اولادونو سره محبت او ارت او هنرې هم خوښ وو ده په خپل عمر کې (۱۸) نکاح کړې وې او د (۱۸) ښځو سره یې واده کړی وو - او د خپل نمسي (محمد سلطان میرزا) په مرګ یې د ورور په شان ژړل - تیمور مسلمان وو او د چنګیز په شان غیر دین نه وو خو په حیله او فریب او قتل او غارت کې د چنګیز نه ډېره قدمه لا وړاندې وو تیمور په چنګیز د دنیا ستر قهرمان بالله ځکه به ترکي تیمور خان چنګیز خان مغل ته منسوباوه (مغل چې د تاریخ په اوږدو کې د اریائي قبیلو سره ګډ وو شوا و

ور سره مخلوط او ممزوج شو او د ترک په نوم ونومول شو.

تیمور د امیر قذغن د مرګ نه پس د حاجي برلاس سره پاتې شو په ١٣٦٠م، تغلق تیمور د شرق چغتائي بادشاه چې ماوراالنهر ته لښکر راولېږلو او خانان او ملوک الطوایف یې د خان تابع کړه حاجي برلاس د شهرسبز واکدار افغانستان ته وتښتېده او هم غسې د خجند امیر بایزید جلایر هم وتښتېد خو امیر بیان سلدوز او تیمور د تغلق تیمور دربار ته ورغلل او تغلق تیمور. تیمور ګورګان خوښ کړ او د شهرسبز حکومت یې ورکړو او د تومان باشي (د لس زرو تنو افسري) رتبه یې ورکړه. امیر تیمور د هغه وخت نه په تدریج تر سمرقنده خپل نفوذ وکړو. تغلق تیمور د ماوراالنهر د انتظام نه وروسته شمال ته وګرځېده او په عوض کې تښتېدلي امرا حاجي برلاس او بایزید جلایر بېرته ماوراالنهر ته راغلل خو د امیر حاجي برلاس نوره د تیمور سره جوړه نه وه په دې وخت کې امیر حسین د امیر مسلا بن امیر قذغن لمسی د افغانستان نه د خو افغاني سورو سره ماوراالنهر ته راغی چې د خپل کاکا امیر عبدالله بن قذغن انتقام او بدل د امیر بیان سلدوز نه واخلي په دغه وخت کې امیر حسین او امیر خضر د شادمان په حصار کې وو او پخپلو مخالفو به یې حملې کولې، دې الوګولو بیا امیر تغلق تیمور مجبور کړ چې ماوراالنهر ته بیا لښکر وکړي په

د ۱۳۶۱ م، کې امیر تغلق تیمور بیا ماوراءالنهر ونیولو او خپل ځوی یې «الیاس» د ماوراءالنهر په حکومت مقرر کړ او امیر تیمور گورگان یې ورسره هم پرېښود او پخپله د غه افغانستان کې د قندوز او بغلان د تالان نه وروسته خپل ځای ته لاړ - خو لږ وروسته د «الیاس» او تیمور مناسبات ښه پاتې نشو تغلق تیمور چې خبر شو په قهر شو او تیمور گورگان چې د هغه له قهره وېرېده مزبیا امیر حسین ته ورغی او ورسره یو شو او په خوارزم ور غلل او د خیوه د خان سره په جگړه اخته شو د خیوه خان د ماوراءالنهر د تغلق د حکومت ملگری وو او اگرچې د خیوه خان په د غه جنگ کې ووژل شو خو امیر تیمور او امیر حسین هم په خوارزم کې د تینگې نه وو او بېرته سمرقند او شهر سبز ته راغلل او د هغه ځای نه د خپل ځان د تینگتیا د پاره چې څه لښکر پیدا کړي د واړه افغانستان ته راغلل په د غه وخت کې او مجائی بوغا سلدوز د بلخ په ولایت کې او محمد خواجه ایروي د جوزجان په ولایت کې او محلي شاهان په بدخشان کې هر یو مستقل حاکمان او واکداران وو ، حسین او تیمور په بلخ او تخارستان او بدخشان کې د لښکرو په ټولولو بوخت وو چې په د غه وخت کې تغلق تیمور چغتائی پادشاه مړ شو - او الیاس خواجه خپل یو ټینگ ملاتړ د لاسه ورکړ - حسین او تیمور چې دا حال ولیده نو

ماوراءالنهر ته بېرته راوګرځېدل او الیاس خواجه یې په شهرسبز کې مات کړ او وتښتېد او سمرقند ته لاړ او «کابلشاه اوغلان» د الیاس خواجه په ځای په ماوراءالنهر کې بادشاه اعلان کړی شو خو الیاس خواجه په (۱۳۶۳م) کې بیا حمله وکړه او حسین او تیمور ته یې د سیحون په غاړه ماتې ورکړه او دواړه بیا افغانستان ته راغلل، تیمور قندهار ته او له هغه ځایه سیستان ته لاړ چې د هغه ځای په محلي جنګونو کې چې دی د هغه ځای د محلي حکومت ملګری و او په یو غشي لګېدلی او زخمي او ګوډ شو چې له هغه نه وروسته په ګوډ تیمور هم مشهور شو. د سیستان محلي حاکم وروسته په تیمور بدګمانه شو او د هغه د وژلو په لټه کې شو خو تیمور وپوهېد او ځان یې بېچ کړ او بیا ماوراءالنهر ته ورغی او امیر حسین هم ورکړی شو چې د بدخشان او بلخ په کومک یې بیا سمرقند رانیولی کړ او یو تن یې د محلي بادشاهۍ کورنۍ نه بادشاه کړ او پخپله د هغه نائب السلطنه جوړ شو، امیر حسین تیمور ته تل د شک په سترګه کتل او خارنه به یې کوله او په تېره هغه وخت چې په (۱۳۶۷م) کې د امیر حسین خور د تیمور ښځه چې مړه شوه دا بد بیني نوره هم ډېره شوه. او څرګنده هم شوه، تیمور د حسین د شکونو نه پوره په تنګ شوی و، د شهرسبز زمکې ورکړې شوې او دی ګرګداشتی نه او د سمرقند نه شهرسبز ته لاړ او وروسته یې

د شي حصار په يوځلي حمله او حيله راولاندې کړ او قدرت يې نور هم ډېر شو او د بدخشان په علاقه کې د افغانستان د ننه نفوذ وکړ او وروسته پس هرات ته هم د دوستۍ په جامه کې ور ننوت او خپل خوی جهانګيري يې د هرات کرت دربار ته ور ولېږلو او سلطان معزالدين کرت ورته د امداد او کومک وعده ورکړه د هغې نه پس تيمور په قرشي کې د امير حسين د لښکر سره مخامخ شو او د څه جنګ نه پس يې صلحه سره وکړه - امير حسين د قرشي نه بدخشان ته لاړ او د هغه ځايه يې د تيمور په ملګرتيا په کابل لښکر وکړ او کابل يې هماغه کړ او د واړه تری بلخ ته راوګرځېدل او لږ څه وروسته بېرته ماوراءالنهر ته وګرځېدل او د مغلو قوتونه يې هلته مات کړه امير حسين په «سالی سرای» د سمرقند سره نږدې پاتې او مقيم شو او تيمور بيا شهرسبز ته راغی لږ وروسته د دواړو په منځ کې بيا منزاع راغله او امير حسين بلخ ته ورغی او د بلخ قلعه هندوان يې بيا ترميم کړه او د خپل حکومت مرکز يې هلته منتقل کړ ، خو تيمور پرې ننوت او لښکر يې پسې وکړ او شيخ محمد امير د بدخشان امير او اولجائی بوغا د قندوز امير او کيخسرو د ختلان حاکم هم د تيمور مرسته وکړه او تيمور امير حسين په جنګ کې مات او راولاندې کړ او خلاف د وعدې چې ور سره کړې يې وه امير حسين يې وواژه او ښځې يې ولخپسته او

په (۱۳۶۹) م کې یې خپل مستقل امارت په بلخ کې اعلان کړ او د امیر تیمور گورگان په نوم مشهور شو او اولادونه یې د میرزا په نوم ونومول شو خکه چې د ده د لاس کېنولي " دانشمندچي " چغتاني په ماوراالنهر کې لا د باد شاه په نوم وو - خو دغه بادشاه په سمرقند کې کار ووډی خوړل وو نور بس ، خو وروسته تیمور دی ته د نامې د بادشاهۍ نه هم معزول کړ او په (۱۳۸۲) م کې هغه په بخارا کې مړ شو او د هغه ځوی محمود تیمور بیا په سمرقند کې د پلار په ځای وټاکه .

د امیر تیمور گورگان سلطنت او فتوحات :

امیر تیمور چې په افغانستان کې د خپل امارت اعلان کاوه دغه وخت په افغانستان کې د ننه اداري او سیاسي څه پخه ادا نه وه او نه په خوار شاکې کوم قوي حکومت وو چې د یو قوي حکومت ته یې اړتیا هم لرله - او زمینه مساعده وه ، په افغانستان کې هر چېرته محلي حاکمان او خانان د یو بل نه بېل ځانله ځانله حاکمان او واکداران وو او په ایران کې هم د ابوسعید بهادرخان له مرگه پس همدغه حال وو او مملکت د تجزیه په حال کې وو او یو مقتدر او مرکزي حکومت موجود نه وو ، په کاشغرستان کې همدغه حال وو د تغلق تیمور د مرگ نه

پس مرکزي وحدت هلته هم نه وو. نو د تیمور د پاوشه‌لوی مانع په مخکې نه وو.

د خوارزم فتحه:

تیمور د ماوراالنهر د نیولو نه وروسته په کال (۱۳۷۲م) او کال (۱۳۷۵م) او کال (۱۳۷۹م) او کال (۱۳۸۲م) کې په خوارزم څلور واری حملې او جنګونه وکړه په دې منځ کې حسین صوفي د خوارزم زمامدار مړ شو او یوسف صوفي د هغه په ځای کېناست چې ماتې وخوړه او تیمور د خوارزم ښار ونیولو او د غسې وران کړو چې درې کاله هلته یو ساکین هم نه وو چې د مغلو لښکر اردو مرسته وکړي.

د قبچاق فتحه:

تیمور د قبچاق د مغلي قدرت نه په ویره کې وو نو په کال (۱۳۷۷م) کې ترقتش خان چې د قبچاق د حکومت نه تښتېدلی او دلته راغلی وو د قبچاق په حکومت ورو ګمارو. او د قبچاق د مشرقي د مرګ نه وروسته تیمور ملک د هغه ځای نوی بادشاه یې مات کړو او تاج تخت ترقتش خان و نیولو خو تیمور له دې جنګونو نه څه ګټه ونکړه

تورقتمش خان پخپله په دې فکر کې و وچې مغلي قدرت بیا راژوندی کړي. تورقتمش خان په کال (۱۳۸۲م)، کې په روسیه حمله وکړه او د مسکو ښار يې ونیولو او وې سېزه. تیمور د تورقتمش خان له خوا په قرار او ارام نه و. تورقتمش خان دوه وارې په کال (۱۳۸۴م) او کال (۱۳۸۶م)، کې په ماوراالنهر او ایران حملې وکړې او تالاونه يې وکړل او بېرته وګرځېد. خو تیمور په کال (۱۳۹۰م)، او کال (۱۳۹۴م) او کال (۱۳۹۶م)، کې په تورقتمش حملې وکړې او مغلوب يې کړ او په جنوبي روسیه کې ډېرې ځمکې رالاندې کړې. خو مسکو ته ونه رسېد او د قبچاق مرکزي ښار «سرای» چې اقتصادي او سیاسي اهمیت يې درلود او د ولګا دریاب په غاړه پروت وو وران کړ او خلک يې ووژل.

دکاشغر فتحه:

په کال (۱۳۷۴م)، کې تیمور چنل خوی جهانګیر د کاشغرستان د فتح د پاره مقرر کړ او بنه ډېر لښکر يې ورسره کړه. جهانګیر وکړی شو چې قمرالدین زمامدار د کاشغر يې رالاندې کړ او کاشغر تالا والا کړ و لوټمه يې وکړه او جهانګیر ترې را وګرځېده. خو قمرالدین بیا د قبچاق د باد شاه تورقتمش خان سره ساز باز وکړ او دواړو

په ماوراءالنهر حمله وکړه خو نتیجه غیر له چور چپاو نه بل څه نه وو تیمور هم په مغلستان کله ناکله حملې او جنګونه کول لکه مهم یې د کال ۱۳۸۹ او کال ۱۳۹۸م حملې وې

د ایران فتحه :

امیر تیمور په ایران پسې لومړی وار په کال (۱۳۸۳م) کې لښکر کشي وکړه او استر آباد یې د امیر ولی د امیر تغا د خلف نه ونیوله او په کال (۱۳۸۵م) کې اذربایجان او عراق او فارس ونیول او په کال (۱۳۹۱م)، او کال (۱۳۹۴م) کې مازندران او عراقین او دیار بکر دیار ونیول او هیڅ کربته د قلعه د خلکو نه یې کله منار جوړ کړو. تیمور په ګرجستان حمله وکړه او د تفلس ښار یې ونیولو او باکرات د ګرجستان باد شاه یې ونیو او مسلمان یې کړو او وروسته یې اصفهان د ایران هم ونیولو او د مخصوص زره خلکو د سرونو نه یې کله منار جوړ کړو.

تیمور په کال (۱۳۹۵م) کې د ټول ایران واکدار خپل ځوی میران شاه مقرر کړو او تیموری لښکر یې د شرق قریب د فتحې د پاره تیاری کړې شوې.

د عراق او شام او آسیا صغیر فتحه :

تیمور په کال (۱۳۹۳م) کې د دیاربکر یو وار ونیولی وو او بیایې په کال (۱۴۰۰م) کې د ایران له لارې د یولک لښکرو سره شرق قریب ته ور وخوځېد او د دمشق پر لور یې رالاندې کړو او مصرې لښکر ته یې ماتې ورکړه او د دمشق یې تالا کړو او ویې سېزلو. تیمور د شاماتو د فتحې نه وروسته عراق ته راغی او د بغداد ښار یې د عراق بادشاه سلطان احمد جلایر د عالونه ونیولو دا بادشاه عثماني دولت ته پناه گزین ور غلی وو. ښار یې تیمور ونیولو او تالا والا او ورانې یې او قتل عام یې پکې وکړ چې (۹۰) زره تنه یې ووژل شو او (۱۲۰) کله مناری ترې جوړې کړې شوې او بغداد د هلاکو د یرغل نه پس دا دویم وار وو چې تالا والا او وران شو حال دا چې مصري د ولت او عثماني دولت د وارو بنه قوي وو خو تیمور ورته ماتې ورکړې او آخر عثماني هغه دولت چې په درېیو براعظمونو آسیا، آفریقا او اروپا کې نفوذ درلود تیمور رمات کړو او قسطنطنیه م ونیوله او د فرانس باد شاه ورته د مبارکۍ پیغامونه رالیږل او د مصر باد شاه ملک ناصر هم ورته متبع شو او تیمور فاتح سمرقند ته راوگرځېد.

د هندوستان فتحه،

تیمور په کال «۱۳۹۷م»، کې خپل نمسی پیرمحمد میرزا د غزني نه-
لیږلی و روچې د سند پورې ملتان ونیسي هغه لاړ او د ملتان
د نیولو په وخت کې د سارنګ خان افغان - سره چې د ملتان حاکم
او مدافع وو مخامخ شو- دا جنګ جګړې روانې وې ترڅو چې تیمور
پخپله په کال «۱۳۹۸م»، کې د افغانستان په لاره ورغی او د سند نه
ور پورې وتو او په لار کې یې د پرقتلونه او پرغلونه او تالانونه
وکړه تیمور په اوله مرحله کې د هند سرحدي محافظې ولې دغره
په لمن کې له منځه وړې او بیایې د «تلبنی» ښار چې دجهوا
چناب د یوځای کیدو سره واقع وو تالا ترغه کړو او غلې یې پکې
وسېزلې تیمور په شهوازکې چې د یوځای نوم دی پیرمحمد خپل نمسی
د افغانانو د ګیرې نه راخلاص کړو- خو د «بتهین» په حصار کې
د غلجي افغان بهادرخان د سخت مقاومت سره مخامخ شو خو هغه
سرې چل ول او صلحه وکړه او د ملاقات په وخت کې یې وواژه
او په هغه ځای کې عام قتلونه او تالانونه وکړه خو د بهادرخان -
خامنو لومړی خپل واره او بنځې ووژل او بیا یې په تیمور او لښکر
یې سخته حمله وکړه ترڅو چې ووژل شو او په تیموري لښکر کې یې

هم بې حسابه مرګ ژوبله وکړه - تیمور له هغه ځایه دهلي ته ورروان
شو هندیان دلارې څخه شانه تښتېدل خو تیمور نه پرېښودل او -
نیول یې او وژل یې او ځینې یې بندیان دهلي ته بوتلل په لاره کې
تیمور ډېر سختۍ مقابلې سره مخامخ نه شو ځکه چې د هند د هغه
وخت حکومت د ډېر فاسد شوی وو او مملکت د ملوك الطوایفي
له کبله ټوټې ټوټې شوی وو او د دې قابل نه وو چې د تیمور مخنیوی
وکړی شي ، سلطان محمود تغلق شاه او د هغه سپه سالار ملوخان
د لس زره سورو او پنځلس زره پیاده او (۱۲۰) فیلانو سره ورته د
دهلي نه مقابلې د پاره راووت خو وخت چې تیمور د وی ولیدل
د دوی د وېرولو د پاره یې امر وکړ چې هندي اسیران هم دلته
قتل کړي چې د هندي لښکر ستړګي وسوزي همدغسې وشوه یو لك
بندیان دلته قتل کړی شو جنګ جوړ شو ، هندي لښکر کې دومره
قوت نه وو چې د تیموري لښکر سره مقابله وکړي مات شو بادشاه
په ښار ننوت او د شپې باد شاه ګجرات او سپه سالار یې برن
ته وتښتېدل . او تیمور دهلي را لاندې کړو - او امیر تیمور د -
شرابو په محفل کې کېناست او مولانا نصرالدین په جامع جومات
کې خطبه د « امیر صاحب قران » په نوم په ممبر ولوسته او جلال
اسلام په دروازه کې ناست وو او د خلکو نه یې د سر د امان په نوم
پیسې ټولولې ، د تیمور (۱۵) زره لښکر ښار ته ننوت او په تالان او قتلونو

يې لاس پورې کړ او د ډهلي ښار يې لاړونه کړه - او صنعت کاران يې هم راټول کړه او پخپلو خاصو يې وېش کړه چې د ځينو هنديانو سره يې خپلو خپلو علاقو ته واستوي او په تېره سنګ تراشان يې سمرقند ته ولېږل چې د هغه ځای جامع مسجد جوړ کړي - تيمور (۱۵) ورځې په ډهلي کې استراحت وکړ او بيا د افغانستان پلو روان شو او د کابل او خلم په لاره د جيحون نه پورې وتو او - سمرقند ته ورغی .

د امير تيمور يرغل او د افغاني ولس مبارزه :

تيمور د ماوراءالنهر د نيولو نه پس د افغانستان سره ډېره د لچسپي لرله دی څو وارې د جيحون نه پورې وتی وو او افغانستان ته ورغلی وو او بلخ او بدخشان او قندهار او سيستان ته يې سفرونه کړي وو او کله چې تيمور د خپل امارت اعلان وکړو نو په بلخ کې وو لومړی يې هم د بلخ د هندوان قلعه وړانه کړه او بلخ يې د خاورو سره برابر کړو او بيا نو ماوراءالنهر ته تری روان شو او په (۱۳۸۰ م) کال کې د جيحون نه ور تېر شو . په دغه وخت کې ملک محمد بن ملک فخرالدين کرت د سرخس حاکم د تيمور د استقبال د پاره ورغی تيمور دی د خان سره معطل کړو

او وېې ساته او د هرات د ښيولو نه پس يې د غور حاکم مقرر کړو دا
هغه سړی وو چې د تيمور په مقابل کې پاڅون وکړو او د پر تيموري
لښکريې وواژه.

د (۱۳۸۱م) کال په اوايلو کې تيمور د پوشنګ د نيولو د پاره لښکر
چې د هرات د ولايت، يو ځای دی. د هغه ځای خلکو يوه هفته
سخت مقاومت وکړو. او د جنګ په دوران کې تيمور په يو غشي و
لګيد او زخمي شو يوه هفته پس پوشنګ ونيول شو او خلکو ته سخت
سزا ورکړې شوې او د پوشنګ حصار وران کړې شو او تيمور هرات
ته ورغی ملک غياث الدين پير علي کرت باد شاه سره د دې چې خوی
يې د تيمور د کور ځنه او زوم م وو خود هرات د مدافعې د پاره
پاخيد او قلعه بندي وکړه. څلور ورځې جنګ او بر د شو بيا د صلح
د خبرو شروع وشوه په نتيجه کې غياث الدين باج ومانه او د تيمور
دربار ته ورغی او في الحال خو پخپل حکومت باقي پاتې شو. خو تيمور
حکم وکړو چې د هرات د حصار د ننه او د بنار د باندې د يو الونه
ټول وران کړي او د بنار داو سپنو دروازې چې د کرت باد-
شاهانو نو مونه پرې ښکل شوي وو لرې کړی او شهر سبز ته
يې ولېږلې. تيمور د هرات نه نيشاپور ته ورغی او امير علي مويد
د هغه ځای زمامدار او واکدار چې د تيمور د (۵۰۰) پنځوس زره
لښکر سره يې جنګ نه شو کولی تسليم شو. تيمور د نيشاپور نه -

اسفراین ته ورغی او د هغه ځای د قلعه برجونه او دېوالونه یې
وران کړه او د کلات په ټینګه قلعه ورغی او د څه جنګ او
مقاومت نه پس قلعه یې علي بېګ د کلات د حاکم نه ونیوله او
ترشیز ته تری لاړ د ترشیز حاکم امیر علي سدید غوري قلعه تیمور
ته په صلحه ورکړه او تیمور د ایران مازندران ته لاړ او لږ
وروسته د ایران د شمال نه وګرځېد او چې ماوراءالنهر ته تللو
په لاره کې د هرات د کرت کورنۍ حکمرانان بندیان سمرقند ته ولېږل
او د هرات ښار یې هم تیموري نظامیانو او سپاهیانو ته وسپارلو
او د امیر تیمور ځوی میرانشاه په مرغاب کې مرکز ونیولو. ـ ملک محمد
کرت د غور حاکم د تیمور په دې وخت د برمتاش شو او د غوریانو
د خلکو سره کومکي شو او د تیموري تسلط په مقابل کې یې پاڅون
وکړو او هرات ته یې لښکر وکړو او هرات یې په زور ونیولو او
د تیمور لښکر یې مات کړو او څوک چې په لاس ورغلل ویې وژل
میرانشاه د مرغاب نه بېرته لښکر هرات ته واستولو ښار نه د دېوال
درلوده او نه یې دروازې وې په اسانۍ هرات تیموري لښکر
لاندې کړو او څوک یې چې لاندې کړو نو ویې وژل او د تیمور
سنت یې په ځای کړو او د خلکو د سرونو نه یې کله منارونه
جوړ کړه ـ په کال (۱۳۸۲م) کې چې کله د هرات د نیولو او د غوریانو
د حاکم د بغاوت او پاڅون وار و بدل نو امیر غیاث الدین کرت

او ورور یې محمد او د هغه ورکوټی زوی یې د غوري امیر یې چې
ورسره بندي وو ووژل او پخپله بیا هرات ته راغی او ښار یې
ښه پسې وران کړ او په خلکو یې د مالیاتو ډېر درانه بارونه
کېښودل چې چا به نشو ورکولی نو هغه به سخت شکنجه کېدل ترڅو
چې مړه به شو د هرات علاقه د مړو نه ډکه وه خلکو بیا د
شیخ داؤد په مشرۍ پاڅون وکړ خو تیمور لښکر په زور هغه
مات کړ او عام قتلونه وشو او تیمور د اسفزار ته ورغی او هغه
ښار یې هم وران کړ او خلک یې ووژل او برجونه به یې جوړول
او ژوندي بُنیادمان به یې پکې ایښودل او په دې ډول یې
دوه زره سړي په برجونو کې ولګول او مړه یې کړه - تیمور د -
هرات نه فراه ته ورغی او د هغه ځای محلي امیر ملک جلال الدین
تسلیم شو او د مرګ نه بچ شو - تیمور د فراه نه وروسته د -
د زاوه حصار ته ورغی ، د هغه ځای خلکو مقاومت وکړ او په
سخت جنګ او زور را لاندې شو او مرګ ژوبله پکې وشوه امیر
تیمور له هغه ځایه د سیستان مرکز جلال آباد ته ورغی د ښار
اشرافو او مشرانو اطاعت ومانه او لکه شاه شاهان سیستاني او
تاج قلعه کهي او سراج تیمور ته تسلیم شو خو د ولس خلکو مقاومت
وکړ او دفاع کوله او محلي حاکم قطب الدّین هم لا د خلکو سره
وو او خلکو جنګونه کول خو اخر قطب الدّین هم د تیمور لښکر ته ورغی

او تسلیم شو تیمور لښکر راتول کړی وو او کنلو یې چې ملخاپه د ښار دروازه ببرته شوه او خلك د تیمور په لښکر پسې را ووت او دغشو باران یې پرې جوړ کړ. وچې د تیمور په لښکر کې یې ډېر مرګ ژوبله وکړه او دا پېره بیا تیمور د لرګي په غشي ولګېد او زخمي شو خو خلك مات شو او ښار د تیمور لښکر رالاندې کړ او وران یې کړ. او امیر قطب الدین سمرقند ته بندي ولېږل او شاه شاهان سیستاني یې د فراه حصار ته واستول او د هغه وران ځای حکومت یې ورته حواله کړ.

امیر تیمور په ۱۳۸۳م کال کې د سیستان مشهور بند «بند رستم» یې وران کړ. دا بند د زرنج د ښار نه یو منزل پاس وو. د دغه بند په ورانه ټوله علاقه شړه او ورانه شوه دی بند کې به د هلمند نه راغلې اوبه ټولېدلې او بیا به د ویالو په واسطه په علاقه کې تقسیمېدلې او ټوله علاقه به شنه او ودانه وه او بند چې وران شو نو ټوله علاقه ورانه او شاړه شوه د ګرشك نه تر فراه او چخانسور پورې دا ټوله علاقه ورانه، شاړه او خرابه شوه او یو عالم خلك در په دره وکډه په سر شو، تیمور د هغه علاقې او سیستان د ورانه نه پس بست او ګرم سېر ته ورغی او هلته یې هم مرګ ژوبلې او ورانه وکړې او په قندهار ورغی او د قندهار خلکو څه مدافعه وکړه خو فوځي زور پرې ورغی او ښار رالاندې شو او

محلي حاکم په دار شو، تیمور چې د دې ځای د مرګ، ژوبلې او
ورانۍ نه چې خلاص شو نو حکومت یې یو خپلوان امیر سیف الدین
برلاس ته ورکړو او د قندوز او تخارستان او بغلان په —
حکومتونو یې هم امیر جهاندار شاه د امیر جاکو برلاس ځوی مقرر
کړو او د بدخشان له خوا داوه ورځکه چې هغه د تیمور دوست وو
د کابل حاکم هم اطاعت منلی وو نو امیر تیمور بېرته سمرقند ته وګرځېد
او د ورو چاپک لارې په خوارلس ورځو کې چېل مرکز سمرقند ته۔
ورسېد خو موده وروسته د طوس خلکو په (۱۳۸۸م) کال کې
بغاوت او مقاومت وکړو او د تیمور امیر میرانشاه هغه وځپل او
قواري ئې ستله او تیمور میرانشاه په شمالی او شمالي مغربي افغا
نستان حاکم مقرر کړو چې تر (۱۳۹۵م) کال پورې وو او په کال۔
(۱۳۹۶م) کې تیمور د افغانستان په حکومت چېل مشهور او لایق ځوی
(شاهرخ میرزا) مقرر کړو، خو په کابل او زابل باندې تر سنه پورې
پیر محمد د تیمور نمسی او ولیعهد لا حاکم وو، په کال (۱۳۹۷م) کې تیمور
بیا د هند د نیولو په نیت روان شو او د افغانستان په شمالي ولایاتو
ورغی او د هندوکش دغره خوا کې اندراب ته چې ورسېد خبر شو چې
د کتور فلک او سیاه پوشان په خوارشا علاقو یرغلونه کوي او بیا۔
خپلو غرنۍ ځایونو ته ګرځي او هلته هر څوک نشي ورتللی، تیمور عزم
وکړو چې د شمال له خوا د خاورک له پلوه د پنجشیر د درې په برفي

برخه د کتورخلکو او د بلورستان، او سپینې نورستان، له لارې تېر
شي خو"ار ډېره گرانه وه مجبور شو چې وگرځي او د یخالک په ډول
دی او دده اس راکوز کړی شو بیا هم د شمال له خوا یې لس زره
لښکر د کتورخلکو د تابع کولو له پاره ولېږلو او هلته یې څه
یادګاري ښښې هم جوړې کړې او تیمور دې ته هم فتحه وایي.
کېدی شي چې دا فتحه محض د نوم وه تیمور چې دا سختي ولیدلې
وگرځېد او د خاواک له لارې کابل ته ورغی او په هندي بیا
یرغل وکړو او د افغانستان په شرقي ایالتو ورغی ویلی شي
چې تیمور په دې سفر کې په لاره کې یوه قلعه «اینزیاب» ولیده
چې اوسېدونکي یې څه پښتانه وو، د تیمور د دې قلعه استحکام
خوښ شو او امر یې وکړو چې دا دې بیا ترمیم او ودان کړی
شي تیمور د قلعه په خوا کې واړول او په څوارلس ورځو دا کار
سرته ورسېد، یوه ورځ تیمور سور د قلعه نه چاپېره گرځېده
او کار یې کتلو چې یو ټن د قلعه دننه دیو دوه منزله ودانه
نه پرې دغشي گذار وکړو او د تیمور سینه یې ننبنه کړې وه.
خود تیمور اس دغشي آوازوا ورېدا او په ټوپ شو اوله بلې دروازې
نه قلعه ته ورننوت او تیمور حکم وکړو چې د قلعه حاکم موسی خان
پښتون او د هغه دوه سوه نور ملگري ونیول او غشي ویشتونکی
او شپږ ملگري یې لا پاتې وو او جنگ یې کاوه او د تیمور ډېر

لښکریان یې زخمي کړه خو یو تن سیستاني ککه ګی، ورغی او هغوی ویبول او تیمور هغوی او موسی خان او ملګري یې ټول و وژل او هند ته روان شو او په (۱۳۹۸م) کال کې له سند نه ورتېر شو او (متوسط هند) یې فتحه کړو او بېرته افغانستان ته راوګرځېدا او د کابل له لارې د خلم په ښار ورغی او د جیحون نه ورتېر شو او ماوراالنهر ته ورسېد.

تیمور یو وار بیا د ایران له خوا افغانستان ته راغلی وو او د مرغاب او نیشاپور د لارې د ترمذ سره د جیحون نه تېر شو او سمرقند ته ورسید.

په کال (۱۴۰۴م) کې امیرزاده سیدی محمد بن عمر شیخ د قندهار حاکم وو او د افغانستان ځینې شمالي ولایات هم ورسره وو او امیرزاده پیر محمد د غزنې حاکم وو او زابلستان هم ورسره وو او شاهرخ میرزا د تیمور ځوی په شمالي ولایاتو حاکم وو.

د امیر تیمور مرګ (۱۴۰۴م کال کښې)

تیمور په (۱۴۰۴م) کال چین ته د لښکر کولو په فکر کې وو او دا عزم ده د ځینو فقهاو په شرعي فتوی کړی وو چې علما و ته تیمور ویلي وو چې ما ډېرې وینې توی کړې او س توبه باسم او نور قتلونه

نه کوم خو د ډېرو قتلونو ازاله چې وکړي شم د غسې کارونه و بنایې چې زه یې وکړم او خدای ما ته عفوه وکړي!

علماو فتوه ورکړه چې د کفارو سره په مذهبي جذبه او د اسلام د لوړتیا په لارکې جهاد کول د دې کفاره کېدی شي .

نو تیمور نیت وکړ چې په چین او د هغه ځای په کفارو غزا کوم چې دا ویني په وینو روینځلي شي ، تیمور د پرلوی لښکر چین ته په ډېرو سختو شرایطو او یخنو کې روان کړ او خو په اترار کې د سیحون په غاړه ناروغه شو او علماء به یې د خپل کټ خوا ته کېنوله وو او تلاوت به یې کولو او مریضي یې ډېره سخته شوه خلو خپلوانو او افسرانو ته یې نصیحتونه وکړه او امیرزاده پیرمحمد خپل نمسی یې ولیعهد وټاکلو چې هغه حاضر نه وو او په شعبان ۸۰۷ه ۱۴۰۴م کال کې وفات شو او چین او دنیا د دې لوی بلا نه خلاصه شوه !!

د تیمور اداره :

تیمور د خپل قلمرو په چارو کې یواځې په خپل فکر او نظر روان وو او د هیچا نه یې مشوره نه غوښتله - خو په لښکرکشو کې به یې کله د خپلې کورنۍ د افرادو او حتی فقهاو نه مشورې غوښتلې ، تیمور

دخپل سلطنت اکثره برخې خپلو اولادونو ته ورکړې وې او هم دغه شهزادګانو ته به یې د پرلوی لوی بخششونه هم ورکول او د دوی سزا هم لږه وه. غټه سزا یې څولبنتې «چوب یساق» وې، تیمور په اخري عمر کې شراب هم پرېښودل او د شرابو څښلو ټول سامانونه یې مات کړه او ساز او سرود یې هم منع کړو. او د خان نه یې سپین مسلمان جوړول غوښتل.

تیموري لښکرو او سلطې د افغانستان خلك د اقتصاد له نظره ډېر زیاتمن کړه، زراعت او صنعت یې له منځه لاړ او ودانۍ او لوی بناګانې یې وران شو او د سیاسي نظره د افغاني ولس سیاسي غوښتنې خپلواکۍ او د خپلې خاورې تمامیت ته د پرتاوان ورسید خو د خلکو سیاسي روح فنا نه کړې شو!! او لا ژوندی وو.

د تیمور نه (۳۶) تنه اولادونه پاتې وو چې څلور یې ځامن وو او (۳۲) تنه نمسي او (۱۷) تنه لوڼه وې. ځامن یې جهانګیر میرزا امیرشیخ، میرانشاه او شاهرخ میرزا وو، مشران ځامن یې په ایران او ترکستان کې د پلار په ژوند کې مړه شوي وو او میرانشاه په اذربایجان کې په جنګ کې وژل شوی وو، یواځې شاهرخ میرزا په افغانستان کې پاتې وو.

د تیموري دولت شکل یو فیودالي ډول دولت وو او وروسته هم دغه بقایا ترې پاتې وه، د تیمور د مرګ نه چې امیرزاده-

پیرمحمد چې په غزني کې وو خبر شو او دی ولیعهد هم وو سمرقند ته د تاج او تخت د نیولو دپاره ورغی خو خلیل سلطان پرې ننبود او مات یې کړو او شاهرخ میرزا په هرات کې په (۱۴۰۴م) کال کې دخپل سلطنت اعلان وکړه او خلیل سلطان د سمرقند نه او پیرمحمد د غزني او زابل نه شاهرخ میرزا ته غاړه کېښوده او د شاهرخ میرزا باد شاهي ومنل شوه او آخر خلیل سلطان چې یو عیاش او فحاش شخص وو خپلو فوځیانو وواژه او پیرمحمد هم دخپلو درباریانو له خوا ووژل شو او د شاهرخ میرزا سلطنت قایم او افغانستان نسبتاً متمرکز شو او د هرات ښار د سلطنت مرکز وګرځید شاهرخ میرزا په (۱۳۹۶م) کال کې د هرات حاکم مقرر شوی وو او تر (۱۴۴۶م) کاله پورې دی هلته وو یعنې تقریباً نیم قرن یې هلته ژوند کړی وو او خوار و شا علاقې یې هم رالاندې کړې وې، شاهرخ میرزا څه مزي اصلاحات وکړه او غوښتل یې چې دخپل پلار د قتلونو تالا مونو او د ښارونو د ورانولو د عمل څه جبیره وکړي خو د هغو جبیره څه آسان کار خو نه وو!!

د شاهرخ میرزا[1] د مرګ نه پس د الغ بیګ میرزا[2] د سلطنت دوره

---

(۱) شاهرخ میرزا په (۱۴۴۶م) کې په ایران کې وفات شو (۷۲) کلن وو.

(۲) الغ بیګ میرزا په (۱۴۴۶م) کې بادشاه او په (۱۴۴۸م) کې دخپل ځوی دلاسه وواژه شو.

راغله او ماوراالنهر کې یې د خپل سلطنت اعلان وکړ او د حکومت مرکز یې د هرات نه سمرقند ته نقل کړ خو په (۱۴۴۸م) کال کې دی ووژل شو او بوسعید میرزا د سلطنت واکدار شو ابوسعید د میرزا سلطان محمد خوی د میرانشاه لمسی او د تیمور کړوسی وو ابوسعید میرزا په کال (۱۴۶۸م) کې ووژل شو او سلطنت یې حسین میرزا ته ورسید. حسین میرزا په (۱۴۳۸م) کال کې په هرات کې زیږیدلی وو دی د غیاث الدین منصور بن میرزا بایقرا بن عمرشیخ بن امیر تیمور لمسی وو. ابوسعید (۳۶) کاله سلطنت وکړ و (۱۴) لمانځه او (۱۱) لورنه یې وې. د حسین میرزا د مرګ نه وروسته د هغه د جانشینانو په منځ کې بې اتفاقه وه.

د ګورګان دولت عمر په افغانستان کې د (۱۳۸۰م) کال نه ولخله تر (۱۵۰۶م) کال پورې تقریباً (۱۲۶) کاله وو په دې موده کې چې د اروپایانو په اصطلاح د نوي تاریخ جزګنډل کیږي د افغانستان ولس ډیرې سرې تودې لیدلې او سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډیر خرابې دلاسه ورکړي دي.

د خارجي دولتونو له خوا دافغانستان تجزیه

او د افغاني ولس مبارزې

د (۱۶) قرن نه تر (۱۸) قرنه پورې

د (۱۶) قرن داغاز نه سیاسي حوادث څه په داخل کې او څه په گاونډي هېوادو کې چې واقع شوي ول دافغانستان په زیان او تاوان تمامېده په داخل کې د (۱۶) قرن داول نه د (سلطان حسین دمرگ نه وروسته ۱۵۰۵ کې، دولت سیاسي او اداري قدرت دلاسه ورکړی وو او محلي ملوک الطوائف او تجزیه غوښتونکو سره دخپل قدرت د زیاتېدو فکر وو او د یو بل سره جنگېدل - په ماوراالنهر کې هم شیباني دولت په (۱۵۰۰) م کې او په ایران کې صفوي دولت په (۱۵۰۲) م، کې منځ ته راغلي وو دا نوي دولتونه د شمال او غرب او شرق نه دافغانستان د تجزیې د پاره لگیا وو او کوششونه یې کول او آخر یې افغانستان له درېو خواوو نه شمال او غرب او شرق نه سره وېش که - شیباني دولت دافغانستان شمالي ولایات او صفوي ایراني دولت دافغانستان غربي ایالتونه او بابري دولت دافغانستان شرقي

ولايات ونيول او دا د پردو سلطه چې د (۱۵۰۶م) نه ينولې تر (۱۷۰۸م) پورې او ان تر (۱۷۱۶م) پورې لا ره او په غرب کې خو يې ان تر (۱۷۴۷م) پورې هم دوام وکړ او ترڅو چې د سدوزو دولت منځ ته راغی او په شمال او شرق کې د پردو نفوذ څه دوه نيم قرنه دوام وکړ په دغه موده کې د افغانستان د خپل دولت وجود نه وو نو اقتصادي مرکزيت يې ورک وو او علمي معارف د منځ نه تللي وو، پردو د افغانستان ملي وحدت د اسې د منځه وړی وو چې د بيا د اعاده کېدو امېد لږ وو.

افغانستان د سياسي نظره د پردو د سلطې د اغېزې لاندې تر اتلسمې پېړۍ پورې او د علمي او فرهنګي لحاظه تر شلمې (۲۰) پېړۍ پورې متاثر پاتې شوی دی او د قولو ژوندي ملتونو نه وروسته پاتې شو او څه وده او انکشاف يې په برخه نه وو. خو پردو دولتونو هم د دوی د شتون نه چې څه ګټل هغه هم د دولت لګول او استحکامونه به يې جوړول او نظامي لګښتونه به يې هومره وو چې څه خاصې ګټې به يې په لاس کې نه پاتې کېدې او نه به په قرار وو تل به دولت مضطرب او ناقراره وو.

افغانستان او شیباني دولت

ازبک اصلاً تایمن او قبچاق مغلي قبیلوته منسوب دي او د ازبک خان په لاربښوونه یې په څوارلسمه پېړۍ کې د اسلام دین ومنلی دی (ازبک خان د مغلو د مطلا اردو یو امیر وو) او د نورو قبایلو نه د امتیاز د پاره یې د ازبک نوم خوښ کړو، او په پنځلسمه پېړۍ کې ازبکان سره غونډ او متحد شو او څه نور مغلي قبایل یې د ځان تابع کړل او د اورال د غاړو نه مخ په جنوب روان شو او د جیحون د مجرا په لاندینۍ برخو کې د چغتیانو سره مخلوط او ګډ شو او مستقل قوم یې جوړ کړو او د قزاقو او قرغزو څوک چې دلته اوسېدل - هغه یې هم په خپل قوم کې حل او مدغم کړل او ورو ورو یو قوي ارلوی دولت ترې جوړ شو - محمد خان شیباني د جوجي د چنګېز د ځوی د اولادې نه یو زړور سړی وو او د دوی کورنۍ په سایبېریا کې حکمراني کوله او زمامدار وو او همدا محمد خان شیباني یې مؤسس وو - ازبک خلک په پنځلسمه پېړۍ کې د محمد خان شیباني په قیادت کې ماوراالنهر ته راغلل ، سلطان محمود میرزا چې په (۱۵۰۰م) کې مړ شو او ځامن یې سره وران وو او د یو بل سره په جګړو اخته وو

محمد خان شیبانی راغی او ماوراءالنهر یې ونیولو او په کال (۱۵۰۰م) کې یې خان د شیباني مستقل باد شاه په عنوان اعلام کړ. او په (۱۵۰۶م) کال کې چې سلطان حسین چغتایی مړ شو او خامن یې د حکومت په سر سره ژوان وو، محمد خان په بلخ حمله وکړه او د شمالي افغانستان ځینې ولایتونه یې هم لاندې کړه او شیباني دولت بنه قوي شو. محمد خان شیباني سمرقند او بلخ او هرات او د ایران ځینې برخې هم را لاندې کړې خو اخر صفوي دولت اسمعیل شاه صفوی محمد خان شیباني ته ماتې ورکړه او ور پسې یې واخیست او د مروی سره نژدې د طاهر آباد د کلي سره په یو جنګ کې محمد خان شیبانی په (۱۵۱۰م) کې د آس نه ولوېد او د آسونو په غوبل کې ووژل شو او تر مروې پورې صفوي دولت فتحه وکړه. د محمد خان شیباني په وخت کې هم افغانستان د قرارۍ ورځې نه دي لیدلي جنګ او جګړې به وې او د افغانستان خلك د پردو د لاسه زورېدل او کړېدل او تجارت او صنعت او زراعت او معارف یې ډېر زیانمن وو خو افغاني ولس هم سړو د دې چې ډېر زورېدلی او کړېدلی وو او د پردو نه ډېر تاواني وو خو چې څه وخت به ئې لږ شه فرصت په لاس ورتللو د پردو نه به یې خپل انتقام اخیستلو او د پردو پرې هیڅکله د قرارۍ حکومت نه دی کړی.

افغانستان او د ایران صفوي دولت

د شپاړسمې پېړۍ په اوایلو کې په ایران کې یو نوی دولت منځته راغی چې مشري یې د یوې روحاني صوفي کورنۍ په لاس کې وه او مؤسس یې په (۱۵۰۲م) کې اسمعیل صفوي وو دده په ایران کې امامیه مذهب رسمي اعلان کړو - دې دولت داتلسمې پېړۍ د اولې نیمائي پورې عمر وکړو - صفوي دولت محمد خان شیباني ته ماتې ورکړه او متر مروې پورې علاقې یې رالاندې کړې - اسمعیل شاه صفوي دافغانستان شمالي مغربي ایالتونه نیشاپور، مشهد او هرات او نور م په (۱۵۱۵م) کې د خراسان په نوم یو کړه او حکومت یې خپل ځوی طهماسب میرزا ته وسپاره - شاه اسمعیل په (۱۵۲۳م)، کال کې په گرجستان لښکر وکړو او هغه یې فتح کړو او په کال (۱۵۲۴م)، کې وفات شو او په ځای یې ځوی طهماسب میرزا د ایران بادشاه شو - او د سلطنت - مرکز یې د تبریز نه قزوین ته منتقل کړو، د طهماسب سلطنت د کال (۱۵۲۴م)، نه تر (۱۵۷۶م)، پورې وو، د ازبکو حملې و دروړلې خو د عثماني دولت حملې پرې پیل شوې خو بیا د ایران او عثماني دولت په منځ کې صلحه وشوه - همدغه په دغه وخت کې په کال (۱۵۴۰م)، کې همایون بابري ته شېرشاه سوري افغان په هند کې پر له پسې

ماتې ورکړې او اخر همایون ایران ته پناه ور وړه او شاه طهماسپ صفه په هرات کې استقبال کړ او ایران ته یې وغوښت او خپل حضور ته یې ورمانه او خو موده پس یې ور سره معاهده وکړه او غربي افغانستان ایالتونه یې ایران ته ورکړه او طهماسپ ور سره لښکر وکړ او همایون قندهار او کابل ونیولو ، قندهار ایران واخیست او کابل د همایون په لاس کې وو .

طهماسپ په (۱۵۶۱م) کال کې انګریزي کمپنی نماینده ګان چې د تجارت په نامه ایران ته راغلي وو او د ملکه الزابت پیغام یې د شاه طهماسپ په نوم راوړي وو په ایران کې ومنل خو شاه طهماسپ په (۱۵۷۶م) کې د دربار د یوې ښځې له خوا مسموم او وفات شو او د طهماسپ په ځای دوه ځامن حیدر او اسمعیل تر (۱۵۷۷م) کاله پورې د دربار د امراو د لاسه ووژل شو او سلطنت یې بل ځوی (محمد خدابنده) ته ورسید خو په صفه د عثماني دولت پرله پسې حملې وې او دی د مقابلې نه عاجز وو ، ځوی یې عباس په (۱۵۸۷م) کال کې د خپل سلطنت اعلان وکړو او د انګریزي کمپنۍ نه یې کومک وغوښت ، د ایران اردو منظم شوه او عثماني دولت او ازبکي دولت ته یې ماتې ورکړې خو د افغانستان خلکو پاڅون وکړو او قندهار یې د ایران نه بېرته ونیولو . نو بناغلي لوستونکي به اندازه وکړي چې په دې کشکشونو کې به په افغاني ملت څه تیرې

شوي وي او ځوږه قربانۍ به یې ورکړې وي او ځوږه ځوانان او مالونه او شته به یې ضایع شوي وي خو ملي روح یې لا ژوندی وو چې د هغې په اثر یې قندهار بیا د ایران نه ونیولو.

د هند بابري دولت او افغانستان

د هند بابري دولت د خپلو لښکرو په واسطه چې افغانستان ته یې راوستې وې او افغانستان یې خورا تاوان رسولی وو. د افغانستان اقتصاد ته یې ډیر تاوان رسولی وو. محمد بابر د تیموري شهزادګانو نه یو وو دی د عمرشیخ میرزا ځوی وو چې هغه د اندیجان چې په ماوراءالنهر کې واقع وو او عمرشیخ یې حاکم وو. د بابر پلار عمرشیخ چې مړ کېده نو دی (۱۱) کلن وو د ایوولس کلن بابر د پلار په ځای په (۱۴۸۳م) کې کېناست او په کال (۱۴۹۷م) کې سمرقند د خپل تره سلطان احمد نه ونیولو- او په (۱۴۹۹م) کال کې یې اندیجان بیا د خپل ورور جهانګیر نه ونیولو او په (۱۵۰۰) کې یې سمرقند بیا د محمد خان شیباني نه ونیولو خو یو کال پس ته پرې بیا محمد خان شیباني اوزبک حمله وکړه او بابر تاشکند ته خپل ماما سلطان محمود ته ورو تښتېد ماما یې ورسره کومک وکړه او بابر په اندیجان بیا حمله وکړه او زخمي شو او ترمز ته وروتښتېد په (۱۵۰۴م) کال کې بابر د ترمز نه افغانستان ته ... او

او په افغانستان کې د ګورګاني حکومت اقتدار کمزوری شوی و.
بدیع الزمان میرزا په میمنه کې و او په تخارستان د خسروشاه
حکومت و چې اته زره لښکري هم په لاس کې و، دې سړي بابر
په قندوز کې استقبال کړ خو بابر د ده لښکر د ځان خواته کش کړ
او خسروشاه وتښتېده او میمنې ته بدیع الزمان ته ورغی او بابر
د دغه لښکره سره په هندوکش واوښت او کابل ته ورغی په کابل
کې د مرم عبد الرزاق میرزا حاکم و خو اصلاً حاکم محمد مقیم ارغون
و، دی هم ګورګاني و چې قندهار او زمینداور یې هم په لاس کې
و. مقیم د میرزا عبد الرزاق نه حکومت ونیو او د هغه خور یې
هم په نکاح کړه او عبد الرزاق لغمان ته وتښتېد. بابر چې ورغی.
مقیم یې مات کړ، قندهار ته لاړ او کابل بابر ونیولو بابر په (۱۵۰۵م)
کال کې چې ګورګاني دولت په زوال کې و او سلطان حسین چې
مړ شو نو په هرات کې بدحال و او حکومت سقوط کړی و، بابر
هغه خواته د غزني او زابلستان له لارې روان شو او دغه ځایونه
یې د ارغون حکمرانانو نه ونیول او قندهار یې هم والاندې کړ
او جهانګیر ورور یې پرې مقرر کړ، او په کال (۱۵۰۶م) کې
بابر د هزاره جات له لارې هرات ته ورغی په دغه وخت کې.
بدیع الزمان او مظفر حسین دواړه بادشاهان په مورچو کې و.
او په مرغاب یې اړولي و چې د شیباني دولت د حملې مخنیوی

وکړي بابر هم وغوښته چې د دغه باد شاهانو سره ملګرتیا وکړي او د
محمد خان شیباني مخه ونیسي خو د ژمي یخني راغله او جنګ ونه شو
او بابر بېرته کابل ته راوګرځېد او کابل جان میرزا ونیوله او وکابل
بابر بیا د مخه نه ونیوا او مخه قندهار ته لاړ.

بابر په کال (۱۵۰۷م)، کې د غزني په غلجي پښتنو ورغی او جنګونه
یې ور سره وکړه او د هغوی رمې او پسونه یې ولجه کړې خو د خلکو
د بابر نه ډېر منفرت او کرکه پیداشوه، محمد شیباني هرات ونیولی وو
او ګورګاني دولت پوره شوی وو او د ازبکو مخه جنوب خواته
وه، محمد مقیم ارغون او شاه بیګ د شیباني قوت په مخکې وو هغوی
د بابر نه کومک وغوښت خو تینګ نه شو او د محمد شیباني دولت
ته تسلیم شو او محمد شیباني هغوی پخپل حکومتونو پرېښودل نو هغوی
د بابر په مخه لښکر راوویست او جنګ جوړ شو او بابر د وارو
ورونو ته ماتې ورکړه محمد مقیم زمیندوار او شاه بیګ بلوچستان
شمال ته وتښتېدل او قندهار بابر لاندې کړو او خپل ورور
ناصر یې پرې حاکم مقرر کړو او بابر بېرته کابل ته وګرځېد خو مقیم
او شاه بیګ بیا راوګرځېدل او د شیباني دولت په کومک یې
په قندهار حمله وکړه او قندهاریې د ناصر نه ونیولو او مخه
د واره ارغوني ورونه راغلل او قندهار یې په لاس کې کړو
او محمد خان شیباني هم د زمیندوار نه بېرته هرات ته وګرځېد

بابر د قندهار خبره هلته پرېښوده او ننګرهار ته یې پام شو او په کال (۱۵۰۸م) کې ننګرهار ته وړ روان شو میرزا عبدالرزاق د کابل پخوانی حاکم چې په ننګرهار کې ورځه مزاحمت وکړ وځو بابري لښکر هغه مات کړ او ونیول شو او د بابر په حکم ووژل شو او ننګرهار هم د کابل د بابري حکومت سره وتړل شو په دې وخت کې بدخشان کې خلک د زبیر راهي چوپان سره یاغیدلي وو او دغه ولایت یې نیولی وو د بابر نیت وو چې په افغانستان کې د ګورګاني دولت جانشین شي بدخشان ته یې د جان میرزا په مشرۍ لښکر ولیږلو - جان میرزا بدخشان د زبیر راهي نه ونیولو په دې وخت کې بابر د محمدخان شیباني د مرګ نه خبر شو چې محمدخان د مرو په جنګ کې مړ دی نو د ماوراءالنهر د نیولو په فکر کې شو او فوراً قندوز ته وړ روان شو او د ایران د بادشاه اسمٰعیل صفوي نه یې هم کومک وغوښت ، بابر په (۱۵۱۱م) کې ماوراءالنهر ته ورغی او بخارا او سمرقند یې ونیول خو د شیباني لښکرو بیا راوګرځېدلې او د بابر نه یې بېرته بخارا او سمرقند ونیولو او بابر په (۱۵۱۴م) کې بېرته افغانستان ته په تېښته راغی ، او د ماوراءالنهر نه یې نور زړه تور شو او د افغانستان په شمال مغرب پلو هم د ایران د صفوي دولت زور وو نو بابر د افغانستان شرقي برخو ته متوجه شو او قبایلي پښتنو سره په جنګ جګړو شو سوات او باجوړ یې ونیولو

او د صفه خان په حکومت یې خواجه کلان بیګ مقرر کړ او په دې جنګونو کې تقریباً درې زره قبایلي پښتانه و وژل شو بابر ورورو بیا قوي شو او د هند د نیولو اراده یې وکړه او په (۱۵۱۸م) کې د اباسیند نه ورتېر شو او ترچناب پورې ورسېد خو بېرته و ګرځېده بل کال بیا بابر هند ته روان شو او د یوسفزو سره یې جګړه پېښه شوه او بیا د اټک سره له اباسیند نه پورې وتلو او محمد سلطان د څلور زره سورو سره د لاهور د نیولو د پاره مقرر کړو او پخپله کابل ته وګرځېد. په کال (۱۵۱۹م) کې بابر بیا پنجاب ته ورغی او سیالکوټ یې ونیولو او (۲۰) زره بندیان یې هم په لاس ورغلل او د سیدپور پښتانه یې هم تالا کړه او بېرته کابل ته را وګرځېد او په (۱۵۲۰م) کال کې یې شهزاده همایون بدخشان ته ولېږلو او پخپله قندهار ته ورغی او شاه بیګ ارغون یې قلعه بند کړو، په راتلونکي کال کې شاه بیګ قندهار بابر ته حواله کړو او پخپله د بلوچستان په حکومت قانع شو چې وروسته ده او اولادې ورپسې سند ته هم ننوتلو - بابر قندهار خپل خوی کامران ته وسپارلو او دی بېرته کابل ته راغی .

د بده مرغه په دغه وخت کې د پښتنو لودیانو دولت چې بهلول لودي تاسیس کړی وو او وس د ابراهیم لودي د دهلي د بادشاه په وخت کې د انحطاط په حال کې وو ابراهیم دلودي د دولت د مشرانو

او د سردارانو سره بده وضعه کوله او ورېږي بنديان کړي وو او
د ورو نه يې جاګيرونه نيولي وو په دې سره اکثر مشران خفه
او ناراضه بدي وو. د ابراهيم لودي تره علاوالدين عالم خان هم د ابراهيم
نه خفه وو او دولت خان لودي د پنجاب مقتدر حاکم او د هغه
ځوی دلاور خان هم د لودي دولت نه ناراضه بدی او خفه وو.
د علاوالدين عالم خان کابل ته ورغی او بابرشاه يې د هند حملې
ته وهڅاوه بابرشاه په (۱۵۲۳م) کال کې پنجاب ته لښکر وکړو
په لاره کې د پښتنو قوي قبيلې يوسفزو سره يې لا مخکې خپلوي
کړې وه او د يوسفزو د خان شاه منصور لور يې مبارکه يې
واده کړې وه پنجاب ته په قراره د بابري لښکرې ورسيدې
او لاهور يې د هغه ځای د مدافعو پښتنو نه ونيولو بابر ميرزا
عبدالعزيز په هغه ځای حاکم مقرر کړو او ورپسې يې سيالکوټ
او ديپالپور هم لاندې کړه او هلته يې د سته جمعي قتلونه وکړل
او خپل حاکمان يې هلته مقرر کړه او بېرته کابل ته وګرځيد د
سيالکوټ حاکم عالم خان د سلطان ابراهيم کاکا وو ده په ځای
د دې چې د پردو مخه يې نيولې وای عالم خان او د دولت خان ځوی
غازي خان په دهلي او سلطان ابراهيم پسې لښکر وکړو خو د
سلطان ابراهيم لهخوا مات شو او بېرته پنجاب ته لاړ بابرشاه
په (۱۵۲۵م) کال کې بيا د هندوستان د نيولو په نيت روان

شو د اپېړ د بدخشان او قندهار لښکرم ور سره وو چې ټول (۲۱)
زره لښکرکېده. بابر د پنجاب نه تېرشو او په پاني پت کې د سلطان
ابراهیم لودي د فوځ سره مخامخ شو سخت جنګ وشو او سلطان ابراهیم
ووژل شو او بابر فتح وکړه او شاهي خطبه یې د ظهیرالدین محمد بابر
په نوم ولوسته شوه او بابر د هند شهنشاه شو. بابرشاه د غزني
او زابلستان حکومت خواجه کلان بېګ او د کابل حکومت چې بدخشان
هم ورسره وو شهزاده همایون ته وسپارلو او د قندهار حکومت یې
شهزاده کامران ته ورکړو او د مملکت تنظیم یې وکړو. بابرشاه په
کال (۱۵۲۹م)، کې په هند کې وفات شو او جنازه یې کابل ته ویوړه
شوه او د کوه اسمائي غره په لمن کې ښخ شو او قبر یې بیا وروسته
نهسي جهانګیر جوړ کړو. همایون د بابر څوی په کابل کې زیږېدلی
او پالل شوی وو او دغه وخت (۲۴) کلن وو چې پلار یې بابرشاه
وفات شو او همایون د هندوستان باد شاه شو خو خپل او پردي
د ښمنان یې ډېر لکه خپل ورور یې میرزا کامران چې کابل او
قندهار نیولی وو د همایون مخالف وو او په همایون پسې یې لښکر
وکړو او پنجاب یې تر یې ونیوه او بل ورور یې په هند کې هندال
نومي مخالفت وکړو او په اګره کې یې د خپل استقلال اعلان وکړو
او په دهلي هم لښکرکشي وکړه خو په جنګ کې مات شو خو همایون
ته بله لویه بلا را پیدا شوه او هغه سوري شېرشاه افغان وو

چې خان يې د هندوستان د حکومت وارث گڼلو.
يو پښتون شاعر ويلي وو:

که بابر دی ني په قهرلودي پښتون ته
کوم شېرشاه به خدای پيدا کړي همايون ته
د پښتون په تنگ به بيا وتړي توره
تخت او تاج به ور په سر کاندي پښتون ته

(سيد رسول رسا)

شېرشاه په (۱۵۳۹م) کال کې په (بهوجپور)[1] کې همايون ته ماتې ورکړه او په (۱۵۴۰م) کال کې د گنگا په غاړه يې بيا همايون مات کړو او د هند نه يې وويست او په هند کې يې بيا د پښتنو سوري دولت دلودي د دولت په ځای ودراوه. د دغه مدبر شخصيت او سوري باد شاه لوی او مهم تاريخ دی چې د هند د تاريخ سره تعلق لري او موږ د دلته د افغانستان د مهمو تاريخي پېښو نه بحث کوو نو دا موضوع زموږ د بحث نه وتلې ده. همايون د هند نه د بولان په لار ايران ته پناه گزين شو او په (۱۵۴۴م) کال کې د ايران صفوي تهماسب باد شاه سره وليدل او هغه ورته کومک او يو لښکر ورکړو چې د افغانستان پرې لاندې کړي په دې شرط چې قندهار به د ايران دولت ته پرېږدي همايون قندهار او کابل ونيولو او ورونه يې کامران بدخشان او هندال هند ته وتښتېدل همايون قندهار ايران ته -

---

(۱) [illegible]

پرېښوده او د خپلو ورونو سره په جګړو اخته شو آخر د ننګرهار د سرخ اب په جنګ کې کامران مات شو او د همایون ورور دوهم ورور هندال او عسکري میرزا په جنګ کې ووژل شو او د (۱۵۵۰م) کال وروکامران وتښتېده او د ګکړانو حاکم سلطان ادم ته ورغی خو هغه کامران ونیولو او همایون ته یې وسپارلو او همایون کامران ړوند کړو او ځانې د دې جنجال نه هم خلاص کړو او په (۱۵۵۳م) کال کې همایون بېرته کابل ته ورګرځېده - همایون په څوکلونو کې د هرې ویني توی کړې او خپل حکومت یې په بدخشان او تخارستان او کابلستان او زابلستان او قندهار کې ټینګ کړو - او د زمینداور حکومت یې سیستانی بهادرخان ته او قندهار شاه محمد کلاتي او بدخشان یې سلیمان میرزا ته ورکړه او پخپله یې مرکز په کابل کې ونیوه چې شرقي خواته یې ترې د اباسینده غاړه وکړي شي - همایون د هند د احوال نه خبر وو چې د شیرشاه سوري او د هغه د ځوی اسلام شاه د مرګ نه پس د سوري سلطنت زوال ته راغلی وو د اسلام شاه ځوی فیروز ورکوټی هلک برای نام بادشاه شو خو ماما یې عادل خان د منظام خان ځوی ورپسې راغی او خپل ورکوټی خوریې د خپلې خور په مخکې ووژه او سوري سلطنت یې پخپله نامه اعلان او د سکندر شاه عنوان یې غوره کړه خو ولسي خلکو به ورته عادلی وایي او ده د سوري سلطنت د اداري اهلیت او صلاحیت یې نه درلود

يو عياش سړى و ـ همايون په (١٥٥۴م) كال كې د كابل نه د (١٥) زرو
ښكرسره د هند د نيولو په نيت روان شو او په ډېر زر په آسانه ـ
سره افغاني سوري دولت يې مات كړو او ډهلي يې ونيوله او په
ډهلي كې (١٥) كاله پس بيا د همايون په نوم خطبه و ويل شوه خو
بل كال ته همايون د شېرشاه د جوړې كتابخانې د ليدو له ورغى او
د زينې نه ولوېد او مړ شو او په ځاى ئې ځوى اكبر جلال الدين چې د
همايون د فرار په وخت كې په عمركوټ د سند كې زېږېدلى وو او
اوس څوارلس كلن وو بادشاه شو خو اكبر د افغانانو د سخت مقاومت
سره مخامخ شو چې هغوى د خپل مستقل حكومت ادعا درلوده په ـ
افغانستان هم د ايران صفوي دولت په (١٥٥٦م) كال كې حمله وكړه
او قندهار يې لاندې كړو . سليمان ميرزا غوښتل چې بلخ د ازبكو
نه آزاد كړي ، په (١٥٥٩م) كال كې په بلخ لښكر وكړو خو پير محمد
د بلخ حكمران ورته ماتې وركړه ـ په كال (١٥٦٣م) كې يو آزادي
خواه افغاني شخصيت «شاه ابوالمعالي» چې په هند كې د اكبر سره
جنګېده او مات شوى وو كابل ته راغى په كابل كې وړوكوټى شهزاده
حكيم ميرزا د همايون ځوى حاكم وو خو اصلاً حكومت يې د مور په لاس
كې وو ابوالمعالي د حكيم ميرزا د مور نه د هغه خور په نكاح واخيسته
او وروسته يې د حكيم ميرزا مور او نور د سر مقتدر سړي ووژل
او كابل يې تصرف كړو خو ميرزا سليمان په بدخشان كې خبر شو او

کابل ته راستون شو او ابوالمعالي هم مخې ته ورغی د غوربند په جنګ کې ابوالمعالي مات شو او په چهاریکارو کې ونیول شو او اعدام شو - سلیمان کابل ونیولو خو د خلکو خوښه نه وه او حکیم میرزا پېښور ته وتښتېد حکیم ته اکبر کومک ورکړو او د سلیمان نه یې کابل ونیو او ترغزني حکمران شو او سلیمان میرزا په (۱۵۶۴م) کال کې بېرته - بدخشان ته لاړ، سلیمان د خپل حوزې سره او محمد حکیم میرزا سره څو مره جګړې او لانجې راغلې او محمد حکیم څو وارې د خپل ورور اکبر جلال الدین سره جګړې ربړې وکړې او په مملکت کې بد حال او ناقرارۍ وه او دې جګړو ربړو کې د هې افغانان وژل شو - خو په (۱۶۰۵م) کې اکبر جلال الدین د هند مقتدر بابري بادشاه مړ شو او په ځای یې شهزاده سلیم د جهانګیر په عنوان بادشاه شو او په اګره کې په تخت کېناست ددې بادشاه په وخت کې صفوي دولت د هرات نه بیا په قندهار حمله وکړه خوشاه بیګ د قندهار حاکم ماتې ورکړه او د جهانګیر کومک هم د لاهور نه ورغی په (۱۶۲۱م) کې عباس صفوي بیا حمله وکړه او قندهار یې د عبدالعزیز بابري نه ونیولو، په (۱۶۲۵م) کې جهانګیر بیا کابل ته د قندهار د نیولو په طمعه راغی خوځه ترې ونشو او بېرته هند ته وګرځېد، جهانګیر په (۱۶۲۲م) کال کې په لاهور کې مړ شو او هلته ښخ شو او دده مشهوره ملکه نورجهان هم هلته په شاه دره کې ښخه ده، د جهانګیر نه یې وروسته حوزی شهزاده خرم

په (۱۶۲۷م) کې چې په هند کې د شاه جهان په نوم بادشاه شو په دې وخت کې نذر محمد خان ازبک د بلخ حکران په بامیان حمله وکړه خو خنجر خان قلعه دار د ضحاک په قلعه کې ټینګ شو نو هغه کابل ته مخه کړه او کابل یې محاصره کړو. شاه جهان کابل ته کومکي لښکر را ولېږلو د الښکر ایله بار یکاو ته را سېدلی و چې په (۱۶۲۸م) کې نذر محمد خان په شا شو او بلخ ته لاړ. هغه کاله پس د قندهار حاکم علي مردان خان وار پدل چې صفوي دولت سیاوخش د اته زره لښکر سره قندهار ته را ولېږلو او د لښکر په لاس لو علي مردان خان د صفوي دولت نه خفه شو او په قندهار کې یې خطبه د شاه جهان په نوم ووېله او د (۱۶۳۷م) کال و د کابل حکران سعید خان د شاه جهان په حکم د علي مردان خان کومک له ورغی او ایراني لښکر ته یې په ارغنداب کې ماتې ورکړه او د قندهار حکومت د هند په بابري حکومت وتړل شو په (۱۶۳۹م) کې چې شاه جهان کابل ته راغی نو علي مردان خان یې د کابل حاکم مقرر کړو دا هغه سړی دی چې د کابل منقش چهارچته یې او باغ علي مردان جوړ کړی و چهارچته په (۱۹) پېړۍ کې د انګرېزانو زورګیرو لښکرو وسېزله او وران نه یې کړه.

شاه جهان په (۱۶۴۴م) کال کې لښکر د شمال خواته واستولو چې تر کهمرد او اندرابه ورسېد او خه جنګ جګړې یې د ازبکو د لښکرو سره وکړې خو ویې نکړی شو چې هندي لښکرې د هندوکش

په شمال کې څه خاصې کامیابۍ تر لاسه کړي خو څه مال متاع د خلکو یې په لاس کې کړې او بې ګناه خلک یې ولوټل او بېرته کابل ته راوګرځېد شاه جهان په (۱۶۴۵م) کې بیا کابل ته راغی او لښکر یې بیا د هندوکش شمال ته ولېږل او د لښکر د سیفان او نارین د لارې نه قندوز او بلخ ته ورسېد د شاه جهاني لښکر سپه سالار شهزاده مراد بخش وو چې د شاه جهان ځوی وو. د نذر محمد خان خامن، سبحان قلي خان، او بهرام خان، مراد بخش ته تسلیم شو او شهزاده ښار ته ننوتلو خو نذر محمد خان په چل مخکې اندخوي ته تللی وو - مراد بخش چې د ازبکو د خوږو وږو سوړو د حلو د خلک نه خبر وو چې په بلخ تخار، قندوز، شبرغان او میمنه کې بې په کولي په بلخ او شبرغان او میمنه کې یې حاکمان مقرر کړه او دی بېرته کابل ته وګرځېد او شاه جهان هم بېرته هند ته لاړ یو کال پس په (۱۶۴۶م) کې شاه جهان مجبور شو چې بیا کابل ته راشي ځکه چې نذر محمد خان ازبک ایران ته تللی وو او د صفوي دولت نه یې کومک اخیستی وو او میمنه یې محاصره کړې وه او سبحان قلي د ماوراءالنهر نه وتړ کړې شو چې خپل ورور عبدالعزیز بخارا نه د خپل پلار کومک ته ولېږي او بل ځوی قتلغ محمد خان د یو څو زرو لښکر سره راغی او بلخ یې محاصره کړو او ښار یې د بابري حاکم نه ونیولو شاه جهان دا وارې خپل ځوی اورنګ زېب د دې جنګ سپه سالار مقرر کړو

چې بلخ بیا ونیسي اورنګ زیب را ورسید او عبدالعزیز خان ازبک هم لښکر تیمور آباد کې مخې ته ور ووېست خو عبدالعزیز خان ماتې وکړه او په شا شو او اورنګ زیب فاتحانه بلخ ونیولو۔ شاه جهان ته د ازبکو زور او د سوړو خلکو معلوم وو نو د نذر محمد خان سره یې د صلحې خبرې وکړې او بلخ او میمنه یې ورته و سپارله او شاه جهان د کابل نه بېرته هند ته لاړ او شهزاده ـ اورنګ زیب هم کابل نه هند ته راوګرځېده او نذر محمد خان هم بلخ ته بیا راغی او خپل ځوی عبدالعزیز ته یې د بخارا او ماوراءالنهر حکومت ورسپاره او په دې ډول په ماوراءالنهر او بخارا کې ـ عبدالعزیز د جنیدي سلسلې پنځم بادشاه شو.

په (١٦٤٢م) کال کې ایراني عباس دویم صفوي بادشاه د پنځوس زره لښکر سره په قندهار راغی او ښار یې دوه نیمې میاشتې ـ محاصره کړ، او آخر یې لاندې کړ او زمینداور یې هم ورپورې وتاړه ـ صفوي بادشاه لس زره لښکر د محراب خان سره په قندهار کې پرېښودل او پخپله بادشاه د فراه د لارې هرات او مشهد او ایران ته لاړ ـ شهزاده اورنګ زیب چې د افغانستان د مدافع په حیث په ملتان پروت وو خو په قندهار باندې د ایران د حملې مخنیوی یې ونشو کړی خو بل کال یې (٧٠) زره لښکر د ځان سره واخیست او د کابل او غزنې له لارې قندهار ته ور ورسید او شاه جهان

هم کابل ته ورپسې راغی خو د یې پر دو جنګونو په افغانستان لوی او سخت قحط راوست یو من غله او بوس په دوه روپیه شو چې دا د هغه وخت د پر طاقت ډېر سا قیمت و او چا ورکولی شو؟ د قندهار ایراني لښکر څلور میاشتې مدافعه وکړه او ژمی راغی په صحرا کې هم واېښه نه میندل کېده نو مجبوراً شاه جهان هند ته وګرځېد او اورنګ زېب ته هم حکم وشو چې بېرته ملتان ته ستون شي خو شاه جهان د قندهار پرېښودونکی نه و ځکه چې قندهار د هند او ماوراءالنهر او ایران په منځ کې یو تجارتي او اقتصادي ښار وو او د ګمرکه د پر عایدات تر پلاس رانلل او د دا ورکړه... مرکز وو او کاروانونه به له دې لارې تېرېدل او را تېرېدل او د قندهار ښار یوه مظبوطه مورچه هم وه او کلک نظامي مرکز وو.

په (۱۶۵۰م) کال کې شاه جهان بیا په قندهار د حملې نیت وکړ او (۶۰،۰۰۰) نفر لښکر او د لویې جنګي فیلانو سره قندهار ته ور روان شو، (۴۰۰۰) تو پونه هم ورسره وو او شهزاده اورنګ زېب د فوځ سر لښکر وو او د ملتان نه د سند په لاره قندهار ته ورسېد او شاه جهان پخپله هم کابل ته راغی اورنګ زېب دوه میاشتې قندهار محاصره کړ و خو څه نتیجه یې وانخستله ژمی راغی او اورنګ زېب بېرته ملتان او شاه جهان هند ته وګرځېدل، بل کال (۱۶۵۱م) کې

داورنګ زیب رقیب شهزاده داراشکوه د قندهار په مهم مقرر شو
چې (۷۰) لوی افسران او (۷۰) زره عسکر هم ورسره وو چې سواره او
(۱۰) زره تفنګچي پیاده او (۶) زره بېلدار او (۵۰۰) نقب زن او
(۵۰۰) هم سقاوان (۳۰۰۰) او مبنان (۶۰۰) فیلان او نور دارو مردکي او
جنګي تجهیزات او مهمات هم ورسره وو قندهار یې محاصره کړو خو -
مواب هغه نه وو رحاکم د پخوا په شان مدافعه کوله دا محاصره
پنځه میاشتې اوږده شوه - او د هند حکومت د قندهار د نیولو نه مایوس
شو او د شهزاده داراشکوه لښکر د قندهار نه هند ته بېرته وګرځېد
او افغانستان تجزیه شو شاه جهان بادشاه د (۳۱) کاله بادشاهۍ
کولو نه پس په (۱۶۵۷م) کال کې د خپل ځوی اورنګ زیب په لاس
بندي او د بادشاهۍ نه محروم شو او په (۱۶۶۵م) کال کې مړ شو
اورنګ زیب پلار بندي کړو او په ورور هم غالب شو او په کال
(۱۶۵۲م) کې د خپل سلطنت اعلان یې داورنګ زیب عالمګیر په نوم
وکړو او (۵۰) کاله یې تر (۱۷۰۶م) پورې بادشاه وو اورنګ زیب
هم د همایون او اکبر او شاه جهان په شان علم او معارف ارت او
منزلت ته توجه کوله خو د خپلو مشرانو په خلاف وو مذهبي تعصب
یې لاسه او په سیاست کې قسي القلب شخص وو، په بابري کورنۍ
کې اورنګ زیب لوی او قوي بادشاه وو چې د دکن جزیره یې
والاندې کړې وه خو د افغاني قبایلو یوسفزو، خټکو، مهمندو

شینوارو افریدو سره به تل په جګړو اخته وو او ایمل خان مومند
او دریاخان افریدي ورته څو واري ماتې هم ورکړې وې او
خوشحال خان هم ورسره مړدې مودې په جنګ جګړو اخته وو او
مجبور وو چې اورنګ زیب افغاني قبایلو ته درې کاله په حسن ابدال
تېر کړه خو څه خاصه ګټه يې نصیب نه شوه اورنګ زیب په (۱۷۰۷م)
کال کې وفات شو او له دې وخته نه بابري دولت هم مخ په زوال -
روان شو. د اورنګ زیب په زمانه کې فتاوه عالمګیري څو
جلده لیکل شوې ده چې اکثر فقهي مسئلې په کې شته دي. د قندهار
او غزني د صفوي دولت او بابري دولت په منځ کې خط فاصل مګر
ور غلجیو او د رانو خانانو کله یوه ډډه او کله بله ډډه نیوله -
سلطان محمد خالص وايي چې سلطان ملخی توخی د هغه وخت د
غلجو لوی خان وو او د ابدالي کورنۍ خانانو به په ارغستان کې
... او ښه اقتدار يې په لاس کې وو او سلطان محمد حسین خان
سدوزي يې مشر وو د اورنګ زیب د مرګ (۱۷۰۷م) کال نه پس
په هند کې د بابري دولت په منځ کې ګډوډي وه د محمد شاه د جلوس
۱۷۱۸م) په دوري هم دغسې ګډوډي روانه وه په (۱۳) کاله کې (۴)
بادشاهان راغلل او لاړل او ووژل شو او ملوک الطوایفي په هر
کونج او کنار کې سر راپورته کړو، مرهټیانو، جاټانو او سیکانو د هند
په جنوب اګره او پنجاب کې راپورته شو د دکن نظام او د بنګال

ولایت هر یو د خپل خانګړي استقلال او خپلواکۍ دعوه لرله مګر د-
باندې قوتونو د پاره هم د حملې او مداخلې زمینه برابره شوه لکه نادر
افشار او احمد شاه ابدالي یو په بل پسې په هند حملې وکړې او هندته
راغلل - کلکته او بمبۍ او مدراس د برطانوي تجارتي کمپنۍ پلاس کې
ورواو د فرنګیانو د استیلا نه وروسته هند نیم قرن د شلمې پیړۍ
پورې د ملي آزادۍ مخ بیا ونه لیدلو په هر حال بابري حاکمانو د-
اورنګ زیب د مرګ نه پس هم په پېښور او غزني کې تر اتلسم قرنه
پورې د محلي فیودالانو په کومک څه نیمګړې حکومت لا کولو او د صفوي
دولت سره یې فاصل حد د مقر علاقه وه - آخرین د هند د بابري حکومت
حاکم ناصرخان په اتلسم قرن کې ووچې په غزني زابلستان او کابلستان
یې حکومت کولو خو د پښتنو ابدالي قوا وو هغه مات کړو او د اباسینده
نه یې ور تېر کړو لکه چې مخکې ویلې شوي د محمد شاه د جلوس -
(۱۷۱۸م)، نه په (۱۲)، کاله کې (۴۰)، باد شاهان لاړل او راغلل هم د دغه
محمد شاه په وخت کې نادر افشار د ایران نه په (۱۷۳۸) میلادي کې
راغی او هندې وېښولو او ورپسې بیا احمد شاه دراني په (۱۷۵۶م)،
کې راغی او هندیې وېښولو خو ملک تر هغې شو خلوېښت کاله مشرقي
ایالات د افغانستان نه بېل وو او د خپل سرو خورونو زمینه
ملي استقلال ته هواره شوه او د اتلسم قرن په منځ ومیانه کې شرقي
ولایتونه د اباسینده پورې په یو آواز پورته شو او خپل مستقل

افغاني دولت يې تاسيس کړو -

اورنګزيب يو متعصب مسلمان بادشاه وو خو د افغانانو سره يې
هم د زړه کينه وه او له دې نه په وېره کې وو دغه وجه وه چې
پخپله د ډهلي نه راغی او د پښتنو د آزادۍ خواهو د مبارزې د غلي
کولو د پاره په حسن ابدال کې درې کاله تېر کړه خو يوسفزو، مهمندو
او افريدو ورته د خپلې توري برېښ وښود ايمل خان مهمند او دريا خان
افريدي د محمد امين لښکري په لنډي خانه خيبر کې داسې ووهلې چې د
محمد امين ښځه او مور او نور کورنۍ هم ترې بندمان که بيا يې په
کړپه او خاپېچ د مومندو په علاقه کې داسې ماتې ورکړه چې جسونت
سنګ او شجاعت خان له دې نه ارماني لاړل او وروسته خوشحال خان
ختک د ايمل خان او دريا خان په ملګرتيا د مغلو سره ډېره موده -
وجنګېدله چې آخر په د ډېره کې په (۱۶۶۱ م) کې وفات شو او په
اکوړه ختک کې ښخ شو، د پردو درې ګوښو د ولسونو ... ان بکيه
صفويه او مغليه په مقابل کې افغانان را پورته شوا و د خپل -
مستقل دولت تاداو (بنياد) يې د (۱۸) اتلسمې پېړۍ په پيل کې کېښود.

د روښانیانو مبارزه

بایزید انصاري مشهور په پیر روښان د شیخ عبدالله انصاري
ځوی وو او د شیخ سراج کورنۍ ته منسوب دی د وزیرستان د
کاڼي ګرام د علاقې اوسېدونکی وو دی پخپله د هند په جالندر کې
په (۹۳۲ هـ، ۱۵۲۵ م) او ځیني وایي چې په (۱۴۲۶) کې زېږېدلی وو
دی یو متقي او پرهېزګار سړی وو او صاحب طریقه وو ده پخپله
څو کتابونه په پښتو، فارسي او عربي کې لیکلي دي - دی د یو خاص
دول تصوف او خاص مذهبي تصانیفو مصنف وو چې د (حالنامې
او خیرالبیان، په نوم مشهور وو او بل معروف تصنیف یې مخزن الاسلام
وو - دی د بابري حکومت د غیرعادلانه روش نه چې د افغانانو سره
یې کولو متاثر شوی وو په تېره دی وایي چې ما د قندهار په سفر کې
پخپلو سترګو ولیدل چې بابري حاکم بهرام خان سپاهیانو یوه ښځه
د وېښتو نه په جرنده پورې تړلې وه او څرخوله یې ور دې په ډېر
غمجن او متاثر شو او د بابري دولت د ظلم او تیري په مقابل کې قد
علم وکړ او پخپل کتاب مخزن کې لیکلي چې زه لښکر ټولوم چې د هند
بابري حکومت مسخر کړم او د جهاد اعلان یې وکړ او وخپل نفوذ
یې تر پېښوره پورې خور کړ او په غلي جګړو یې لاس پورې کړ او

د ټیراه او مهمندو او نورو خواوو خلکو ورسره ملګرتیا وکړه خو - بایزید د شینوارو او د تورراغه جګړه کې د محسن خان د کابل والي د لښکر د لاسه په (۱۵۷۹) یا (۱۵۸۵) کې مړ دی او مړی یې اشنغر ته یوړ شو، د بایزید د مرګ نه پس د پښتنې لښکرو قیادت د هغه ځوی جلال الدین په لاس ونیو او د پېښور بابري حاکم حامدخان بخاري وژلو او جلال الدین په (۱۵۸۵م) کې په خیبر کې د اکبر جلال الدین د فوځونو سره ځو جنګونه وکړه او مومند او یوسفزي او نور غوریا خیل د جلال الدین ملګري وو. د دې جنګونو دوه کاله اوږد دوالی وکړو خو د اکبر فوځونو د کشور مان سینګ او خواجه - شمس الدین، خافي او زین خان کوکه په مشرۍ کې د جلال الدین لښکر مغلوب کړو او تر سوات او باجوړه پورې پسې لاړل او افغانان خواره شو - جلال الدین د بابري لښکرو لارې وهلې او په دلړوالو ګوریله جنګونو یې لاس پورې کړو چې پردو فوځونو ته یې ډېر تاوانونه ورسول په (۱۵۹۱م) کې د مغلي لښکرو سپه سالار جعفربیګ جلال الدین کوروفنه او ورونه یې احداد علي او کمال الدین ونیول او د جلال الدین په مقابل کې مغلي حکومت ځینې فقهاو لمسول لکه ملک حمزه اکوزی او اخون درویزه هم وو او په جنګونو کې د جلال الدین ورونه شیخ عمر او خیرالدین او نورالدین ووژل شو او لوی او مهم جنګ د دواړو لښکرو په باجوړ کې په (۱۵۹۲م) کې وو

چې د مغلو (۴۰) زره فوځ پېکې جنګېدل جلال الدين او ملګري وارېدل
په (۱۵۹۸م)، کې په غزني حمله وکړه او جلال الدين په جنګ کې زخمي
او وروسته مړ شو او مغلي لښکرو د هغه سر د ډهلي دربار ته واستاوه
او د جلال الدين ځای يې ورور احداد ونيولو او ملي مبارزې ته
يې دوام ورکړ او په (۱۶۱۴م)، کې يې لوګر کې مرکز وو احداد
هم پېچلو جګړو بابري حکومت ته سخت تاوان ورسولو او آخر په
(۱۶۲۵م)، کال کې احداد د تيراه په جنګ کې د هند لښکرو وواژه او
سر يې د هند دربار ته واستولو په (۱۶۲۷م)، کې د احداد ځوی عبدالقادر
د پلار ځای ونيولو او د شاه جهان د لښکرو سره جنګېده په (۱۶۲۸م)،
کې عبد القادر او کمال الدين په پېښور کې سره يوځای شو او د شاه
جهاني لښکرو سره وجنګېدل - په (۱۶۳۶م)، کې عبد القادر د شاه جهان
د حاکم سعيد خان په واسطه خپله مبارزه پرېښوده او د هند
دربار ته ولېږل شو - او په (۱۶۳۶م)، کې مړ شو او کريمداد يې جانشين شو
خو د شاجهان فوځونو هغه ونيولو او په پېښور کې اعدام کړی شو او د دې
روښاني غورځنګ (۶۰) کلن جنګ جګړې او ملي مبارزې هم د ملت ختم
شوې او د دې غورځنګ څرک يې باقي نه شو خو په (۱۶۶۶م)، کال کې
اخند چالاک خټک او ملک باکوخان يوسفزي راپيدا شو او بيا يې
د ملي آزادۍ بيرغ پورته کړ خو داورنګ زېب لښکرو هغوی ته
ماته ورکړه او ووهل شو - خو وروسته ايمل خان مومند او دريا خان افريدي

راپیدا شوچې د اورنګ زیب د صوبدار محمد امین لښکرې په خیبر کې په (۱۶۶۸م)، کې مات کړو او مرځه یې ترې ولجه کړه او حتی د محمد امین ښځه او مور او کډې یې هم بندیانې شوې چې بیا په حفاظت ورته واستولې شوې - او پښتنو د خپل عزت او شرف وساتلو اخر د هند د امپراطورۍ سره په مسلسلو جنګونو کې چې ډېر موده یې ونیوه او ایمل خان مومند په کرپه او بخاپخ کې په (۱۶۶۸) او (۱۶۶۲م) کې جسونت سینګ او شجاعت خان هندي سپه سالارانو ته ماتې ورکړې او و ېېې ورغی په ننګرهار کې د مغلي فوځونو سره ونښت ایمل خان یوا ځې پښتو مشروو چې د کنړ د صافو یوې پښتنې میرمنې ته مغلي فوځونو چې سپک نظر کړی وو او ایمل خان په دغه غیرت راپاڅېده او نور شینواری او افریدي په تېره دریاخان[۱] ادم خیل افریدی هم د خان ملګري کړي وو او د محمد امین د میرجمله د ځوی چې کابل کې صوبدار وو او په هغه خوا روان وو په خیبر کې راحصار کړو او ډېره مرګ شو له یې پکې وکړه او د محمد امین کډې هم بندیانې پاتې شوې او بیا یې ورته واپس واستولې آخر ایمل خان مومند د شګي په جنګ کې زخمي شو په مایا د مومندو کې مړ شو او په چنکور ادیره کې ښخ کړی شو او دریاخان افریدی د تیرا د راجګل په جنګ کې زخمي شو او د

---

(۱) غالباً په (۱۶۷۰م) کې مړدی او دریاخان هم په هم دغه وخت کې مړدی.

افغانستان خوست ته یوړ شو او هلته مړ او بنخ کړی شو- خوشحال خان ختک د دې د توري او قلم خاوند ملګری یواځې پاتې نه و هغه هم د خپلو خلکو او خپلو خاصو نه په تنګ شو او د افریدو ومېږي ته لاړ او هلته په (۱۶۹۱م) کې ناروغه او مړ شو او په اکوړې کې بنخ کړی شو د ۵۰ (۸۷) کاله عمر کړی وو او د شرقي خوا د پښتنو د هند د بابري حکومت په مقابل کې چې د (۱۶) قرن د اوایلو نه مبارزه پیل شوې وه د (۱۷) قرن د اوایلو پورې وچلېده او آخر د املي مبارزه د ځینو مذهبي تبلیغاتو او علماؤ له خوا چې ویلې د مسلمان بادشاه په مقابل کې جنګ کول ګناه ده. غلي شوه ؛

د خوشحال خان په باب خو پښتو لیکوالو ډېر څه لیکلي دي او د ایمل خان په باب او د دریاخان په باب مادوه رسالې لیکلي چې د ایمل خان په نوم رساله په کابل کې چاپ شوې ده او د دریاخان په نوم لا قلمي شته دي- دا د پښتو ملي مبارزه د (۱۶) قرن نه د اوایلو نه واخله تر (۱۷) قرن نیمایي نه هم وړ ته چلېده- او د هند مغلي حکومت ترې تر پوزې راغی.

د افغانستان په جنوبي خواکې

د هوتکو غلجو پښتنو مبارزه او د صفوي

د هوتکي دولت تأسيس

د ایران صفوي دولت او د صفوي سختګیرو حاکمانو د قندهار د ولس خلك ډېر په تنګ کړي وو او په خپلو منځو کې به یې بې اتفاقه کول او د زور او جبر حکومت به یې پرې کولو دلته دوه لویې ولې او قبیلې پښتانه لکه غلجي او دراني استوګن وې او هریوه دعوه لرله چې په دې منطقه هم زما د قوم خاني ده. صفوي دولت ته هم دا ښه موقع په لاس ورغلې وه او دواړه خوا به یې د خپلو غرضونو د پاره جنګول او ګټه به یې دوی ته راجع وه سلطان ملخي د غلجو د پخوانه د مغلي دولت نه یو د خاندان او مشري فرمان اخیستی وو او په لاس کې یې وو چې ان تر (۱۹) قرنه پورې د مغلي اورنګ باد شاه اعزازي فرمان چې د مشرې تمسك وو د غه کورنۍ په لاس کې درلود او همدغسې د ایران صفوي دولت هم په ایدالیانو

کې ملک حسین خان او شیرخان دوه تنو خانانو د ارغستان او تیهو
صفا ته فرمانونه ورکړې وو ملک حسین خان ته صفویانو منشور
او د میرزا لقب او آسونه او ښځې ورکړې شوې وو او هغه بل
ابدالي شیرخان ته د هند بابري دولت د شهزاده ګرګه خطاب
او انعامونه او اکرامونه ورکړه او د واړو یې دیو بل مخالفت
ته جوړ کړه او دیو بل سره به یې ضدیت او مخالفت کولو
دا جریان لا روان وو چې د ایران پادشاه په (۱۶۹۴م) کې مړشو
او په ځای یې شاه حسین صفوي پادشاه شو شاه حسین صفوي
یو تن ګرګین خان ګرجي چې صفویانو مسلمان کړی وو او په ایران
کې به یې ورانکارۍ کولې را وغوښت او قندهار ته یې د حاکم
په حیث مقرر کړو او قندهار ته یې ولیږلو ګرګین خپل یو
قوي ګرجي ګارد هم درلودلو او (۲۰) زره ایراني عسکر هم ورکړه شو
قندهار ته راغی او په ډېر شدت او سختۍ پرې حکومت کولو
پیل وکړو او دلته دی وپوهیده چې د هند بابري حکومت دومره
ضعیف شوی دی چې دلته د موږ سره رقابت نشي کولی او نه
ابدالي او غلجي خانان خان ته جلبولی شي . او نه یې د ایران
په ضد جنګولی شي نو د غلجو او ابدالیانو خانانو ته یې توجه نه
کوله - د ابدالیانو خان د احمد شاه بابا نیکه دولت خان خپل تربور -
حیات سلطان وهلی او د ملک نه یې د باندې شړلی وو ملتان ته

تللی وو او اوس دی پخپله دابدالي قبیلې مقتدرخان وو او د صفوي حاکم په مقابل کې به یې د خپلو منافعو دفاع کوله او مقاومت یې ښوده لو، گرگین دابدالي قبیلې د انقراض او بېلتون او ورکاوي په فکر کې شو او د دې مخالف شو چې پخوانو ایراني حاکمانو۔ خانانو دابدالي قبیلې خلکو ته یې ځایه مراعاتونه ورکړي دي او خپله توجه یې غلجو ته واړوله او لښکر یې ولیږلو د دولت خان قلعې په شهرصفا کې ورانه کړه او دولت خان اُو د هغه مشر حُوی نذر محمدخان یې بندیان کړه او ویې وژل خو د دولت خان دوه نور ځامن۔ رستم خان او محمد زمان خان د گرگین نه وتښتېدل او ارغستان ته ورغلل او پخپل ځای کښاستل گرگین هم کوشش شروع کړه او غوښتل یې چې دا دواړه ورونه په لاس ورشي۔ د رستم خان سره یې جرگه جوړه کړه چې د پلار خاني او هرڅه به تا ته درکړه شي او د هغه په ځای به خان شې خو خپل وړور محمد زمان به موږ ته یرغل راکړې، رستم خان دا خبره ومنله او خپل وروَ محمد زمان خان یې گرگین ته یرغل ولیږلو او هغه محمد زمان خا ن زندان ته واستولو ځکه چې گرگین د مازندران، قندهار، کرمان او گرجستان هم حاکم وو څه موده پس گرگین رستم خان مرکز د قندهار ته وغوښت او بندي او اعدام یې کړو او د هغه سر یې ایران ته په نېزه کې ولیږلو او دارغستان علاقه یې هم ترې راالندې

کړه او ټول ابداليان يې د خپلې علاقې نه فرار کړه ځوک ځوک شول او ځوک
ته او ځوک فراه ته لاړه خاني ياغي شوه او په مالداره يې پيل
وکړو او څه ابداليان هرات ته لاړل او تر اسفزاره خواره واره
شو ـ او ګرګين د ابداليانو په ځای د غلجو سره رابطه قايمه کړه
او د غلجو سره به يې بنه ګذاره او روش کولو او په خوا پوري
ښوک او پالل يې څو غلجيان هم پرهيدلي وو وړو وړويې د
ايرانيانو د سلطې مخالف شو او په قندهار يې د ايراني صفوي
دولت سلطه بده ګڼله او قومي افغاني غيرت يې راويښ شو
په دې وخت کې د غلجو په منځ کې يو شخص د سياست ـ
ميدان ته راووت چې فطري ذکا او افغاني غيرت او همت يې درلود
او هغه سړی ميرويس خان غلجي د شاه عالم خان ځوی وو چې د
بوتن د غلجو د هوتکو د قبيلې پرلوی خان وو، او په (۱۶۷۳م)
کال کې پيدا شوی وو او مور يې (نازو) هم د غلجو د قبيلې د سلطان
ملخي توخي لور وه ـ د ميرويس خان درې نور وروڼه هم وو چې يو
مير عبد العزيز او بل مير يحيی او دريم عبد القادر وو او دوه
يې زامن مير محمود او مير حسين او د ميرويس خان ښځه د محمود او
حسين مور د جعفر خان سدوزي ابدالي لور وه ـ د پښتنو عمومي
پيشه مالداري او زميندارې وه خو د ميرويس سره نور فکرونه
وو هغه د غه عنعنوی پيشه پرېښوده او تجارت ته يې مخ کړه

او قندهار یو تجارتي مرکز وو راغی او په قندهار کې واړول او د خلکو سره محشور او گوښه شو او د منځنۍ طبقې د خلکو نه حسابېده - او د خپلې قبیلې د خلکو سره یې هم د خالص پښتوانۍ روابط ساتل میرویس خان د بند دې نه د پردو ظلمونه تېرې، تبعیض او کینه د خپلو وطنوالو سره لیده او په زړه کې به ډېر کړېده خو وس یې نه وو میرویس خان ورو ورو حکومت او گرگین ته ورنږدې شو او د مالیاتو په ټولولو او نورو انتظامي امورو کې به یې گرگین ته بښې گټورې مشورې ورکولې او خپل لیاقت یې ښکاره کړو گرگین هم د میرویس د لیاقت او شخصیت نه متاثر شو او دی د قندهار کلانتر مقرر کړو چې دا رتبه د بلدیه د ریاست برابره وه، میرویس خان هم د دې وظیفې په دوران کې د قندهار د خلکو نور اعتماد هم حاصل کړو او خپل شخصیت یې نور هم ښکاره کړو او د قومي مشرانو او خانانو سره یې هم تعلقات ښه ساتل! خو د نږدې نه یې د پردو ظلمونه او تېرې لیدل او په دې پوه شو چې هرا خلک د خپل لاس په تناکو کښلي شته د پردو شل زره عسکرو په تغذیه او تقویه لگوي او په خان یې چورې دي د روند بار منلی دی او په دې هم و پوهېده که چېرته دا قوم یو شي نو دا پردي به بیا واپس بې - د وده حکومت نشي کولی او بیچله خپل حکومت به جوړ کړي او د افغانانو د راټولېدو او یو کېدو په فکر کې شو نو دې مهم کار

دپاره د عمومي مخ ملاحظې او ښه شهرت نه ورته عمومي اعتماد او اعتبار هم پکار وو - د قبایلو خانانو لاد مخکې نه دی پېژانده او د ښه سرېتوب یې قایل وو د ښار خلکو ته هم د ده د روېند خوی او ښه عادتونه معلوم شو او د خلکو پوره اعتماد او اعتبار پرې راغلی وو او د ابدالیانو ځوم هم وو او د غلجو نه علاوه د صفوي د اعتماد - وړ هم وو خلک نور د ګرګین د ظلم او تیرې نه د ېر په تنګ شوي وو - نو میرویس لومړی د صفوي پادشاه شاه حسین په عنوان د ګرګین د ظلمونو نه د خلکو د شکوې یوه عریضه ترتیب او ولیکله او ورو یې لیږله خود ایران دربار د ومره اغراضو او ماده پرستیو ښکار او کمزوری کړی وو چې نه یې داسې عرایضو او د خلکو اوریدی او نه لیدی شو په ځای د غوریځه میرویس او نور مشران چې په عریضه یې دستخطونه کړي وو بندیان ایران ته وغوښتل او د حکومت په ضد تورن و بلل شو - ګرګین وقاربد او نور یې هم ظلمونه پیل کړه او په غلجیانو یې زور زیاتی را واخیست ابدالیان خو د پخوانه لا څوک قرار او یې لایه او څوک بندي او رټلي او د ګلي او خفه وو میرویس هم د نږدې نه په اصفهان کې د شاهي دربار د فسادونو ننداره وکړه او په دې ښه وپوهېده چې د داسې یو فاسد دربار او ګنده نظام لرې کول څومره ډېر ګران کار نه دی نو اراده یې موږم هم قوي شوه او د شاهي دربار او اعتماد الدوله

سره یې رابطه پیدا کړه او خپله گناه او تورېي بې ځایه ثابت کړه او د باد شاه نه یې د حج د ادا اجازه وغوښتله او دا کار وشو!! میرویس په دې پوهېده چې د افغانانو په منځ کې یو خپل نفاق او بل د ملایانو نفوذ دی چې د حکومت په لاس کې دی که څوک د خپلې آزادۍ غږ پورته کړي د وی ملایان ورته وایي چې دیو اسلامي دولت په خلاف پاڅون گناه ده خلک نه پوهیږي او ددوی خبرو د دین خبره گڼي نو میرویس د حج د فریضې په دوران کې د دې کوشش هم وکړ چې د اسلامي مرکز د علماؤ نه د دې فتوا واخلي چې د ظالم بادشاه په مقابل کې پاڅون جهاد او ثواب دی او دا فتوا یې حاصله کړه شوه د حج نه پس بېرته اصفهان ته راغی په دې وخت کې د روس د تزاري حکومت نوی سفیر یو ارمنی د «اسرائیل» په نوم مقرر شوی وو او دا ډېر مالدار شخص وو او موډې مودې یې په روسیه، فرانسه او جرمنۍ کې تجارت کړی وو او ډېر شتمن وو او آوازه وه چې دا سړی د روس په سازش غواړي چې د ارمنستان په ایراني برخه کې خپل حکومت جوړ کړي- دې ارمني وو او گرگین هم ارمنی وو نو حکومت د گرگین په ډېر رسوخ هم بې اعتباره شوی وو او د ده نه مخالف تکی بس میرویس خان وو حکومت میرویس خان بېرته د قندهار په کلانتره مقرر کړو او د غلجو د خانۍ تصدیق هم د دربار نه وکړه شو او وطن

ته راستون شو په لاره کې یې خلك او ملایان د حکومت او د حجاز د علماءو د فتوونه خبرول او اکثر خلکو ورسره فکري اتحاد وکړ او د عملي اقدام وعدې هم ورکړې میرویس قندهار ته راغی او پخپل کار مصروف شو په ظاهره خو یې ګرګین ته اطاعت کولو خو په پټه د خلکو سره په تماس او جرګو مرکو لګیا وو چې څنګه ملي آزادي ترلاسه کړی شي، خو په قندهار د ګرګین قوه او عسکري زور مسلط وو ددې د پاره هم تدبیر وشو چې دا عسکري قوه د ښار نه په څه بهانه لرې شي، کار داسې وشو چې یو تن بلوڅ مشر د مالیه د ورکړې نه انکار وکړ او ګرګین ورپسې لښکر ور واستولو چې بلوڅان ووهي او د تېرې مالیه راټوله کړي له بل پلوه د ارغستان کاکړانو هم د مالیې د ورکړې نه انکار وکړ او ګرګین په دې لا په قهر شو او پخپله د یاټ لښکره سره هغه خوا ورغی او د ښار نه ورووت او د هغو په ځپلو، وهلو او ړنګولو بوخت شو - په دې وخت کې میرویس ورته پخپل باغ «ده شیخ» دارغستان کې یوه میلمستیا ګرګین ته ورکړه او میله ئې کړه او خلك یې ورته تیار کړي وو ګرګین په ملمستیا کې ډېر شراب څکلي او بې خوده پروت وو، خلکو د میرویس په حکم په هغه حمله وکړه او ګرګین او نور فوځیان یې ټول ووژل او وسلې ترې واخیستلې او د درې زره لښکر او سره میرویس خان د -

قندهار ښار ته ور ننوتل شو او ورځ دروازه وانانو په دې
چې ګونډې د ګرګین سورلی را ورسېده د دروازې یې لرې کړې
او د میرویس خان لښکر ښار ته داخل شو او ټول پردي لښکر او
د ګرګین کومکیان چې وو هغه یې د خنجر په وژل او د ځپل
ملي آزاد حکومت اعلان یې په کال (۱۷۰۹م)، کې وکړ او د ولس
ټول خلک غلجي، دُراني، تاجک، ازبک، هزاره او بلوڅ ټول
یو ځای شو او ټول یوه خوله او یو لاس شو او په یو صف
کې د پردو په مقابل کې ودرېدل.

په قندهار کې د هوتکو دولت

د ۱۷۰۹م نه تر ۱۷۳۸م پورې

د قندهار هوتکي دولت د افغانستان د مکملې آزادۍ لومړی ـ
زېری وو ځو د ټول افغانستان په راټولېدو کې ډېر مشکلات وو
په غرب کې سیستان، فراه، مروه، نیشاپور، هرات او مشهد باندې
پردي ایراني لښکرې وې، شمال خوا پر لرې او په منځ کې ډېر
موانع وو او په شرقي خوا د هند بابري دولت آن تر غزني پورې
مسلط وو په لومړۍ مرحله کې میرویس خان نیواڅې د قندهار په

آزادۍ او خپلواکۍ او ودانۍ او انتظام اکتفا وکړه او خپل ځان
یې هم د باد شاه په نوم معرفي نکړ او هم هغسې د نورو مشرانو
په شان یو ملي مشر وو خو خلکو ورته د ډېر احترام درلود او
د حاجي میرخان په نوم یې دی ملي مشرانه او هغه یې کوله
میرویس خان د قندهار د ښار انتظام وکړ او قومي داوطلب
لښکر یې راټول کړ او د ایراني حملې د مخنیوي د پاره یې ځان
برابر کړه او د ټولو نه مخکې د ګرګین په هغه برخه فوځ پسې لښکر
ولېږلو چې مخکې تیري ته د بلوڅو د وهلو د پاره لېږلی شوی وو
د ګرګین لښکر هم د ګرګین د واقعې نه خبر شوی وو او د ښو په
وېښتو وو او روان وو خو په مخه د میرویس خان لښکر ورغی
او راګیر کړ و خو ایراني لښکر د ګرشک خواته مخه وکړه خو -
افغانانو پرې شپنودل او اکثره لښکریان یې ووژل شو او صرف (۱۶)
تنه ایله په خوارو اصفهان ته ورسېدل او ایراني مرکزي حکومت
یې د ګرګین د انجام نه خبر کړ وخو ایراني حکومت چې تر څو ځان -
جوړاوه میرویس خان خپل ځان او خپلې قواوې ښې سمبال کړې
وې او خلک یې ترشا ښه په کلکه ولاړ وو میرویس خان
پر لیک په دې وخت کې د هند بابري دولت ته ولیکلو او د -
قندهار د خلکو د اقداماتو او پاڅون نه یې خبر ورکړ او ورته
یې لیکلي وو چې د دې ځای خلک د ایراني فوځونو د اقداماتو

کټومکي دی ستاسي پاملرنه هم غواړي.

او بل پر دا سېي او ولیک یې صفوي دولت ته ولیکل چې زه
دخپلو زمکو دلیدو د پاره هغه خواته تلل وم خو خلک د ګرګین د
ظلمونو نه ډېر په تنګ شوي وو د هغه پرخلاف یې پاڅون وکړو
او دغسي واقعات منځ ته راغله چې تاسي به ترې خبر یاستئ خو مرکزي
حکومت او دربار دې د مغرضینو خبرې نه اوري او حوصله دې
وکړي دا مسئله حل کېدونکې ده او زر به امنیت قایم شي انشاء الله -
خو دمیرویس خان دغسې خبرو د ایران حکومت کله قانع کولی شو؟ خو
د ایران د حکومت فوري اقدامات څه څنډ کړی شو او د قندهار
سره یې لوړې د خبرو په واسطه په علیاقلاس پوره کړو او قندهار
ته یې بیرته جاني خان نومی قندهار ته ولېږلو چې د قندهار او ضاع
نه ایران بنه خبر شي - جاني خان میرویس خان ته په مذاکره کې ښکاره
کړه که افغانان ایراني فوځونه په قندهار بنارکي ومني نو ایراني دولت
به دګرګین د وړشي او دلبنکر د تاواني کېدو نه تېر شي خو دا د-
افغانانو د منلو وړ خبره نه وه میرویس خان - جاني خان څه وخت
په خبرو اترو تال کړو خو چې ونشوه او هغه تلل غوښتل نو بندي
کړو چې د ایراني فوځي حرکات نور هم معطل شوا فغانانو د قندهار
قلعه بنه کلکه کړه او وسلې او خوراکي شیان یې هلته بنه راټول کړه
او میرویس خان پوره واوه شو - د ایران د دولت استازی چې څنګه

شو او پته یې و نه لګېده چې صفوي ایراني دولت مشوش شو او د عسکري اقداماتو په لټه کې شو او په دغه حال کې لس زره لښکریې په (۱۷۱۰م) کې د محمد خان د هرات د والي په مشرۍ کې قندهار ته ولېږلو محمد خان د میرویس خان ذاتي دوست او د حج د سفر ملګری هم وو محمد خان هم پر استازی میرویس خان ته رالېږلو او د شاه ایران هغه پخوانۍ خبرې ټولې ورته وې چې پکې ویلي شوي وو چې ایراني فوځونه که افغانان په قندهار کې په قرارګه پرېږدي نو ایراني دولت به د قندهار حکومت میرویس خان ته ورکړي خو میرویس خان د دې خبرو په پس منظر بنه پوهېده ـ هغه د محمد خان استازی هم بندي کړ او محمد خان ته حکم وو هغه قندهار ته چټک فوځونه رامخ کې کړو او د ځلي په نېټ ټولو ولان شو میرویس خان هم د (۵) پنځه زره مزي لښکره سره مخې ته ورغی که څه هم چې په فوځي مشقونو بلد نه وو خو په جنګ کولو کې د لوړو معنویاتو خاوندان وو چې کله فوځونه مخامخ شو نو افغانانو ټینګ نه شو او پیاده او سواره په ایراني لښکر یرغل وکړ او د هغه منځ یې وواهه او ایراني لښکر په ماتې سره شو او چټک مشر محمد خان او پور زر تنه مړي یې په میدان کې پرېښودل، د ایران حکومت چې د دې ماتې نه خبر شو نو (۳۰) دېرش زره لښکر یې د ایراني او ګرجي افرادو نه تشکیل کړ او د ګرګین د ورور خسرو خان ګرجي په مشرۍ کې

یې قندهار ته په (۱۷۱۱م) کال کې راولېږلو - دا لښکر د هلمند سره
د میرویس خان د مدافع لښکر سره مخامخ شو نو د میرویس خان
لښکر د وېرې نه وروچې د ایراني لښکر مقابله یې کړې وای نو مجبوراً
وروسته شو او د قندهار د ښار تعبیه وکړه او د خسروخان لښکر
یې پرېښود چې مخکې ورشي ، خسروخان د راتګ په لاره په کرمان
کې محمدزمان خان ابدالي چې هلته د پخوانه د ایراني حکومت یرغل
وو راضي کړو او د ابدالیانو په مشرکه ورمانه او د خان سره یې
قندهار ته راوستلو خو غلجو مشرانو لا پخوا عبدالله خان د حیات
سلطان ابدالي خوی چې په ملتان کې وو د ابدالیانو د مشرکه -
د پاره رابللی وو او هغه د غلجو سره د ابدالي مشر په حیث موجود
وو او صلا او مشوره یې ورسره وه - زمان خان هم د خپلو ګټو نه
د قام ګټې بنې ګڼلې او د عبدالله خان سره یوځای شو او تېرې جوړې
او تربګنې پرېښودلې - حسروچې د ابدالیانو نه ناامیده شو نو
نو قندهار یې محاصره کړو خو خلکو د ښار نه بنه په مېړانه مدافعه
وکړه میرویس خان د ښار نه د باندې وو او خلک یې راټولول او
دوی به یې تېرې جوړولې ترڅو چې د لښکر د تګ راتګ او خوراک
لارې یې وترلې - خسروخان چې دا حال ولید نو څو جنګ ته یې
زوړ ورکړو او میرویس خان د شانه د (۱۶) زره لښکر سره یې
راغی نو د ایراني لښکر پښنه وبنو بدله او په تېښته شو خو د ولسونو

خلک هم په ځان ورته ناست وو چې څوک به پلاس ورغلل وسلې به
یې ترې اخیستې او ځفه به یې وژل ایله په خوارو څو سوو تنه
ایرانې ولمن ته خلاص شو په دې کال (۱۷۱۲م) کې افغانانو بښه-
ګټه وکړه او قندهار بنه کلک شو خو په (۱۷۱۳م) کې دایران بل
لښکر د کرمان نه د محمد زمان خان په مشرۍ قندهار ته راولیږل شو
خو دغه لښکر په لاره کې د ولس خلکو تالا والا کړو - میرویس خان
د فراه او د ایرانې بریدونو نه واخله د قلات او مقر پورې افغانې
ولس خپل ملي مشر او رئیس وبه په احترام ورمانه خو د بده مرغه
دده ارمانونه لا پوره نه وو چې په (۱۷۱۵م) کې د (۴۱) کالو په
عمر کې یې د دې دنیا نه سترګې پټې کړې او وفات شو او د قندهار
په کوکران کې ښخ کړې شو - د میرویس خان د مرګ نه پس قوې
(۴۰) ځلوېښت تنې جرګې د میرویس خان د خدمتونو په اثر د هغه
ورور عبدالعزیز خان خپل مشر و ټاکلو - ځکه چې د میرویس خان
ځامن محمود (۱۸) کلن او حسین یې (۱۴) کلن وو ، خو عبدالعزیز خان
د دې قیادت او مشرۍ اهلیت نه درلود او په اول کې ترې عبدالله
خان د حیات سلطان خوږی او محمد زمان د دولت خان خوږی ابدالیان
بېل شول او د خپلې قبیلې سره د قندهار نه ووتل او هرات او فراه
او اسفزار ته چې د مملکت د غربي حصې او برخې ګڼل کیږي لاړل-
د غلجي ملي رور مشرانو سره هم د بېلتون فکر پیدا شو او میر عبدالعزیز

د میرویس خان په شان د قوي ارادې او لوی عزم خاوندخو نه وو هغه سړی هم د وطني مشرانو او ښیرو الامنو نه ویره پیداشوه او د هرچا د مشورې نه په غیر یې د صفوي دولت سره خبرې پیل کړې او د ایران د دولت نه یې غوښتي ووچې عسکر دې قندهارته نه رالیږي او مالیه دې نه غواړي او نور دې د کورنۍ حکومت دې ـ هوروڼې تصدیق کړي نه به ایراني حکومت ومنم ، نو خلکو ته چې د میرعبدالعزیز داسې خبرې افشا او ښکاره شوې نو ټولو خلکو ، خانانو مشرانو او د میرویس خان کورنۍ پرې پاڅون وکړو او د مخالفینو په سرکې میرمحمود د میرویس خان ځوی وو او اله ګوله جوړه شوه او میرعبدالعزیز ووژل شو د عبدالعزیز د حکومت یو کال لا نه وو پوره شوی چې په افغانانو کې دا درز پیښ شو او غلجیان هم دوه ډلې شو خو جرګې بیا غونډه وکړه او (۱۹) کلن محمود یې د شاه محمود په نوم د عبدالعزیز په ځای انتخاب کړو او د میرعبدالعزیز ځوی اشرف چه وروسته شاه اشرف شو هم په دې جرګه او دې بیعت کې شامل وو.

د شاه محمود سلطنت

د (١٧١٦م) نه تر (١٧٢٥م) پورې

څنګه چې شاه محمود په قندهار کې بادشاه کېده نو په هرات
عبدالله خان ابدالي حمله وکړه د ایرانیانو نه ئې د هرات حکومت هلته رالاندې
کړو او د ملي استقلال اعلان ئې وکړو او د هغه نه پس د هغه زوی اسدالله
موږ د هغه خوا و شا علاقه هم د ایراني فوځ نه پاکه کړه خو دې ئې
تجربه نه لري وه په دغه ئې صبر ونکړو او په فراه ئې هم لښکر وکړه
او د غلجو نه ئې د فراه حکومت هم ونیولو او د دې حرکت نه زوړه
پخواني د ابدالیانو او غلجیانو ورک مخالفت بیا پیدا شو چې دا د افغانانو
د دې ملي نهضت او حرکت د پاره ضرور ضرور او مضر وو د ا
او میرویس خان په خپله عقلمندۍ وژلی وو - د اسدالله زوی
منډی غلجیان هم را او پارول او شاه محمود هم فراه ته لښکر وکړه
او په دلارام کې د دې دواړو لښکرو په مخامخ کېدو جنګ جوړ
شو او اسدالله پکې ووژل شو او لښکر ئې مات شو او د ابدالیانو
زور د هرات حکومت هم متزلزل شو او عبدالله خان هم د هرات
د حکومت نه استعفیٰ وکړه او د هرات حکومت به کله د یو خان

او کله دبل خان په لاس کې وو، دغه د لښکر په وخت کې دسیستان خلک هم شاه محمود ته راغلل او د هغه تابعیت یې ومانه او د هر رنګه مرستې وعدې یې ورکړې.

دایران لاندې کول د (۱۷۲۱ام) نه تر (۱۷۲۹ام) پورې

شاه محمود د خپل نوي حکومت او انتظام او کور جوړولو په ځای پر پښو دروه او د ایران د صفوي دولت سره پنجې ورکولو ته په پام شو ځکه چې د ایران خلک په دغه وخت کې د صفوي دولت نه پوره تنګ راغلي وو او دغه حکومت ډیر فاسد او ګنده شوی وو او خلک ترې بېزاره وو چې وهل یې څه ګران کار نه وو!! او بل په دې وخت کې د پښتنو افغانانو مخه هم د خپل منځي اختلافاتو نه بل پلو ګرځول شوي وو!! اوچې پخپلو منځو کې چې جګړې کوي دا د دې په ځای دې باید د پردو سره مخامخ شي ایرانیان هم په دې وخت کې خوځېدلي وو او الې ګولې وې «لزګیانو» په شیراز کې پاڅون کړی وو او بنارې نیولی وو او په کال (۱۷۲۰ام) کې لرستان هم بغاوت کړی وو او آن دکرد ستانه پورې یې اغېزه کړې وه

او بلوڅانو هم شورش کړی وو او بندر عباس یې په (۱۷۲۱م)، کې ونیولی وو، شاه محمود هم افغانان د خپلو کورنیو جګړو نه د ایران سره د ایران سره جنګ ته ورمخ کړه او خپل ورور حسین یې په قندهار کې پرېښود او اشرف د ترة حوي ورسره وو شاه محمود په لومړیه حمله کې (۱۷۲۰م)، کې کرمان قلعه بند کړو خو صفوي دولت مقاومت وکړو او محاصره اوږده شوه او د صفوي دولت دوزر کومک هم چې د لطف علي خان په مشرۍ کرمان ته را ولېږل او د قندهار نه هم د خپلو واقعاتو خبر شاه محمود ته راغی لکه د سلطان حسین لخوا ، فراهي پاڅون هم په قندهار کې یې د ملك جعفر سیستاني سره جوړ جاړ کړی وو چې هغه به د بنده نه خلاص کړي او د خان ملګری به یې کړي - شاه محمود دې خبرو مشوش کړو او د کرمان قلعه بندي یې پرېښوده او بېرته وطن ته راستون شو خو دې چې تر څو را تللو خلك را پاڅېدلي وو او د حسین او ملك جعفر کار یې خلاص کړی وو او هغوی وژلي وو او شورش یې ورك کړی وو- شاه محمود په (۱۷۲۱م)، کې بیا د افغانانو پښتنو او بکو هزاره تاجکو او نورو قومونو نه (۲۸) زره لښکر جوړ کړو چې یوه زمبورکه توپه هم ورسره وه چې په اوښ به باریده او تر (۴۰۰) متره پورې منبه به یې ویشتلی شوه - شاه محمود د کرمان په لار په ایران بیا ورغی او کرمان یې لاندې کړو او ورپسې

یې اصفهان ته مخه کړه که څه هم د ایران خلک د صفوي دولت نه په تنګ وو او د کار سړي چې څوک وو فتح علي خان او لطف علي خان څوک یې رانده کړي وو او څوک بندیان وو او د ولس د خلکو د صفوي دولت سره هیڅ علاقه نه وه او په وړکاوي پسې یې وو هو! په اصفهان کې (۵۰) زره عسکري قوه موجوده وه چې ښه قوي توپخانه یې هم درلوده - شاه محمود د کرمان نه اصفهان ته ورمخکې شو او بې جنګ جګړې د اصفهان (۱۰) میلی «ګلنا آباد» ته ورسېد شاه حسین صفوي د خپل ایراني قوم بې علاقه ګۍ چې ولیده د خپل صدراعظم محمد قلي خان سره یې صلا وکړه او خپله کمزوري یې ولیده او په صلا د شاه محمود سره خبرو ته جوړ شو او شاه محمود ته یې د صلح پیشنهاد وکړو ورته ویې ویلې چې شرط به داوي چې شاه محمود ته به (۲۷) زره طلا ورکړی شي او دی دې بېرته وګرځي خو شاه محمود ونه منله او پیشنهاد یې وکړ چې صلح پدې ټکو کېدی شي چې :-

اول :- د خراسان ټوله علاقه چې د افغانستان د طبیعي خاورې جُز دی افغانستان ته پرېښودلی شي.

دویم :- صفوي شاه دې د خپلې کورنۍ یوه پېغله سره د (۱۲۵) زره طلا جهیزه سره شاه محمود ته ورکړي -

په دې شرائطو د ایران دربار متردد وو چې څه وکړي؟ په

دې کې د خراسان حاکم عبدالله خان مخالفت وکړ او جنګ ته يې د پادشاه توجه وګرځوله او د جنګ بندوبست وشو او د اصفهان نه (۵۰) زره عسکر د (۲۴) توپونو او نور د شاه محمود مقابلې ته راووته. دا ډېر سخت جنګ وو او د ايران توپخانې د افغانانو لښکر ډېر تاواني کړ او عبدالله خان د خراسان والي په جنګ وکړ او څينې افغانان يې بنديان هم کړه خو امان الله خان افغان افسر د سور وحمله وکړه او په توپخانه واوښتل سره د دې چې ډېر افغانان ووژل شو خو توپخانه يې راالاندې کړه او اوس د هغه توپخانې او توپکو مخه ايراني فوځ ته شوه او د ايران د لښکر تاوان لږ وو ډېر (۲۵) زره تنه وه سره چې سيد احمد خان د توپخانې قوماندان او د شاهي غلامانو قوماندان رستم خان هم په دې مړ وو او د ايران لښکر ماتې وکړه او افغانانو د خپلو سيلاو سره وربسې ورپسې ترڅو چې په اصفهان ننوتل او دومره تاريدلي ورچي افغاني بنديان قتل وژل. چې په افغاني بنديانو کې د شاه محمود د کورنۍ هم درې تنه خپلوان وو، دا نامردانه اقدام د دې سبب شو چې ايراني بنديان هم افغانانو ووژل او د دواړو فرقو او بادشاهانو دښمنۍ يې نوره هم ډېره کړه او ايراني لښکر د بادشاه شاه حسين او کورنۍ يې چې د خلکو د کومک او مرستې نه محروم وو په ښار کې محصور پاتې شو او افغاني

لښکرو ښار له هرې خوا محصور کړو او هيڅوک يې تګ راتګ ته نه پرېښودل او خوراک څښاک په ايراني لښکر له د باندې نه ورول شو او څومره چې محاصره اوږده شوه هغومره د ښار خلک نور هم نااُمېده کېدل او اخر اووه مياشتې پس ايراني لښکر او بادشاه په تنګ شو او شاه حسين ته تسليمېدو ته جوړ شو او په (۱۷۲۲م) کې شاه حسين پخپله سره د دربار د مشرانو د شاه محمود هوتک افغان اردو ته ورغی ، شاه محمود د مات شوي بادشاه احترام او استقبال د پاره ور پاڅېده او مخې ته ورغی او د واړه په پوتخت کېناستل افغان بادشاه په دغه وخت کې (۲۵) کلن وو او صفوي شاه حسين پوخ سړی وو او (۳۰) کاله څوړې سلطنت کړی وو افغان شاه ورته د پلار خطاب وکړو او ورته ويل چې دنيا دغسې بې وفاده کله د يو چا سره او کله د بل چا سره وي او د دې ټولو چارو واک د خدای جل جلاله پلاس کې دی چې چا ته يې ورکوي هغه مختار دی - زه به کوشش کوم چې ټولې چارې ستا په صلا او مشوره پوره کړم او ستا د رضا نه به چپ (غږ) کار نه کوم شاه ايران د دې په ځواب کې چنل شاهي تاج شاه محمود ته په سر کړو او مبارکي يې ورکړه - بله ورځ شاه محمود اصفهان ته ورغی او خزانې او وسلې يې را لاندې کړې او ځای او معاش يې د شاهي کورنۍ د پاره ورښودلو ، شاه محمود چې اصفهان را

لاندې کړ، نو نور د افغانستان پایتخت یې پرېښود او اصفهان یې خپل مرکز او پایتخت اعلان کړ او شاه حسین خپل وروره یې چې ور سره وو هغه یې د قندهار د حکومت کولو ته مامور کړ او ور ویې پرېښو، افغان مشران وو چې د شاه محمود سره په ایران کې حاضر وو نو شاه حسین ته د قندهار په حکومت کې څه خاص مشکلات نه وو او بیا په خاطر جمعۍ یې حکومت کولو او پخپله شاعر او لیکوال هم وو، په دغه وخت کې د پښتو ادب د پاره شاه حسین ډېر کارونه وکړه چې اثار یې شته [illegible] ویلی شي چې «پټه خزانه» هم د دې په وخت کې محمد هوتک لیکلې وه. چې بیا وروسته استاد حبیبي را پیدا کړه او د پښتو په ادبي تاریخ کې ډېر موثر کتاب دی او ډېر معلومات لري [illegible] شاه حسین د لیکوالو او علماوو ډېر قدردان هم وو.

شاه محمود په ایران کې ډېر معقول حکومت پیل کړ [illegible] فوځ ته یې حکم ورکړ چې د یو فاتح فوځ په حیث [illegible] په مال او ځان تېری او تجاوز نه کوي خو د ایران شهزاده او [illegible] ولیعهد طهماسپ میرزا لاړ او په شمال د ایران کې په قزوین کې حاکم شو او ملت یې ځای او مقر ونیوه او د ترکیه دولت او د روس دولت هم د افغاني دولت د دې دومره لوی فتحې نه ویرېدلو او د طهماسپ میرزا کومک یې کولو او د ایران فیوډالان هم

پخپلو ښتو او مال دولت و ویرېدل او ګمان یې کولو چې افغان حکومت به له دوی نه قول شته ضبط کړي نوله دې وېرې نه یې لښکرې - ترلرلې او د طهماسپ میرزا مرسته او کومک یې کولو - شاه محمود د مملکت چارې ورېې بنې اداره کولې او امن او امان یې قایم کړ او سوداګرو ته یې هرځوک چې وو تجارتي تسهیلات یې پیدا کړه او ایراني افسران او کارداران یې پخپلو کارو بېرته مقرر کړه او ورېې تاکل او د تېر حکومت خائینانو ته یې هم سزاوې ورکړې حو ا افغان هرڅنګ شاه محمود ته د پر مشکلات په مخکې وو - میرزا طهماسپ په قزوین کې د خپل سلطنت اعلان وکړو سره ددې چې کړ رنه یې د شاه محمود پلاس کې وه میرزا طهماسپ د اذربایجان خواته لښکر روان کړو په دې وخت کې د دې سره مصروفیت له کبله د شاه محمود په صحت او اعصابو هم اثر پرېوت کوم هم چې د طهماسپ لښکرې یې په شاکړې او طهماسپ میرزا د روس او عثماني دولتونو نه کومک وغوښت او په عوض کې یې د ایراني مملکت شمالي او څه غربي برخې هغوی ته پیشکش کړې په دغه وخت کې د روس بادشاه پطر کبیر د رومانوف د سلسلې نه دی او د ده سلطنت د ۱۶۸۹م نه تر ۱۷۲۵م کاله پورې وو او هم د ده په وخت کې لویه روسیه تشکیل شوې ده - او روس د دنیا د لویو دولتونو په ډله کې ور ورېدلی دی.

په دې وخت کې د قزوين خلکو پاڅون وکړ او د شپږ په
افغاني لښکر راغلل او ډېر مرګ ژوبله يې په افغاني لښکر کې وکړه
دې واقعې د شاه محمود ناروغي هم ډېره کړه او اعصاب يې نور هم
ډېر خراب شو او په هرڅه بدګمانه هم شو او دې ته ډېر نږدې
اشرف هوتک د مير عبدالعزيز زوی او امان الله هم د شاه محمود
نه ووېرېدل او وتښتېدل او قندهار ته لاړل - خو شاه محمود
بيا ورته وليکل چې دا مناسبه نه ده چې ما يوازې د ايرانيانو په
مقابل کې پرېږدئ راشئ او خپله برخه خدمت وکړئ، اشرف
او امان الله په دې اړ د ګه لښکره سره بېرته ايران ته راغلل
او شاه محمود اشرف د افغاني لښکر سپه سالار وټاکلو - او
اشرف په لښکر کې هم ګرانښت درلود.

د (۱۷۲۸م) نه د شاه محمود عصبيت او ناروغي نوره هم ډېره
شوه او د خلکو نه يې ځانله (منزوي) شو او په يوه توره کوټه کې
يې ځان بندي کړ، دوه مياشتې پس چې د کوټې نه راووت د
پېژندګلو نه وتلی وو - او دومره هيجاني شوی وو چې د خبرې توان
يې نه وو او د افغاني لښکر او مشرانو د وژلو نه چې ايرانيانو کړي
وو خبر شو نو د بادشاه د کورنۍ څيني خلک يې ووژل او پخپله
شاه حسين صفوي او دوه وړه ځامن يې ژوبلي وو او هغه وخت چې
شاه محمود هغه وليد په خود شواړ پخپلو کړو پښېمانه شو خو بيا يې

د پښېمانۍ څه ګټه وه؟

د شاه محمود ناروغي نوره هم پسې ډېره شوه او اخر فلج د ګوزڼ مرض پرې راغی او فلج شو او په کټ پروت او په کال (۱۷۲۵م) کې چې د پطر کبیر روسي د مرګ کال دی شاه محمود (۲۸) کلن افغان پادشاه مړ شو او څوک وايي چې اشرف د خپل پلار د وژنې په انتقام کې وواژه - او دا افواه په قندهار کې هغه وخت خوره شوه چې میرحسین د شاه محمود ورور د هغه مړ پادشاه ورور فاتحه اخیسته او وې ویل چې زما ورور اشرف د خپل پلار عبدالعزیز په بدل کې وواژه، هغه وخت (۱۷۲۵م) کې میرحسین په قندهار کې د خپلې پادشاهۍ اعلان هم وکړ او غلجیان دوه ویش شو او قندهار دایران نه بیل شو او په نتیجه کې غلجي دولت د ایران نه لاس په سرشو د شاه محمود د مرګ نه پس په ایران کې د افغاني مشرانو جرګه کېناسته او پرېکړه یې وکړه او اشرف سپه سالار یې خپل پادشاه وټاکه او د فوځ سپه سالار مشهور سیدال خان ناصر مقرر شو دا سړی له دې نه وړاندې چې یو ماهر او زړور سپاهي هم وو او د پښتو شعر بښه شاعر او عالم هم وو.

د اشرف د سلطنت دوره

د ۱۷۲۵ م ، نه تر ۱۷۲۹ م ، پورې

شاه اشرف باد شاه خو شرخو په دې پوهېدلی وو چې د افغاني دولت د ایران په خاوره کې له دې کبله چې خارجي دوه لوی دولتونه هم مخ ته را ولوېده لکه روسیه او عثماني دولت نو زیر دوام کول گران کار دی- شاه طهماسپ د شاه حسین صفوي مشر - ځوی او ولیعهد وو د اصفهان او د شاه حسین د تسلیمیدونه پس لاړ او په قزوین کې یې د بادشاهۍ اعلان وکړ او د ولس د خلکو نه یې د استمداد او کومک هیله وکړه ، خو د خلکو د صفوي دولت نه زړه چاودی وو هیچا هم د ټینگ کومک وعده ونکړه نو چې د ملت نه ناامیده شو ، طهماسپ د ایران طبیعي خاوره په فروش کې واچوله او د غرب خوا یې عثماني دولت ته پیشکش کړه او د شمال خوا یې د روس پطر کبیر ته وړاندې کړه - عثماني دولت لا د پخوا نه دې کار ته لېواله وو زر تر زره یې خپل فوځونه همدان او ایروان او طبریز ته را ولېږل خو د طبریز خلکو د فاع او مقاومت وکړ او جگړه یې وکړه او د ماتې نه پس بل ځای ته په هجرت لاړل

خو د عثمانیانو اسارت ته تسلیم نه شو. عثماني دولت د روس سره
د ایران د ویش په مسئله هم موافقې ته رسېدلی وو. شاه طهماسپ
بیا هم په عثماني یو شرقي دولت هم خانله اکتفا ونکړه او خپل استازی
اسمعیل بیګ یې د روس پطرکبیر ته ان پیطوګراد ته ولېږلو
او د شمال خوا د ځمکو د پیشکش پیشنهاد یې ورکړو او روس دا
پیشکش ومانه او په (۱۲ سپتمبر ۱۷۲۳) کال کې اسمعیل د طهماسپ
نماینده د روسانو سره داسې قرارداد امضا کړ چې د دربند ښا[ر]
او د باکو بندر یې سره د توابعو مربوطو ځمکو او صفحه ځایونه چې
په دغه ښارونو پورې تعلق درلود روس ته ورپرېښودل او د
ایران دولت او پادشاه د دغه ځمکو نه بېزاره شو په دې طمعه
چې افغانان به ماتوي او له ایرانه به یې وباسي او د ایران تاج
او تخت به ماته بیا ترکان او روسان راکوي. روس هم [illegible]
او د باکو بندر یې ونیوه او مسلط شو. شاه اشرف او [illegible]
دولت ورپېدېده چې د غرب او شمال له خوا ورته د وه لوی قوي
امپراطورۍ رامخکې شوې جنوب خوا یې بحر وو او هوتکی د [illegible]
څه بحري قوه هم نه درلوده او د شرق په خوا یې د سیستان نه
نیولې د اوسني خراسانه پورې د محمود خان سیستاني حکومت چلېده
چې د هوتکي افغاني دولت سره یې هیڅ ارتباط هم نه ووا و
هغې شاته ورپسې ابدالي افغاني حکومت په هرات کې وو چې د

هوتکو سره یې پخوانۍ دښمني وه، هوتکي دولت او شاه اشرف
د مختلفو مشکلاتو سره مخامخ وو چې یو پلو ته یې د ایران ځینې خلک
او مالداره، شتمنه، طبقه د شاه محمود نه زوره یدلې وه او د افغانانو
نه یې کرکه کوله او مخالف سازشونه به یې کول د بل پلوه -
غلجي هم سره یو فکرا و یو لاس نه وو - اشرف ته د طهماسپ
نمایندګان او ملګري یې میرزا صفي نومی او سلطان محمد را پاخېدلي
وو او د طهماسپ د پاره یې وسلې او لښکرې ټولولې - بل پلو د
عثماني دولت او روسیه د حملو وېره هم په منځ کې پرته وه او
ور سره ویل کېده چې د اشرف پخوانی ملګری او تکړه غښتلی بریالی
امان الله خان هم په پټه د شاه طهماسپ سره جګړې مرکې لري سره
د دې ټولو مشکلاتو شاه اشرف مایوس او نا امېده نه شو او په
جرأت یې حینل کار پیل کړو او د خلکو سره یې ګذاره او مداره کوله
د چا چې شاه محمود مالونه ضبط کړي وو هغه یې بېرته ورکړه
او پخواني کار داران یې په کار ولګول د شاهي کورنۍ ټول مړي
په ښه د ول او احترام او تشریفاتو بیا ښخ کړه - او میرزا صفي
او سلطان محمد چې یوه په فارس کې د باد شاهۍ ادعا کوله او بل یې
په بناورا او بلوچستان کې د صفوي دولت ځان وارث معرفي -
کړی وو خو د واړه یو په بل پسې پخپلو سپا یانو زبردست خان
ه مغه ویو ړل او سبدال خان افغاني سپه سالار د طهماسپ -

عسکري قوې ته په طهران کې ماتې ورکړه او قزوين يې ترې هم لاندې کړ او يزد او کرمان يې هم بېرته ترې ونيول او طهران او قم او سامره تسليم شول شاه اشرف د مرکزي قدرت د استحکام د پاره د خپل زاره ملګري امان الله نه په دې چې د شاه طهماسپ سره يې پټه رابطه لرې تېر شو او هغه يې و واژه خود هغه په مرګ نور غلجي هم خفه او د رد بدل . شاه اشرف د عثماني ترکي او روسي لښکرو څارنه هم کوله او په دې داخلي جنګونو کې يې هم د ېره قوه دلاسه ورکړې وه او د قندهار سره يې هم علاقه نه وه پاتې چې خپله دا نېمګړتيا له هغه ځايه پوره کړي شي سره د دې هم خپل تدبير نه وو کول او هلې ځلې کولې لومړي خپل سفير عبدالعزيز يې په (۱۷۲۶) ميلادي کې د ترکيه عثماني دولت ته واستولو او د خپلې اسلامي ورورګلوۍ او د عثماني دولت د خلافت مقام ته چې افغانان احترام لرې خپل عقيدت وڅرګند کړ او ترې وې غوښتل چې د ايران په غرب کې چې کومې ځمکې عثماني دولت نيولې هيله مند يو چې هغه بېرته راپرېږدي چې د دوو مسلمانو دولتونو . دوستي په ځای پاتې شي خو د ترکي دولت د شاه اشرف پيغام ته هيڅ وقعت هم ورنکړ او لا وې غوښتل چې هوتکي دولت بايد ژر د ايران نيولې خاوره بېرته شاه حسين صفوي ته وسپاري او د ترکانو دا پيغام د ترکانو فوځې لوی قوت بدرګه کاوه يعني

عثماني دولت (۵۰) زره عسکر د (۷۰) توپونو سره د احمد پاد شاه د
بغداد د والي په قوماندانۍ او حسین پاد شاه د موصل د والي او
جنرال عبدالرحمن په مشره په اصفهان رامرش او رامخکې کړې. شاه
اشرف د چار و قطعي مرحلې ته رسېدلی وو او د ترکي فوځونو.
مخې ته ور ولاړ شو په دې وخت کې یې شاه حسین صفوي یې بې
موجبه وواژه او ترکي او افغاني لښکرې په (۱۷۲۶ م) کې په منځ
لاره د اصفهان او یزد کې مخامخ شوې او لومړی وار په تاریخ
کې د افغاني هوتکي دولت او عثماني ترکي دولت په منځ کې جنګ
واقع شو چې د هوتکي دولت ته یې د مرګ او ژوند اهمیت درلود
ځکه که افغاني لښکر مات شوی وای نو د هغې بیا تلافي کول -
ممکن نه وو او د ترکي فوځونو تر شا نور لوی قوت هم موجود وو
جنګ جوړ شو او افغاني سور و د برېښنا په شان حملې پیل کړې
او د ترکي په لوی اردو کې په څو ساعته جنګ کې ماتې ګډه شوه
او افغاني لښکر (۵۰) توپونه ترې را لاندې کړه او د ترکي لښکر
نه (۱۲) زره پیاده او سواره [illegible] مړه په میدان کې ولوېدل او پاتې
شوا و نور لښکر یې مات شو او په منډه شو او هرڅه لوازم او
تجهیزات یې افغاني لښکر ته پرېښودل خو شاه اشرف د تدبیرنه
کار واخیست او د ترکانو ټول مال متاع یې ورپسې ور ولېږل
او اسمعیل ګی بیا د سفیر په ډول ور ولېږلو او پیغام یې ورکړی

ووچې موږ نه دواړه مسلمانان او ورونه يوو او د خلافت مقام ته احترام لرو او د مسلمان مال خوړل په موږ نه حرام دی او د اسلامي خلافت احترام په موږ نه واجب دی او ستاسې سره موږ دايمي مصالحه غواړو- د ترکو عثماني دولت د فاتح شاه اشرف له دې وضعې نه دومره متاثر شو چې د اصفهان د نيولو د خبرې نه تېر شو او په (۱۷۲۸م) کې د عثماني دولت سفير راشد پاشاه هوتکي دربار ته راغی او هوتکي دولت يې په رسميت وپېژاند شاه اشرف هم چټل وضعيت د بزدې نه سنه د رک کولی شو او په دې قانع شو او نوري ې د ترکيې نه د نورو نړيوالو د پرېښودلو مطالبه في الحال پرېښودله او د مناسباتو د ټينګولو د پاره يې – محمدخان بلوڅ د سفير په حيث ترکيې ته ور واستولو د امناسبات د دې سبب شو چې د دواړو دولتونو په منځ کې د (۱۲) مادو يوه لوظنامه وشوه چې دا م يکې وروچې ايراني حاجيو ته به د ترکيې دولت ته د حج په ايامو کې اسانتياوې پيدا کوي. په دې دول شاه اشرف د ترکو د غرب له خوا د حملې نه خلاصی شو د شاه اشرف د پرافسران او افغاني لښکر په جنګونو کې د منځه تللي وو او وې غوښتل چې دا ښکاره تيا د ايران د داخل نه پوره کړي که څه هم دا کار د هغه وي خونه و و خوځه يې کړی وای؛ بله چاره نه وه او د شاه اشرف وضعيت د هغه سرمايه دار په څېر وو چې تاواني

شوی وه او خوځ یې وېراو عایداو اسعدن یې هېڅ هم نه وي!

شاه اشرف چې د ایران نه نوي عسکر استخدام کړه په هغوکې پېښ
برخه د کردانو وه او ایراني فوځ ته نوی کومک او نادرافشار په
شان یو نوی جنګیالی جرنیل هم ورغلی وو او ایراني لښکر بیا پیاوړی
شوی وو او افغاني لښکر ورځ تر ورځه په لړزېدو وو. کله چې د
نادرافشار سره جنګ ونښت نو کُردي عسکرو د هغه په مقابل کې
جنګ ونکړ او میدان یې پرېښود. شاه اشرف خپل قوت الظهر
فوځ جنګ ته له دې کبله ونه ګماره چې د هغه په نظر کې د شاه
طهماسپ او نادرافشار او فتح علیخان د حرکاتو نه چې په اوسني
خراسان کې کول شاه اشرف ډېر د روس خوا ته په اهمیت کتل څکه
چې د روس دولت د شاه طهماسپ سره لوظ کړی وو چې د افغاني
لښکرو په وېستلو کې به د شاه طهماسپ کومک او نظامي مرستې کوي
خو د روسي فوځونو د قوماندان (ارینوف) او سید ال خان ناصري
سپه سالار په منځ کې چې جګړه شوې وه نو افغاني لښکر ګټه کړې وه
او جنرال (ارینوف) د صلحې مطالبه کړې وه او په دغه سبب دافغا-
نستان او روس په منځ کې په کال (۱۷۲۹م) کې سیاسي مذاکرې پیل
شوې او د روس دولت چې د افغاني لښکر په مقابل کې د عثماني دولت
د ماتې قصې اورېدلې وې په وېره کې وو چې د افغاني لښکر دلاسه
روس ته دغسې ماتې ورنکړه شي نو د «رشت» په ښار کې د

افغاني نمايندګانو سره يې يوه معاهده لاسليک کړه چې د شاه طهماسپ سره جوړې شوې معاهدې نه ښه او د افغانانو په ګټه وه . يعنې روسي دولت دا منلې وه چې د خزر د غاړې هغه ځايونه لکه مازندران او ګيلان به بېرته افغاني هوتکي دولت ته پرېږدي - داد لسو مادو معاهده د هوتکي دولت په ګټه وه نو ومنل شوه او په (۱۳ فوريه ۱۷۲۹م) کال کې د ستخط کړې شوه او دا معاهده د هغه روس او شاه طهماسپ د معاهدې (۱۲ سپتمبر ۱۷۲۳م) کې چې کړې وه د هوتکي دولت په ګټه وه او روس و ېرې زمکې بېرته پرېښودلې -

شاه اشرف د دې معاهدې نه وروسته د روس د خوا نه خاطر جمع شو - ولې په دې موده کې د ايران شاه طهماسپ او ملګرو ته يې ډېر فرصت په لاس ورغلی وو او نادر افشار يې د خپلو فوځونو سپه سالار مقرر کړی وو او فوځي صلاح مشورې هم وشوې نادر افشار جنګ ديده شخص وو او د افغانانو د جنګي تکتيک سره اشنا وو او هغه په خراسان ورمنده کړه او په (۱۷۲۷م) کال کې د خراسان او سيستان ډېرې برخې لاندې کړې او په نيشاپور کې لږ و ډېر درې زره مدافعين هم ووژل او په (۱۷۲۹م) کال کې نادر افشار د هرات ابدالي رياست چې هغه هم د هوتکي دولت دښمن وو له منځه لرې کړی وو او له مخه يې وېستلی وو او د نادر افشار د فوځونو حملو ته د محمود سيستاني - حکومت او ابدالي رياست کله د ټينګېدو وو؟ - نو شاه اشرف هم اراده

وکړه چې په نادرافشار پسې دایران د داخل نه خراسان ته ورورځي!!
که څه هم د نادرافشار د نوی جوړ لښکراو داشرف هوتکي دلښکرو په
منځ کې ډیر توپیر وو. افغاني لښکر په پرله پسې جنګونو کې مات ګوډ -
شوي وو او بې اوپوره وسلې یې هم په لاس کې نه وې او د نادر
فوځ نوی تعبیه او مجهز شوی وو او جنګ ته اماده وو او دافغانستان
دغرب ایالتونه یې ترهراته پورې نیولی وو. شاه اشرف او هوتکي
لښکر جنګ ته په داسې حال کې ورغی چې ایراني عوام او دهقانان هم
نور د جنګونو نه په تنګ شوي وو او دافغاني دولت مرستې یې
نشوه کولی او دایران د دولت خواته متمایل وو، دایران په لښکر کې
ښه منظم او قوي توپخانه هم موجوده وه. په (۱۷۲۹م) کې افغاني
لښکر ورغی او سمنان یې محاصره کړو نادر افشار هم د هرات نه زر
ورپسې راوګرځېد او لا بسطام ته نه وو رسېدلی چې د سېدال -
خان شیخونی لښکر یې په توپخانه حمله وروړه او ډیر ایرانیان
یې په خپلو چړو ووژل خو افغاني لښکر هم د توپخانې د بې واره
ونزوله کبله ډیر تلفات وړکړه او بې له څه نتیجې افغاني لښکر په
شا شو، شاه اشرف هم د سمنان کار پرېښود او د نادرافشار جنګ ته
رامخکې شو خو په جنګ کې هغه ایرانیانو چې په افغاني لښکر کې یې
جنګ نه کولو او میدان یې پرېښود نو له دې امله افغاني لښکر ((۱))
زیات تلفات ورکړه او شکست او ماتې ته نژدې شو. شاه اشرف چل

مات گوډ زخمي لښکر را ټول کړو او «ورامين» ته ور رارسته شو
او د نوي جنګ د پاره يې تياري کول او په دې وخت کې د -
طهران افغاني والي اسلام خان ترخې هم د پنځه زره لښکرو سره د
کومک د پاره راورسېدل ، شاه اشرف د خپل اردو د پاره « سردره
خوره » کې ځای ونيوه - نادر افشار هم خپل رقيب د باد شاه اشرف
په لښکر پسې ورو او جنګ جوړ شو په اول کې خود سيدال خان
او اسلام خان ميړنې لښکر د نادرافشار د لښکر دواړه خواوې ورماتې
کړې خو د نادر افشار لښکر مقاومت وکړو او پخپله نادرافشار جنګ
ته را ورانډې شو او افغاني لښکر ته يې توپخانه مخامخ کړه او وېې
تاوان يې ورته واړاوه . د جنګ په نتيجه کې چې افغاني لښکرڅه
ګټه ونکړه نو شاه اشرف بېرته اصفهان ته مخه کړه ، شاه اشرف
بيا په اصفهان کې « ۲۴ » زره هر ترکه « ارجل » لښکر راټول کړه بيا
په نادرافشار پسې را وګرځېد او په « مورچه خورت » کې د نادر
افشار د فوځونو په مخکې ودرېد د لښکر ډېره برخه هم ترک او
کرډان وو او دا قطعي او فيصله کن جنګ وو نو اشرف او لښکري
ښه په ميړانه جنګېدل او افغاني لښکر ښه ايماندارانه مقاومت -
وکړو او تردې يې ښه ټينګه کړه چې د ټول لښکرنه صرف يو
زر و څو سوه تنه ژوندي پاتې شو او نور غير افغاني خلکو د جنګ
نه تيښته وکړه - او پخپله شاه اشرف هم اصفهان ته بېرته وګرځېد

او له هغه ځايه هم شيراز ته لاړ او نادر افشار ورپسې اصفهان ته راغی او شوکت مات کړ د افغانانو پر چپوموندل هغه يې ووژل او نادر ۰۰،۴۰، ورځې وروسته د اصفهان په پايتخت کې پاتې شو او بيا په دبره دبدبه شيراز ته ور روان شو شاه اشرف هم سره د ۱۲۰ زره لښکرو ورته مخې ته راووت او د واړه فوځونه په «زرغان» کې سره مخامخ شو خو د نادر افشار لښکر ډېر قوي او په زوورکې وو او د شاه اشرف لښکر کمزوری او مات ګوډ وو او د نور کومک طمعه يې هم نه وه نو بېرته وګرځېد او شيراز ته لاړ او کوډ لا په قزوين کې حصار پاتې وې نو له دې امله يې د سيدال خان سپه سالار او ملا زعفران په واسطه د نادر افشار سره په مذاکره پيل وکړو او د اجرګه د نادر افشار ار دو ته ورغله نادر افشار دا شرط کېښود چې د شاهي صفوي کورنۍ پاتې افراد دې راپرېښودل شي شاه اشرف له دې کبله چې د ده د کورنۍ غړي له قزوين نه راورسيږي د صفوي کورنۍ د وه بنځې يې هم نادر افشار ته ور ولېږلې او نادر افشار دا غنيمت وګڼله څکه چې که وشي او شاه اشرف بې جنګه تسليم شي نو دا به بنه وي خو افغان هوتک شاه اشرف دا کله منله!! نو کډې چې کله راورسېدلې د ده او د شاه محمود د کورنۍ بنځې ۱۵۰ تنه وې خو ځينې پکې داسې وې چې هغه نه په اس سورېدلې شوې او نه پخپله د تګ وې

نو شاه اشرف دا نه غوښتل چې د د ښځو په لاس ورشي او خپل
لاس یې هم نه ورتللو نو حاجب ته یعنې خواجه سراته حکم وکړو
چې دا ووژني او خپله د دوی خپلو ښځو او دوه تنه ښځې د صفوي
کورنۍ چې هم ورسره وې د دوی سرو سورو سره د شیراز نه -
خپل اصلي وطن ته روان شوا وه شپې د شیراز نه مخ په شرق
روان شوي وو نادر افشار چې خبر شو نو په شیراز کې هغه افغانان
چې پاتې وو او د تللو نه وو ووژل او ملا زعفران او میا محمد صدیق
لوی فقیه او د پښتو لوی شاعر یې ونیول او بندیان یې کړه او
خواجه سرا د شاه اشرف دوه ښځې او د شاه محمود مور وژلې وې او
نورې پاتې وې چې ایراني لښکر ورسره او هغه نورې ښځې له مرګه
پاتې شوې او بندیانې شوې نادر افشار امر وکړو چې دا نارینه بندیان
دې اصفهان ته واستول شي چې هلته د خلکو په مخکې ووژل شي
خو ملا زعفران افغان د غیرت نه کله چې د یو پل نه تېرېدل ځان
یې سیند ته وغورځاوه او اوبو وړو او نور بندیان په اصفهان
کې ووژل شو ملا زعفران یو فاضل شخص او د پښتو شربې نو میالی
شاعر وو - شاه اشرف د شیراز نه لاره نوې ځای ته ورځي
خو خلکو د نادر افشار د وېرې ونه مانه او مخې ته یې ودرېدل
نو شاه اشرف مجبوراً د سیستان لاره ونیوله او ګرم سیر ته و-
رسید خو د هغه خوانه شاه حسین د ده د تره ځوی هم په شاه

اشرف پسې راوتلی وو او په ګرم سېرا و زمینداور کې یې د هغه لټه کوله نو شاه اشرف له ناکامه بلوچستان ته مخه کړه شاه حُسین چې خبر شو هغه هم ورپسې د سورو ټولګی هرې خواته واستول یو ټولګی عسکرو شاه اشرف د نږغره خوا کې چې د شوراوک په - لاندې خوا کې واقع دی د شاه حُسین سورو راګیر کړ او یو سپاهي شاه اشرف په چنل ټوپک وویشت او مړ شو او د شاه اشرف قصه هدلته ختمه شوه «خوځینو مورخینو لیکلي دي چې نه ! اشرف په سیستان کې عبدالله خان نومي بلوڅ میولی او وژلی وو». د شاه اشرف پاتې بنځې او ایرانۍ بنځې سپایانو شاه حُسین ته راوستلې او قندهار ته راغلل او د افغاني لښکر نه پاتې نور افغانان لکه مېره سیدال خان سپه سالار او بابوجان بابي د لار او بندر حاکم او نور چې بندي پاتې - پښتانه وو قندهار ته راورسېدل. شاه حُسین هم د ایرانیانو دنیت نه خبر وو نو په اول کې د خپلې د فاع په فکر کې شو او دفاعي ترتیبات ونیول. او د هغه ایراني دوه تنو بنځو بندیانو په بدل کې (۱۵) تنه مېړې او بندیانې افغاني بنځې راخلاصې کړې شوې. د افغاني لښکر نه یونږ تنه چې ژوندي پاتې وو او دوه میاشتې یې په جم کې د نادر افشار په مقابل کې د فاع وکړه خو اخر مجبوراً تسلیم شو او په دې ډول د ایران اشغال چې افغاني لښکرو په (۱۷۲۵م) کال کې کړی وو په (۱۷۲۹) ل میلادي کال کې ختم شو!!

په قندهار کې دغلجو حکومت

په قندهار کې دغلجیانو محلي حکومت د شاه حسین په قیادت کې لا پاتې وو خو څه اوږد عمر یې نه وو او ژر د ایراني نادري شهنشاهۍ فوځونو دحملو سره مخامخ شو او په (۱۷۳۸م) کې د نادر افشار د فوځونو نه مات شو. نادر افشار دهغې نه مخکې چې په قندهار حمله وکړي لومړی دکرمان نایب د امام ویردي په مشرۍ کې یې بُست او ګرشک ته لښکر واولېږلو او امام ویردي د بُست قلعه د افغاني ساتونکو نه ونیوله او په ګرشک هم ورغی خو شاه حسین نور مخکې تګ ته پرې نښنود او د بابوجان بابي په مشرۍ کې یې څه لښکر د بُست د بیا نیولو د پاره مقرر کړو بابوجان د ایراني لښکر نه دبُست قلعه بېرته ونیوله او افغاني بندیان یې هم آزاد کړه - او امام ویردي د ګرشک نه مخ په فراه وتښتېد - نادر افشار د افشار د خراسان د قبیلو نه یوه پخوانۍ قبیله وه.

په (۱۷۳۷م) کې د یو زورور لښکر او قوي توپخانې سره د دلخک او دل آرام د لارې ګرشک ته راغی او څپل ځوی یې رضا قلي یې د بلخ د ولایت د نیولو دپاره هغه خواته د یو څه لښکر سره وا-

ستاوه. شاه حسین هوتک هم ډېره غله او خوراکه په قندهار کې ټوله کړې وه او قندهار ته د راغلي لار په سر یې د غلځو غلي وسوزولې چې نادرافشار ترې ګټه وانخلي. خو په دې خبره افغاني د حقانان د شاه حسین نه ډېر خفه شو. شاه حسین خپل ځوی محمدخان د قلات د قلعه د حفاظت د پاره ولېږلو او بهادرخان یې د زمینداور د مدافعې د پاره مقرر کړ او پخپله په قندهار کې پاتې شو او مدافعوي ترتیبات یې ونیول او د نادرافشار د فوځونو د یرغل په انتظار کې وو. نادرافشار د ګرشک ټینګه قلعه د زور ورې توپخانې په زور را لاندې کړه او کلب علي افشار افسر یې د زمینداور د نیولو په کار مامور کړو او امام ویردي بیا د بُست د قلعه د نیولو په کار موظف کړو او پخپله نادرافشار د شاه مقصود په څراکې د هلمند نه ورتېر شو او د غلو د راټولولو د پاره ترېن کوټ او ده راود ته لښکر ولېږلو او نادر راغی د هلمند په غاړه یې واړوله شاه حسین چې خبر شو نو د شپې د پلوه یې په ایراني لښکر د اړې پیل کړې او ډېر تاوانونه یې ور واړول. له دې شبخونونه وروسته. شاه حسین بېرته قندهار ته وګرځېد او نادرافشار د څلو فوځونو د تبستېدو نه د راګرځېدو د پاره پخپله متوجه شو او ور رواڼ شو او د هلمند نه یې خپل فوځ پورې وېست او په قندهار یې د توپخانې د ډزو پیل وکړه او بې واره د توپخانې ډزې په

قندهار شروع شوې شاه حُسین هم هغه توپخانې ته چې د چهلزینې په لوړ غونډۍ کې ودرول شوې وه امر وکړ چې په ایراني فوځ ډزې وکړي او هم یې په هغوي یرغل وکړ. ایرانیان هم په هغوي برید وکړ او هوتکي وشړل. او سیدال خان ناصر سپه سالار یې د لښکر د یوې ډلې سره د غلجیو د قلات ته ولیږل او مامور وو چې د شاه ولو په فتح علي نادري افسر باندې چې د قلات د جنګ د پاره ورغلی وو حمله او یرغل وکړي. سیدال خان فتح علي راحصار کړ او خو نادر افشار کومک ورورسید او فتح علي یې د تالا کېدو او تباهۍ نه بچ کړ. او سیدال خان لاړ د قلات په قلعه کې قلعه بند شو. نادر افشار سیدال خان هغه شپې د محاصرې په حال کې پرېښود او لښکرې یې ترې تاو کړې او بیا د قندهار محاصرې ته بېرته ورو ګرځېد. دا د قلعه بندۍ جګړې دوه میاشتې اوږدې شوې او د قندهار د ښار خلکو به د نادر افشار په لښکرو د شپې داړې کولې او ایراني فوځونه یې داړونه وېر په تنګ شو. نادر افشار د دې وضعې نه د خلاصون د پاره څنګ ارادو د شېرسرخ زیارت ته ولیږل داوه او علته یې د یوې قلعه د جوړولو پیل وکړ او ډېر چابک کارېږي کېدلو او ټول هغه افغاني بندیان چې په لاس کې ایرانیانو نیولي وو په دې کار ګمارل شوي وو. او د دې قلعه چې په نادرآباد موسوم وه د ورانه اثار اوس هم شته دي. د نادر افشار فوځونه په دې قلعه کې د شپې د داړونه وساتل شو او د قندهار د محاصرې کار ته

متوجه شواو د ښار نه چارچاپیره یې مورچې او د ښار ځایونه جوړ کړل او ښار ته یې د تګ راتګ ټولې لارې وتړلې او خوراك یې ښار ته نه پرېښود ، د ښار خلك له دې وضعې نه خفه او په تنګ شو د ټولو نه لومړی اشرف سلطان توخي غلجی د ښار نه وتښتېد او نادر ته ورغی او پناه یې واخیسته د اشرف سلطان د غلجو د لوی خان په وضعه د ښار خلك مزرم وارخطا او نااُمیده شو او ایراني لښکر نور امیدوار او داده شو اشرف سلطان د دې خدمت په بدل کې د قندهار د فتحې نه وروسته د قلات په حکومت - نادر افشار مقرر کړو. قلات او د شهرصفا قلعه د قندهار دوهې نه وروسته هم دوه میاشتې قلعه بندې وکړې خو زړور سره غلي دا اني خلاصي شوې او تسلیم شو. او سیدال خان نامراو د شاه حسین حوی محمد خان په جنګ کې وینول شو او بندیان د نادر افشار حضور ته واستول شو نادر افشار د سیدال خان د مېړانې نه په ایران کې لاخبر وو ځکه یې له مرګ نه معاف کړو خو ړوند یې کړو - د کاکړو خلکو او ترکو غلجو هم پاڅون وکړو او په پښین کې یې په ایراني لښکر یرغلونه وکړه خو د نادر قواوې هغوی په ټوپکو او توپونو مات کړه او د ټولو نه وروسته د زمینداور قلعه لاندې شوه چې څو میاشتې یې په مېړانه مدافعه کړې وه او ایراني لښکر ته یې ماتې ورکړې وه کلب علي چې دا وضعیت ولید د توځاني

په زوريې مدافعه كوله او د نادر افشار له پلوه هم ورته د يوان
قلي افشار او ياري بېك كومك ته راورسېدل او د زميندآور قلعه
ته يې دارو كېښودل او سرنګ يې ورته شروع كړوا و د توپخانې
زورم پرې راغى او بهادرخان د قلعه مدافع تسليم ته مجبور شو
په دې ډول د قندهار د خواوشا قلعه ګانې يو په بل پسې دمخه
نه لاړې او قندهار يوازې په ميدان پاتې شو خو قندهار سره د
دې هم لس مياشتې نور هم مقاومت وكړو خو اخر ايراني لښكرو د
چهل زينې غرم ونيولو او د هغه ځاى نه يې په ښار او شاهي
ارګ د توپخانې ډزې پيل كړې چې ټول ښار د دغه اور د تاثير
لاندې متاثر شو او نور په شاهي ماڼۍ «نارنج» كې هم څوك خوندي
او ګرځېدلى نه شو او د قلعه د باندينې برجونه هم د ښمن ونيول
او د ښار دروازه هم په ايراني توپونو وويشتله شوه او ونړېده
او د نادر عسكر په ښار راننوتل او په ښځو نرو يې هرڅه نه
كوله او ټول يې د تېغ نه تېر كړل او د قندهار ښار په (۱۷۳۸م)
كال كې په دغسې خونريزۍ فتحه شو او شاه حسين لاتر دغه وخته
تسليم شوى نه وو او د نارنج ماڼۍ په لوړ برج كې ناست وو او
نادر امر وكړو چې دغه ځاى نه او برجونه او ارګ په توپونو و
ولي په دې امر په شاهي ارګ او د نارنج په ماڼۍ سورى او
جوړ شوا و نور د جنګ امكان نه وو پاتې شاه حسين هم تسليم

شو - د نادرافشار په امر شاه حسین او د ده کورنۍ بندیان مازندران ته ولیږل شوا و شاه حسین په مازندران کې په کال یعني (۱۷۳۸م) کې مسموم او ووژل شو (۱) نادرافشار د غلجو د قبیلې نه په وېره کې وو نو ځکه یې غلجي په د غرب خواته قرار کړل او د صفوي په خاې ابدالیان چې صفوي دولت غرب ته کوچولي وو را وستل او د غلجو ځمکې په قندهار او بُست او زمینداور کې ورته ورکړې، او په دې وسیله یې د غلجو او ابدالو ترمنځ د شمنې بیا را وپاروله نادر د قلات په غلجوځه غرض ونکړو او اشرف سلطان یې چې مخکې ده ته د قلات نه ورغلی وو په قلات یې حاکم مقرر کړو او په دې وسیله یې د ځینو غلجو طرفداري هم حاصله کړه او یو ځلور ځریزه قوه ترې هم تشکیله کړه او پنځل اُردو کې یې غلجي ملکړه د نادرافشار د هتولو نه بدکار په افغانستان کې دا ووچې :- وطنه کلي او بنارونه یې ورانول او د قندهار مشهور منار یې په څو هفتو کې وران او د خاوروسره برابر کړو او د دې وطن افغانستان د پیشه ورې او صنعت مرکز او د علموا و فرهنګ تاتوبی یې ګډ و و او وران کړو - او حال دا چې شاه محمود او اشرف په ایران کې د غسې ورانه نه وې کړې !! او نه یې کوم کلی وران کړی وو په جنګ کې چې کوم ځایونه لاندې کړي وو هغه یې لا بنه ساتل - نادرافشار د قندهار د فتحې نه وروسته د مملکت

---

(۱) او (۲۹) کلن هوتکی دولت له مخه لاپ.

شرق خواته متوجه شوه چې بحث به یې بیا د نادر او افغانستان تر عنوان لاندې راشي!!

دافغانستان دخلکو په غربي مورچه

کې مبارزې او په هرات کې د محلي ابدالي حکومت تاداو

صفویانو حاکمانو په هرات په زور حکومت کولو او د چا وسه او توان، نه وه چې ساه قدرې هم بې حکمه واخلي، په دې وخت کې ابدالیان راپه کډه شوي وو څوک په گرشک او فراه پرېوتل او مالداري کوله او ځینې د چېل خان حیات سلطان سره چې د چېل تر بره د ولت خان ابدالي نه مغلوب شوی وو د قندهار نه ملتان ته لاړل او څه نور په قندهار او په تېره په ارغستان پراته وو او صفویانو چې له ابدالیانو نه په وېره کې وو نو غلجي ورته په لاس کې نیولي وو او په مقابل کې به یې ورته لمسول او گرگین گرجي-ایراني حاکم خو دا وکړه چې د ابدالو لوی خانان لکه د ولت خان او نظرمحمد خان او رستم خان یې ووژل او مالونه یې تري تالا کړه نو ابدالیان د گرشک او فراه او هرات ان ترا سفزاره پورې خواره واره شوا او په قندهار کې چې څه ابدالیان پراته وو هغه یې مشره

او بې سړ او سپېدل او محض شپې تېرولې. هغه وخت چې د قندهار خلکو پاڅون وکړ او ګرګین او لښکرې و وژل شو نو د قندهار ابدالوکي هم قبیلوي حس راژوندی شو او ملتان ته یې مخه کړه پخوانی خان حیات سلطان خو مړ وو د ده یې په ځای عبدالله خان د خانۍ لاس پورته کړ او د وعایې پرې وکړه او د کډې سره یې قندهار ته راروان کړ او هغه د چېلي علاقې چارې پلاس کې ونیولې دا هوښیار سړی وو او د میرویس خان د هغه سیاست سره چې د پردو د استیلا په ضد وو متفق شو او د غلجو او ابدالو ترمنځ یې ښه ګانه، د میرویس خان د مرګ نه پس لکه چې مخکې لیکلي شوي دي د هغه ورور عبدالعزیز د ومره کفایت نه درلوده چې د میرویس خان په شان د غلجو او ابدالو ورورولي ټینګه کړي نو ابدالي عبدالله خان په کال (۱۷۱۶م)، کې د قندهار نه هرات ته کډه وکړه او هلته ورغی سره د دې چې هرات د غه وخت د صفوي حاکمانو پلاس کې وو د عبدالله خان دا اراده نه وه چې صفوي حکومت ته دې تسلیم شي بلکه زړه یې وو چې پردي له خپل وطن نه وباسي او داسي څه وکړي لکه میرویس غلجي چې وکړل او نوم او نښان وګټي - عبدالله خان یوازې نه وو محمدزمانخان د دولت خان ابدالي ځوی چې دولت خان پخوا وژل شوی وو هم ورسره وو محمدزمانخان هغه ځوک وو چې د ګرګین ورار خسروخان د کرمان د تبعیدګاه نه

دخان سره د غلجو مقابلې له راوستلې وو خو محمد زمان داونکړه او
د میرویس خان په مقابل کې توره ونه وېستله - او نه د عبدالله خان
سره چې د ده د پلار مشري یې نیولې وه څه بدي وکړه بلکه د هغه
خبره یې ومنله او د قندهار نه هرات ته ورسره لاړ او په دې
د عبدالله خان متې لا قوي شو - د هرات د صفوي حکومت په مخکې
د قندهار داستان او د ګرګین انجام پروت وو صفوي نه غوښتل
چې عبدالله خان چې حیثیې ادعام ورسره دي په هرات کې دې آزاد
او د چلې خوښې شروند وکړي صفوي حاکم عبدالله خان او ځوی
یې د واړه بندیان کړه په دې خبره د هرات خلکو پاڅون وکړه
او چې د عباس قلي صفوي حاکم نه پوزې ته راغلې وو او هغه یې
د کاره لرې کړو د دې واقعې نه چې صفوي دولت خبر شو نو فوراً
یې جعفر استاجلو یې د هرات والي مقرر کړو او راویې لېږلو چې
امنیت وساتلې شي هم په دې مال کې عبدالله خان هم د بندي خانې
نه تښتېدلی وو او اسفزار ته ورغلی وو او هلته یې ملي لښکر را
ټول کړو او د اسفزار په قلعه ورغلل او قلعه یې ونیوله او پس
له دې د شورشیانو مرکز هم دا قلعه شوه او دا ځای مرکز شو!!
او نورو خواو شاو یې هم په ابدالیانو پسې استازی ولېږل او ورسره
د چېل لښکره په هرات ورغی جعفر د هرات ایراني حاکم هم د جنګ
د پاره ور ته مخې ته راووت خو په جنګ کې مات شو او عبدالله خان

د ښاريانو په کومک او مرسته د پيل خانې د برج سره په قلعه -
ور ننوت او د هرات ښاريې آزاد کړ او په کال (۱۷۱۷م) کې هرات
کې د ابداليانو يو محلي حکومت جوړ کړ او په چغه کال خلک غونډه
وکړه ټولو خلکو او د قبايلو مشرانو په ګډه عبدالله خان درئيس په
حيث وټاکلو، عبدالله خان هم ملي پخوانۍ عنعنې ته په پام وواود
قومي مشرانو جرګه يې تل ور سره وه او د هغوی په مشوره به يې
کار کاوه جرګې به چې څه پريکړه وکړه عبدالله خان به هغه فيصله -
تطبيقوله او ولس يې هم په شاکلک ملاتړ وکړ ور عبدالله خان
د خوا وشا ابداليانو نه چې شپني او مالداري به يې کوله يو قومي لښکر
يې جوړ کړ او عبدالله خان وکړی شو چې د دغه لښکر په زور يې
غوريان او کهسان، مرغاب، بادغيس او اوبه هم رالاندې کړي
او په هرات يې وتړي او يوه بله قوه يې د فراه خواته ولېږله
او د فراه قلعه يې هم لاندې کړه او په دې ډول يې نيم غربي
افغانستان د ابداليانو او غلجو د قوتونوله خوا آزاد شو حو په دې
وخت کې ايرانيان په قرار نه وو ناست او يو لښکر يې د فتح علي
ترکمن په مشرۍ د افغانستان د آزادو برخو د نيولو د پاره هغه خواته
ور ولېږلو او په هرات ايراني لښکر ور مخکې شو خو افغانانو
هم ښه په مېړانه مدافعه کوله او اسدالله خان د عبدالله خان
ورور د څه قوت سره د ښار نه ووتو اسي راووت او د د ښمن

قوي ته یې په کوسویه کې ماتې ورکړه او په پرلپسې وارونو
د ایران د دې ماتې نه عبرت واخیست په ۱۲۰۲م کې چغله قره
نوروز هم ور مړه کړه (۲۰) زره عسکرې د جنګي مشهور جرنیل حاجي
علي خان په مشرۍ د قوي توپخانې سره د تواره د سنګر نه په هرات
پسې را ولېږله چې د هرات ښار یې هم ورته ماتي نه شي وشول او د
کار د قلعه مره کړي دي جګړه جوړه شوه ۲ افغاني مدافعینو ټینګ
ترب نه درلود او د ایراني توپخانې د بې شمار ګولو لاندې یې توږ
آخر افغانانو خپلو چړو او سېلاوو نه لاس کړ او ډېر یې برکومه
به دا نعمونه د غنو مقامع په توپخانه ور غلل چې په دې توګه د توپخانې
د پرله پسې فعالیت له کبله د یې زره افغاني عسکر ووژل شول نو
افغاني عسکر هم په ایراني اردو ور شو پسل ۳ او د لښکر مسخ چې وراهه
او شپږ زره تنه یې ټري مړه کړه او ایراني توپخانې چل لښکر چې
نږدې بیوه جنګي غونډ نه نیول وه په خپلو ګولو د ویشتل او په ښار
یې د تمبول او ایراني لښکر مات او ګډوډ شو او په میدان کې ترې
تو مړه او ټوټي بل ګڼ ناښي شو او ایراني لښکر د هرات د ابدالیانو
نه ښه ماتې وخوړه او ابدالیانو د څه وخت د پاره ټولو قرار باقي
شو خو د افغانانو خپل کورني نفاق او شقاق حتی لا مسخ کې پرېوت

(۱) تاریخ عمومي عباسي اقبال طبع ایران.

او د ازموږنږه قبیلوي عمل هر وخت زموږ د ملت د بده مرغه ملګري
دي. او غلجي او دُراني خولا د پخوانه ترېږونه او رقیب واقع شوي
وو، په دغه وخت کې چې ایراني فوځ په فراه کې ماتې وکړه نو شاه
محمود هوتک په (۱۷۱۹م) کال کې یوه دله عسکر د فراه د نیولو دپاره
هغه خوا ور ولېږل او اسدالله ابدالي هم د هوتکو د مخنیوي دپاره
ورلره مخې ته راغی د فراه په دل آرام کې دا دواړه لښکرې سره مخامخ
شوې او جنګ جوړ شو خو د شاه محمود لښکرې غالب شوې او د -
اسدالله لښکر مغلوب او پخپله اسدالله هم په دغه جنګ کې ووژل
شو د دې فتحې نه پس نور نو شاه محمود په ابدالیانو هېڅ کار -
ونه لاره او په ځای پرېښودل خو د ابدالیانو په زړه کې کینه وه
او د غلجیو او ابدالیو پخوانۍ قبیلوي دښمني خو په ځای پرته وه
د دل آرام جنګ د ابدالیانو زړه ورمات کړ او د سپین زیري
عبدالله خان دپاره دځېل ځوی اسدالله مرګ هم د زغملو نه وو او
دنیا پرې تورتم شوه - نو عبدالغني خان الکوزي ته یې وویل
چې قومي جرګه راټوله کړه چې هغوی یوه پرېکړه وکړي او زه دچارو
نه ځغښی شم او زمان خان ابدالي (د احمد شاه پلار دې راشي) او
د ریاست مقام دې اشغال کړي جرګه غونډه شوه د عبدالله خان
استعفی یې منظوره کړه او محمد زمان خان په (۱۷۱۹م) کال کې د
هرات رییس شو چې تر (۱۷۲۲م) پورې وو محمد زمان خان چې

قدرت پلاس کې واخیست نو عبدالله خان یې هم بندي کړه او داکار د هغه زاړه خصومت او عنعنوي قبایلي تعصباتو وکړو گوندی نبه وه، گوندي عبدالله خان بندي نه وه په کار- نور نو زمان خان د هرات د خلکو ډېره دلجوی او د لداري وکړه او مشران او جرگې ته یې ډېر احترام درلود او عبدالغني خان ته یې په درنه سترگه کتل- څه وخت چې جعفر استاجلو د هرات پخوانی حاکم چې په هرات کې بندي وو ناڅاپه د نوی باغ په خیابان کې د صفوي دولت د بیا اقدام په بدل کې ووژل شو او محمد زمان خان سره د لښکر د ایراني لښکر د مخنیوي د پاره کافر قلعه (او سنی اسلام قلعه) ته ورغی جنگ جوړ شو او زمان خان دا ثابته کړه چې د ده مټ هم د عبدالله خان او اسدالله خان نه کم نه دی او د محمد زمان خان لښکر ایراني لښکر ته سخته ماتې ورکړه او صفي قلي قوماندان یې ووژلو او بېرته د هرات ښار ته راوگرځېد محمد زمان مجبور وو چې څه موده وران او ویجاړ کارونه سم کړي او د چنل غم چلي جنگېدلی او کړېدلي قام څه انتظام خو وکړي او له بله پلوه دا یې هم مجبوریت وو چې د عبدالله خان او د هغه د ځوی اسدالله د مرگ نه چې په حکومت کې د ښه را پیدا شوې کړې وې باید داکړې په وړو وړو راسمې کړي خو د هغه عمر ډېر نه وو په دریم کال ورپسې مړ شو او په دې وخت کې د صفوي ایراني دولت د غلجو

د مستقیمو حملو او تعرض د ضربو لاندې راغلی وو او ایراني دولت
د هوتکي دولت سره اخته وو او هرات د ایراني حملې او یرغل نه
بیخي محفوظ او ساتلی وو او قندهار او هرات یې پخپل منځ کې
پرېښي وو او ایرانیان د جنګ بخت د ډیرولو په غم کې نه وو او
په دې وخت کې د ابدالیانو زړې دښمنۍ بیا سر راپورته کړی و د
او د مملکت په ګټه سره د دفاع ته ابدالیان هیڅ متوجه نه وو. د
زمان خان قوت زوال کړه د جرګې اکثرو غړو داخو بستل چې علي خان
الکوزي او نور قول د زمان خان طرفداران دي او محمد خان د
مرحوم عبدالله خان خوری د هرات د حکومت رئیس دی چې په شورلوک
کې ورسیږي د هرات په حکومت وې بیا هغه حاکم شي او هغه هم
راغی په (۱۷۲۲م نه تر ۱۷۲۳م) پورې ور ته محمد خان چې صفوي
دولت او غلجي دولت دواړه په جګړو جګړو لا بېز او جګړو اخته
ولیدل نو د خپلې علاقې هرات د ارتوالو په فکر کې شو چې غه توسیع
ورکړي ـ لومړی یې داوکړه چې په خراسان یې لښکر وکړ او د مشهد
ښار یې محاصره کړو دې محاصرې څلور میاشتې دوام وکړ او
اوږده شوه نو محمد خان د هرات د ادارې او د رقیبانو تشبثاتو
نه هم مشوش وو نو د مشهد د قلعې د محاصرې نه یې خه نتیجه
او ګټه وانخستله شوه یې قبیل هرات ته راوګرځید او بیرته قلعه
یې د سنګان چې د غوریان په غرب کې ده ونیوله ـ ترڅو چې

محمد خان له هرات ته او لوی وزیر سیدال قومي جرګې ته عرایض او عرض او ځکارونه لري
کېدل او سیدال خان کوم ډیر جرګې ته محمد خان په عوض ذوالفقار خان
د امجد زمان خان ځوی د هرات په حکومت ټاکلی وو چې د ۱۲۴۲ ه ق نه تر
۱۲۴۷ ه پورې یې ولېږه دغه وخت شیر ارګ ته هرات ته راغی او کامل
رحمن خان او عطاالله خان یې خوږه راغلل چې سرچینه او وسلې
هم ته سره یې راوړې چې پیلان د مرګ چاره په جګړه کې شوې وو
د انتقام له جګړې د ذوالفقار نه یې کړله چې د ده سره او د دعوې
ایتې البیان په قوت ولېږه سره د جګړې نه او بیل کړه او چېرې ده له
ملي عبدالله خان ته کړنه شوه او بیا یې له د محمد زمان خان
مکوونه شوه او د هرات د حکومت د راچې ته اکیدلو او د دې مېلې
خواته یې د وخت ژر شو یې کېد نه ورنه ملي جرګې ته یې ملګرې
شو چې د یو کور ته چاره یې کړه. چاره یې د او کړه چې ذوالفقار خان
یې وبولې کړه او سره د سیدال خان د چاره یې پاخه ته ملګرو
او رحمن یې اوله ته رخصت کړل - او د عطاالله خان چې هرات ته
راغلل په دغه د کړه یې له خلکو او د دې شته چې باقي شوي وو
او د محمد زمان یار محمد خان هم او ملګرو په دغه ځای کې
او سیدال خان په وخت کې د هرات جرګه فیصله وکړه چې
هم عطاالله یار محمد خان د دې د ملتان نه راشي او هرات دې تصرف د
کړي او الله یار خان ته د جرګې له خوا او سیدال خان له دغه فوراً

را روان شو- او هرات ته راغی او په بنار حاکم و ټاکل شو-
عبدالغني الکوزی خو د متودیلو کمزوری و وخو په شیطاني
اولسون کي ترتولو ډیر مهارت وو هغه د ذوالفقارخان سره حال
وگرځولو او ورته ویې ویل چې راځه ښار خو ستا دی وي
نیسته او زه به دې ملګری یم هڅضمي وشوه ذوالفقارخان را
پاڅېد او عبدالغني خان الکوزی هم په الله یارخان پاڅون وکړو
او د دواړو خواو جنګ جوړ شو زور نو د وطن تنظیم او اداره
په ځای پاتې شوه . دې جنګ جګړو شپږ میاشتې دوام وکړو
اخر جرګه بیا غونډه شوه او فیصله یې وکړه چې ذوالفقارخان
دی مروجان او الله یارخان دې فراه ته لاړ شي او خبره خلاصه
ده او خپل مزی رئیس یې هیڅ مقرر نه کړو او د هرات اداره
پخپله جرګې پلاس کي ونیوله داسستم اداره چې هیڅ رییس نه وو
هم یو څو موده وچلېده په دې کي د صفوي طهماسپ دلبنګرکشۍ
د تیاری او یرغل آوازې هم راخورې شوې وې او د هرات
په خلکو کي د دوی یرغل فکر لا پیدا شوی وو. په دې خبره
د هرات جرګه هم وخوځېدله او تکاندې وخوړکه ایرانیان دا
کار وکړي او مسئول شخص څرک په منځ کي نه وي پره به توله
په جرګه راشي نو زرېې دا فیصله وکړه نو زرېې الله یارخان
د فراه نه را وغوښت او په هرات بیا حاکم کړه او ذوالفقارخان

یې لا وغوښتل د فراه ولایت یې ورته وسپاره او جرګه پوره شوه چې اوس بل اې نازک وخت دی او د ایراني حملې احتمال ـ وېږ دی ځوراخو چې داخلي لانجې پرېږدو او د دښمن ته مخه کړو ـ م په دې وخت کې نادرافشار په هرات پسې لاروان شو او حمله ئې وکوله ، په دې حال کې عبدالغني خان الکوزی چې جاه طلب سړی وو او په دې لټه کې وو چې او به خپې کړي او ماهیان ونیسي د ذوالفقارخان او الله یارخان په منځ کې یې د نفاق تخم وکاره او ذوالفقارخان یې تشویق کړو چې الله یارخان په وهلو کې دی زه م ملګری یم ته د خزرنه را روان شو او په الله یارخان حمله وکړه هغه م وېل ونکړو او پخپلو کې جنګ جوړ شو او د عمومي مصالحې په خاطر هغه د خاني ګټو د پاره جنګ وو او شپږ میاشتې اوږد شو نو د خلک په تنګ شو او ملي جرګې بیا فیصله وکړه چې ذوالفقارخان دې مروچاق ته لاړ شي او الله یارخان فراه ته ورشي او م داسې وشوه د جرګې حکم نافذ وو د واړه خپلوخپلو ځایونو ته لاړل او هرات کې کوم رئیس او مشر نه شو پاتې او کار د جرګې پلاس کې پاتې شو او جرګې اداره کوله او دی یې رئیسه اداري سستم څو میاشتې دوام وکړو څو په دې کې د طهماسپ صفوي د فوځونو د ترلولو او د نادرافشار په هرات باندې د حملې کولو آوازې خورې او قوي

شوې وه، جرګې فیصله وکړه او د بیا یې الله یار خان ورته له فراه نه راوبللو او د هرات والي یې وټاکلو او ذوالفقار خان یې د فراه حاکم کړ په دې وخت کې د نادر افشار د حملې د ورځو نه ور کړ ريښي جنګونه پسې شو او هر خوځښت د خپلې علاقې د دفاع په اندېښنه او فکر کې شو. تر څو چې د نادر افشار حملې پیل شوې او په هرات راغی [illegible]

د هرات د حکومت سقوط

نادر افشار چې د شاه طهماسپ په نوم په شمالي کې لښکرې راټولې کړې وې او پوهېده چې [illegible] او ترکیب شوي اخته دي ښه چې د ایران په مستقیمه توګه افغانستان حمله وکړي په داغه وخت کې او بیا خراسان او سیستان ته د محمود سیستاني پلاس کې د وو خګه چې هغه محمود [illegible] هوتکیانو او صفوي د واکمنو په جنګونو سره اخته وو، او [illegible] فرصت وي چې په خراسان او سیستان کې د خپل مستقل حکومت اعلان وکړ، او په ۱۱۴۲هـ کې سیستان د صفوي حکومت نه ونیولی شو خو نادر افشار په دې پوهېده چې د سیستان حکومت او هرات حکومت او [illegible] قندهار حکومت بېلابېل آزاد او مستقل ژوند درلود

نښې کړلې ا.او هو تکه ننستې دی نو په خراسان یې حمله وکړه
او په لږ وخت کې یې خراسان ایراني لښکر وشړلو او محمود
سیستاني هم په جنګ کې ووژل شو او په کال ۱۷۲۶م کې تر
۱۷۲۷م پورې مشهد، نیشاپور او د خراسان ټولې علاقې نادر
لاندې کړې او ملک محمود ته د یوه پلوه هم کومک ونه رسید
وروسته نادر افشار او شاه طهماسب په هرات هم لښکر وکړو
او لومړی یې د سنګان قلعه د توپخانې په زور او قوت لاندې
کړه داجنګ څه ناڅه پنځه ورځې اوږد شو او نادر په پای
شوچې د شانه په توپخانه د خپل لښکر د فاتح لین مضبوط کړي
خو نادر دا پېښه څه ګټه ونکړه او بې نتیجې بېرته واپس خراسان
ورګرځېد او بیل کال په ۱۷۲۸م، کې نادر بیا میرو د شور او
لښکره په هرات باندې حمله وکړه الله یارخان ترکوسان پورې
وړه ته مخې ته ولاړ وت او نادر تر یوه کافر قلعه «او سنګ اسلام قلعه»
ته تر یو په شالار ،څه جنګونه وشول او افغانې سواره په توپخانه ورغلل
او په تلفات یې ورکړه خو دشمن هم لیوف کړو او بیځله نادر
هم په هیڅ زخمي شو په صاله ایراني توپخانې د الله یارخان په لښکر
ناورناوره بمباري وکړه او په جنګ یې پیل وکړو او افغاني لښکر
ته یې دیر تاوان ورواوړه څه مات ګوډ لښکر الله یارخان بیا راټول
کړه او د هرات د دفاع په غرض هرات خواته لاړ او څه لښکر یې د

خپلو اولادو نو د راوستلو د پاره چې د غوریان په قلعه کې وو -
هغه خوا ولېږلو - نادر افشار چې خبر شو فوراً یې اقدام وکړ او په
هرات ور روان شو الله یار خان هم د خپل نوي لښکر سره روباط -
پریان ته چې د هرات نه لس فرسنګه لرې دی مخې ته ورغی او مخه
یې ونیوله جنګ ډېره سخت شو چې ډېر زیات توپ او ټوپک د کاره
ولوېد او لاس په لاس جګړه ونښته او د نادر لښکر په شا شو او ډېره
ورځې ډېر هم د هرات د موسمي سختو بادونو له امله د جنګ امکان
نه وو ، په دریمه ورځ الله یار خان نادر ته د صلحې پېغام راولېږلو
او هغه ومانه او نادر لا ډېر هم په شا شو او د صلحې خبرې
روانې شوې - په دې وخت کې د فراه نه د ذوالفقار خان لښکر
هم د الله یار خان په مرسته را ورسېد نادر چې دا لښکر ولیده نو د
شکیبان کلي ته په شا شو او بیا یې په جنګ پیل وکړ و نادر په خپله
د توپخانې ترشا ناست وو او لښکر یې تر ماښامه پورې ښه
په مېړانه جنګ وکړ و د شپې نادر شاه طهماسپ د شکیبان په -
قلعه کې پرېښود او په خپله د څه فوج سره د هرات د حملې په نیت
هغه خوا روان شو خو افغانانو هم خبر شوي وو او د کوشک نه
یې لاره نیولې وه او جنګ جوړ شو او یوه ورځ یې ډېر زیات دوام
وکړ او قطعي نتیجه یې ورنکړه په سباله بیا د صلحې خبرې شروع
شوې او عبدالغني خان الکوزي د دې مرکې محور وو په اخر کې

نادر افشار وعلاقې افغاني بندیان په خوشې کړې او پخپله به هم
خراسان ته لاړ شي او خپله قوره یې هم الله یارخان ته ورکړه او
په دې ډول د نادر او افغانانو دا د هرات درې میاشتې جنګ ختم
شو؛ ورو ورو نه پس نادر افشار د ایران هوتکو ته وزګار او متوجه
شو چې د هوتکو سره د جنګونو قصه مخکې تېره شوې ده. د هرات د
جګړې نه وروسته نادر افشار د ترکیې نه هم د ایران د زمکو د-
آزادولو په سر په جنګ لخته شو او ایران څه موده لږ څه په قرار
پاتې شو د هرات او قندهار حکومتونه تر هغه وخته چې شاه محمود
او شاه اشرف چې په خراسان او ایران کې ترمنځه لاړل هېڅ حرکت هم
نه کاوه خو په هغه وخت کې چې نادر د ایران په غرب کې د ترکو سره
ونښت نو د هرات حکومت اراده وکړه چې په خراسان حمله وکړي
او مشهد او نیشاپور بېرته ترلاسه کړي خو الله یارخان دې کار ته
غاړه کېنښېښوده او مخالفت یې وکړ خانانو او جرګې ذوالفقارخان
ابدالي چې جرګې په قوله حاکم کړی و او غوښت او د الله یارخان
په ځای په هرات حاکم کړ خو الله یارخان نه پرېښوده او جنګ جګړې
جوړې شوې دې جګړو درې میاشتې دوام وکړ او آخر ذوالفقارخان
د عبدالغني خان الکوزي په مرسته او کومک ننوت او ورشو او هرات
یې په کال ۱۷۳۰ م کې یې د الله یارخان نه ونیو او د جرګې په صلا
د هرات رئیس ذوالفقارخان و ټاکل شو او الله یارخان مروچاق

تواځي پښتونو جنګوي چې د ولايت الله يار خان د لقوم ابدالي هم شامل و پلاره يې فتح
خطا شو او د ملتان او نغلجي الله شهيد شو او د ده پر ځای ابراهيم خان د نادر
افشار له خوا حاکم شو او [illegible] پښتنو [illegible] ميدان وګټي او په
مشهد کي او نادر افشار هم [illegible] ابدالي او الله يار خان
[illegible] ذوالفقار خان [illegible] قومي جرګې په فيصله يې
د [illegible] ۸۰۰۰ [illegible] ۱۷ [illegible]
مشهد [illegible] خولې [illegible] د مشهد [illegible] عسکري
[illegible] نادر افشار [illegible] افغانانو د جنګ [illegible] په خوا [illegible]
[illegible] افغانانو [illegible] پر ميدان د جنګ نه
[illegible] قلعه [illegible]
خو ابراهيم خان [illegible] افغانانو [illegible]
[illegible] افغانانو [illegible]
[illegible]
ميدان [illegible] جنګ [illegible] افغاني لښکر [illegible]
[illegible] ابراهيم [illegible] لښکر [illegible]
[illegible] ذوالفقار خان افغاني لښکر [illegible]
[illegible] ايران لښکر [illegible]
[illegible] ابراهيم خان
[illegible]

صحنا قلي لخان له د نادر افشار غوري حملو پلان په دې وخت کې خبر کړي
نادر افشار هم [illegible] ذو الفقار خان
او [illegible] لښکرو [illegible] هرات [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible] هرات [illegible]
[illegible] ذو الفقار خان
[illegible] هرات [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
هرات ته [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible] هرات [illegible]
[illegible] ذو الفقار خان [illegible]
[illegible]

ورکړو - له دې نه پس یې په یوه قوي او درنه حمله پیل وکړه
نادر د بر کوښښ وکړه چې د خپلو توپکو او توپونو د ګولو په زور د -
افغاني لښکر مخینۍ حکې چې شي خو ونشو او مجبوراً په شا شو. افغاني
لښکر فوراً قلعه «ساک سلان» د خپل اردو مرکز وټاکه او له هغه ځایه
یې په دښمن حملې وکړې. نادر هم فیصله وکړه چې یوه قطعي حمله په افغانانو
وکړي. نو دغه زورورې توپخانې په زوره میدان ته راغی خو هیڅ یې هم
ونکړای شوا و د هرات د محاصرې په فکر کې شو نو دریو زره لښکري
د محمد سلطان د فراه د تالاکولو د پاره په هغه خوا ولېږل چې فراه ونیسي
او هرات ته د تګ راتګ لارې بندې کړي او په ځله یې د کبوتر وږونګ
ټینګه کړه د هرات لښکر بیا بله غوښه حمله پیل کړه او جنګ د شمس
اوبو په کلي کې جوړ شو دا پېره ایراني توپخانې سخته بمباري کوله
او دریو زره افغاني یرغلګري په میدان کې پرېستل او داتلفات
ډېر درانه وو او د افغانانو د پر دکار سرې وونړل شو نو افغاني
لښکر بېرته ښار ته ستون شو او د نوې قوې د جوړېدو د پاره په
قلعه کې قلعه بند شو. نادر چې دا ولیده له نوراغی د ناګهان په کلي کې
او د ملان د پله سر یې مقرونه جوړ کړه او د خپل اُردو نه چار
چاپېره یې خندقونه وکنستل په همې وخت کې د لاور لوی خان سر
د دریو زره لښکره هرات ته راورسېد او په ځای د دوست د -
د دښمن سره یو ځای شو دا شخص هغه دلاور خان تایمني و چې مخکې

یې د نادر لښکر سره جنګ کړی وو او مات شوی وو او د قندهار دربار
ته یې پناه وړې وه . او هلته په قندهار کې د شاه حسین هوتکي نه -
خفه شو او د هغه د حکومت په وړاندې پسې شو او په هرات کې نادر
افشار ته ورغی او غوښتل یې چې نادر افشار په قندهار او شاه حسین
باندې حمله وکړي . او د قندهار ضعیفې نقطې ورته ښې معلومې وې د
دلاور ملګرتیا نادر افشار نور هم زړه ور او په قندهار باندې د حملې
د پاره ولمساوه په دې وخت کې ایراني لښکر په فراه کې خاشې پیټولې وو
نادر امر وکړ چې د کرمان نه دې فوځونه د امام ویردي او محمد
سلطان په مشره کې په فراه ورشي او څلور زره ابراهیم ته یې امر
کړی وو چې د مشهد او نیشاپور نه د څلور لښکر سره ته هم په فراه ورشه
خو علي مردان خان ابدالي افسر لا مخکې د امام ویردي او سلطان محمد -
لښکر ته ماتې ورکړې وه او مغوی یې د ده نور په کلي کې مات کړي
وو . او سلطان محمد په جنګ کې وژل شوی وو ، علیمردان خان بېرته
د فراه ښار ته ننوت خو د قندهار او فراه او هرات لارې
د ښمن بندې کړې نادر افشار لس زره لښکر د سګر د مورچې د -
استحکام د پاره او لس زره نور لښکر یې د شرقي سنګر و د ټینګښتیا
د پاره مامور کړو او لس زره لښکر یې د ناګهان د سنګر په جنوب د هرات
کې د ساتنې د پاره مقرر کړو او د څلور اردو د پاره یې دار دوخان کلي
مقرر کړو او د هرات قلعه بند شو ذوالفقار خان د ښار د برالونه او برجونه

ترمیم کړه او ښار یې ټینګ کړی هم ژر یې ګواښ وکړ په ایراني لښکر یې ورځي
کوټې ته یې یوه ورځ یوه ګولۍ د نادر په خیمه هم ولګېده خو نادر ته یې -
حمله کې ته زیان ونه رسېد او له مرګه بچ شو. د ذوالفقارخان یوه ورځ
په ۱۱۴۳هـ کې اراده وکړه چې په ایراني لښکر یوه غورځنده قطعي حمله
وکړي او د دغه لښکر سره د ښار نه راووت او د نادر په سنګرونو
سخته حمله وکړه خو نادر هم په سختۍ سره دفاع وکړه او په دې
حال کې د ښار څخه راوتلی لښکر هم د نادر له کومکي لښکر سره مخ شو او افغاني
لښکر د دوی د مورچلو په منځ کې ګیر شو او ډېر مړي یې راغلل
افغاني لښکر ته په دې کې ماتې ورسېده او دوی د سپینو تورو په زور د دښمن
له لښکر څخه ووتل خو ډېر تلفات یې ورکړل او د ښار په لور ته راوګرځېدل
او بېرته افغاني لښکر ښار ته ننوتل نادر هم ښار ور محاصره کړ
کړی ښار یې هم تنګ کړ او سختې کړې یې افغانان په د ښار کې
د خپلې اوسېدنې او خوراک د پاره د باندې نه شول وتلی د لوږې په زور
به ښار ته په دې لړکي په کرېږ کې یوه افغاني ډله د ایراني لښکر
سره مقابل شوه او افغانانو ته په دې جنګ کې ډېر تاوان ورسېد
راشېدل - په دې وخت کې د دریمې میاشتې نوروز له جنګه وروسته
خو د هرات په خلکو کې د قحطۍ او خوراک ورکه شوه الله یار خان
ناهیلی د خپلو ملګرو په غرض له ښاره بهر ووت خو بېرته ښار ته راستون
بې پایه ستړیا او ستونزو ته لاړ د ذوالفقارخان هم ورته مجبور شول

قومي جرګې راوبلله او ورته ويې ويل چې زه د دښمن نه دومره په تنګ نه يم لکه خپلو مخالفينو نه په تنګ يم ما ته لار راوښايئ چې څه وکړم؟ چې خلکو کې د الله يارخان ملګري ډېر وو ويې ويل چې اولس حکومت بېرته الله يارخان ته وسپاره نو د مسئلې حل به پيدا شي، ذوالفقارخان هم د جرګې د فيصلې مخالفت خو نشو کولی!! دا خبره يې د ناچارۍ نه ومنله او هغوته يې وويل چې ورشئ الله يارخان چې د نادر افشار سره دی راولئ چې زه ورته حکومت وسپارم د جرګې د فيصلې سره سم يو هيئت د نادر اردو ته ورغی او ورته ويې ويل چې د دې مسلمان کشۍ نه څه مطلب دی؟ الله يارخان ستا دوست دی د موږ نه سر يې واستوه چې د هرات حکومت ورته حواله شي، نادر هم د افغانانو د اوږدو جنګونو نه ډېر ستړی شوی وو فوراً يې الله يارخان د هرات د حاکم په حيث ومانه او د خپل اطاعت په شرط يې - هرات ته واستاوه الله يارخان چې هرات ته راغی نو ذوالفقارخان د وعدې سره سم د هرات حکومت ورته وسپاره او پخپله اسفزار ته ترې لاړ او د سيدال خان سره يو ځای شو، سيدال خان ناصر او ذوالفقارخان او څه نورو اسفزاري او ابداليان په فراه کې د قلابند و افغانانو د خلاصون د پاره هغه خوا ورغلل او د فراه قلعه بند افغانان يې د ظهيرالدوله ابراهيم د نادر د ورور په مقابل کې تقويه کړه او پخپله سيدال خان

قندهار ته ورغى چې د شاه حسين نه کومک واخلي ، شاه حسين ورته دوه زره نور عسکر ورکړه خو چې سيدال خان فراه ته را ورسيد نو د هرات د ماتې خبر پخپله د الله يارخان (دا بله قصه ده چې الله يار خان څنګه مات شو او خپل لښکر ورسره جفا وکړه) دلاسه ورته را ورسيد- د فراه د خلکو هم په دې خبره حوصله ماته شوه او قلعه يې د ښمن ته پرېښوده - سيدال خان او ذوالفقارخان او الله يارخان هم چې راغلي وو نو قندهار ته لاړل . شاه حسين هوتک ذوالفقارخان او د هغه کشر ورور احمدخان (چې وروسته- احمد شاه بابا شو) بنديان کړه او الله يارخان هم له وېرې ملتان ته لاړ او هم هلته مړ شو او ذوالفقارخان او ورور يې احمد خان په (۱۷۳۸م) کې د نادر افشار په لاس ورغلل او دايران مازندران ته يې فرار کړه ذوالفقارخان هم هلته وېل کېږي چې په زهرو ووژل شو او کشر ورور يې احمدخان بيا د سياست صحنې ته را ووت او بنه رول يې ولوباوه- نادر افشار د (۱۱) مياشتې جنګونو نه پس په (۱۷۳۱م) کې هرات ونيولو او د هرات خلکو سره يې ښه ګذاره کړله څکه چې نادر اصلاً د خراسان او سېد ونکی او ددې ځای د يوې قبيلې افشار ته منسوب وو او د افغانانو د جنګياليتوب نه هم ډېر متاثر وو. او مخکې د نادر افشار ډېر باور په ترکانو وو خو پس له دې افغانانو ته خاصه توجه وکړه او غوښتل يې چې

د دوی په کومک په توران او هند یرغلونه وکړي او د دې مقصد د پاره یې عبدالغني خان الکوزی د ابدالیانو رئیس وټاکه او هم د دوی جاه طلب شخص په واسطه یې وکړی شو چې یوه (۱۲) زریزه فرقه تشکیل کړي چې ټول افغانان وو او غلجي محمد خان یې د دغه فرقې قوماندان مقرر کړو چې په «میرخان» ملقب وو، نادر افشار هم د دې نوې قوې په زور په هند او ماوراءالنهر او د عثماني دولت سره په جنګونو او داغستان کې یې ډېرې کامیابۍ او وړې ترلاسه کړې عبدالغني الکوزی د نادر په مخکې خدمتونه وکړه نو په صله کې یې د قندهار والي مقرر شو او احمد خان ابدالي د وزبکو د قوې قوماندان وټاکه نادر په افغانانو ډېر اعتماد وکړ او له دې کبله د ترکي - فوځیانو او ایراني فوځیانو د نادر سره دښمني را پیدا شوه. نادر خپل ځوی رضاقلي د هرات حاکم وټاکه خو د هرات خلک او په تېره - دهقانان د ایران فوځونو د لاسه ډېر په تنګ وو.

ټولنیز وضعیت

د افغانستان د ویش او تجزیې نه وروسته په شپاړسمه پېړۍ کې د ازبکو د ولتونو او ایراني صفویانو او د هند بابري دولت سره د اوږدو مبارزو نه پس په افغانانو کې بیا نوی حرکت او جنبش

را پیدا شو او د آزادۍ خواهي پټه جذبه یې بیا راولټېدله، او د
کال (۱۷۰۹م) نه د میرویس د حرکت نه بیولې د نادر د استیلا پورې
(۱۷۳۱م) پورې دا لنډه موده کیږي چې د تاریخي مقیاس په اساس
بیخي د یو ملت د پاره لنډ عمر چې (۲۰) کاله کیږي گڼل کیږي. نو په دې
لنډه موده کې چې اکثره برخه یې په جنگونو او فتح او شکست -
لگېدلې وه نو ځکه خاص تمدني فرهنگي او اقتصادي انکشافاتو ته
افغان ملت څه فرصت نه و پیدا کړی تر څو چې په اتلسمه پېړۍ کې
څه اجتماعي تحولونه منځ ته راغلل او نوی سیاسي بدلون په افغا
نستان کې رامنځ ته شو چې د نوي افغانستان د تشکیل واقعه وه
چې په اتلسمه (۱۸) پېړۍ کې پېښه شوه -

افشاري دولت او افغانستان

په ایران کې ترلیز شرایط د اتلسمې پېړۍ په اوایلو کې داسې
و چې د یو او متمرکز ایران د رامنځ ته کېدو زمینه یې برابره
کړې وه چې دا کار د نادر افشار په مشرۍ کې وشو.

بنه نو نادر څوک و؟

نادر قلي د امام قلي پوستین دوز ځوی و او د ابیورد -
او سیدونکی خراساني و، په (۱۶۸۸م) کې پیدا شوی و او نژدې که

یې نه وه کړې او آمې و و د پلار مرګ نه وروسته نادرم د پوستین
ګنډلو کار کاوه څو د دوی په علاقه د ازبکو داړه راغله او نادر
او مور یې ازبکو بندیان بوتلل مور یې په بند کې مړه شوه او څلور کاله نادر
د ازبکو د بند نه وتښتېد او خپل اصلي وطن خراسان ته راغی څو د -
ازبکو بند او په بند کې یې د مور مرګ د نادر د پاره د ویښید و یوه
متروکه ، قمچین ، وه چې نادر یې را بېدار کړ او په نوو فکرونو
اخته شو - او یو ماجراجو سړی ترې جوړ شو چې کله ناکله به یې لارې
هم وهلې او قافلې به یې لوټلې . او په دې چې دی زړور او هوښیار
و و نو تل به د خپلو ملګرو مشر هم و او د محلي مشرانو خانانو سره به
یې نوکري هم کوله . په هغه وخت کې چې دی د ابیورد حاکم سره نوکر
و و په خراسان د ازبکو داړه راپرېوتله - او د ملک محمود د سیستان
د مستقل حاکم له خوا یې چې مدافعه کېدله نو نادر په دغه جګړو کې
مهمه برخه واخیسته او ښه میړانه یې وښودله او ازبکو ته یې -
ماتې ورکړه - په دې منځ کې د ابیورد حاکم مړ شو نو ملک محمود
سیستاني مستقل حاکم د ابیورد د علاقې حکومت نادر افشار ته وسپاره
او نادر له دې نه پس ښه نومیالی شو - خو ملک محمود زړه پوه شو چې
نادر داسې څوک نه دی چې د چا په دام کې د ېره موده پاتې شي نو -
غوښتل یې چې له منځه نه یې لرې کړي خو نادرم وپوهېده او وتښتید
او د کلات خان ته یې د خپلو ملګرو سره پناه ور وړه . په دې وخت

کې صفوي شه طهماسپ د غلجو د مقابلې د پاره د لښکر د ټولولو په لټه
کې وو او د نادر د مېړانې هم اورېدلي وو نو شه طهماسپ نادر
ته هم بلنه ورکړه چې راشي او د ده په لښکر کې ګډون وکړي او
د افغانانو په مقابل کې د ده مرسته وکړي، نادر لومړی د کلات
خان ووژلو او د هغه ښځه يې واخیسته او ډېرې زور ورې
ولې سره د شه طهماسپ لښکر ته راغی او د شه طهماسپ سره ورېله
او په شاهي لښکر کې شامل شو، ايراني لښکر هم د نادر د ګذارې
نه اغېزمن شو او د نادر مشري يې ومنله او په لښکريانو برګران
شو، نادر وکړی شو چې زر د ملک محمود په مقابل کې لښکرجوړ
کړي او د شه طهماسپ په نوم د ملک محمود سره وجنګېږي په-
کال (۱۷۲۶م)، کې نادر د ملک محمود په علاقه نیشاپور ورغی او فتح
يې وکړه او ورپسې يې د نیشاپور او مشهد ټول ولايت او په
(۱۷۲۷م)، کې يې سيستان هم د ملک محمود نه ونیولو او ملک محمود
يې ووژلو، دې مړانو د نادر نوم خپور کړ او د ايراني لښکر
سپه سالار مقرر شو او نوم يې په ايران او افغانستان کې خپور شو
او شه طهماسپ صرف د نادر د لاس يوه آله شان وو ځکه چې
شه طهماسپ يو شهزاده وو او په اشرافي او درباري محيط کې لوی
شوی وو او نادر خو هغه څوک وو چې د عوامو نه راوتلی وو او
ډېرې تودې سړې يې ليدلې او زغملې وې او ښه پخپل سر کې يې لوی

نقشې هم درلودې. او تجربه کار سړی وو، نادر په (۱۷۲۲م) کې
کې په خراسان کې او استرآباد کې بنسټې ټینګې کړې چې د شرق او
غرب غلجو او ابدالو د دوو قوتونو غلجو او ابدالو په منځ کې وړغلی
پروت وو، نادر لومړی وار هرات ته متوجه شو او ابدالیان یې
کنټرول چې یې طرفه اوسې. او بیا غلجو ته چې په ایران کې وو په
پام شو په (۱۷۲۹م) کې د غلجو حکومت ته په سختو او پرله پسې
جنګونو کې ماتې ورکړه او له منځه یې یووړه او بېرته هرات ته را
وګرځېد او تر (۱۷۳۱م) کاله پورې یې ابدالي حکومت هم مات کړ
او هرات او فراه یې ونیول او بېرته ایران ته متوجه شو او په
(۱۷۳۲م) کې د عثماني دولت سره د ایران د زمکو د آزادولو د پاره
په جګړه پیل وکړ او د عثماني دولت نه یې اذربایجان او عراق
یې تر ېې د توري په زور ونیول خو چېله شه طهماسپ د همدان
په جنګ کې ماتې وکړه او د ګنجه د معاهدې په اثر یې تفلس د
ایران او نجوان او شاخه او داغستان یې عثماني دولت ته پرېښود
نادر په دې خفه شو او شه طهماسپ یې د بادشاهت نه خلع کړ
او د هغې په ځای د هغه وړکوټی ځوی عباس یې بادشاه کړ او نادر
یې نایب السلطنه شو. او بیا د عثماني دولت سره په جګړه اخته شو
خو د کرکوک په جګړه کې له ترکانو نه په (۱۷۳۲م) کې ماتې وکړه خو په
چټلو بیا حملو یې ترکانو نه د بغداد د دجلې په جزیره کې ماتې ورکړه

او په ایران کې هم ترکان مات شو او تر (۱۷۳۵م)، پورې د ایران ځمکې
له ترکانو نه آزادې کړې او ګرجستان او ارمنستان یې هم ونیول او -
وروسته یې د عثماني دولت سره صلحه وکړه په دې جنګونو کې افغاني
لښکرو د نادر کومک کړی وو نادر په دې حال کې د روس سره
په تماس کې و وا او په (۱۷۳۲م)، او (۱۷۳۵م)، کې د دوو معاهدو
په اثر روس هم د ایراني خاورې نه لاس واخیست او د خزر د بحیرې
غاړې او باکو او دربند یې ایران ته پرېښودل او نادر بیا د ایران -
سیاسي یو والی منځ ته راووړ او په (۱۷۳۶م)، کې یې د ایران د عسکري
او ملکي او خلکو نه لویه جرګه نادر راوغوښتله او د خراسان په صحرای
مغان کې دا جرګه جوړه کړې شوه - او نادر ورته د باد شاه د انتخاب -
پېشنهاد وړاندې کړو قبولو په یوه خوله نادر د ایران د سلطنت بادشاه
ومانه خو د نادر لویه ارزو او مستقله نقشه په دماغ کې لرله نو واخیره
یې په دې شرطونو ومنله چې تاسې قول به ماسره ټینګه وعده کړئ
چې د ماسره به و دریږئ اول داچې ایران او افغانستان دې یو کړی
شي او یو مرکزیت دې ولري او غوښتل یې چې دا مرکز په خراسان کې
وي او د مشهد مرکزیت یې د اصفهان نه غوره ګڼلو، دویم داچې دواړه
افغانستان او د ایران خلک دې په یو رسمي مذهب وي چې مذهبي
کینه ورکه شي او نادر پخپله حنفي مذهب وو غوښتل یې چې خلک هم
دا مذهب ومني قبولو خلکو بیا په یوه خوله د مغان په جرګه کې دا دواړه

شرطونه هم ومنل او نادر افشار په عنوان د «نادرشاه» اعلان شو، له دې نه پس نادرشاه افغانستان ته په پام شو او په (۱۷۳۷م) کال کې د قندهار د غلزو د پاچا حسین هوتکي پولو ته لښکر وکړه او خپل زوی رضاقلي د یوه لښکر سره د شمالي افغانستان د غلزو د پاچا حسین خوا ولېږلو، چې په (۱۷۳۸م) کال پورې نادرشاه د قندهار غلجي دولت له منځه وړو (۱) او رضاقلي هم د شمالي افغانستان واړه محلي حکومتونه د بلخ نه د مرو پورې ونیول، نادرشاه د قندهار نه په مرکزي افغانستان او شرقي خوا ور روان شو هغه وخت کابلستان کې شېرخان او په شرقي ایالتو کې ناصرخان د هند د بابري دولت له خوا حاکمان وو شېرخان څه مقاومت وکړ خو مات شو او د غزني نه تر کابل، - جلال آباده او پېښور پورې خلکو د هند د بابري دولت مرسته نه کوله نادرشاه مخ په وړاندې لاړ، د دغه ځایونو خلک د بابري دولت نه خفه وو او هم د نادرشاه د لښکر په مخکې د غلجو او ابدالیو د لښکر ډلې راروانې وې، نادرشاه په اسانه تر جلال آباده ورسید او په ښو اخلاقو او د پېښور په شاوخوا اپریدي او شینواري قبایل هم رام کړه او خپل پلوي کړل او د هغو نه یې هم عسکري ټولګي جوړ کړل او په خیبر ور تېر شو او بابري دولت کې د مقاومت قوت نه وو نو نادرشاه ښه په قراره د پنجاب تر مرکزه لاهوره مخ په وړاندې لاړ او بابري دولت هغه شهرت چې محمد بابر او همایون او اکبر او جهانګیر او شاه جهان

(۱) د غلجو په (۱۷۰۹م) کې قایم شوی او په (۱۷۳۸م) کې له منځه لاړ او ۲۹ کاله عمر یې وو.

او اورنګ زیب ګټلی او ساتلی وو، د اورنګ زیب له مرګه پس نه وو پاتې او بابري دولت د انقراض په حال کې وو او د مغولو جانشین «محمد شاه» تش د نامې د هند امپراطور وو نادرشاه هم د لاهور نه د هند پایتخت ته مخه وکړه او په ستلج ور پورې شو او په کال (۱۷۳۹) میلادي کې په کرنال کې د بابري دولت روستی مدافع قوت هم مات کړ او د ډهلي ته ورسېد او په دې چول د بابري دولت حیثیت د هند د خلکو په نظر کې نور پاتې نه شو او یو مشر او جاګیردار او راجه او جوبدار د هند د بابري دولت مرسته ونکړه او مغلي بادشاهۍ د تاج او تخت کومک هیڅ ام ونکړو او محمد شاه بابري بادشاه له ناکامه تسلیم شو او څنله لوړې نصرالله د نادرشاه خوی ته ورکړه په دې کې دا افواه او آوازه خوره شوه چې نادرشاه مړ شو د ډهلي خلک په دې راو پاریدل او پاڅون یې وکړو خو نادرشاه او لښکریې هم صرفه ونکړه او اته ساعته یې د ډهلي په خلکو توره وچلوله او بې دریغه یې مړه کړل. او د ډهلي ښارېې هم تالا او لا کړو نادرشاه اته ورځې په ډهلي کې پاتې شو او بیا یې د هند حکومت پخواني بادشا محمد شاه بابري ته بېرته وسپاره او څنله نادرشاه افغانستان ته روان شو او څو میلونه طلا او ډېر جواهرات چې «کوه نور الماس» هم پکې وو او تخت طاوس چې شاه جهان بادشاه په ډېر لګښت جوړ کړی وو هم د ځان سره یوړل نادر پس له دې دوه مړه د دولت پیدا

کړی وو چې د خیبر نه د تېرېدلو په وخت یې د خواوشا خلکو
ته یې یو میلون روپۍ ورو وبخښلې او کابل ته راغی نادرشاه د-
کابل نه یو وار د پکتیا په لاره په سند پسې لښکر وکړ او سند
یې د نورمحمد د هغه ځای د والي نه ونیولو چې د نادرشاه حکم یې نه
وو منلی او نادرشاه یو وار د هرات نه د پکتیا او کرمې په لاره او
ډېره اسمعیل خان څخه سند ته په (۱۷۳۹م)، کې ورغلی وو نادرشاه-
نورمحمد تسلیم کړ او یو میلون او درې لکه روپۍ او یوه وړه ښه
کتابخانه ترې هم لاندې کړه او د خان سره یې وروړه او د میر نورمحمد
ځامن یې هم یرغمل بوتلل نادرشاه د هغه غنیمتونو نه چې په سند کې لاس
ته ورغلي وو هر یو لوی افسر ته پنځه سوه اشرفۍ او وړو افسرانو
ته د درې سوه نه ینولی تر یو سلو اشرفو پورې او هر سپاهي ته
دوه اشرفۍ وبخښلې چې په هغه وخت کې یوه اشرفۍ د (۲۴) روپو
معادل وه. په (۱۷۴۰م)، کې نادرشاه د جیحون نه ورتېر شو او
بخارا ته نژدې ورغی خو د بخارا امیر هم بې جنګه تسلیم شو او خپله
لور یې د نادرشاه وراره علي قلي ته په نکاح ورکړه او دا یې هم
ومنله چې د د وارو دولتونو سرحد به د پخوا په شان د آمو سیند
وي او نادرشاه د بخارا نه راوګرځېد او په خوارزم ورغی خو د
خیوې خان مقاومت وکړ او په جنګ کې مړ شو نادرشاه په خیوه
کې خپل حاکم مقرر کړ او بیا خپله بېرته مشهد د دولت مرکز ته راغی

خو په خیوه کې د نادرشاه حکومت ډېر دوام ونکړی شو او دخیوې
د ازبکو د پخوانۍ حاکمې کورنۍ یوه تن خیوه ونیوله ، د (۱۷۴۰م)
نه پس نادرشاه دخپل مملکت په نظم ونسق مصروف او نبنتی ورو
او د لویو کارونو نه یې یو دا و وچې یوه بحري قوه یې د یو
انګرېز په مشوره کې تشکیل کړه او دخزر په بحیره کې کشتۍ جوړول
پیل کړه او دفارس د خلیج لبنګرګاه یې هم جوړه کړی شوه نادر
دا ټول فتوحات دخپل قهرمان دماغ پیداوارګڼل او د مطلق العنانه
د تاثیر لاندې راغی او قهرندوینکی او ظالم او مستبد شو خو خبر نه
وو چې د دې انجام به څه وي ؟ د ټولو طبقو ګتې په خطر کې وې او
روحانیون شیعه هم ترې متاثر او خفه وو او په پټه به یې خلک
د نادرشاه په خلاف لمسول ، او ځینو خلکو پاڅون هم وکړ او دبختیار
قبیلې او لزګي قبیلې هم کله ناکله پاڅونونه کول خو نادرشاه به هغه په
خپل زور او قوت وځل او رام کول به یې یو وار نادرشاه د شیروان
نه مازندران ته په څه مهم تلو روان وو چې په ځنګل کې چاپې ورته
وکړې او په لاس زخمي شو په کال (۱۷۴۴م) کې یو تن کرماني د -
شاه حسین صفوي د ورور په نوم راپورته شو او ترکیه ته یې
پناه وروړه چې د نادرشاه نه د ترکیې په کومک بیرته سلطنت ونیسي
ترکیه او روس هم د نادرشاه د زور نه په وېره کې وو او مخالفت
یې کولو دې واقعاتو نادرشاه دومره عصبي کړو چې په لږه اشتباه

چېل ځوی او وليعهد رضاقلي ړوند کړ او پخپل ورارو علي قلي چې
په سيستان کې حاکم وو هم بدګمانه وو او قزلباش او افشار افسران
هم ترې په دې ناراضه وو چې نادرشاه ډېر اعتماد په افغاني افسرانو
کولو - او ايراني افسران لکه محمدقلي خان کشيکچي باشي چې د نادر
شاه د محافظې ولې افسر وو او محمدخان قاجار، موسی خان افشار
قوچه بېک او ړوړي، صالح خان ابيوردي، او (۷۰) تنو نورو
داوطلبي وکړه چې نادرشاه به له منځه وړي او لاس يې سره يو
کړه - په کال (۱۷۴۷م) کې په فتح آباد کې د شپې يې نادرشاه و
وژلو او د هغه بار بُنه يې تالا کړه خو افغاني لښکريانو د نادرشاه
حرم او کوړنه د باغيانو د لاس نه بېچ کړه او د دې خدمت په بدل
کې د حرم خلکو د کوه نور الماس احمدخان افغان ابدالي ته چې -
"وروسته احمد شاه" شو ورکړه او منځه يې ترې وکړه د نادرشاه
د مرګ نه وروسته او خاصې چې افغانان خپل وطن قندهار ته ترې
لاړل نو د خراسان او نور ايران د اضطرار او اضطراب او په هرج
او مرج کې پاتې شو په ايران کې محمدحسين قاجار د خزر په غاړو
او علي آزاد خان په آذربايجان او هراکليوس په ګرجستان،
ابوالفتح او عليمردان رقبا، يې په اصفهان کې او کريم خان د
زند د قبيلې رئيس په جنوب د ايران کې هريوه د خان خانه استقلال
اعلان وکړ او د يو بل د غاړې غوړ شوا و پخپلو منځو کې سره

اخته شو. لس کاله هم څه ملوک الطوایفي وچلېده او ایران کې بدحال وو ترڅو چې کریم خان زند په ډېر بریالي شو او په (۱۷۵۲م) کې یې ټول حکمرانان د منځه لرې کړه او په ایران کې یې یو مرکزي حکومت جوړ کړي شو دا سړی د ایران د ډېر مدبر بادشاه په حیث پېژندل کېده او ترمرګه (۱۷۷۸م) پورې د بادشاه عنوان د ځان د پاره غوره نکړو او لکه د میرویس هوتکي په شان یې د بادشاهۍ عنوان و نه مانه او د قوم مشر او رئیس او امیر و وا و خلکو به وته (وکیل الرعایا) ویلو او دا لقب ملت ورکړی وو خو د ده سړي د مرګ نه پس په (۱۷۷۸م) کې ایران بیا په خپلو منځو کې اخته شو او په یو بل به یې برغلونه کول که څه هم لطف علي خان زند شپېږ کاله ډېر ترقولو زړور او وا لوړ حیثیت یې درلوده خو مرکزي قوي دولت په منځ کې نه وو په ده پسې منځ کې یو تن - مقطوع النسل او قهار په نوم د اغا محمد خان قاجار چې خپلو رقیبو (فیو والانو) زمکې والو باندې بریالی شو او په کال (۱۷۹۴م) کې په توره او د متې په زور یې د خپلې قاجاري بادشاهۍ د - سلسلې اساس کېښود او په ایران بادشاه شو او هم دا بادشاه وو چې په یوه ورځ یې په کرمان کې (۲۰۰۰) زره د انسانانو سترګې حواله کړې وې او (۲۰۰) زره کرماني ښځې ګړې شو او د هغو ښځې یې دا ردو سپاهیانو ته وبخښلې او کرمان د شل زره ښځو

په اش په یو افسانوي منار بدل شو. په خراسان کې د نادرشاه
د وفات نه پس په (۱۷۴۷م)، کې علي قلي خان د نادرشاه وراره په
مشهد کې د ځان باد شاهۍ اعلان وکړو او د «عادل شاه» عنوان
یې غوره کړو او د کلات د قلعه نه یې د شلو پینځو میلونو نه -
ډیر طلا او جواهر راوړل ، علي قلي خو د شاهرخ نه چې څوارلس
کلن وو او د نادرشاه نمسی وو، د ځان نه اولادونه او
اخلاف قتل اعدام کړه او ابراهیم د علي قلي ورور چې په عراق
حاکم وو د ځان ورور په مخالفت پاڅون وکړو او هغه یې -
ړوند کړو او د ځان باد شاهۍ اعلان یې وکړو خو خلکو په هغه
م پاڅون وکړو او دواړه ورونه یې اعدام کړه او ویې وژل
او شاهرخ یې بادشاه کړو په دې منځ کې یو روحاني سړی را-
پاڅید چې سید محمد یې نوم وو او د مشهد د زیارت متولي وو او
ډیر اعتباري وو پاڅون ئې وکړو او شاهرخ یې بندي کړو او ړوند
یې کړه او ځان یې د «سلیمان شاه» په عنوان بادشاه کړو او د
ځان باد شاهۍ اعلان یې وکړو خو د جلایر خانانو (یوسف علي خان
او زالخان) ورنه مانه او سید محمد یې لرې کړو او ړوند شاهرخ
یې د نامې باد شاه کړو او د دوی او نورو فیودالانو د لاس آله
او لوبونی وو لکه امیرعلم خان خزیمه ، جعفرخان کرد ، بهبودخان مري
احمد جان بیات، امیرخان توپچي باشي او نور شو ، چې قتل (۱۶) تنه

کېدل او د حکومت واګې به یې لاس په لاس ګرځولې او خراسان کې دې وضعې دوام درلود چې ترڅو احمدشاه ابدالي لوی افغاني دولت په ۱۷۴۷ م کې تشکیل کړ او خراسان ته راغی او د مروند شهرخ ته یې د خراسان ولایت په هزم و سپارلو او اصلي واکداری یې افغان نورمحمد خان و روچې د حکومت نایب ورتاکل شو او چارې به یې اداره کولې او د خراسان ولایت بیا په افغانستان ورتاړه شو.

افغانستان د اتلسمې پېړۍ نه تر شلمې پېړۍ پورې

الف :- ابدالي دولت او د افغانستان نوی تشکیل

ابدالي احمد شاه د «۱۷۴۷م نه تر ۱۷۷۳م» پورې

سرکاري بعث

په دې وخت کې د افغانستان خلک او په تېره د قندهار ولس د غلجیو ، مکو والوا و د پردو سره پرله پسې مبارزو و تر پوزې را ستلي وو او په افغانستان کې د یو متمرکز او قوي دولت د جوړېدو زمینه ښه برابره شوې وه نو د احمد شاه په مشره او قیادت کې ابدالي دولت منځ ته راغی احمد شاه د پلار محمد زمانخان د مرګ په کال په ۱۷۲۲ میلادي کې په هرات کې وزېږېد[۱] ، په دغه وخت کې د دوی تربور او د احمد شاه د پلار محمد زمانخان رقیب محمد خان ابدالي د هرات په حکومت تاکلی شوی وو نو د زمان خان کورنۍ یعنې د احمد شاه مور سره

(۱) احمد شاه بابا په (۱۷۲۲م) کې تولد او په (۱۷۷۳م) کې په توبا کې د (۵۰) کالو په عمر وفات شوی دی رجب (۱۱۸۷ هـ.ق)-(۳۷۳ - پانه مسیر تاریخ).

د خپل واړه خوی فراه ته کډه وکړه ، وروسته احمد شاه لوی شو
خو د خپل مشر ورور ذوالفقارخان سره څه د نادر افشار په مقابل
کې مبارزه کې او نه په نورو سیاسي چارو کې څه برخه اخیستې وه او
نه یې څه خاص سیاسي فعالیت کړی و وخو وروسته د خپل ورور
د قندهار د غلجو دربار ته ورغی او د شاه حسین هوتکي سره پناه گزین
شو او هلته په سیاسي توګه بندیان کړی شو، څه وخت چې نادر افشار
په (۱۷۳۸م) کې د قندهار ښار لاندې کړه نو ذوالفقارخان او احمدخان
یې د بنده نه خلاص کړه او مازندران د ایران ته یې تبعید کړه او
ذوالفقارخان لکه چې ویلی شي هلته په نهرو وژل شو، احمدخان
په دغه وخت کې شل کلن و او بنه ښکلي ځواني یې درلوده او ده نادر
شاه خراساني دربار ته ورغی نادرشاه افشار خراساني دی په خپل فوځ
کې او خاص په افغاني فوځ کې د افسر په حیث مقرر کړه او وروسته
یې چې د احمدخان اخلاق او کفایت او صلاحیت ولیده نو د ازبکي او
ابدالي قواوو قوماندان یې هم وټاکلو او د نادرشاه د مرګه پورې -
احمدخان په دغه رتبه په نادري فوځ کې پاتې شو، په دې وخت کې
احمدشاه په خپلو فوځیانو کې بنه نوم وګټلو او په نادرشاه یې هم دوښا
او کړو ډیر اثر وشو. د نادرخان د مرګ په کال احمدخان (۲۵) کلن
وو او د شروندانه تودې سړې یې لیدلې وې او عزتونه او ذلتونه
حکمونه او فرار دا هرڅه یې لیدلي او کتلي وو او دا ټول واقعات

یې په ذهن کې وراو ده په طبع او اخلاقو یې اثر کړی وو او په خوي بوي کې پخلی پیدا کړی و او احمدخان ته ده کړه هم کوله او په پښتو او دري ژبو کې یې لیکوالي هم کولی شوه، او د پښتو ژبې بنه وتلی شاعر هم وو چې دیوان یې شته دی او څه وخت چې نادرشاه ووژل شو نو احمدخان او ملګري یې نور محمد غلجي چې په فوځ کې لوی ګڼل کیده نو سره د خپله لښکره چې (۴۰۰۰) غلجي او (۱۲۰۰۰) نور ابدالیان او ورزبک او نور افغانان پکې وو د قندهار په خوا لاړل قندهار چې د افغانانو بین الاقوامي مرکز وو نو هلته یې یوه قومي جرګه د ټولو افغانانو، غلجو، درانو، ازبکو، تاجکو، هزاره وو او بلوڅو نه راټوله کړه او نور محمد خان ورته د بادشاه د انتخابولو پیشنهاد ورانددې کړو، دا جرګه په (۱۷۴۷م) کال د شیرسرخ زیارت په ورانده کې کېدله چې د نادرآباد د نظامي قلعه سره واقع وه او دې جرګې (۹) ورځې دوام وکړو او په دې جرګو او مرکو کې اتفاق دارا و ممکن نه شو چابه یو څه ویل او چابه بل څه!! او موضوع هم ډېره مهمه وه او هرلوری خان د سلطنت غوښتونکی وو او نامتو خانان او د سلطنت مدعیان پکې محبت خان پوپلزی نور محمد خان غلجي، موسی خان اسحاق زی، نصرالله خان نورزی او څینې نور یې چې حاجي جمال خان بارکزی وو او په ټولو کې احمدخان په دې جرګه کې نه غږېده ونکی یعنې چپ سړی وو څکه چې د سدوزو

قبیله د کمیت په لحاظ لوړه وه خو نیکه یې دولت خان د ارغستان رئیس
وو او پلار یې زمانخان د هرات رئیس تېر شوی وو او اهمیت
او عزت یې د خلکو په سترګو کې وو په نهه ورځ جګړې د پرله پسې
ناکامۍ نه وروسته یو روحاني سړی چې هم هلته وو او د یوې
قبیلې پورې هم مربوط نه وو او د قندهار هم نه وو خوښ کړو چې
دا سړی که هر څوک بادشاه خوښ کړي نو دا نور ټول به دا خبره منوو
مني او هغه ته به بیعت ورکوي په همدې خبره پرېکړه او فیصله
وشوه - دا حکم سړی صابرشاه نومی کابلی د استاد «لایخوار» خوی
و چې یو روحاني او متصوف بزرګ وو او د کابل او سپد ونکی وو
د ټولو خلکو په دې بزرګ صابرشاه بنه باور وو - دا سیاست پوه
صوفي او بزرګ پورته شو او په احمدخان یې لاس کېښود او دی یې
د بادشاهۍ د پاره غوره کړو او د غنمو یو وږی یې د هغه په پګړۍ
کې د تاج په ځای کېښود او مبارکي یې ورکړه.

دابدالي دولت تاداو

۲- د مشرانو که د چا خوښه وه
او که نه مجبور وو وعده یې کړې وه او یو په بل پسې راتلل او احمدخان ته
چې اوس «احمدشاه» شوی وو د بیعت لاس ورکولو او د احمد شاه
د سلطنت تصدیق به یې کولو ، احمد شاه له بادشاه کېدو نه پس دا
ثابته کړه چې د ده فطري ذکا او لیډلو کتلو دی د خواوشا ګاونډی -
ملکونو د روانو او ضاعو نه او احوالو نه بنه خبر کړي وو او د افغانستان

د د ننه حالاتو نه هم خبر وو او د دې اوضاعو په رڼا کې د افغانستان او افغانانو په گټه يې چې څه کولی شو او قادر وو د هغې کولو يې غوښتل او طبعي استعداد او صلاحيت هم د دې لوی کار د پاره پکې وو او تر ډېره په دې ارزو کې بريالی هم شو او زمينه د دې د پاره حاضره وه چې په افغانستان کې دې د يو مستقل دولت تشکيل کړلی شي او دا کار يې وکړو - او خلکو هم په دې کار کې د احمد شاه مټ ټينگولو ځکه چې د دهقانان پېشه وران او د ملت اکثريت نور د ملوک الطوايفو د زړو مرو ماليـاتو د بار نه او د ډېرو لښکرو کولو نه په تنگ شوی وو او په افغانستان کې د يو قوي دولت او امنيت طرفدار او غوښتونکی وو - افغاني ولس په کلونو کلونو د پردو زورورو گيرو په مقابل کې مبارزې او جنگونه کړي وو او د خپلې آزادۍ او خپل ملي حاکميت په ارمان کې وو او د دې کار د کولو د پاره هرې قربانۍ ته ولاړ او چمتو وو - او هم دا قوم وو چې د چنگېزخان د زور او تېرې په مقابل کې ټينگ ودرېدل او بې شماره قربانۍ ورکړې او ويې کړلې شو چې د چنگېزخان د بشري قوې په مخکې و درېږي او د هغه زور يې مات کړو او مغلي قوت يې دا سې جذب کړو چې نور په افغانستان کې خالصه مغلي ټبه او مغلي نسل هم پاتې نه شو!! په دې وخت کې ايران د نادرشاه افشار خراساني د مرگ نه پس د هرج او مرج په حال کې و وا او يو ډول ملوک - الطوايفي پکې راغلې وه او نور په نورو گاوندیانو د تيري کولو قدرت

پکې نه وه پاتې او په ماوراءالنهر بخارا کې هم جنيدي دولت د زوړ انحطاط په حال کې وو او اشرافو او فيوډالانو په علاقو کې د يو مستقل ډول واک محلي حکومتونه لرل - حتی چې پخپله هريو د استقلال په حال کې وو او جنيدي دولت د بادشاهۍ د مدعيانو سره لاس په گريوان وو - لکه د احمد شاه د بادشاهۍ شپږ کاله لا نه وو شوي چې محمد رحيم خان د بخارا د تاج او تخت مدعي د عبدالله خان ثاني جنيدي بادشاه په ځای کېناست او پنځه کاله پس عبدالعزيز خان د جنيدي دولت وروستنی بادشاه وژل شو چې موروثي سلطنت بېرته تر لاسه کړي او د ماوراءالنهر اوضاع د فيوډالانو او اشرافو د لاس آله او لوبې وې او د احمد شاه د راتللو نه مخکې به يو خان تللو او د بل د راتللو به انتظار وو - نو هغوی هم په زور د تيري او تجاوز کولو قدرت د پخوا په شان نه درلود او په شلو پنځه کاله کې په خوارزم کې لس بادشاهان ردوبدل شوي وو نو په بل چا د حملې کولو جوگه نه وو په هند کې هم دغه حال وو چې د اورنگ زيب مغلي بابري بادشاه د مرگ نه وروسته په جنوبي هند کې د ميرهټه حکومت د سيواجي په قيادت کې بنه قوي شوی وو او منځ ته راغلی وو او د جنوبي هند په ډېرو برخو مسلط و او بابري دولت هم نور د دې جوگه نه وو چې په افغانستان نور تېری او تجاوز وکړي او زور پرې راوړي - او په شمالي هند کې هم د

سکهانو نوی قوت راپیدا شوی وو او د فعالیت په حال کې وو او محمد شاه بابري بادشاه یواځې د هند د نامې شهنشاه و (۱). او واقعي شهنشاهي حیثیت یې نه درلود او د محمد شاه والیان چې په اوده او کرناټک او دکن او بنګال کې وو هغوی هم مستقل شوي وو او صرف څه خراج به یې پایتخت ته ور کولو نوابانو هم خپل نومونه بدل کړل او د صوبدار په نوم به یادېدل. په دې مخ کې د دریا د غاړې نه هم یوې بلې بلا سر راپورته کړ چې هغه به هندیانو سوداګر او افغانانو بساریان بلل او هغه غربي زورګیر وو چې د هند سواحلو ته د هند د خوړلو او هضم کولو د پاره رارسېدلي او راغلي وو. په هند کې په دغه وخت کې افغاني قوتونه او شخصیتونه هم وو چې ډېر سیاسي نفوذ یې درلود او په دربار او ځینو ولایتونو مسلط وو لکه د ډهلي په دربار کې نجیب الدوله افغان «نجیب خان یوسفزی» مقتدر افسر وو او په کټړا او فرخ آباد کې او ملتان کې روهیلیان افغانان او بنګش او ابدالیان لکه ــــ «سعدالله خان روهیله احمدخان بنګش او زاید خان ابدالي»، د بنه ډېر قوت سره موجود وو او د هند دې اوضاعو احمد شاه په دې واده کړلو چې د هند له خوا د کوم خطر وېره نشته؛ !

---

(۱) دا شهنشاه «ابوالفتح ناصرالدین محمد شاه خجسته اختر وو»

نو د دې شرایطو په موجودګۍ کې د احمد شاه د پاره زمینه برابره او حاضره وه چې افغانستان متمرکز او رایټول کړي او یو قوي حکومت پکې جوړ کړی شي او احمد شاه وکولی شو چې په لږه موده کې د افغانستان سیاسي وحدت د آمو نه نیولې تر عمانه پورې او د خراسان او سیستان نه نیولې د هند د رود باره پورې جوړ کړي او منځ ته یې راوړي او افغانستان د سیاسي وحدت او یووالي خاوند کړی شي او احمد شاه د خپل سلطنت په (۲۵) کاله موده کې هر څوک او طبقې خپلو وظیفو او وجیبو ته متوجه کړې چې د دوی هر کردار مسئولیت هم لري او حکومت به یې ترې بازخواست کوي او عمومي امنیت قایم شو او د دولت استحکام منځ ته راغی او ملاکان او فیوډالانو ته یې دا فکر ورکړو چې تاسې د دولت سره په منافعو او نظامي او ملکي چارو کې ګډون لرئ او په جرګو او مرکو کې به یې د هغوی رایو ته اعتنا او توجه کوله او د امتنفذ خلک به یې اکثر په جنګي سفرونو کې د ځان سره ساتل او بیول نوله دې کبله د قوي مشرانو نه د یو وار دوه وارې نه ورته نور څه بغاوتونه نه رو-شوي او هغه شور ماشورچې په قندهار کې لږ یو فیوډالانو لکه - نور محمد خان، میرافغان، عثمان خان توپچي باشي، ګدو خان او محبت خان پوپلزی او نورو، کړی وو او دا هغه څوک وو چې د احمد شاه د انتخاب په وخت کې یې هم مخالفت کړی وو او چې ویې لیدل چې احمد شاه

په ولس کې دا سې نفوذ کړی دی چې اوس د هغو د واکمنۍ په خوله کې قیزه اچول شي !! نو په (۱۷۷۲م)، کې چې احمد شاه د بابیتدې تللو په کار مشغول وو دوی د هغه د مړګ توطیه وکړه خو احمد شاه قوي استخبارات لرل او خبر شو او هغوی ونیول شول او اعدام کړی شو او د دغه فیوډالانو سره یې خپل حساب پاک کړو. احمد شاه د خپل مملکت او خپلو خلکو په وضعیت پوهېده او فیوډالان او قومي مشران یې په خپلو کورنو کې په قرار نه پرېښودل او د ولس د ولو عنوانونه او منصبونه به یې ورکول، چاته به یې جاګیرونه ور بخښل او د پلار د مړګ نه پس به یې خوی ته هم هغه څه او امتیازات ور کول او اکثر وخت به یې د هغوی سره په دربار کې ساتل او د خپل قوم نه به یې لرې ساتلو او جګړو ته به یې لېږل او په مرکز کې یې هم د قبیلو فوځ نه پرېښوده او د هغوی په ځای به یې مرکز کې تنخواه خواره فوځیان ساتل او دې وول لښکر او فوځ منظم کړل چې د خلکو او رعیت سره د نژدې نه په تماس کې وي او نه یې ګله قبیلوي مشر په خپله قبیله کې حاکم مقرر ولو او اکثر حاکمان یې تنخواه خواره او د مځنۍ طبقې خلک به وو او روحاني قشرونه او ولي یې هم راضي ساتلي ځکه چې احمد شاه به ورته احترام کولو او قضائي محاکم او د جامعتونو کار به یې ورته سپارلو. احمد شاه د خپلو ښو اخلاقو او شخصي تقوا له امله او هم چې قوم ته یې خدمتونه

کړي وو او د افغان او افغانستان نوم یې راژوندی کړی وو، خلکو به ورته احتراماً پلار ویلو!! او تر اوسه ورته ولسي خلک احمدشاه بابا وایي او زیارت ته یې ورځي او په غازي هم شهرت لري.

احمدشاه د افغانستان یواځنی بادشاه وو چې با د شاهي تاج به یې نه په سر کولو او د عامو مشرانو په شان به یې لویه پګړۍ په سر کوله او چپن به یې اغوستله او موزې به یې په پښو کولې او د تخت په ځای به په فرش په نمکه کېناست، او څنګه به یې د خلکو سره لیدل کتل او راشه درشه به یې کول او په تواضع او ورین تندي به یې خبرې کولې او د قضایاو په حل او فصل کې به یې انصاف او عدالت په نظر کې وو او د صفه موضوعه قوانینو نه چې د شریعت برابر د مملکت د پاره وضع شوي وو هم نه تېرېدلو، احمدشاه د خپل سلطنت په وخت کې د تجمل او عیاشۍ نه ځنډه کړله او حریص هم نه وو او په قول جنګونو کې که هم د د ښمن نه تښتېدلی نه وو او د خلکو او ولس په مقابل کې هم متواضع او نرم وو په جزا کې یې د مجرم (مثله) د اندامونو پرې کول نه وو کړي او منع کړي وو او په تشریفاتو کې هم رکوع او سجدې وول ښکته کېدل پوره ته کېدل یې په دربار کې منع کړي وو او خپل او خپلوان یې د دولت له چارو نه لرې ساتل او د ګډون او مداخلې موقع به یې نه ورکوله یواځې تیمور خپل ځوی یې چې -

ولیعهد هم وو د خپلو چارو د اجرا د پاره د خان جهان پوپلزي د هدایت لاندې د مملکت په غربي برخو او کله به شرقي برخو کې په ملکي سیاسي او نظامي چارو کې د تمرین او مشق او تجربې د پاره دلجرائق او خدمت موقع ورکوله ـ څینو کورنو درسمي د ولتي چارو نه دبوه خانله «تجرید» ساتلې وه چې خلکو د تیمور او سلیمان شهزادگانو نه پرته نور ځامن یې هم چا سره نه پېژندل او حال دا چې د احمد شاه (۸) اته ځامن وو «سلیمان، تیمور، شهاب، سنجر، یزدان بخش، سکندر داراب، پرویز وو» احمد شاه د دربار لګښتونه لږ کړه او سپاهیانو ته یې په وخت څینو تنخواه ورکوله او د دولت د مالیې او معاش دخل او خرڅ د دفترونه یې بنه منظم او «وسیع» پراخه وو ـ او په پایتخت کې یې بنه منظم تشکیلات لرل لکه وزارت «د صدارت عظمی برابر» او دیوان اعلی د (وزارت مالیه)، او خزانه او ضبط بیگي (امنیه او کوتوالي) نسقچي باشي گیري (د مجازاتو تطبیق کونکی)، داروغه، د فتر د هرکاري باشي او اخبار (ضبط احوالات)، او استخبارات، میراخور باشي (حمل او نقل حیواني) او څوورې دایرې هم د چارو د اجرا د پاره لکه باجگیر، میراب دخالصه سرکاري ځمکو سرپرست او کلانتر (رئیس بلدیه)، د ښار مشر، او په ولایتونو کې لکه حاکم، او پیش کار (معاون)، امیر لښکر او مستوفي، قاضي، قلعه دار، باجگیر، میراخور او نور وو، او په شاهي دربار کې دیوان انشاء عرض بیگي، مهماندار باشي، ـ

پېشخانه‌چي باشي ، ناظر کارخانه «خوراك»او په لښکر کې لشکر نویس «د فترې نظام» اردو باشي ، جارچي باشي ، سیورسات‌چي او قورخانه په نوم اداري وې او په مرکز او ولایتونو کې د قضایي چارو داجرا د پاره عدلي اداري او محکمې وې - او د عسکري - افسرانو او ملکي افسرانو او قومي مشرانو جرګې به هم د چارو داجراء د پاره وخت په وخت کېدلې او دولت ته به یې مشورې ورکولې او په چارو به یې غور او خوض کولو او بادشاه ته به یې لازمي مشورې ورکولې آو بادشاه د دې ټولو ادارو ملکي او نظامي او قضایي مشرو او مطلق واکدار وو ، خو سره د دې ټولو اختیاراتو د دولت د مهمو چارو مسئولیت یوازې یې په ځان نه منلو ځو ر به یې د قومي او نظامي او ملکي افسرانو د جرګې نه مشورې غوښتلې او په ملي مسئولیت کې به یې ځښوی له ځانه سره ګډول ، او یوازې به یې د ملي مسئولیت درانه بار ته غاړه نه ایښوده ، او په د باندنې سیاست کې یې په ځپل قوریالی اردو او لښکر تکیه لرله او دا ردو عبارت وو د «۱۶» زره منظمو عسکرو نه چې سواره او پیاده عسکر پکې وو او درنه او سپکه توپخانه «زمبورك» یې لرله ، او نقلیه وسیلې آس ، اوښ او فیل یې هم لرل - او افسران یې - عبارت دده باشي ، صد باشي ، مینګباشي ، کشیك باشي «قوماندان» ګارد ، محافظه دسته ، جزایر باشي «زمبورك باشي ، توپچي باشي

نه وو. او امیر لښکر به سپه سالار وو، او (۳۰) زره نور غیر منظم عسکري په پایتخت او ولایتونو کې هم وو او د جنګ په وخت کې به یې د اطرافونو نورو خلکو هم په افغاني لښکر کې ور ډېر بدل لکه د مثال په ډول به د مروتو د یوې ورې قبیلې نه هم بې تنخواه دوه سوه سورو او د بلوچستان نه به شپږ زره سورو چې اوښان به یې لرل هم په افغاني لښکر کې ګډون کولو او ویلی شي چې احمدشاه د هند او پنجاب په جګړو کې (۴۰) زره تنه افغاني لښکر په کار اچولی وو چې سواره او پیاده او توپخانه پکې وه او د یو تن عسکر د میاشتې تنخواه د سواره (۱۲) روپۍ او د پیاده (۶) نقدې او نی وو او د افغانستان مستقله مالیه د کال (۳۰) میلونه روپۍ وه چې دریمه برخه یې په عسکرو لګېدله او دریمه برخه به په خزانه کې ساتل کېده. احمد شاه قومي او قبیلوي او مذهبي تعصبات لرې کړه. خوانسان وو دی پخپله هم د ځینو تاثراتو لاندې وو لکه پیر صابر شاه ته د انتخاب په وخت د (دُردران) عنوان ورکړی وو ده د غه عنوان خپلې قومي قبیلې ابدالي ته د دُراني عنوان ورکړو احمد شاه د خپل سلطنت په وخت کې ډېر مهم لوی کارونه هم کړي دي چې د هغو نه لومړی او مهم کار یې د افغانستان متمرکز کېدل او د افغانستان یو والی تامینول دي.

احمد شاه د خپل سلطنت په دوران کې لس مهم سفرونه کړي دي چې:

لومړی سفر:- لومړی سفر یې د مملکت شرقي خواته په (۱۷۴۷م نه تر ۱۷۴۸م) پورې وو چې خان جهان سپه سالار پوپلزی یې په مخکې روان وو او د غزني او کابل په لاره تر اباسینده پورې لاړ په هغه وخت کې د بابري دولت والي ناصرخان په کابل کې وو چې ماتې وکړه.

دویم سفر:- دویم سفر یې په (۱۷۴۹م) کال کې د غرب خواته وو چې هرات ته ورسید او د نادرشاه والي امیرخان یې مدافعت کوله او قلعه بند شو، احمد شاه هرات فتح کړ او امیرخان اعدام شو او په ځای یې درویش علي خان هزاره د احمد شاه ابدالي له خوا- والي مقرر کړی شو او خپل صدراعظم شاه ولي خان بامیزي یې د شمال ولایتو د رالاندې کولو د پاره هغه خوا ولیږلو او ټول شمالي ولایتونه مروه، جوزجان، بلخ، فاریاب، خُلم، بدخشان، تخارستان یې دا زبکو د محلي خانانو نه ونیول او په مرکزي افغانستان یې وتړل او حاکمان یې پکې مقرر کړل او بیا له داندراب په لاره د هندوکش نه تیرشو او دکابل او غزني په لاره په (۱۷۵۰م) کال کې قندهار ته ورغی.

دریم سفر:- دریم سفر یې په (۱۷۵۰م) کال کې شمال مغرب خواته وو چې نیشاپور ته بیا ورغی او په دغه کال یې خپل لوی توپ چې (۱۲۱ سیرې درنه (سیره)، دکابل په وزن یې گوله خوړله هم جوړ کړو

او عباس قلي نادري والي مدافعه کوله خو د ښار د ټوال افغاني لښکر ور وران کړ او عباس قلي په ميدان د جنګ کې ونيول شو، احمد شاه دغه ميړه افسر وباخښه او په نيشاپور يې حاکم مقرر کړ او د هغه قبيله بيات يې غزني ته راغواره کړه، احمد شاه بېرته هرات ته وګرځېد خو دا خبر يې واورېده چې مير علم خان خزيمه «مشهد» بيا د ړانده شهرخ نه ونيولو احمد شاه ورپسې ورغی او امير علم خان ماتې وکړه او د شهرخ حکومت بېرته په ځای کړی شو.

څلورم سفر:- څلورم سفر يې په (۱۷۵۱م) کال کې تر (۱۷۵۲م) پورې وو چې احمد شاه چې قندهار ته ورسېد نو پنجاب ته پېغام شو مير منو والي پنجاب چې مخکې په (۱۷۵۰م) کې صلحه کړې وه او د «سيالکوټ» او اورنګ آباد او ګجرات» ماليات به چې د کال يو ميلون او څوارلس لکه روپيه کېدلې منلي وې د ماليې د ورکولو نه ټنډه کوله نو احمد شاه ورپسې چېل نماينده هارون خان ور ولېږلو چې ماليه ادا کړي او پخپله وعده وفا وکړي خو مير منو آني بهانې وکړې، احمد شاه ورپسې چېل بل نماينده «سکهجيون مل» ور ولېږلو او د ماليه په ورکولو کې پرې تاکيد کړی و او خو هغه ايله (۹) لکه روپۍ ماليه ادا کړه اخر احمد شاه په (۱۷۵۱م) کال کې پنجاب ته لښکر وکړ او کشمير يې لاندې کړ او په افغانستان پورې يې وتاړه او خواجه عبدالله کوچک يې پرې حاکم کړ او

او احمد شاه د پېښور نه لاهور ته ورغی د میرمنو سپه سالار "ګوړامل"
څه مدافعه خو وکړه خو مات شو او ووژل شو او میرمنو تسلیم
شو او دوه میلونه باقي مالیه ورکړه او پنجاب او ملتان د افغا
نستان جز وګرځېدل احمد شاه په (۱۷۵۲م)، کې قندهار ته راوګرځېد.
پنځم سفر: - پنځم سفر یې شرق خواته وو، دا سفر یې په -
(۱۷۵۶م نه تر ۱۷۵۷م)، پورې وو د پنجاب والي میرمنو مړ شو او
احمد شاه د پنجاب حکومت د میرمنو نالایق ځوی محمد امین ته ورکړو
او د محمد امین مور "مغلانۍ بېګم" اواره په لاس کې واخیسته او
د چارو په اداره کولو مشغوله شوه خو د هغه خاوند شاه رقیبانو او زمکه
والو جاګیردارانو په لاس وهنه لاس پورې کړو او غوښتل یې چې
د پنجاب مرکزیت له منځه یوسي په دهلي کې هم اقتدار د بادشاه
نه وېړ د عمادالملک غازي الدین پلاس کې وو چې هغه یو ماجراجو
سړی وو چې فرصت یې پیدا کړو په (۱۷۵۴م)، کې یې د هند مغلي
بادشاه احمد شاه د محمد شاه ځوی خلع کړو او په ځای عالمګیر ثاني
کېناوه او دا بادشاه یې هم په (۱۷۶۰م)، کې ووژلو او د مرتیانو
سره یې جوړه وکړه او د هغوی په مرسته یې دهلی ونیولو غازي
الدین د یو قوي فوځ په زور په مارچ (۱۷۵۶م)، کال کې یې په
پنجاب حمله وکړه - او لاهور یې لاندې کړو او "مغلانۍ بېګم" یې
بندي کړه او د پنجاب حکومت یې یو پخواني حاکم ادینه بیګ ته

ورسپارلو او دري میلونه روپۍ مالیه یې پرې کېښوده او په کشمیرکې هم سکهجیون رام د احمد شاه مستوفي پاڅون وکړ او خواجه عبدالله خان د کشمیر افغاني والي یې مړ کړ او کشمیر یې په ډهلي پورې وتاړه او بیا پخپله د کشمیر حاکم هم سکهجیون شو ـ د دغو حالاتو په رڼا کې احمد شاه ابدالي نو په (۱۲۵۶م) کې د بلوچستان له لارې سند ته له قندهاره روان شو او پنجاب ته ورور سېدو چې د دې د ورتللو نه ادینه بېګ لاهور تبنتېدلی وو او کشمیر ته یې هم د نورالدین خان راولېږلو هغه کشمیر لاندې کړ او سکهجیون رام یې بندي کړ او بېرته یې کشمیر په افغانستان پورې وتاړه او احمد شاه ډهلي ته د ورتللو په نیت ورروان شو او د ډهلي په (۳۰) میلۍ کې یې د عالمګیر ثاني ـ لښکر د نواب نجیب الدوله په مشوره کې د احمد شاه د فوځونو مخه ونیوله خو نجیب الدوله په کرنال کې احمد شاه ته سلامي شو او ابدالي بادشاه په قراره ډیلي ته ورغی او د غازي الدین او پخپله د عزیزالدین عالمګیر ثاني له خوا استقبال شو او په جنوري (۱۲۵۷م) کې احمد شاه ډهلي ته ورننوت او ځینې مخالفین یې تنبیه کړ او غازي الدین د اوده[1] نه د مالیه راټولولو د پاره هغه خوا ولېږلو داوده او د فرخ آباد بنګش حاکم څپل هرڅه افغاني حکومت ته تقدیم کړه او داوده حاکم ته یې هم دغسې

---

(۱) اوده د یو ولایت نوم وو.

مشوره ور کړه او سعدالله خان روهیله او شجاع الدوله داوده حاکم
پخپله لکه روپه احمد شاه ابدالي ته ور ولیږلې او عالمګیر ثاني هم
خپله ور یره شهزاده تیمور ته ور کړه او د محمد شاه مغلي بنځې صاحب
محل خپله لور احمد شاه ابدالي ته په نکاح ور کړه او د خپلې بار بنۍ
سره یې د قندهار د تللو اراده وکړه احمد شاه ته د مغلي سلطنت۔
کمزوري معلومه شوه نو د هند وزارت یې نظام الدوله د قمرالدین خان
خوی ته ور کړو او سپه سالاري یې نجیب الدوله یوسفزی مقرر کړو.
او پخپله وطن ته را و ګرځېده،
شپږم سفر :۔ احمد شاه شپږم سفر په (۱۷۵۸م) کې جنوب خواته وو
خنګه چې احمد شاه بېرته وطن ته راو ګرځېد او راغی په پنجاب کې بیا۔
بغاوتونه وشوا او سکهان هم را پیدا شو او په امرتسر کې یې خپل تشکیلات
وکړل او مرهټیانو هم په دهلي ور غلل چې جاټان هم ور سره ملګري وو
او د هلي یې ورالاندې کړو او سکهان د غازي الدین په لمسون را پاڅېدل
او د پنجاب په جلندر کې یې د پرا افغانانو وژل او ادینه بیګ هم۔
ور سره ملګری شو او د احمد شاه د حملې له وېرې سکهان او مرهټیان
سره یو شوا او په پنجاب یې حمله وکړه او په (۱۷۵۸م) کې یې افغاني
قوه له پنجابه لرې کړه او عبدالصمد مامن زی افغاني حاکم یې
بندي کړو او په اپریل (۱۷۵۸م) کې مرهټیانو او سکهانو په لاهور
حمله وکړه خو شهزاده تیمور او خان جهان افغاني سپه سالار را

رسېدلي وو خو د مقابلې توان يې نه وو نو اټک ته ترې را په شا شو.
او د پنجاب حکومت يې ادينه بېک ته په عوض د (۲) نيم ميلونه
روپو سالانه ماليات پرېښود او مرهټيانو د هند حکومت پرته داوده
د رياست نه قريباً نور ټول هند رالاندې کړو او په اوده پسې
يې هم لښکر وکړو او د افغانستان د سياسي حدودو سره مرهټيان
ولګېدل، په دې وخت کې د فرصت نه په استفاده ځنې فيودالانو چې
دافغانستان ضعف يې د مرهټيانو په مقابل کې حس کړو نو خپلو داخلي
استقلال او بغاوتونو ته په پام شو لومړی نصيرخان بلوڅ والي بلوچستان
د خپل استقلال اعلان وکړو، احمد شاه د هند مسئله په ځای پرېښوله
او خپل داخل د مملکت ته په پام شو، شاه ولي خان خپل صدراعظم
يې د يو درانه لښکر سره په نصيرخان پسې ولېږلو خو هغه په مستونګ
کې له نصيرخان نه ماتې وکړه. احمد شاه چې خبر شو پخپله د لښکر سره
ورغی او نصيرخان يې مات کړو او وتښتېد او په قلات کې قلعه
بند شو خو اخر نصيرخان جرګه را ولېږله او د شاه ولي خان په شفاعت
هغه وبخښلی شو او بېرته يې د افغانستان تابعيت ومانه او په خان
يې ومنله چې د احمد شاه لښکر ته به په جنګونو کې شپږ زره بلوڅي -
رسالې کومک ورکوي او نصيرخان د خپلې کورنۍ نه يوه انجلۍ احمد-
شاه ته په نکاح هم ورکړه.

اووم سفر:- د احمد شاه اووم سفر په ۱۷۶۰، ۱۷۶۱م نه تر (۱۷۶۲م) پورې

په (۱۷۵۸) م، کې په هند کې مهم واقعات پېښ شوي وو او په شمالي هند کې سکهانو په پنجاب کې پاڅون وکړ او مرهټيان په منځني هند ورغلل او دهلي حکومت سقوط وکړ او احمد شاه خود نصيرخان په معامله نښتی وو او مرهټيانو په هند کې په اکثرو ځايونو او پنجاب قبضه وکړه خو احمد شاه چې را وزګار شو او د خپل (۳۰) زره لښکر سره د بولان په لاره سند ته ورغی او ملتان د تيمور او خان جهان لښکرهم ورسره يو ځای شو نو مرهټيانو پنجاب پرېښود او د سهارنپور پلو ته په شا لاړل او احمد شاه پنجاب ته ننوتلو [illegible] په سهارنپور هم ورغی مرهټي لښکر په شا شوی وو او دهلي ته تللی وو او غازي الدين خو مخکې عالمګير ثاني مغلي باد شاه له منځه وړی وو بل څوک نه وو دا ورنګ نمسی يې د دوهم په دهلي کې باد شاه کړی وو او دی پخپله غازي الدين وزير شو خو د احمد شاه افغاني لښکر پرې ورغی او سنديا د مرهټيانو قوماندان ته يې ماتې ورکړه او دا خبر چې غازي الدين واورېده له دهلي نه وتښتېد او مرهټيان هم وارخطا شول او احمد شاه دهلي ونيولی او د راجپوتو ځينو راجا ګانو خپل اطاعت افغاني دولت ته وړاندې کړ او جاټان هم له مرته ونه بېل شو او احمد شاه څه عسکر هغه خواته ور ولېږل او ځينې قلعه ګانې يې ونيولې او دوهمه محکمه قلعه «ارامکده» يې هم لاندې کړه او غازي الدين او سورج مل دواړو د حافظ رحمت خان د وسيله په شفاعت [illegible] شاه وبخښل خو د مرهټيانو

مشرانو يو زر واوره لښکر ترتيب کړ چې زرونه سپرې پکې وو او
زرونه غرايان او آسونه او (۲۴۰۰۰) فيلان هم پکې شامل وو د
شمشيرزن او مراټې سنديا او هولکر په مشرۍ د احمد شاه د فوځونو
په مقابل کې ور ولېږل د افوځونه مخ په وړاندې راروان وو
او ډهلي په خطر کې ولويد، احمد شاه هم ډهلي ته ور وګرځېده او
په جمنا ور پورې شو څو ډېر تلفات يې ورکړ لنډه دا چې په (۱۶)
جولايي (۱۷۶۱م) کې د پاني پت په ميدان د مرهټيانو او افغانانو
زورور جنګ جوړ شو او په جنګ کې ويسراس د پيشوا زاو
خوی ووژل شو او مرهټي لښکر ماتې وکړه او ډېر تلفات ور
کړه او د جنګ ميدان افغاني لښکر وګټه احمد شاه بېرته فاتح -
ډهلي ته ورغی او مرهټي لښکرې وتښتېدلې او پخپله مخه لاړې
تر دې حده خو د انګريزانو د انډيا کمپنۍ د پاره حالات د خوښۍ
سبب وو خو د افغانانو قوت چې د مرهټيانو په ځای راتللونو په
ډېر تشويش کې وو ځکه چې دوی ته د لندن نه امداد رارسېدلو
د پاره لږ د لږه يو کال پکار وو، په جنوب کې هم فرانسويان د ماتې
په حال کې وو، او د دکن حکومت هم د غه حال وو خو سړی نشي پوهېدلی
چې احمد شاه څه وجوهاتو مجبور کړو چې په ډېر تلوار افغانستان ته
بېرته روان شي احمد شاه په ډهلي کې (عالي ګوهر د عالمګير ثاني زوی)
تديب ډهلي و باجنبه او مخه پخپله بنګال کې وو نو په ځای (ميرزا

جوان بخت، د پلار په غیاب کې د دهلي د باچا نایب السلطنه و ټاکل او نواب شجاع الدوله د اوده صوبدار یې وزیر او سپه سالار یې نجیب الدوله و ټاکل او دهلي یې ورته و سپارل او احمد شاه افغانستان ته روان شو او د پنجاب په حکومت زین خان مومند مقرر کړی شو او هندیې په هغه غشي مهمل حال کې احمد شاه پرېښود او په دې وخت کې په میسور کې حیدرعلي مشهور مجاهد چې د انګرېزانو سره یې جګړې کړې وې او د هند په تاریخ کې یې ځانله باب دی په میسور کې بادشاه شو.

اتم سفر: اتم سفر په پنجاب کې د ۱۷۶۲م نه تر ۱۷۶۳م پورې و واحمد شاه چې په (۱۷۶۱م) کې له هنده راوګرځېد سکهانو په پنجاب کې بیا پاڅون وکړو او زین خان مومند د پنجاب والي یې د کوټ په کلي کې قلعه بند کړو چې وروسته شهید شو او د کشمیر سکهانو هم بغاوتونه وکړه احمد شاه بیا پنجاب ته روان شو او سکهانو ته یې په چنداله او کوپ کې ماتې ورکړې او د سکهانو (۲۰۰۰۰) شل زره لښکر ته یې په سرهند کې ماتې ورکړه او په کشمیر کې هم د احمد شاه افسر نورالدین شورشیان مات کړه او امنیت یې جوړ کړو او احمد شاه له څخه دانې نه چې په مخ یې ښکاره شوې وه او داد ناسوردانه وه او د پنجاب هوا ورته نامساعده وه افغانستان ته بېرته وګرځېد خو سکهان په قرار ناست نه وو بیا یې بغاوتونه وکړه او په (۱۷۶۴م)

کې احمد شاه بیا د پنجاب تللو ته مجبور شو.

نهم سفر: احمد شاه غازي پنجاب ته ورغی او سکهانو ته يې ماتې ورکړه او پنجاب يې تر لاسه کړو او افغانستان ته وګرځېد او د بخارا د جنيدي روستني باد شاه عبدالعزیز سره يې معاهده وکړه او د آمو دریاب د دواړو ملکونو سرحد مقرر شو. او شاه ولي خان وزیر چې هغه خواته تللی و خرقه مبارکه يې د بدخشان نه ځان سره قندهار ته راوړه چې اوس په قندهار کې ده او د پنجشنبې یو خاص عمارت پرې جوړ دی او خلک د د وعاد پاره ورځي !! او په (۱۷۶۱م) کې احمد شاه د اوسني قندهار تاداو کېښود.

لسم سفر:- په (۱۷۶۹م)، کې چې احمد شاه غازي خبر شو چې د افغانستان په داخل کې د خراسان د ولایت احوال ښه نه دی او د پروند شهرخ خان، نصرالله میرزا او نادر میرزا د اقتدار د حاملو د پاره د یو بل سره اخته دی او نور نیو والان او زمکه والاو د لویو رتبو ماموریني هم په دوی وله شوي او د وخت نه استفاده کوي نو احمد شاه د حالاتو د سمون د پاره مشهد ته په (۱۷۶۹م)، کې ور روان شو، نصرالله خان لا مخکې د کریم خان زند د ایران د باد شاه سره خبره غوټه کړې وه نو په مشهد کې د احمد شاهي لښکرسره يې ښه جګړه وکړه او علیمردان خان د تون او طبس حاکم هم بغاوت وکړ او نادر میرزا يې هم په لاس کې و او احمد شاه د مشهد ښار

محاصره کړو او جهان خان سپه سالار او نصیرخان د بلوچستان والي
یې په علیمردان پسې ولېږل - په نصرالله میرزا خو احمد شاه غازي بری
ومونده او میرزا تسلیم شو او هم ئې شهرخ خپله لور، ګوهرشاد،
د احمد شاه ځوی شهزاده تیمور ته په نکاح ورکړه او خپل ځوی
یزدان بخش یې یرغمل احمد شاه ته ور کړو او نصیرخان او سپه
سالار جهان خان په جنګ کې علیمردان ووژلو او د هغه ځای
یعني تون او طبس د نیولو نه پس د احمد شاه حضور ته بریالي را
ستانه شو نو احمد شاه د نادر افشار په لحاظ او خاطر د مشهد ولایت
بېرته شهرخ ته وسپاره او په (۱۷۷۰م)، کې احمد شاه بېرته قندهار
ته راوګرځېد او د احمد شاه مرض د ناسور (کېنسر، ناروغۍ نوره هم
ډېره شوه او احمد شاه بابا په ۱۰۳ ۱۷م، کې د قندهار نه د «توبې»
غزه ته او د معروف علاقه دارۍ ته لاړ چې د هغه ځای هوا ښه
او سمه وه - د دې سفر نه مخکې احمد شاه افغاني لویه جرګه راغونډه
کړه او شهزاده تیمور یې خپل ولیعهد وټاکلو او جرګې هم ومانه
او د هغه شهزاده په ولیعهدۍ ټاکل کېدل د افغاني عنعنې -
دود نه خلاف وه ځکه چې د باد شاه احمد شاه مشر ځوی شهزاده
سلیمان وو او د وزیر شاه ولي خان ځوم وو - شهزاده تیمور چې په
هرات کې د خپل پلار د مرض نه خبر شو نو قندهار ته راروان
شو خو د هلمند نه شاولي خان د احمد شاه په امر هرات ته بېرته

ستون کړی شو.

د احمد شاه وفات

کله چې په ۱۷۷۲م (جون ۱۴) کې او د رجب ۱۱۸۷ هـ.ق، کې احمد شاه بابا د (۱) ۵۰ کلنۍ په عمر وفات شو او جنازه یې د معروف نه قندهار ته وړه شوه او هلته ښخ کړی شو، چې اوس پرې یو خاص عمارت جوړ دی، او عسکري پهره پرې ولاړه ده، احمد شاه لوی پوه افغان باد شاه وو او د افغانستان د مرکزیت او استقلال د پاره یې ډېره هڅه کړې دي، احمد شاه د پښتو ژبې ښه وتلی شاعر وو او دیوان یې هم شته دی.

د تیمور شاه د سلطنت وخت د (۱۷۷۳م نه تر ۱۷۹۳م پورې کاله)

تیمور شاه په (۱۷۴۲م) کې په مشهد کې زیږېدلی وو او د پلار د مرګ په وخت کې د هرات والي وو، ده تحصیل کړی وو او په دري ژبه کې هم شاعر وو او پلار یې احمد شاه د پښتو ژبې ـ ښه وتلی شاعر وو او دیوان یې هم شته، د تیمور خان شاه شجاع او نادر میرزا هم په دري ژبه کې شاعران او لیکونکي وو. پلار یې چې وفات شو نو شهزاده سلیمان باد شاه شو او په دې کار د شاولي خان

(۱) احمد شاه ۲۵ کاله پادشاه وو.

وزیر رضا وه - تیمور چې په هرات کې خبر شو نو قندهار ته را - روان شو وزیر شاولي مخې ته ورغی چې حقه پوه کړي چې سلیمان د سلطنت مدعي نه دی صرف له دې کبله چې ته لرې وې او د - سلطنت مقام یې د وخت د پاره سنبال کړی دی خو تیمور دا کله منله او شاولي خان و وژلو او سلیمان یې تابع شو او تیمور په قندهار کې باد شاه شو د تیمور لس ښځې وې چې ځینې پښتنې وې او څو که هندۍ او کشمیرۍ او افشارۍ هم وې د د تیمور شاه د دغه ښځو نه (۲۳) ځامن او (۱۳) لورنه وې، چې د افغانستان په تاریخ کې مثبت او منفي برخه لري لکه همایون ، عباس ، محمود او شاه شجاع چې دي تیمور چې د سلطنت واګې په لاس کې ونیولې او د قبایلو د مشرانو په ځای یې د متوسطې طبقې خلکو ته اهمیت ورکړلو او ځینې فوځي او ملکي افسران یې هم د خپلې خوښې مقرر کړه او د فوځ واك یې هم پخپل لاس کې واخیست او خپل محافظین یې هم د خپلې خوښې د فوځ نه تعین کړه چې قوماندان یې محمد خان بیات وو تیمور شاه "بخپل او عیش او عشرت هم" خوښاوه - تیمور شاه په داسې وخت کې د افغانستان باد شاه شو چې په اروپایي تاریخ کې د یو مهم بیلو نونه راغلي وو او نړۍ د نیا ته یې تکان ور کړی وو او هغه عبارت وو د فرانسې د انقلاب کېس نه چې په ۱۷۸۹-۱۷۹۵ میلادي پورې یې چې د فرانسې د سلطنت ما ښځه نړولې وه او خلکو

د دیموکراسۍ بیرغ پورته کړی وو او د بشر د حقوقو اعلان شوی وو او د افغانستان او فرانسې په منځ کې دا توپیر وو چې په فرانسه کې د سلطنت ماڼۍ ونړېدله خو په افغانستان کې د سلطنت ماڼۍ لا ټینګېدله ـ تیمور شاه د زاړه دربار غټان او لویان لرې کړه لکه شاولي خان او خاص یې وزیر ، سپه سالار خان جهان یې له کاره موقوف کړو چې د بې کارۍ په حال کې دا مشهور سپه سالار په کال ۱۷۷۲ م، کې د ځان په دل آرام کې دا نړۍ او په حال کې وفات شو.

تیمور شاه د خپل جلوس په کال د حکومت مرکز د قندهار نه چې د قومي او قبیلوي خانانو او مشرانو ټاټوبی وو کابل ته بدل کړو او په حکومتي ماموریتونو کې یې مهم بدلونونه وکړل لکه لوی وزیر یې شیخ عبداللطیف جامي هروي مقرر کړو او د خزانو آمر یې التفات خان هندي مقرر شو او د استخباراتو چارې یې ملا عبدالغفار خان هندو مسلمان ته وسپارلې او قاضي فیض الله یې خپل مشاور مقرر کړو او پخواني خانان او مشران یې د دولتي چارو نه لرې کړه او خو تنه هغه کسان چې د ده حکومت په پټو سترګو منل پر پېښودل « لکه نور محمد خان بابر ، امین الملک ، میر هزار خان الکوزی فتح الله خان سدوزی او څېنې نور » په دې او ځاعو د تیمور شاه نه د قندهار مشران او په تېره ابدالیان ډېر متاثر وو او د تیمور دلرې کولو په لټه کې شو په دې کار کې غلجي مشران هم ورسره یو

لاس شو او د تیمور د سلطنت په لومړي کال کې یې د بغاوت بنا وکړه او عبدالخالق خان سدوزي چې پخوا د سند د مالیه مامور او وړې پیسې یې درلودې د بادشاه په توګه ونماکه او د (۲۵) زرو په شمار د ابدالیانو او غلجو لښکر په تیمور شاه پسې کابل ته په (۱۷۷۴م) کې ور روان شو. د کابل قوا هم بلخ ته په قبادخان یاغي والي پسې تللې وه او د کابل په مرکز کې کافي قوه نه وه خو بیا هم تیمور شاه د خپلې بقا د پاره (۱۲) زره لښکر تیار کړ او د خپله د قندهار د لښکر د مخنیوي د پاره ور روان شو او د واړو لښکرو د غزني په ششګاو کې سره مخامخ شوې او د تیمور شاه لښکر د قندهار ایله جاري لښکر ته ماتې ورکړه او عبدالخالق خان یې ونیولو او سړوند او بندي شو او ملګري یې اعدام کړه شو او په کابل کې هم تیمور شاه د افسرانو خپلو خپلوانو چې په قندهار کې بغاوت کړې وو د هغوی نه یې هم منصبونه واخیستل او مالونه یې ترې مصادره کړه او هغوی بندیان کړه لکه عبدالله خان دیوان بیګي او نور او د عبدالخالق او د قندهار په لښکر کې ځینې کسان لکه پاینده خان بارکزی او دلاور خان د ششګاو په جنګ کې د عبدالخالق خان لښکر پرېښود او تیمور شاه ته راوا وښتل او پلوي شو او تیمور شاه هغوی دواړو ته پاینده خان ته د سرفراز خان او دلاور خان ته د مدد خان خطابونه ورکړه –

(سرفراز خان یا پاینده خان) هغه څوک دی چې وروسته د محمدزای کورنۍ مورث اعلیٰ ګڼل شي "چې وروسته زمان شاه و وژلو، او خاموشۍ د سدوزو سلطنت ته تکان ورکړو.

تیمور شاه د شش ګاو د فتحې نه وروسته د باغیانو د بیخ کنې د پاره قندهار ته ورغی او د مخالفینو جرګې و بنګلې، مالیه او باقیات یې پرې حواله کړه او سردار رحیم داد خان د سردار پاینده خان بارکزی وروریې ننګرهار ته فرار کړه (چې د بهسود و سرداران یې اولاده ده) او نور یاغیان یې څوک مړه او څوک یې بندیان کړه او کابل ته بېرته وګرځېد او مددخان اسحق زی په عنوان د امیرالامراؤ سپه سالار مقرر کړو. او د خراسان په یاغي فیوډالانو پسې خراسان ته ولېږلو او مددخان ورانکاري سم کړه او دولایت چارې یې بېرته نابینا شهرخ ته وسپارلې.

په (۱۷۷۹م) کې تیمور شاه چې کله د ژمي د تېرېدو د پاره پېښور ته راغی نو ځینو کسانو چې مشر یې ارباب فیض الله خان خلیل وو او روحاني مشر یې میاعمد د څوکنو د میاصاحب ځوی هم ورسره ملګری وو د تیمور شاه د وژلو توطیه وکړه خو کامیاب نشو فیض الله او ځوی یې و نیول شوا او ووژل شو میاعمد د خلکو په سفارش چې د څوکنو میاصاحب د احمد شاه بابا پیر وو د مرګ نه عفوه شو او بل ملګری ارسلاخان مومند باجوړ ته وتښتېد او وروسته

په (۱۷۹۱م) کې د قاضي فيض الله خان په واسطه راغی او تسليم شو
او وځنبل شو. خو چې د تيمور په لاس ورغی نو وژل شو هغه چې
تيمور شاه د يوسفزو لوی خان فتح خان چې د ابا سيند په غاړه او سيدلو
او بغاوت يې کړی وو هغه هم د فيض طلب خان په واسطه دربار
ته راغی او تيمور شاه هغه هم اعدام کړ او په دې ډول يې د
مرکزي قدرت ساتنه کوله ، او تيمور شاه بېرته کابل ته لاړ او دوه
کاله په قرار و وخو ځيني مشرانو يې مخالف وو تيمور شاه به هر
کال ژمی خلور مياشتې په پېښور کې تېرولې دی په پېښور کې وو
چې خبر ورته راغی چې سکهانو بغاوت کړی دی او په پنجاب راغلي
او ملتان يې نيولی دی ، تيمور شاه د پېښوره ملتان ته روان
شو خو د لښکر په مخکې زنگي خان جارچي باشي دله وه هغه د
سکهانو زور او راملکي قوت مات کړی وو تيمور شاه د ملتان
حکومت شجاع خان ابدالي ته ورکړ او سپه سالار مدد خان
يې د سند د چارو د سمون له پاره په هغه خوا ولېږلو او پخپله کابل
ته راغی مدد خان په سند کې را پاڅېدلي حاکمان او ميران لکه مير فتح علي
خان تالپور او محمد بهاول خان او حافظ الملك راود پوړه لاريې ته
راوستل اهاليه يې پرې ومنله خو د اعارضي کار وو او هغوی بيا په
(۱۷۸۶م) کې غاړه وغړوله . تيمور شاه دا پېره په هغوی پسې جنرال
احمد خان نورزی ولېګاو هغه دغه د سند ياغي مشران بنه سم کړه

او په زور یې په مالیه ومنله تیمورشاه هم سند ته ورغلی وو او د سند حکومت یې فتح علي تالپور ته وسپارلو او بېرته کابل ته راغی تیمور شاه لا د مه شوی نه وو چې په (۱۷۸۶م) کې د کشمیر د حادثاتو نه (پېښو) خبر شو چې آزاد خان د کریم دادخان عرض بیګي ځوی چې د احمد شاه د وخت نه د کشمیر حاکم وو د تیمور شاه د سلطنت نه غاړه غړولې او مالیه به یې چې کابل ته لېږله هغه یې پخپل لښکر لګولې ده او نوی دریې زره لښکر یې جوړ کړی دی ـ تیمورشاه په هغه پسې مدد خان سپه سالار ور ولېږلو او پخپله هم پېښور ته ورغی ـ آزاد خان د افغاني لښکر نه ماتې وکړه او د خپل خسر رستم خان قلعه ته ورغی او هلته یې احساس وکړو چې رستم خان دې تیمورشاه ته ورځوي نو پخپله تمانچه یې ځان مړ کړو ـ او له دې نه پس په داخل کې تیمور شاه خپلو مخالفینو ته د بغاوت مجال نه ور کولو او د مرکزي دولت قوت په ځای وو خو د افغانستان په ګاونډ کې د کریم خان زند د مرګ نه پس په ایران کې د هرج او مرج پیدا شو او ملوک الطوایفي راغله او د ایران د مرکزي دولت قدرت یې له پښو وغورځاوه خو افغانستان د ایران سره څه سیاسي معامله نه لرله نو څه کار یې پرې نه وو د افغانستان په شرق کې هم په شرقي هند او جنوبي هند کې انګرېزان بنه په زور د مخکې کېدو په حال کې وو خو افغانستان او تیمور شاه په دې وخت کې څه

خاص د هند سره روابط نلرل لکه د ایران په شان تړې بې غه وو
خو انګرېزانو د پنجاب سره خاصه دلچسپي لرله او هم د افغانستان
حال ته متوجه وو او په بنګاړ او پټه یې فعالیتونه کول او په شمال
د افغانستان کې په بخارا کې نوي امیران منځ ته راغلي وو او ددې
لړۍ په سر کې میر معصوم شاه مراد وو د (۱۷۸۵م نه تر ۱۸۰۰م)
پورې چې دې یو توسعه جو شخص وو چې په (۱۷۹۵م) کې تاشکند
ونیولو خو بیا یې تاشکند یونس خواجه چېل یو حاکم ته ورکړو او
له دې وروسته تاشکند د بخارا او خوقند په منځ کې د کشمکش -
سبب وو او شاه مراد کولې شوچې د افغانستان د پاره سر دردي را
پیدا کړي او دغه په (۱۷۸۸م) کې د افغانستان په یو ولایت مرو
لښکرکشي وکړه او مرو یې لاندې کړه او د مرو خلک چې په مذهبي
ډول شیعه ګان وو نو شاه مراد هغوی مذهبي تبدیلي ته مجبور ول
خلک ترې خفه وو تیمور شاه هم د حالاتو د کتنې د پاره بلخ ته راغی
شاه مراد هم د آمونه ورپسې پورې وتو او کلفت ته ورغی او ور پسې یې
عمرخان د خه فوځ سره په آقچه ورغی او علي مردی خان د یوې رسالې
سره په زور د تیمور شاه د لښکر د خوراک څښاک لارې بندې کړې خو
د تیمور شاه افغاني لښکرې ورپسې وروو تلې او د بخارا لښکرې یې
په مخه کړو او شاه مراد خو د ومره وارخطا شوچې د علماوو یوه
جرګه یې تیمور شاه ته را ولیږله او صلحه یې وغوښتله او د مملکتونو

بريد ورنه يې ورمنل او د پخوا په شان يې هغه تصديق كړ او آمو د
د واړو خواو سرحدي بريد شو او د اجنګ د افغانانو په ګټه خلاص
شو او تيمورشاه كابل ته راغئ .

د تيمور مرګ

تيمورشاه په كال ۱۷۹۳ م، كې پېښور ته تللی وو او هلته -
ناروغه شو او كابل ته راغئ او په ۱۲۰۷ هـ ق ۱۷۹۳ م ، كې وفات
شو ، او يو انګرېز خو ويلي دي چې تيمورشاه په زهرو وژل شوی
دی ، او دا په دې منطقه كې يو سياسي قتل ګڼلی شي چې د ابدالي
دولت په سلسله كې مخ ته راغئ ، محمد غسې ويلی شي چې غازي وزير
اكبرخان د امير دوست محمد خان ځوی هم په زهرو وژل شوی وو
چې يو هندي طبيب ده ته د درد په شكل وركړې وو خو خلكو آوازه
اچولې وه چې اكبرخان ته خپل پلار امير دوست محمد خان د الماس
براده وركړی وه او د هغې په اثر مړ وو خو نه دا خبره غلطه وه
ځكه چې د وزير سكه ورور غلام حيدرخان امير دوست محمد خان
وليعهد وټاكلو - همدغسې ويلی شي چې امير شېرعلي خان ته په مزار
شريف كې هم زهر وركړل شوي وو او په هغه اثر مړ شو ځكه چې
امير شېرعلي خان هلته د روس سره د انګرېز په مقابل كې د جنګ

په سلسله کې د کومک اخیستو د پاره خبرو او مذاکرو ته ورغلی وو او د سید جمال الدین مرګ هم ویلی شي چې په استنبول کې په زهرو ورکول شوی وو- او دغسې نورې بلګې هم شته دی لکه د اسلامپور میر صاحب جان پاچا صاحب او یا په هند کې نور واقعات چې شوي دي.

تیمور شاه د کابل په چهار باغ کې ښخ کړی شو او بیا یې ځوی زمان شاه پرې مقبره جوړه کړه - تیمور شاه په داخل کې د مرکزیت قدرت و ساتلو او په شیعه مذهب او نورو کې تعصب نه ووا او په د باندینی سیاست کې د یو محافظه کار وو او ورسره مدبر هم ووا او په د باندینو ملکونو یې غیر له پنجاب نه چې پلاس کې وو په هیڅ ډول تیری او تجاوز نه وو کړی او د خپل سلطنت په شل کلنه دوره کې یې په مملکت کې یې ځینې لاسي صنایع هم رواج کړې او امن او امان یې ساتلی وو او د وطن د بنارونو خلک ښه غني شوي وو او د شعرا او ادب هم قدرداني کېدله خو د هقانان په دې تر چې یو خوا ته یې مرکزي دولت ته به یې مالیه ورکوله او له بل خوا به یې خپلو زمکو والانو هم پرې بارونه اچول - نو له دې کبله - د هقانان په تنګ وو- تیمور شاه چې مړ شو افغانستان له دې امله چې د تیمور ډیر ځامن او لوڼه وې او په مملکت کې یې ولیعهد تعین کړی نه وو د حرج او مرج او اړي ګړي په حال کې پرېښود- په دې وخت کې محمود د تیمور شاه دویم ځوی په هرات کې حاکم و و

او سکه ورور یې فیروزالدین هم ورسره وو او همایون مشرځوی یې په قندهار کې حاکم وو او شجاع الملک د زمان شاه سکه ورور په غزني او زابل حاکم وو او عباس شهزاده په پېښور حاکم وو او هریوه د بادشاه کېدو دعوه لرله او د عباس سکه ورور کُندل خان په کشمیر حاکم وو.

د پلار د مرګ نه وروسته شهزاده زمان، شهزادګان او نور مشران او جرګه بالاحصار ته راوبلله او ځینې شهزادګان او ځینې د جرګې مشران یې هم طرفداران وو زمان شاه د خپلې خوښې د بادشاهۍ اعلان وکړ، خو شهزاده محمود او همایون د ده د بادشاهۍ تصدیق ونکړ، خو د دربار ځینو مقتدرو سردارانو لکه سردار پاینده خان محمدزای د زمان شاه حمایت وکړ.

د زمان شاه سلطنت د (۱۷۹۲ م نه تر ۱۸۰۱ م) پورې (۹ کاله)

د زمان شاه د سلطنت په لنډه دوره کې د افغانستان د ننه او هم په ګاونډي مملکتونو کې مهم سیاسي حوادث او واقعات پېښ شو او په ټوله دنیا کې مهمې پېښې وشوې لکه د ده د سلطنت نه شلور کاله مخکې په فرانسه کې انقلاب کبیر راغلی وو او د ده د سلطنت د جلوس نه شپږ کاله پس د ناپلیون په قیادت کې د فرانسې نوی

دولت منځ ته راغی او په اروپا د وړې اوتره لړې راخوړې شوې
د زمان شاه د جلوس په وخت کې په شرقي گاونډي ملك هندوستان
کې «سرجان شور» د انگرېزانو گورجنرال و، چې هغه په هند کې یې
د انگرېزانو مخکې تگ جاري ساتلو د وه کاله پس مرتیانو د دکن
د ریاست نه نیمايي زمکې ونیولې درې کاله پس د انگرېزانو گورنر
جنرال «مارکی ولسلي» هند ته راغی او یو لوی فوځ یې تشکیل کړ
او د هندوستان د پوره نیولو اراده یې وکړه او مرتیان او د میسور
ایالت د سلطان ټیپو لوی مجاهد حکومت نه یې له منځه وړل او د
راجپوتو راجه گان یې هم رالاندې کړه - او درې کاله پس د زمان
شاه د سلطنت په دریم کال په (۱۸۰۴م)، کې انگرېزانو د هند د قوي
مدافع «هولکر» قوتونه هم مات کړل او په شاشوا و یو کال مخکې یې
لاویلي او اگره هم انگرېزانو رالاندې کړې وو او غوښتل یې چې ټول
هندوستان د انگرېزانو په قبضه کې راشي او د دې لپاره «مارکیس
ولسلي» گورنر جنرال نوي اصول د اعانه په نوم وضع کړل چې هندو
ستان په دې نوم تالا او تاراج کړي او د زمان شاه حکومت ته هم
خطر ورپېښ اوه که څه هم د زمان شاه چې څه قوت پلاس کې ورهغه
په د چپل وطن د لرو وبر مالیاتو نه تجهیز کېدل خو د انگرېزانو د -
تهدید سره مخامخ وو. - د افغانستان په غرب کې د ایران په خاوره
کې د قاجاریانو نوی دولت په (۱۲۹۵م)، کې د آغامحمد قاجار په مشرتيا

کې منځ ته راغی آغامحمد ښه مدبر او باارادې شخص و وخو ورسره ډېر سفاک او قاتل هم وو لکه چې ډېر کرمانیان یې ووژل او ډېر تفلسیان یې هم قتل عام کړه او خپل رقیبان لکه دجعفرخان زند او لطف علي خان یې هم مات کړل او افغانستان ته یې هم په بده سترګه کتل، او یو ځل یې دخراسان په ولایتونو یې یرغل وکړ او دمشهد ړوند شهرخ د افغانستان کېنولی والي هم ونیولو او شکنجه او تېل داغ یې کړه، مال او جواهر یې ترې واخېستل او دی یې مړ کړ خو نو بېرته دخراسان دچور چپاو نه پس ایران ته وګرځېد او په (۱۲۹۷م)، کې آغامحمد قاجار ووژل شو او په ځای یې (فتح علي شاه قاجار) دایران د سلطنت واګې پلاس کې ونیولې، چې دی دخپل ۳۶ کلن سلطنت په دوره کې داروپایي (زورګیرو) دلاس آله شو او ډیر بې ځانه شي په شان د سطرنج د ډېرې مهرې په څېر د انګرېزي استعمار سیاست په لاس کې لوبېدلو، او روس او فرانسه هم ترې وخت په وخت ګټې اخېستلې. فتح علي شاه دخپلو سوونو ښځو او اولادو ونو په چارو مشغول وو د دې قدرت یې نه درلود چې د خلکو د ښېګڼې د پاره څه وکړي شي- هغه لومړی د انګرېز کپتان مالکم سره او بیاد فرانسې او جنرال ګاردن سره معاهدې وکړې او بیا نو انګلیس سرهار فور د جونز ته تسلیم شو دا ضعیف الاراده او عیاش سړی نه په بین المللي سیاست کې د ایران مقام څه معلوم کړی شو اولا دګلستان او

ترکمانچای په معاهدو یې ګرجستان او دایران دخاورې ځینې برخې
د لاسه ورکړې او دالا پرېږده کله به یې د انګرېز او کله به یې د
روس په لمسون دافغانستان په داخلي چارو کې هم ګوتې وهلې او
هلته به یې جنګ جګړې جوړولې او د عمر په آخر کې یې د روس په
لمسه او امر په هرات حمله هم وکړه خو ناکام شو او بېرته ستون شو
او بل کال ته په (۱۸۳۳م) کې مړ شو - او روسانو د هغه د ځوی او
ولیعهد میرزا عباس دایران د بادشاه په حیث ومانه ! فتح علي شاه چې
د روس نه څه اخیستي وو هغه صرف شخصي او ناچیزه ګټې وې
او د ایران د ملت د پاره سراسر تاوان وو؛ خو په مقابل کې زمان شاه
لکه غربي مولف فریرچې لیکلي دي یو کلک ځوان او با اراده ذکي
شجاع او بصیر او فعال شخص وو او تل به په آس سور وو په یو
جنګ پسې به یې بل جنګ کولو ځکه چې داخلي او خارجي د سیسو به
دی جنګ ته مجبورولو او دافغانستان خلک هم د تیمور شاه د ټولو
ځامنو نه زمان شاه ته په درنه سترګه ګوري او بنه یې یاد وي
یو انګرېز لومړنی سفیر د شاه شجاع په دربار کې مونټ سټوارټ
د زمان شاه په باب لیکي چې : ما زمان شاه په راولپنډۍ کې هغه
وخت ولیده چې د شجاع کډې هلته تللې وې د زمان شاه د ډېر
شهرت ما اورېدلي وو نو د هغه لیدلو ته ډېر لېواله وم هغه ماته
د لیدلو وخت راکړو او زه په لسم جولايي د زمان شاه حضور ته

ورغلی، دی په یوه خیمه کې په بوجیرکټ بنه په درناوي ناست وو
او تور شال یې په سر تړلی وو او سپینه چُغه یې اغوستې وه
او ښکلې خبرې یې لرلې او ړوند نه معلومېده. زمان شاه مخکې
خپل ورور محمود ړوند کړی وو. او مخاطب ته به یې دروغ سړی
په شان کتل! او ماته یې د ناستې اجازه راکړه او په خبرو کې یې
د افغانستان په واقعاتو او پېښو بحث کولو او په آخر کې یې ویلې
چې انشاالله بریالي کېږو. زمان شاه ته د افغانستان واک
په داسې حال کې لاس ته ورغی چې د افغانستان مرکزیت قایم او
امنیت یې پوره تامین وو چې نیمه پېړۍ مخکې د افغانستان مرکزیت
قایم شوی وو د زمان شاه هم داتصمیم او اراده وه چې دافغانستان
مرکزیت او امنیت لا پسې ټینګ کړي او وې ساتي او په دې لار کې
ډېرې داخلي او خارجي ستونځې ور پېښې شوې وې. زمان شاه
د افغانستان د پخواني حیثیت ساتلو ته ډېر متوجه وو او د انګرېزانو
د استعماري او زورګیرۍ د سیاست مخنیوی کولو خو د داخلي
کشمکش په سلسله کې پاتې شو او خپل ورور شاه محمود زمان شاه
ونیولو او ړوند یې کړو او د سلطنت مقام یې ترې لاندې کړو.
زمان شاه ته د داخلي فیروزالدین او د د باندنۍ استعماري انګرېزي
او روسي زورګیرۍ له خوا او د ایران د حریص بادشاه نه ډېرې
ستړې او ستونځې او کړاوونه ور پېښ شو او په آخر کې ډېر دو

او ځينو خپلو په واسطه زمان شاه په (۱۸۰۱م) کې خلع او ړوند شو او خپل ورور محمود چې د ايران او د سردار پاينده خان د ځامنو - مخصوصاً د فتح خان وزير په کومک بريالی شوی وو زمان شاه يې ړوند کړو او په سلطنت محمود قبضه وکړه او د افغانستان ډيرې برخې هم د پردو پلاس ورغلې وې چې د ډيرو افغانانو په قربانولو ورته گټلې او ساتل شوې وې.

د شاه محمود ابدالي سلطنت د (۱۸۰۱م نه تر ۱۸۰۴م) پورې

د زمان شاه د خلع او ړندېدو نه پس شاه محمود رسماً د افغانستان بادشاه شو- خو بې کفايته وو او د انگريزي استعماري سياست په لمسون د ايران دولت او قاجاري بادشاه د افغانستان غربي خواته - خراسان د افغانستان نه بېل کړو او په ايران پورې يې وتړلو او شرق خواته سکهانو او رنجيت سنگ په پنجاب قبضه وکړه او تر پېښوره را ورسېده - شاه محمود خپل وزير اکرم خان امين الملك مقرر کړو او د قاضي القضات رتبه يې ملا سعيد خان ته ورکړه او شېر محمد خان د دولت دويم سړی وو او فتح خان ته د شاه دوست لقب ورکړی شو او - عبدالله خان الکوزی چې مخکې زمان شاه بندي کړی وو هغه يې د بند نه خلاص کړو او د کشمير په حکومت يې مقرر کړو د عبدالله خان مشهور

ځوی وزیر یارمحمد خان و وچې په هرات کې یې د ایرانیانو په مقابل کې
ډېر مقاومت کړی وو، او شهزاده فیروزالدین د هرات والي مقرر
شو، شجاع الملك د زمان شاه سکه ورور وو چې د واړه دیوې
یوسفزیو مورځامن وو، دغه وخت په پېښور کې وو او د دربار
د خلکو او مشرانو سرېې خط او کتابت وکړ او له بله پلوه د غلجو
لوی قوت د عبدالرحیم خان «غلجي» په مشرتابه د ابدالیانو د دې
فاسد حکومت په مقابل کې راپاڅېده او مخامخ په غزني وروان شو
او غزنی یې لاندې کړ او پاڅون کوونکي آن تر لوګره راورسېدل خو
د شاه محمود لښکر د شېر محمد خان مختارالدوله په مشرتابه د یاغي لښکر مخه
په سجاوند کې ونیوله شورشیان د زړې په قلعه کې غونډ شول او د
شپې د شپې یې د کابل د حملې په نیت مخه خوا ته حرکت وکړ خو
مختارالدوله هم خبر شوی وو او مخه یې ونیوله او جنګ جوړ شو او
ویلي شي چې په دې جنګ کې شپږ زره تنه مړه شو او غلجو د وسلې د
لږ والي او د خوراك د نشتوالي له امله او تنظیم یې هم نه لاره نو
ماتې یې وکړه، د بله پلوه شجاع الملك د زرداد خان پوپلزي حمله
چې د یوسفزو نه یې په شجاع ګړې وه د ګل محمد خان او فیض طلب
خان بامیزي په واسطه بېرته په شا کړه او شجاع د لښکر لښکره
سره کابل ته وروان شو، د شجاع مخکې لښکر د محمود لومړنۍ برخې
لښکر ته په جلال آباد کې ماتې ورکړه خو د شاه محمود لښکر په اشپان

واک کې د شجاع لښکر مات کړو او د شاه محمود ځوی شهزاده کامران کابل ته ورغی او شجاع د کرمې او خیبر په دروکې پناه واخیسته او د نوې قراروړ په راټولیدو بوخت شو خو بیا عبدالواحد حاکم او خواجه محمد نظامي قوماندان د پېښور د شجاع لښکر ته د ناریانو په دغه د شینوارو د سنګوخیلو په دره کې ماتې ورکړه او شهزاده کامران هم د پېښور نه کابل ته ورغی او پلار یې شاه محمود کامران د قندهار په حکومت مقرر کړه او هرات ته یې هم فیروالدین د شاه محمود ورور د میرافضل خان د قیصر د نایب په واسطه ر سپډلی وو (قیصر د زمان شاه ځوی او د هرات والي وو) قیصر وتښتېده او خپل تره شجاع الملک ته ورغی.

په (۱۸۰۳م) کال کې غلجو بیا د عبدالرحیم په مشرتابه د (۴۰۱) زرو لښکر په زور په قندهار او کابل حمله وکړه خو غلجو په د وار وار ماتې وخوړه او د بل پلوه د بخارا لښکر هم د آمو نه راپورې وتو خو په بلخ کې د شاه محمود لښکر ورته ماتې ورکړه او په شا وتښتېده - د ایران قاجاري دولت هم د فرصت نه استفاده وکړه او په خراسان کې چې د افغانستان علاقه وه نیشاپور او مشهد یې لاندې کړه او د نادر میرزا افغاني حاکم د (۳۸) تنو د کورنۍ د غړو سره یې تهران ته بوتللو او د یو ور کړ هتي نه غیر نور وژل یې اعدام کړه، شجاع الملک د افریدو د علاقې نه د غلجو او کاکرستان په

په لاره شکاپور ته ورغی او هلته یې په زور د سوداګرو نه څه پیسې
ټولې کړې او څه لښکر یې جوړ کړه او په قندهار ورغی خو د کوژک د
غره سره یې د شهزاده کامران د لښکر نه ماتې وخوړه او ارغستان ته لاړ
خو هلته د فیروزالدین پخله نوی لښکر چې ملک قاسم او خپل خوی یې ام
یکې وو په شجاع حمله وکړه خو شجاع الملک یې جنګه میدان پرېښود
او وتښتېد ، شاه محمود سره د دې او ضاعو د کابل په بالاحصار کې
بنه په قراره په خپل عیش او نوش او د ښځو په صحبتونو مشغول وو
او د مملکت واګې د پرخو تنو مخالفو خلکو په لاس کې وې چې د شاه محمود
رقیبان او د یو بل د ښمنان وو ، فتح خان شاه دوست او شیر محمد
خان مختارالدوله د محمد اکرم وزیر مخالف وو او ورسره وران وو او
جنرال احمد خان نورزی او نواب خان او میرواعظ د روحاني بزرګ ،
د شخصي شاه محمود سره وران وو او د ښمنی یې ورسره کوله شاه
محمود فتح خان د پښتنو د مالیې د راټولولو د کار د پاره پېښور ،
کوهاټ او بنو ته ولېږلو فتح خان مالیه ټوله کړه او قندهار ته
شهزاده کامران ته راغی او له هغه ځای نه کابل ته ورغی او وزیر
شو شیر محمد خان مختارالدوله چې د وزارت په طمعه وو د بادشاه
په دې کار وېرخفه شو او د « سید احمد میرواعظ » ملګری شو او
محمد علي میراخور باشي او محمد خان نساقچي باشي لا محکې د کابل نه
تللی او شاه شجاع ته ورغلی وو ، په ۱۸۰۴م ، کې لوړې وار

په کابل کې د شیعه او سُنّي په منځ کې مذهبي نزاع پورته شوه خوځه وزیر فتح خان په صلحه او سلم غلي کړه - خوځه وخت چې وزیر فتح خان د بامیانو د مالیې د راټولولو د پاره ځغه خوا لاړ نو د کابل خلکو چې د شاه محمود داداري نه خوابدي وو راپاڅېدل او شاه محمود یې په بالاحصار کې راحصار کړو شاه محمود هم د بالاحصار نه په خلکو او ښار د توپونو ډزې وکړې خلکو هم ناراستي ونکړه او د بالاحصار ، شاه برج ، ته یې کنده ، نقب ، وواهه او د کوهدامن خلک هم د کابل د خلکو په کومک ور ورسېدل ، مختارالدوله هم د کابل نه شجاع الملک ته وتښتېد ، شجاع ته د کابل خلکو کابل ته د راتللو بلنه ورکړه او شجاع د کړهي او التمور په لاره زر کابل ته راغی او د کابل په باغ بابر کې یې واړول او (۱۵۰۰) زره نفر ورته راټول شو په دې وخت کې فتح خان هم د بامیانو نه د (۱۰) زره لښکر سره د شاه محمود د خلاصون د پاره راورسېد خو د شجاع الملک لښکر د - مختارالدوله په مشرتابه په قلعهٔ قاضي کې د فتح خان مخه و نیوله فتح خان قندهار ته وتښتېد او شاه محمود تسلیم شو او بندي شو او شجاع الملک په بالاحصار کې د خپل سلطنت اعلان وکړو د شاه محمود ځوی کامران په قندهار کې وو او فتح خان هم ورغی.

د شاه شجاع سلطنت د «۱۸۰۴ ام نه تر ۱۸۰۹ ام» پورې

شاه شجاع لوړې پنځه زره سواره د مختارالدوله د حوی عطامحمد
خان په مشرتابه قندهار ته په کامران پسې ولیږل چې جرنیل احمدخان
نورزی او سیدال خان او شهزاده حیدر هم ورسره وو۔ شهزاده
کامران او فتح خان بې جنګه له قندهاره فراه ته لاړل او وتښتېدل
او قندهار و نیول شو شاه شجاع د هرات سره هم غرض و نکړی
او هغه ښار د پخوا په شان د فیروزالدین د محمود د ورور پلاس
کې وو، فیروزالدین د فراه ولایت چنل وراره کامران ته ورکړ وخو
فتح خان ورسره جوړه راغی هغه تر پېړ معروف ته لاړ۔ شاه شجاع
قندهار شهزاده قیصر ته ورکړو او ملا عاشق شینواری چې۔
زمان شاه یې د شاه محمود پلاس ورکړی وو کابل ته وغوښت
او مړ یې کړو او د ملا عاشق د قلعه نه یې د کوه نور «الماس»
هم په لاس راوړ، فتح خان هم د مختارالدوله په واسطه عفوه
شو او شاه شجاع ته راغی خو څارو وو ځکه چې په افغانستان کې
په دا آوازه او انګازه وه چې فتح خان تاج بخش دی نو فتح خان
هم د دې تلقین د تاثیر لاندې راغلی وو څه وخت چې شاه شجاع
د (۲۰۰) زره لښکر سره پېښور ته د کشمیر او دیرجاق د مالیاتو

د ټولولو د پاره روان شو نو فتح خان ترې بېل شو او قندهار ته لاړ او د شهزاده قيصر خواته ورغی - شهزاده قيصر يې د بادشاهۍ د پاره جوړ کړو هغه خپل مشير او نايب احمد خان نورزی بندي کړ او ځان يې د سلطنت د مدعي په حيث اعلان کړ او د خپل لښکر او فتح خان سره کابل ته ور روان شو چې کابل ونيسي - شاه شجاع چې خبر شو بېرته کابل ته راستون شو او کابل ته راغی او په قلعه قاضي کې يې ځان ونيولو - قيصر او فتح خان چې زور ونه ليد او فيض الله خان هم د لښکر سره ترې شاه شجاع ته وراغی بېرته قندهار ته وګرځېدل او شاه شجاع ور پسې ورغی او فتح خان او قيصر له قندهار نه هم وتښتېدل - ړوند زمان شاه د شاه شجاع - ورور هم ورسره وو هغه شاه شجاع ته سفارش وکړو چې د هغه ځوی قيصر عفو کړي او د قندهار حکومت ورته بېرته ورکړي او زمان شاه به هم ورسره وي شاه شجاع ومنله - او قندهار يې قيصر ته ورکړو. په دې وخت ۱۸۰۵م، کې د بخارا د بادشاه - امير حيدر توره له خوا هم شاه شجاع ته سفير راغی او د خپلوۍ - پيغام يې راوړی وو چې امير حيدر لور دې شاه شجاع وکړي او د شاه شجاع لور دې امير حيدر ته ورکړي خو شاه شجاع دا خبره ونه منله - شاه شجاع د سند د انتظام د پاره د قندهار نه هغه پلو روان شو شاه شجاع چې شکارپور ته ورسېد د سند ميرانو دوه ميلونه روپۍ

مالیه ور ته راوړه شاه شجاع د هغه ځای نه ډیر وتو ته ړا وګرځېداو په (۱۸۰۶ م) کي پېښور ته راغی او مختارالدوله یې د کشمیر د مالیې د پاره هغه خوا ولیږلو مختارالدوله عبدالله خان د کشمیر والي چې د بر د کار سړی وو د کشمیر د حکومت نه لرې کړو او د هغه په ځای خپل ځوی عطامحمد مقرر کړو هم په دغه کشمکش کې عبدالله خان وفات شو. فتح خان بیا د اوار کامران ته ورغی او هغه یې په قندهار پسې راپاڅوه او د قیصر نه قندهار و نیولو شاه شجاع چې خبر شو په قندهار پسې یې لښکر وکړو خو کامران او فتح خان ـ وتښتېدل فتح خان بیا د شاه شجاع نه عفوه وغوښته او عفوه شو شاه شجاع په قندهار کې شهزاده یونس حاکم مقرر کړو او د کابل حکومت یې قیصر ته ورکړو او شاه شجاع شکارپور ته لاړ په دې وخت کې شاه محمود بندي د کابل د بالاحصار نه د علي محمد خان فرملي په کومک وتښتېد او فراه ته لاړ ـ شیرمحمد خان مختارالدوله هم د کشمیر نه کابل ته راغی او قیصر یې بیا بغاوت ته جوړ کړو او خواجه محمد خان پوپلزی یې هم ملګری کړو او پېښور ته یې لښکر وکړو فتح خان هم د شکارپور نه وتښتېد ـ شاه شجاع د شکارپور نه پېښور ته راغی او په (۱۸۰۸ م)، کې د قیصر د لښکر سره یې جنګ وکړو او مختارالدوله او خواجه محمد خان د واړه په جنګ کې ووژل شو او قیصر کابل ته وتښتېد ، څه وخت چې باد شاه کابل ته راغی نو میرواعظ صاحب

لا مخکې بندي شهزادگان یعنې ، د تیمور شاه نور ځامن ، د بالاحصار نه خلاص کړي وو او کوهدامن ته د قیصر سره تللي وو او د مختارالدوله انتقام غوښتلو او د شاه شجاع د لښکر سره یې ځو جنګونه وکړه او د مختارالدوله خوی عطامحمد هم په کشمیر کې بغاوت وکړ او فتح خان په قندهار کې شهزاده یونس وساوه او میر علم خان کابل ته په تښتېدو مجبور کړی شو او شاه محمود یې له فراه نه راوغوښت او په قندهار کې یې بادشاه کړ او په دې وخت کې په ټول افغانستان کې خانانو او زمکه والو سر اخیستی وو او هر چېرته د نفاق او شقاق اور بل وو او افغاني ولس په کورنۍ غم اخته وو د دولت مرکزي قوت له منځه تللی وو او بادشاه چې پخپله د دغه خلکو په قوت منځ ته راغلی وو د هغوی د رضا تابع وو او سړی ویلی شي چې د شاه شجاع او شاه محمود په وخت کې د مرکزي دولت قوت د محلي فیودالانو پلاس کې وو او مستقل وجود یې نه لاره او د افغانستان د استقلال او خپلواکۍ په باب هم د بادشاه سره څه فکر نه وو د خپل ځان او خپلې خانۍ بادشاهۍ په غم کې وو ـ قاجاري ایراني دولت چې دا حال ولیده نو په هرات یې حمله وکړه او هرات یې (۴۰) ځلو میاشت ورځې محاصره کړ او آخر فیروزالدین مجبور شو چې محمد ولي میرزا ته څه پیسې او تحفې ورکړې او بېرته ګرځېدو ته یې ترغیب کړ محمد ولي میرزا بېرته ایران ته وګرځېده خود

پنځه سوو تنو افغاني مدافعينو سره ونه يې په ننوتو کې فتح علي شاه ته ولېږل او د لارې د سرتول افغاني کلي او اوسني خلک يې تالا ترغه کړه شاه شجاع د شاه محمود او فتح خان د مقابلې د پاره قندهار ته وروان شو او د غزني نه ورتېر او پل سنګي ته چې ورورسېد نو شاه محمود او فتح خان بې جنګه د قندهار نه فراه ته وتښتېدل - شاه شجاع هم فراه او هرات ته روان شو خو په لار کې د فيروزالدين د تسليمۍ نه خبر شو چې شاه شجاع ته يې غاړه ايښې وه او شاه شجاع هم د پخوا په شان د هرات په حکومت مغه مقرر کړی وو او د شاه محمود د آينده اعمالو ضمانت يې هم کړی وو نو شاه شجاع بېرته وګرځېد او په (۱۸۰۹م) کې د کشمير د چارو د سمون د پاره پېښور ته لاړ او د شهزاده منصور په مشرتابه يې (۱۲) زره لښکر يې کشمير ته ولېږل او د شهزاده سر محمد اکرم خان ——— امين الملک هم وو - دا وخت و چې د انګرېز نو لومړی سفير الفنستن د راجپوتانې نه د سند او ديره اوکوهاټ په لاره پېښور کې د شاه شجاع حضور ته راغی او د پېښور په بالاحصار کې د شاه شجاع حضور ته ورغی (الفنستن د افغانستان په باب کتاب ليکلی او ډېر معلومات يې راټول کړي دي) او دا هغه وخت وو چې د انګليسي دولت د زار روس او د فرانسې د ناپليون د اتحاد نه ويرېدلو چې په هند به حمله وکړي!!

د الفنستن هیئت په سند او ملتان کې هم ځینې معاهدې کړې وې او د دې مقصد د پاره د شاه شجاع حضور ته هم راغلی وو او په «۱۲» مارچ «۱۸۰۹م» کې سرهارډ فورډ انگریز ایران ته راغلی وو او د شاه قاجار سره یې معاهده کړه وه چې یو اروپائي ملك به هم نه پرېږدي چې د ایران په لاره تېر او په هند حمله وکړي الفنستن ډېرې تحفې توپک، تمانچې، آیینې او ساعت او زر دوزي بالاپوش او مزرځه د انگلستان د باد شاه له خوا شاه شجاع ته راوړي وو د الفنستن سره د خبرو او معاهدو د ښروید د پاره محمد اکرم خان امین الملك او ابوالحسن خزانه دار مقرر شوی وو چې په «۱۷» جون «۱۸۰۹م» کې لومړی وار د انگریزانو او د افغانستان د حکومت معاهده وشوه چې د انگریزانو د هند د دفاع مقصد یې پوره کولو- انگریزانو د شاه شجاع سره درې معاهدې کړې وې چې یوه هم دا د پېښور معاهده وه چې شاه شجاع د افغانستان رسمي باد شاه وو- او دویمه معاهده یې د لاهور وه چې شاه شجاع د غه وخت مخلوع او بې اختیاره شوی وو او درېیمه معاهده یې د قندهار وه چې شاه شجاع د انگریزانو د فوځې زور پلاس کې وو. او دې درې واړو معاهدو نه د انگریزانو چل او فریب په شرق کې په ښکاره څرگندیږي، او انگلیسي ابن الوقتي ترې ښه معلومیږي!!

د ا معاهده اوله معاهده په (۱۷) جون (۱۸۰۹م) کې په پېښور کې شوې وه او دوېمه معاهده په (۲۶) جون (۱۸۳۸م) کې په لاهور کې شوې وه او درېمه معاهده په قندهار کې په (۲۶) جون (۱۸۳۸م) کې شوې ده دا درې واړه معاهدې شاه شجاع د انګرېزانو سره کړې وې چې افغان ملت شاه شجاع ته د دغه معاهدو په ګناه په (۱۸۴۲م) کې د مرګ سزا ورکړه.[1]

شاه شجاع په پېښور کې چې لومړۍ معاهده د انګرېزي سفير الفنستن سره لاس لیک کوله د اغه وخت ورچې د شاه شجاع لښکر په کشمیر کې ماتې خوړلې وه. او په قندهار کې محمد عظم خان او میر عالم خان د شهزاده یونس نایبانو په خپل منځ کې سره اخته وو او میر عالم خان په پټه د شاه محمود او فتح خان سره جوړه کړې وه او د فراه نه یې د قندهار د ښیولو د پاره رابللي وو او هغوی را غلل او میر عالم خان سره د لښکره شاه محمود ته تسلیم شو او شهزاده اعظم پېښور ته وتښتېد شاه محمود په قندهار کې بیا د خپل سلطنت اعلان وکړ او د قندهار حکومت یې خپل ورور شهزاده ایوب ته ورسپاره چې اسدالله خان د فتح خان ورور یې نایب وو. او بیا پخپله او فتح خان کابل ته روان شو. د فتح خان د میر عالم خان سره ورانه او رقابت وو

---

(۱) د دغه معاهدو تفصیل په مسیر تاریخ (۳۹۷) کې تر (۳۹۹) پورې وګورئ.

نو میرعلم خان یې د شاه محمود په حکم بندي او بیا مړ کړ - او شاه محمود او وزیر فتح خان کابل ته وړ ړوان شو او کابل یې ونیولو او په شاه شجاع پسې پېښور ته وړ ړوان شو او شاه شجاع هم کابل ته وړ ړوان شو دا دواړه لښکرې د خوګیانو په سیمه کې سره مخامخ شوې نو د شاه شجاع لښکر ماتې وکړه او امین الملک محمد اکرم خان ووژل شو او د دې ماتې سبب د مدد خان خیانت و چې د شاه شجاع یو - جرنیل و او د کشمیر په جنګ کې هم ماتې کړې وه ؛ شاه شجاع چې پېښور ته ورسید خبر شو چې ابوالحسن خزانه دار او ملا جعفر د شاه شجاع کړې د اټک قلعې ته بیولې وې او جواهر او طلایې د ځان سره اخیستې او لاهور کې رنجیت سنګ ته ورغلي وې او دا خبر هم را ورسید چې شاه محمود جلال آباد ته راورسید او شهزاده کامران یې د پېښور نیولو ته را مقرر کړی دی نو شاه شجاع د پېښور نه کوهاټ او بنګښو ته او بیا نو د وجنوبي علاقو ته د لښکر د ټولولو د پاره ورغی - او لښکرې یې ټول کړې او په (۱۸۱۰م) کې یې بیا قندهار ونیولو - او نواب اسد خان او شهزاده ایوب کابل ته وتښتېدل - شاه محمود چې خبر شو د جلال آباد نه کابل ته بېرته وګرځېد - او کامران شهزاده پېښور لاندې کړ او د پېښور حکومت یې عطا محمد خان د مختار الدوله ځوی ته ورکړ او پخپله کابل ته راوګرځېد - شاه محمود په قندهار پسې لښکر وکړ او شاه شجاع ماتې وکړه او ودیرو

په لاره راولپنډۍ ته لاړ او په دې ډول د شاه شجاع سلطنت ختم شو
خو شاه شجاع په قرار نه وو او لاس او پښې خوځولې - او بیا یې څه
لښکر ټول کړه او په (۱۸۱۱م)، کې بیا قندهار ته راغی او د شاه محمود د
د لښکر سره یې جنګ جوړ کړه خو بیا مات شو او پېښور ته لاړ او
عطا محمد د کشمیر باغي والي شاه شجاع ونیوه او په کشمیر کې یې بندي
کړه په (۱۸۱۳م)، کې د شاه محمود او فتح خان لښکر او (۱۰) زره د
رنجیت سینګ امدادي لښکر د فتح خان په مشرتابه په کشمیر حمله
وکړه او په عطا محمد او کشمیر بریالی شو او کشمیر فتح خان لاندې
کړه او شاه شجاع یې د حکم چند د سکهانو د قوماندان پلاس
ورکړو - چې رنجیت سنګ ته یې وسپاري، شاه شجاع د رنجیت
سنګ پلاس ورغی او په لاهور کې یې بندي کړه او کړاوبه یې
چې کوه نور الماس ترې واخلي - خو رنجیت سنګ هرڅه وکړه چې
د کوه نور الماس تر لاسه کړي خو شاه شجاع د رنجیت سنګ د بند
نه په څه چل په (۱۸۱۵م) کې وتښتېده او بیا یې لښکر جوړ کړه
او په کشمیر یې حمله وکړه خو ماتې یې وخوړه او په (۱۸۱۶م) کې
لودهیانې ته ورغی او د انګریزانو په دام کې کېوت او بیا هغوی
د غه بد نصیبه مخلوع باد شاه د خپلو غرضونو د پاره استعمالاوه
چې آخر په (۱۸۳۸م)، کې درې ګوټې معاهده یعنې د لاهور د -
رنجیت سنګ او انګریزانو او شاه شجاع ګډ تړون یې پرې لاس

لیک کړه- او په (۱۷۳۹م)، کې دانګریزي لښکر په زور افغانستان ته راغی او په (۱۷۴۲م)، کې شاه شجاع د څلل دوست او ملګري انګریزي لښکرو سره د افغان غیرتي ملت د قهر په پنجه کې ورغی او سر یې وخوړ.

د شاه محمود دویم وار سلطنت

د (۱۷۰۹ میلادي نه تر ۱۷۱۸ میلادي) پورې

د شاه محمود دویم وار سلطنت چې د فتح خان په کومک جوړ شو نو داریې دوره یې هم بدل کړې شو اوس نه شاه شجاع په منځ کې وه او نه د فتح خان لکه (محمد اکرم خان امین الملک او شیر محمد خان مختار الدوله او میر عالم خان هم وژل شوي وه)، میدان سردار فتح خان او ورونو ته یې خالي شوی وه شاه محمود دارګ د ننه پټپله عیاشۍ اخته وه او وزیر فتح خان او ورونه یې په افغانستان مسلط شو فتح خان څلور ورونه د مملکت په څېنو ځایو ولایاتو حاکمان مقرر کړه لکه بلوچستان یې سردار رحمدل خان ته ورکړه د دې نه پس چې لقب د سردار او یا نواب چې یاد یږي نو مطلب به یې د فتح خان د کورنۍ غړي او محمد زیان وي، په قندهار یې

سردار پردل خان ؑ په پېښوړ یې سردار سلطان محمد خان (طلائي) په غزني یې سردار شېردل خان په بامیانو یې سردار کهندل خان مقرر کړه او نور ورونه یې لکه سردار محمد عظیم خان نواب جبار خان نواب ، اسد خان او سردار دوست محمد خان (چې وروسته امیر دوست محمد خان شو) د مرکز په اداره د خان سره پرېښودل او په کارونو یې مقرر کړه - چې وروسته محمد عظیم خان د کشمیر والي و ټاکل شو.

شهزاده کامران د شاه محمود ځوی د وزیر فتح خان د دې بې حده واك او اختیار د ډیر مخالف و وخو د پلار د رضا نه بې غیرې څه کولی شو؟ د وزیر فتح خان په مخکې یو ځل په کشمیر کې د عطا محمد خان حکومت پاتې وو !! او غوښتل یې چې داځل هم لری کړي نو پدې بهانه چې د کشمیر مالیه نه راځي په کشمیر پسې یې په ۱۲۱۸ (۱۸۱۲م) کې لښکر وکړو عطا محمد خان چې خبر شو نو هغه هم چټل لښکر تیار کړو او مقاومت یې وکړو ، وزیر فتح خان په دې وخت کې د رنجیت سنگ سره خبرې وکړې او فوځي کومک یې تر ې وغوښت او په بدل کې ورته د یوه برخه د کشمیر مالیه ومنله - د پنجاب سکهه حکومت (۱۰،۰۰۰) نفر لښکر د محکم چند قوماندان په مشرتابه کې ور کړه کشمیر لاندې کړی شو او د سردار فتح خان ورور محمد عظیم خان پرې حاکم مقرر شو . او پردو د افغانستان په

داخل کې د مداخلې موقع ورکړل د وزیر فتح خان په نامه دایی
تور داغ دی.

رنجیت سنګ موقع وموندله د کشمیر د الوګولو په وخت کې
په (۱۸۱۲م) کې یې د عطامحمدخان د ورور سره سازباز وکړو
او هغه د اټک جنګي قلعه د رنجیت سنګ حاکمانو ته وسپارله ـ
رنجیت سنګ په (۱۸۱۴م) کې په دې بهانه چې د کشمیر مالیه ده
ته نه راځي په کشمیر پسې لښکر وکړو خو سردار محمد عظیم خان ورته
سخته ماتې ورکړه او د سکهانو مشهور جرنیل منه سنګ په ـ
جنګ کې ووژل شو.

رنجیت سنګ د افغانستان د داخلي جنګونو او الوګولو نه ګټه
اخیسته په (۱۸۱۸م) کې سکهانو په ملتان حمله وکړه، مضفرخان د
ملتان افغاني حاکم شپږ میاشتې پوره مقاومت وکړه چې آخر ده او
د ده ځامن یې په جنګ کې مړه شو او د ده نور ځامن یې ونیول شو
او ملتان سکهانو لاندې کړو او د افغانستان نه هیڅ کومک هم
ملتان ته ونه رسیده ځکه چې شاه محمود او وزیر فتح خان په خپلو
منځو کې سره اخته وو.

فتح علي شاه قاجار د ایران باد شاه چې خراسان یې لا مخکې د
خپلې خولې نمړه کړی وو په (۱۸۱۶م) کې د هرات د نیولو د پاره لښکر
وکړو او حسن علي میرزا یې د فوځ سرلښکر وټاکلو، او د غوریان

قلعه یې ونیوله شهزاده فیروزالدین د کابل نه کومک وغوښت او
شاه محمود څه لښکر د وزیر فتح خان په مشرتابه د هرات د کومک
د پاره هرات ته ور ولیږلو وزیر فتح خان د خپلو ځینو ورونو لکه
پُردل خان، شیردل خان، کُهندل خان او دوست محمد خان هرات
ته ورغی خو مخکې له هغې چې د ایراني لښکر سره وجنګیږي شهزاده
فیروزالدین چې مخې ته یې راغلی و، بندي کړه او کُهندل خان
او دوست محمد خان یې د شپې د هرات ښار ته ور ولیږل هغوی
په ناڅاپي ډول ارګ ته ورننوتل او هراتي افسران (زینل خان
او حسن خان) یې ووژل او شهزاده قاسم (د شاه محمود زوم) یې
زخمي کړ او حاجي آغاجان د هرات وزیر او سردار عبدالرشید
یې اعدام کړه او بیا د شهزاده فیروزالدین حرم سرای ته ور
ننوتل او ټولې نقدې پیسې او جواهر او ګاڼې یې ضبط کړې او ویلی
شي چې دوست محمد خان پخپله لاس د شهزاده قاسم د ښځې (د
شاه محمود د لور نه) ګاڼې راټولې کړې. څه وخت چې وزیر فتح خان
ښار ته راغی نو په دوست محمد خان باندې د ځینو کارونو د کولو
له امله په قهر شو او څرګنده یې چې نه له هغه له دې امله چې
ځینې قیمتي جواهر چې پلاس ورغلي وو وړیده چې فتح خان یې ترې
واخلي د هرات نه وتښتید او کشمیر کې خپل ورور سردار محمد عظیم
خان ته ورغی خو وزیر فتح خان عظیم خان ته د دوست محمد خان

دبې اعتدالیو ولیکل او عظیم خان د دوست محمد خان دکوه ملران په
بندي خانه کې بندي کړه. وزیر فتح خان فیروز الدین د شاه محمود
ورور د هرات حاکم سره دکډو بندي کابل کې شاه محمود ته واستولو
او پخپله د لښکر سره د ایرانیانو مقابلې ته ورووتلو او آن تر اوسنۍ
اسلام قلعه پورې وځغلول او سره د دې چې څه زخمي شوی هم وو
خو د دښمنانو یې په کهسان کې هم مات کړه او تر مشهده په تېښته-
لاړل - وزیر فتح خان د فیروز الدین د شاه محمود د ورور سره چې څه
وکړه هغه په مملکت کې د عمومي بد امنۍ او الغاو تلغاو سبب شوه
وخت چې شاه محمود د دې حالې او د هرات د وضعیت نه خبر شو
نو په شمسي کال (۱۸۱۷م) کې شهزاده کامران د هرات د چارو د
سمون د پاره ور ولېږلو چې د هرات حکومت د خپل تره فیروز الدین
په ځای ترلاسه کړي. شهزاده کامران د وزیر فتح خان د ډېر زیات
اقتدار له کبله زړه خوړینی وو څه وخت چې وزیر فتح خان د ده
د استقبال د پاره د کامران دربار ته راغی شهزاده کامران دی بندي
او ړوند کړه د فتح خان ورونه چې خبر شول له هراته وتښتېدل او
هر چېرته یې د وزیر فتح خان بند او ړندول بهانه کړه او د خپل
نفوذ لاندې علاقو کې یې په بغاوتونو پیل وکړو او په افغا-
نستان کې د خانه جنګۍ اور بل شو سردار محمد عظیم خان د فتح خان
مشر ورور چې په کشمیر کې وو هغه هم څه لښکر راټول کړه او دوست

محمدخان یې له بنده خوشې کړه او د لښکر مشري یې ورکړه او کابل ته یې ور ولیږلو. سردار پردل خان د فتح خان بل ورور هم په قندهار لښکر وکړه او سردار گل محمد خان چې په قندهار کې د شاه محمود حاکم وو، د قندهار نه هرات ته وتښتېده. شاه محمود خپل نمسی جهانگیر په کابل کې پرېښود او عطا محمد د کشمیر پخوانی والي یې ورسره د وزیر په حیث مقرر کړه او پخپله غزني ته روان شو او کامران هم د هرات نه غزني ته راروان وو. سردار یار محمد خان او سردار دوست محمد خان چې څه وخت پېښور ته راغلل نو شهزاده ایوب سدوزی یې هلته بادشاه کړه سردار محمد عظیم خان لا مخکې فراري شاه شجاع د بادشاه کېدو د پاره رابللی وو او لیک یې ورلیږلی وو. څه وخت چې دوست محمد خان کابل ته ورسېد نو د کابل والي شهزاده جهانگیر ماتې وکړه او غزني ته وتښتېد او وزیر یې عطا محمد دوست محمد خان پلاس ورغی او ړوند یې کړه او دوست محمد په کابل کې د خپل لښکرخای وټاکه سردار محمد عظیم خان هم د کشمیر نه پېښور ته راغی او شاه شجاع هم هلته راغلی وو او بیا یې خپل سلطنت جوړ کړی وو خو سردار محمد عظیم خان د خپلو وعدو په خلاف هغه د پېښور نه تېښتې ته مجبور کړه او شکارپور ته لاړ او پېښور سردار عظیم خان لاندې کړه. شاه محمود او شهزاده کامران د غزني نه کابل ته راروان شو چې فتح خان هم ورسره وو او په

لاړه سید اباد د وردکو کې ورونه فتح خان ته وویلې چې خپل ورونه
په قرار کړه فتح خان وویل چې زه ورونه سره یم زما د لاسه څه
کیږي ؟ او څنګه ورونه په قرار ولی شم ؟
په دې وینا شاه محمود په قهر شو او فتح خان یې هم هلته وواژه
«خلک وایي او ځینې مورخین لیکي لکه سید شمس کاکاخېل د پښتنو د
تاریخ په ۲۸۸ پاڼه کې لیکلي دي چې لومړی د توري گذار پرې ځپله شاه
محمود وکړ او بیا شهزاده کامران او نورو افسرانو په تورو و
وهلو او ویې واژه.» خو د کابل چهار آسیاب چې شاه محمود ته و
رسید نو خبر ورته راغی چې قندهار سردار شیردل خان، کُندل خان
او پردل خان وینوه نو د شاه محمود د هرات سره یې رابطه قطع
شوه نو هم واخیست له هغه ځایه د قلات او ده راود په لار
هرات ته لاړ - هرات ته راغي د شاه محمود پلاس کې شو او نور افغا
نستان د وزیر فتح خان د ورونو پلاس ورغی او ابدالي دولت
په افغانستان کې له منځه لاړ او شهزاده فیروز الدین هم ایران ته
لاړ او هلته پناه گزین شو او د (۱۸۱۸م) کال و او ابدالي سلطنت
د یو شهزاده نشین په حیث ترټیټی ترټیټی شو او یواځې د هرات په قالب
کې پاتې وو چې د کال (۱۸۶۳م) پورې یې دوام وکړ چې د میمنې
او فراه او د هزارجات د ځینو برخو پورې هم ورغزېدلې وو،
خو د شاه محمود هرات ته بېرته د ورتللو نه پس د هرات اداره په

ډېر زړور شهزاده کامران پلار کي وينيو شاه محمود چي د اکار وليد او کامران په هرات کي زړور وو نو له هراته نه ووت او د ـ باندي يې د ايماقو خلکو نه يو لښکر جوړ کړه او په هرات ور وګرځيد او هرات يې قلا بند کړه خو په (۱۸۲۰ م) کي شاه محمود د خپل ځوي کامران په مقابل کي مات شو، مګر بيا يې په (۱۸۲۱ م) کي شاه محمود په هرات حمله وکړه خو د ولس خلك په منځ کي شو او دځوي او پلار جوړه يې په دې وکړه چي پلار يعني شاه محمود به باد شاه او ځوی کامران به يې وزير وي. دا فيصله د واړه خواو ومنله د دې نه پس شاه محمود بس په عش او عشرت ونښت او د بنځو سره يې سروکار وو او د سياسي چارو ته يې هيڅ توجه هم نه وه او کامران په مستقل ډول حکومت کولو ـ په (۱۸۲۲ م) کي شهزاده فيروز الدين چي ايران ته د پناه ګزين په ډول ورغلی وو د تايمني قليچ خان په واسطه او د قاجاري ايراني حکومت په مرسته يې په هرات حمله وکړه او د کامران قوت يې دري ميا شتي مدافعه وکړه او په يو لسم جنګ کي قليچ خان په ميدان جنګ کي ووژل شو او فيروز الدين بندي و نيول شو قاجاري دولت مجبور شو او د څه پيسو اخيستلو په بدل کي صلحه وکړه او ايراني لښکر بېرته په شا وګرځېده او شهزاده کامران بيا د فراه د نيولو په فکر کي شو چي دا ولايت قندهاري سردارانو ته تسليم شوی وو کامران د فراه ولايت د لښکر په زور بيا ونيو. خو په هرات کي ـ

فیروزالدین محمد حسین حاکم او مصطفیٰ د هرات قوماندان پاخون وکړ، و
او (۲۳) کلن جهانګیر د کامران ځوی یې په هرات کې رئیس کړ و شاه
محمود لا په ارګ کې د بادشاه په حیث موجود و، او چنل شراب او کباب
خوړل، محمد حسین او مصطفیٰ زر جهانګیر هم بندي کړ او په ځېلو منځو کې
سر اخته شول او محمد حسین شهزاده فیروزالدین د بند نه راخلاص کړ
او په هرات کې رئیس کړ او مصطفیٰ شاه محمود را وویست او د علم
ابیورغ، د لاندې یې ودراوه او جګړه جوړه شوه چې (۱۸) ورځې اوږده
شوه له هرې خوا ګولۍ وریدلې - اخر محمد حسین او فیروزالدین مات -
شو او د هرات نه مشهد ته وتښتېدل او کامران چې د فراه نه را
وګرځید نو د مصطفیٰ د دفاع سره مخامخ شو او بېرته وګرځید مصطفیٰ
د قندهار د حاکم شیردل خان یوه حمله په شا وټمبوله، او په ځیله مستقل
واکدار شو، خو د هرات خلکو کامران د ځینو وجوهاتو له کبله لکه میړانه
او زړه ورتوب په نورو امراوو مرجح ګاڼه نو را پاڅېدل او مصطفیٰ
یې د لس زره لښکره سره په ارګ کې قلابند کړ او شهزاده کامران
ته یې د هرات د راتللو بلنه ورکړه، کامران راغی مصطفیٰ مغلوب شو او
بندي او اعدام شو او د شاه محمود نه یې شراب منع کړه او چنل بانګي -
ځوی جهانګیر هم بندي کړه په دې وخت کې د فراه خلکو چې د هرات
دارې ګړې وا وریدل نو خان یې بېرته په قندهار پورې وتاړه -
خو کامران د لښکر په زور بیا فراه د هرات پورې وتړله؛

په ۱۸۲۹ م، کې شاه محمود په خپل تشناب «غسل خانه» کې مړ وموندل
شو، خلک وایي چې وژل شوی وو، له دې نه پس کامران د ابدالیانو
د مستقل باد شاه په حیث د خپلې باد شاهۍ اعلان وکړ او د کامران ـ
وزیر عطا محمد خان الکوزی وو چې په ۱۸۳۰ م، کې مړ شو او په ځای
یې یار محمد خان د عبدالله خان الکوزي ځوی د کامران وزیر شو ـ او دا
ډیر لایق او په کار پوه شخص وو او د هرات په اداري او نظامي
چارو کې یې ښه بدلونونه وکړه خو د قاجاري دولت باد شاه ـ
محمد شاه چې د فتح علي شاه په ځای ناست وو د روسانو د تزاري
په لمسون په هرات د زور او فوځ په زور چې اروپائي افسران
هم پکې وو، په ۱۸۳۷ م کال حمله وکړه دا داسې وخت وو چې ـ
انګریزانو هم د شرق له خوا په افغانستان د حملې کولو تیاری کولې
او د افغانستان له هرې خوا نه د مرګ ترطیبي کېدلې ـ ابدالي دولت
له منځه تللی وو او په مملکت کې ملوک الطوایفي د ول محلي حکومتونه
وو (محمدزو ورونو، زور او ر د ښمنان لکه انګریزان او د سکهانو
د پنجاب دولت جوړ کړی وو او د وطن والا نو سره په لاښو اخته ول
ځکه چې روسانو او انګلیسیانو د واړو په پنجاب او افغانستان
او ایران کې قوي حکومت نه غوښتلو چې د دوی د منافعو سره ټکر
وکړي ـ محمد شاه قاجار د (۳۶) زره قوي لښکر په زور د روس
د تزاري دولت په لمسون په افغانستان حمله وکړه او څه وخت چې

د افغانستان برید ته ایرانیان ور سپېدل فولبنکې (۴۰) زره ته
رسېدلي وو، او په دې لښکر کې اروپايي قوماندانان هم وو چې عبارت
وو د لفټنټ کرنل بلارم برګ د انجنيري افسر مخکې چې د روس د
سفارت غړی وو او جنرال بوروفسکي او کرنل سمينوف روسي
وو، د ايران نظامي قوه د مستخدمينو په نوم وه، او سارجن سمسن
او يو تن پولينډي افسر د پروسکي په نوم پکې هم وه او ايراني
افسران پکې سپه سالار محمد ولي خان او شهزاده محمد رضا او شهزاده
علي قلي ميرزا او سلطان محمد ميرزا او شهزاده بوحسن ميرزا، فرخ غفاري
سکندر قاجار، جعفرقُلي سالار، مُحب علي جنرال، عبدالله ياور،
جعفر سرهنګ، شېرخان او احمدبېګ او نور پکې وو- د ايران
د دې زورور لښکر په مقابل کې يواځې د افغانستان يو ولايت
او د يو ښار هرات (۶) زره لښکر وو او بس نو څه نه وو او
د قندهار سردارانو هم د ايران پلوي کوله او سردار عُمرخان د کندل
خان ځوی د څلورزره سورو سره د ايران په مرسته هرات ته
ورلېږلي شوي وو- چې هغه فراه او اسفزار د کامران د ځوی جلال-
الدّين نه لاندې کړه او سردار دوست محمد خان د کابل نه د ايران
دولت د هرات د نيولو کار ته تشويقولو- او سردار شمس الدّين
د هرات نه وتښتېد او ايرانيانو ته ورغی سره د دې چې د شهزاده-
کامران خپل اوښی وو، داحال صرف د سردارانو وو او نور ملت

د خپلې ملي آزادۍ په جذبه ولاړ وو. د روس سفير په ايران کې او روسي قونسل په قندهار کې د دې اوضاعو نه ښه خبر وو او استفاده يې ترې کوله. انګريزان په دې وخت کې د ايران د لښکر نه چې د روس په لمسه په افغانستان ورغلي وو ځينې نښوکولي فورواځې برنس او مستر ليچ يې د کابل نه قندهار ته ور وليږل او غوښتل يې چې انګريزان هم د روس په مقابل کې افغانستان ته ور متوجې شي. افغانستان په دې وخت کې د جرندې د دوو پلونو په منځ کې واقع وو په هغې وخت کې د افغاني ولس حيرانونکي طبعي استعداد او د مبارزې قوت په آسيا کې ظهور وکړ او دلوی خدای جَلّ جَلالُهُ په فضل د اغيرتي ملت د دې مرحلې نه هم بريالی ووت:

محمد شاه قاجار په (۱۸۳۷م) کې د کال په اواخرو کې د افغاني سرحد نه را تير شو او په فوځي زور يې د غوريان قلعه ونيوه او د يار محمد خان ورور شير محمد خان يې بندی کړه او ايراني افسر الله يار خان صيف الله د (۱۲) زره فوځ سره د هرات د علاقې آن تر ميمنې پورې د نيولو په کار مامور شو او پخپله محمد شاه په (۲۳) نومبر (۱۸۳۷م) کال کې د هرات محاصره وکړه او دې قلابندۍ آن تر (۸) د سمبر (۱۸۳۸م) کاله پورې دوام وکړ. او په دې موده کې ايرانيانو د هرات چار چاپيره تقريباً (۳۰) کيلو متره علاقه تالا ترغه کړه او برباد يې کړه او د هرات په ښار کې د ننه هم د ايران توپخانې، بانا رونه، سراپونه او کورونه ورانې

کړي وو او په ښارکې د ډېر قحطۍ له غلې وه او په ټولو ښارو بندیانو
د ایران حکومت امر کړی وو چې هر یو دې (۲۵۱) نفر روپۍ تحویل
کړي نو هله به خلاص شي په دې حال کې یو افغان بندي پیرمحمد شاه
په خنجر حمله وکړه خو کامیاب نه شو نو محمد شاه قاجار د ټولو بندیانو
د مرګ او اعدام حکم وکړ. د ښار څخه په هرات کې څه خوراک
نه وو نو وزیر یارمحمد خان ښځو او زړو ته اجازه ورکړه چې له ښاره
ووځي او څو زره غیرجنګي خلک له ښاره ووتل خو محمد شاه هغه ټول
خراسان ته تبعید کړه او هغه یې ایران ته ولیږل، افغانانو د پخوانی
ملي تکتیک په اساس یې په ګوریلا (داړو) شبخوني جنګو شروع
لاس پورې کړه او د شیرمحمد خان په مشرۍ د ایراني فوځ نه (۲۰۰)
آسونه وتښتول او بوی تلل او د شکیبان د کلي خلکو په تربت شیخ جام
کې د ایراني لښکر د اذوقې کاروان تالا کړو او په میمنه کې هم زړورو
ازبکو د اصف الدوله ایراني په لښکر حملې وکړې او ماتې ته یې مجبور
کړه او هزاره خلکو او جمشیدي قوم د اصف الدوله په شاتللو عسکرو ته
په لاره کې ډېر تاوانونه واړول او مضراب خان د میمنې حاکم شیرمحمد خان
هزاره او ز ماغان جمشیدي او د فیروزکوه شاه پسندخان او
خلیفه عبدالرحمن ترکمان سره د خپلو خپلو د لو د (۱۲) زره تنو په شمار
سره یو ځای شوي سواره او پیاده پکې وو او د ایراني دښمن په طرد
کولو او شړلو کې سره یو لاس شوه او علي قلي طوره د خوارزم حاکم

هم یو زر سواره راولیږل او د قندهار نه هم یو زر تنه د افغاني لښکر کومک ته راورسېدل د خوارزم د حاکم په کومکي لښکر او د قندهار ینه په راغلو کومکي ولو افغان قومي لښکر لا قوي شوا و ایراني لښکر یې په مخه واخیست خو په جنګ کې د قندهار خلک اکثره و وژل شو او محمد شاه امر وکړو چې د سړو نه یې کله منار جوړ کړی او یو تن یې پرېښ دی چې قندهار ته داخل ور سوي - د کرخ خلک چې د هرات د قحطۍ نه خبر شو نو یاغي شول او غله یې قوله کړه او هرات ته یې د د پرو تا وانو نو په بدل ورسوله او د اکار آن د جنګ د خلاصون پورې روان وو ر وسا نو وړه بیره کوله چې هرات دې زر ایرانیان ونیسي - محمد شاه د هرات په ښار دلوي حملې امر صادر کړه خو افغاني علماوو د ایرانیانو دې تیري ته ناجایز جنګ او افغاني مدافعینو ته مجاهدین او د دغوی جنګ ته یې د جهاد فتوا ورکړه افغانانو در وازې مېړنه کړې او افغانان په ایراني فوځ پسې ور ورغل او په ایراني لښکر کې یې ډېر د رېښه مرګ ژوبله وکړه او د پر لوی لوی افسران یې پکې ووژل او محمد شاه قاجار په شاتللو ته مجبور شو او الله نا کام وګرځېده او په لاره کې یې د - افغانانو کلي تالا ترغه کړه - په دې وخت کې د انګریزانو بحري لښکر هم د «خارک» جزیرې ته راورسېدلي وو د ایران په ماتې افغانانو پوځل بیا د اثابته کړه چې افغانان خپله آزادي او استقلال

ساتلی شي او پردي متجاوزو سره د زور او قوت په خپله خاوره کې نه مني او آخر یې ماتوي. د هرات دې د دفاع ته د دنیا خلکو په وسطي آسیا کې د افغانانو د اوږد نظامي شهکار ګڼلو او انګریزانو ترې دخپلې ګټې د پاره سیاسي داستانونه جوړ کړه چې د الوی کار یې د خپلې پالیسۍ او تدبیر نتیجه ښودله، خو نه! دا محض د افغانانو د خپلو بې مثالو قربانو برکت و چې پردي ایراني لښکري یې ماتې ته مجبور کړه. او وروسته یې انګریزانو ته هم په خپلو جنګونو کې درس ورکړه. افغانانو په (۱۸) اتلسمه پیړۍ کې تل د ایرانیانو په مقابل کې دوستانه او بې طرفانه رویش اختیار کړی و او په خصوص کاله کې یعنې (۱۸۰۶م) نه تر (۱۸۵۶م) پورې یوا افغاني حکومت هم د ایران په داخلي چارو کې څه ګرځې نه دي وهلي او ایرانیانو اته وارې په افغانانو نظامي تجاوزونه او تیري کړي دي او بېرته په ماتې تللي دي.

د افغان او انګلیس د لومړي جنګ په وخت کې چې وزیر یار محمد خان ولیدل چې انګریزانو په افغانستان حمله وکړه او شاه شجاع ورسره ملګری دی له دې وېرې نه یې چې شهزاده کامران د شاه محمود زوی او د شاه شجاع وراره دی چېرته د انګریزانو سره جوړه ونکړي او هرات ورته ونه سپاري شهزاده کامران یې لومړی بندي او بیا یې په (۱۸۴۲م) کې ووژلو او د ا مېرف وزیر یار محمد خان هم هغه وخت

چې د قندهاري سردارانو سره یې جګړه وه او سردار شیرعلي خان ته یې ماتې ورکړې وه په (۱۲۶۷هـ.ق) او (۱۸۵۰م) کې نا روغه شو او هرات ته راستون شو او په رباط میرکې وفات شو او په هرات کې د جامي د مقبرې سره ښخ کړی شو او په هرات یې حوزه۔
سعید محمد خان حاکم شو خو هغه د کار سړی نه وو او د حکومت ۔ لیاقت یې نه درلوده نو خلکو سردار کهندل خان د قندهار نه را وغوښت هغه راغی فراه او اسفزاري هم ونیول او هرات ته را ورسیده خو د ایران حکومت مداخله وکړه او د یار محمد خان وزیر د حوزې پلوي یې وکړه او فوځونه یې هرات ته را ولیږل د قندهار سردارانو کهندل خان او ورورونو یې د ایران سره د ښخوالي د وسقه پت ساته یې له جنګ او جګړې یې هرات پریښوده او قندهار ته لاړه او هرات بیا سعید محمد خان پلاس ورغی خو د خلکو دی خوښ نه وو سعید محمد خان د ایران لښکر پرځه ولیږلو خو خلک راپاڅیدل او نایب عیسی خان شهزاده یوسف ابدالي د سردار قاسم حوزې د فیروز الدین نمسی یې د مشهد نه را وغوښت او په (۱۸۵۵م) کې یې هغه د هرات حاکم کړو او سعید محمد خان یې اعدام کړو او ایران بیا د سعید محمد خان د انتقام اخیستو په بهانه هرات ته لښکر وکړو نایب عیسی خان د امیر دوست محمد خان او کابل نه امداد او کومک وغوښت خو هغه هم د خپلو قندهاري ورورونو په شان

د کومک نه ورېده وکړه نو نایب عیسیٰ خان لاچار شو او شهزاده یوسف یې د ایران لښکر ته د صلحې د پاره ور ولېږلو خو ایراني قوماندان مراد میرزا شهزاده یوسف ووژلو او د هرات محاصره یې نوره هم پسې ټینګه کړه عیسیٰ خان هم ټینګ نه شو او ایرانیانو ته تسلیم شو او مراد میرزا هغه هم په تګه ووژلو او هرات یې ونیولو خو چې وای وربدل چې د انګرېزانو بحریه بوشهر ته را ورسېدله نو په منډه یې هرات پرېښوده او ایران ته وګرځېده - سردار سلطان احمد خان د سردار محمد عظیم خان ځوی د امیر دوست محمد خان - وراره او زوم، چې د افغان او انګلیس د لومړي جنګ نه وروسته د دوست محمد خان نه خفه شوی وو او ایران ته تللی وو او ایران کې او سېده هغه د ایران د حکومت په صلا راغی او د هرات حکومت یې پلاس کې واخیست چې د (۱۸۵۶م) نه تر (۱۸۶۲م) پورې هرات د هغه پلاس کې وو - د امیر دوست محمد خان د سلطان احمد خان حکومت په هرات کې خوښ نه وو نو د فراه حاکم محمد شریف خان ته یې امر وکړو چې په هرات پسې لښکر وکړي محمد شریف لښکر وکړو او غور او سلغر یې لاندې کړو خو سردار سلطان احمد خان ور ته ټینګ شو او مخ په فراه ورغی او په (۱۸۶۱م) کې سلطان احمد خان د فراه ولایت هم ونیولو، امیر دوست محمد خان چې خبر شو نو زر یې په هرات پسې لښکر وکړو سلطان احمد خان هرات ته بېرته را

ستون شو او په هرات کې یې د قلابندۍ تعبیه وکړه امیر دوست محمد خان راغی او په کال (۱۸۶۲م) کې هرات قلابند کړ خو په دغه وخت کې لوړی د سلطان احمدخان ښځه او بیا دی هم وروسته مړ شوه او په گازرگاه شریف کې ښخ کړی شو د هغوی د تدفین په ورځ د جنگ متارکه او صلحه وشوه چې مړی ښخ شو نو بیا په جنگ ورود سلطان احمدخان د مرگ نه پس یې ځوی شهنوازخان په هرات حاکم وو او د امیر دوست محمد خان سره جنگېده خو آخر امیر دوست محمد خان هرات فتح کړ او شهنوازخان بندي شو او شپږ ورځې پس پسې امیر دوست محمد خان هم وفات شو او په هرات کې ښخ کړی شو.

دابدالي دولت په وخت کې دافغانستان تولنیز حال

د لوی احمد شاه بابا او تیمورشاه په زمانه کې ۱۴۵۱کاله دافغانستان کې نسبتاً څه آرامي او امنیت وو او د افغانستان مرکزیت هم پیدا کړی وو او تجارت او زراعت هم وده کړې وه او علم او فرهنگ هم په پخواني زاړه اساس د څه نه څه خو وو او په مدرسو کې به په زاړه اساس درس او تدریس کېدلو چې د اغطاط د دورې یادگار وو، په دغه وخت کې په نوره دنیا کې برق او بخار او

چاپ خانې پيدا شوې وې او نوی انکشاف منځ ته راغلی وو او د انسانانو په ژوندکې ډېر بدلونونه شوي وو خو د زمان شاه په وخت کې بيا په افغانستان کې فيوډالي جګړونه پيل شو نو نور انکشاف لاځه کوې چې زاړه سياسي او علمي او اقتصادي مؤسسات هم د منځ نه لاړل او د انحطاط او تنزل دوره راغله او افغانستان په ۱۹ قرن کې د اروپايي قومونه څه کوې چې د آسيايي قومونو نه هم ډېر وروسته پاتې شو او په شلم قرن کې هم افغانستان د وروسته پاتې قومونو نه يوه نمونه وه چې په ټوله دنيا کې موجوده وه.

په افغانستان کې د انګليسي دولت سياست

انګليس:

د انګلستان اقليم يخ او نمجن دی د خلکو احتياجات ډېر دي. او په تنګسه کې دي. لومړی «سلتيان» او بيا جرمنيان او سکانډوناويان ورته راغلل انګلستان د اوسپنې او د اوړګتي د کانونو مهم مملکت دی او سيد ونکو به يې تر ۱۵ قرنه پورې په بحر شمال کې د خلکو او تولو تامونو کشتۍ لوټلې - ورو ورو په تجارت ونښتل او صنعت ته

يې هم پام شو- انګليسان عملي خلک دي او رياليست، واقعيت بين، دي او سوړ او غمجن طبيعت لري بلکه چې هوښيارانو او عالمانو د اروپايي قومونو په باب ويلي دي : د انګليسانو غايه (مطلب، حسن، ښکلا) نه ده بلکه «حقيقت دی» او د حقيقت معنی هغوی ته هغه څه دي چې د دوی په ګټه وي. انګرېزان د قوت او قدرت ډېر خواهشمند او مننانه دي او کاراو ليټون د قدرت د حصول د پاره د دوی هدف دی څکه چې دوی ښ وند محض لوبونې نه ګڼي بلکه جدي يې بولي. او د طبيعت د سختيو سره مجادله کوي- خو د کاميابۍ او دولتمندۍ- د پاره نور خواران او کمزوري سپکوي او شتمنه ترې اخلي د وی دوی په مقابل کې يخ او کبرجن دي خو په خپلو منځو کې او اجتماعي چارو کې د يو بل سره تعاون او تساوند کوي او انفرادي مناسباتو کې شريف او با ناموسه هم دي -خو حاکمه طبقه يې په بين المللي مناسباتو کې سنګدل، ظالم، بې زړه سويه، غولونکي او بې وفا دي د انګرېزانو دولت لږ وخت مجبور شوی چې د خپلې جزيرې نه د فاع وکړي څکه چې د بحر کمربند له دوی نه تاو دی او د ښمن ترې لرې منع کوي .

نو څکه بين المللي جنګونو کې د دوی ګډون د خپلې جزيرې او وطن د دفاع د ضرورت د پاره نه بلکه د حرص په غرض وي- او جهانګيري او دولت ګټه او شته غواړي څکه چې د دوی وايي خواري او فقر د دوی په نظر د جنايت او د نايت سره برابر دی او د ګناهونو سرچشمه

یې بولي او د شتمنیو د حصول دپاره ظلم او تېری او فریب مباح گڼي
د دوی کاریگرۍ او صنعت او تجارت د ملتونو د استهلاک او -
استثمار په لار کې د دوی لار ښود دی. د دوی په اتلسمه پېړۍ
کې په آسیا او افریقا او امریکا او استرالیا کې تېری او تجاوزونه
کړي دي او د ملتونو د استثمار دپاره د اعتدال د حدود نه ور
تېر شوي دي او میلیونونه خلک یې خوار او ناتوان او فقیران
کړي دي او غلامان یې ترې جوړ کړي او حکمراني یې پرې کړې ده
د ملکې الزابیتې په وخت کې به ویل شو چې ایرلنډیان باید د
لوږې مړه شي او دا د دنیا د خلکو عقیده ده چې انگرېزانو په
کاناډا کې سور نسل او نژاد ورک کړو او هندي هم ولوټلو
او تالا یې کړو. د انگلستان پارلمان «شورا» چې د اروپائي
پارلمانونو مور گڼلی شي څه وخت چې دا سکندریه د دوو
لکو اوسیدونکو ښار د انگرېزانو اردو بمبار کولو او څه وخت
چې د کابل بالاحصار انگرېزي لښکرو ورانولو او سېزلو نو د وی
پرې د اختر په شان خوشحالي کولې. د انگلستان فردي آزادي
او حکومتي متانت د صنعت ترقي او تجارت علمي او فلسفي ادبي
او هنري مخ تگونه څو په ټوله دنیا کې مشهور دی څو ورسره
د دوی زور او تېری هم د دنیا والو ته ښکاره دی.

هند ته د انګرېزانو راتلل

د انګرېزانو خپل تاريخ هم د جنګ او جګړو نه ډک دی هند ته لومړی وار پرتګاليان راغلي و وچې مرکز يې په ګوا کې وو بيا هالنډيان او بيا انګليسيان او فرانسويان او د ډنمارکيان هند ته راغلل خو انګرېزانو په (۱۶۰۰م) کې د شرق الهند کمپنۍ تشکيل او تاسيس کړه او په تجارتي بهانه هند ته راغلله او په سورت کې مرکز ونيوه او سورت د هند غربي ساحل ګڼل شي په (۱۶۱۴م) کې جيمز اول د انګلستان با د شاه يو خپل نماينده د «سر توماس رو» په نوم د مغلي بادشاه جهانګير دربار ته د سفير په توګه راوليږلو او د تجارتي ارتباط غوښتنه يې کړې وه.

په (۱۷۰۰م) کې انګرېزانو د «شرکت متحده هند شرقي» جوړکړو او د هند سره يې د تجارت د انحصار حق په لاس راوړ د انګرېزانو کمپنۍ په کال (۱۶۳۹م) کې مدراس د کرناټک د راجا چند راګيری نه په قيمت واخيست او د سنت جارج قلعه يې پکې جوړه کړه او د مدراس محلي استوګن خايونو ته يې په لومړي ځل د تور پوستکو ښار ويل پيل کړه او هلته يې د اروپايانو د نفوذ او امتياز اعلان يې وکړو په (۱۶۴۰م) کې د شاه جهان شهزاده بيګم په اور وسوله او د-

کمپنۍ د اکترانو هغه تداوي کړه او د هغې په بدل او حق الزحمه کې
يې د مغلي حکومت نه د ګنګا په خوله کې (هوګلي) واخيست او وروسته
يې نور درې ځايونه واخيستل چې د هغې نه يو کلکته وه. بمبيي
خو لا د غه وخت د پرتګال پلاس کې وه خو څه وخت چې چارلس دوم
انګريز چې د پرتګال د باد شاه د لور سره واده وکړو نو بمبيي ورته
په (١٦٦٢م) کې د پرتګال باد شاه په جهيز (ورکړی) کې ورکړه
شپږ کاله وروسته چارلس بمبيي په عوض د لس پونډو کې د کال
په اجاره کمپنۍ ته ورکړه په (١٦٤٠م) کې کمپنۍ په کلکته کې خپل
تجارتي مرکز پرانستلو - په (١٦٨٩م) کې له دې آمله چې کمپنۍ د
هند په داخلي چارو کې مداخله کړله د هند حکومت په کمپنۍ حمله
وکړه ځو تنه د کمپنۍ نه مړه شو او څه يې يرغمل وړ کړه او د بيا
د پاره يې وعده وکړه چې د هند په داخلي چارو کې به ګډون نه کوي
(سورت)، ترې وشړل شو او بمبيي محاصره او قلا بند شو نو کمپنۍ
تينګه معاهده وکړه چې د هند په داخل کې به بيا مداخله نه کوي
او صرف په تجارت به مشغول وي بل کال ته کمپنۍ په کلکته کې د
سنت ويليام قلعه جوړه کړه او په بنګال کې به يې هم محلي حکومت
ته د تجارتي ځايونو کرايه او اجاره ورکوله په دې وخت کې هالينډ
هم په هند کې تجارتي مرکزونه لرل او فرانسه هم په پانډيچري او
چندرانيګر کې تجارتي مرکزونه لرل او د انګليسانو او فرانسويانو

د تجارتي مرکز ونو رئیسان به د هغه ځای د گورنر په عنوان یادیدل. او دیوبل سره به رسیالی او رقابت کې وو. اوپس د (۱۷۴۴م) نه چې په اروپا او هند کې د فرانس او انگلیس جنگ جوړ شو او مدراس فرانسې فتح کړو او په (۱۷۴۸م) کې د دواړو حکومتونو صلحه وشوه او مدراس یې بیرته انگریزانو ته ورکړه. مشوه خو رقابت لا د دواړو په منځ کې پاتې وو چې آخر د انگریزانو په قطعي فتحه منتج شو. د انگلستان د کمپنۍ د تجارت انحصار په هند کې (۲۱۳) کاله عمر وکړو او بیا آزاده شوه او کمپنۍ عملاً بې رقیبه (بې سیاله) وه او آخر وکړی شوچې د تجارت د شکل نه د جهانگیرۍ په شکل کې را ښکاره شي په هغه وخت کې د هند حکومت فاسد او وران شوی وو او مملکت په خو برخو ویشل شوی وو مثلاً د اباسیند د چپې غاړې نه تر ستیلج پورې علاقه باندې (پنجاب او ملتان او کشمیر) باندې د افغانستان حکومت مسلط وو او په راجپوتانه باندې د راجپوتو راجه گان "قابض وو او په اوده باندې د شجاع الدوله حکومت وو او په بهار او بنگال خو د نواب علي وردي په قلمرو کې وو او منځنۍ هند د مرټه و په لاس کې وو او جنوبي هند د دکن د نظام په لاس کې وو چې د حکومت مرکز یې په دکن کې په حیدرآباد کې وو او د نظام د حکومت - په جنوب کې په میسور کې د مشهور سلطان حیدر علي حکومت وو،

او په شرق کې د کرناټک حکومت وو چې سربراه يې نورالدين وو.
په بنګاله داول رياستونه او محلي حکومتونه د بابري شهنشاهيت
تابع وو چې مرکز يې ډيلي وو او ځينې رياستونه يې آزاد او خپلواک
وو. د انګريزانو حاکمې طبقې چې دا د سرو زرو مرغه هند په
دې حال کې وليده نو ځان يې د هيڅ معاهدو او وعدو پابنده
ګڼلو او غوښتل يې چې دا د سرو زرو مرغه هر څنګه چې وي په
لاس کې راوړي او غلوښت ميلونه انګريزان په خلور سوه ميلونه
هندي ملت با داران او آغايان کړي. مدراس چې انګريزان ورته
راغلي وو او خپل تجارت يې له دغه ځايه شروع کړی وو د خپل
سياسي فعاليت مرکز يې هم مدراس کړ او سياسي فعاليت يې هم
له دغه ځايه پيل کړه. د بنګال باد شاه سراج الدوله چې دعلي وردي
په ځای ناست وو د هغه نه يو مامور تښتېدلی وو او کمپنۍ ته
يې پناه وړ وړې وه په (۱۷۵۶م) کې سراج الدوله د کمپنۍ نه خپل
مامور وغوښت خو کمپنۍ د سراج الدوله خواهش رد کړ او سراج الدوله
د کمپنۍ د اکار په خپل داخل کې ګوتې وهل وګڼل نو په کلکته يې
حمله وکړه او کلکته يې لاندې کړه او (۱۴۶) تنه انګريزان يې
هم بنديان کړه چې پرته د (۲۲) تنو نور په بندي خانه کې د خرابې
هوا له کبله مړه شو. انګريزانو خپل فوځ د اډميرال واټسن او کرنل
کلايو په مشرتابه په سراج الدوله پسې له مدراس نه ور وليږل

او آخر یې سراج الدوله ته ماتې ورکړه او علت یې دا وه چې د سراج الدوله یو صاحب کار میرجعفر چې خیانت یې وکړ، ورو دانګریزانو سره یو لاس شوي وو سراج الدوله مات شو او وتښتید شو او د میرصادق د میرجعفر د ځوی په حکم ووژل شو او مال دولت یې د کمپنۍ او میرجعفر په منځ کې سره وویش شو او میرجعفر د کلکتې خوا وشا زمکې انګریزانو ته ورکړې او په ځپله دانګریزانو تابع بادشاه شو، وروسته میرجعفر هم د پرنګیانو د رویش نه خفه شو د هالنډیانو سره یې جوړه وکړه او د پرنګیانو په ضد را پاڅېدل خو پرنګیانو میرجعفر او ملګري هالنډیان یې مات کړه او نوره ډېره زمکه یې په بنګال کې هم را لاندې کړه وروسته پرنګیان د میرقاسم د میرجعفر د ځوم (داماد) سره جوړه وکړه او میرجعفر یې د بنګال د تخت نه کوز کړه او جعفر یې د دغه په ځای کېناوه خو دری برخه زمکه د بنګال د بردوان، چیټاګانګ او مدناپور، د پرنګیانو کمپنۍ په پیسو واخیسته میرقاسم په دې کار ډېر خفه شو او د پرنګیانو جنګ ته را پاڅېده او انګریزي لښکر ته یې ماتې ورکړه پرنګیانو بیا جعفر میدان ته راوست او خلک یې د دغه د بیرغ لاندې د میرقاسم په خلاف پاڅول ـ میرقاسم د نواب شجاع الدوله د اوده د بادشاه او د شاه عالم (علي ګوهر) مغلي د دهلي بادشاه سره خبرې وکړې او د درې واړو یوه اتحادیه جوړه شوه او د پرنګیانو په مقابل کې را پاڅېدل خو په

(۱۷۶۴م) کې پرنګیانو اتحادیې ته ماتې ورکړه ځکه چې د پرنګیانو سره نارېنه وسلې وې او د هغوی سره نه وې - او د اتحادیې په منځ کې درځ راغی او بدګماني پیدا شوه او شجاع الدوله میرقاسم ونیوه او شته یې ترې ضبط کړه او د امداد په طمعه شجاع الدوله بنګښ نواب د فرخ آباد ته او بیا نورو افغاني سردارانو ته ورغی او پرنګیانو یې تعقیب کاوه - شاه عالم د ډهلي بادشاه چې د دې اتحادیې په حال ولیده نو د انګریزانو سره یې جوړه وکړه او بهار او اړیسه او بنګال یې د انګلستان بادشاه ته د کال په دوه نیم میلونو روپو معاش په بدل کې وبابښه او د دې قلمرو بادشاه کېناست او - انګریزانو د میرجعفرځوی برای نام په بنګال مقرر کړو او اصلاً پېسو انګریز ګورنر پکې واکدار وو - د اول حادثات په داسې وخت کې وشو چې احمد شاه بابا لا ژوندی وو او له دې نه درې کاله مخکې یې د ډهلي لاندې کړې وو پرنګیانو په چلو چلونو او نورو د هند اکثره برخې را لاندې کړې چې د هند په تاریخ پورې اړه لري او موږ د افغانستان متعلق تاریخ سره دلچسپي لرو او زموږ مُدعام داده اوس راځو هغه وخت ته چې پرنګیان پنجاب ته را ننوځي او د افغانستان سره یې مستقیم تماس پیدا کېږي.

په (۱۷۹۹م) کې زمان شاه افغان بادشاه پنجاب ته راغی او اراده یې درلوده چې هند ته د پرنګیانو د زورورتیاټې نه نجات ورکړي

او په لاهور کې یې د هندو مسلمانانو او سکهانو د اتحاد یې کوشش وکړ او رنجیت سنګ یې د پنجاب ګورنر مقرر کړ او زمانشاه بیرته کابل ته وګرځېد او سبب یې دا و چې د افغانستان په داخل کې ځه اغتشاشونه پیدا شوي و او پرنګیان د افغانستان نه په ویره کې وو نو ځکه واری یې پنجاب ته خپل نماینده ګان سره د تحفو لېږل د انګرېزانو لومړی نماینده منشي یوسف علي و او وروستی نماینده یې (چارلس متکاف) و او دا خبرې او واقعات د بوران امرنات د رنجیت سنګ سوانح نګار په خپل کتاب کې لیکلي دي او دا واقعات د (۱۸۰۰م کال نه واخله تر ۱۸۰۸م کال پورې) پېښې شوي دي انګرېزانو د سکهانو دولت ته په (۱۸۰۳م) کې (۴۰) نفره افسران ورکړه.

د رنجیت سنګ بادشاهي

کله چې انګرېزانو د سکهانو دولت ته (۴۰) نفره افسران ورکړه چې د سکهانو عسکر منظم کړي رنجیت سنګ د زمان شاه د سلطنت د مقام نه د خلع کېدو نه پس په خپله د پنجاب د بادشاه په حیث د استقلال اعلان وکړ او خپله سکه یې هم ضرب کړه. رنجیت سنګ (۱۲) کلن د پلار نه پاتې شو او د هغه جانشین شو او په (۱۷) کلنۍ کې خپله مور ووژله او په (۱۹) کلنۍ کې د پنجاب ګورنر د زمان شاه له خوا

مقرر شو- د زمانشاه د خلع نه پس افغانستان په خپلو منځني جګړو
او شورشونو اخته وو او پنجاب ته یې د توجه مجال نشو پیدا کولی
سکهانو (٨٠٠٠٠) نفر عسکري اردو چې (٣٢٠) توپونه یې هم لرل ترتیب
او تنظیم کړه. په (١٨٠٩م) کې شاه شجاع فراري او مخلوع باد شاه
د رنجیت سنګ سره ولیدل او په (١٨١٠م) کې شاه شجاع لاهور
ته ورغی. رنجیت سنګ چې د افغانستان د داخلي اوضاعو نه
خبر شو نو زړه ور شو نو په (١٨١٢م) کې د اټک قلعه د افغاني
حاکم نه ونیوله او په (١٨١٨م) کې ملتان او په (١٨١٩م) کې کشمیر
او په (١٨٢١م) کې ډیره غازي خان او اسمعیل خان د افغانستان نه
بیل کړه او ویې نیول دا دامې وخت وو چې شاه محمود او فتح خان
په غم اخته وو او خپل اقتدار یې له لاسه ورکړ او په افغانستان یو ډول
ملوک الطوایفي وه او د رنجیت سنګ د مخنیوي قدرت پکې نه وو
رنجیت سنګ ورځ په ورځ قوت پیدا کولو په (١٨٢٢م) کې د
فرانسې د ناپلیون د ماتې شوې اردو نه یو افسر لومړی ایران او
بیا کابل او وروسته پنجاب ته راغی او رنجیت سنګ دغه افسر
د څلورو غونډونو قوماندان او جرنیل مقرر کړو او په دغه قوت
رنجیت سنګ د اباسیند په ښي غاړه د پېښور علاقه تر لاندې کړه
د دې فرانسوي افسر نوم ونتورا وو چې په (١٨٢٢م) کې رنجیت سنګ
حضور ته راغلی وو- په (١٨٣٢م) کې د انګریزانو یرغلګر فوځ د

د سرکلو مارټین وید په مشرتابه د سند نه پنجاب ته راغی، رنجیت سنګ پخپله د ستلج په غاړه د هغه استقبال وکړه او امر یې وکړو چې د پنجاب فوځ دې ټول بسنتي زیړې جامې واغوندي. رنجیت سنګ مارټین وید د تلقین لاندې راغی او مارټین وید د رنجیت سنګ نه تر مرګه پورې بیل نشو، مارټین وید د افغانستان سخت دشمن وو او ډیر فسادي سړی وو او اخر په ۱۸۳۸ م، کې رنجیت سنګ د لاهور دربار جانبه معاهده چې د افغانستان مخلوع پاد شاه "شاه شجاع، رنجیت سنګ او انګریزانو په منځ" کې وشوه لاسلیک کړه.

د رنجیت سنګ مرګ

ورپسې زر د ۱۸۵۷ کلنی په عمر رنجیت سنګ مړ شو او ځوی یې کړک سنګ په پنجاب کې باد شاه شو خو هغه یو کال باد شاهي وکړه او په ۱۸۴۰م، کې مړ شو او ځوی نونهال سنګ یې په ځای کېناست خو په تخت باندې د کېناستو د پاره چې شاهي دربار ته ورتللو د دروازې منارې پرې را ولوېده او په سر یې ولګېده او مړ شو موریې (رانی چندرکور) ملکه او د کړک سنګ په تخت کېناستله خو خلور میاشتي دولم یې وکړه او بیا خپلو دربار یانو بندي کړه او په بند کې ووژله شوه او د رنجیت سنګ دویم ځوی شیر سنګ باد شاه شو خو د باد شاهي

په څلورم کال (۱۸۴۴م) کې هغه هم خپلو درباریانو (هیان سنګ وزیر
اجیت سنګ او ولهاسنګ) د لاهور نه د باندې په یوه تفریح ګاه کې و
وژلو - هیرا سنګ د شیر سنګ ځوی فوځ را وګرزاوه او د هیان سنګ او
او اجیت سنګ یې و وژلو، فوځ د رنجیت سنګ درېم ځوی دلیپ سنګ
باد شاه کړو او هیرا سنګ یې وزیر شو خو وروسته یې دا وزیر یې هم
مړ کړو او ځای یې لعل سنګ خزانه دار ته ورکړو - لعل سنګ تحریک شو
چې د سکهانو لښکر باید د ستلج نه پورې په هند حمله وکړي چې مصروف
وي او تاته یې پام نشي لعل سنګ هدغسې وکړه او لښکر یې په هند
پسې وکړو او په نومبر (۱۸۴۵م) کې د پنجاب لښکر د ستلج نه ور
پورې شو او انګریزانو دا موقع له خدایه غوښتله، دلارډ هارډ نګ
ګورنر جنرال انګلیسي لښکر یې مخې ته ودرېده په لومړي جنګ کې
یې د پنجاب د لښکر (۱۷) توپونه او په دوېم جنګ کې (۲۳) توپونه
سره د لعل سنګه لاندې کړه او په درېم جنګ کې (۵۰) توپونه تر یې
انګریزانو لاندې کړه او په څلورم جنګ کې مشهور د پنجاب جرنیل
شام سنګ هم و وژل شو او دا ټول جنګونه په دریو هفتو کې (په آخر
د ۱۸۴۵م، نه د ۱۸۴۶م) پورې وشو او د پنجاب مشهور لښکر ټول
درنه توپخانه او زرونه فوځیان د لاسه ورکړه د انګریزانو
لښکر لاهور ته راورسېد او چېل قدیمي دوست سکهو دولت ته یې
ماتې ورکړه او ټول پنجاب یې د ستلج او راوي سیندونو په منځ کې

د نیولو او د افغانستان مربوط کوهستاني علاقي چي سکهانو نیولي وې
را لاندي کړې - او ریذونټ او اسسټنټ ریذونټ پکي مقرکړه
او د پنجاب اداره انګریزانو په خپل لاس کي واخیسته او په افغاني -
خاوره پیښور او بنو او ډیرو کي هم جارج لارنس او هربرټ مقرر شو
چي وروسته هم داجارج لارنس د هند ګورنرجنرال وټاکلی شو، پنجاب
د جنګ دروند غرامات انګریزانو ته ورکړه او د انګریزانو لښکر په
پنجاب کي ډیره شوخو په دري کاله موده کي چي د انګریزانو سخت
حکومت چلولو نو په افغاني ولایتونو او پنجاب کي خلکو پاڅون وکړه
او په چیچ هزاره کي خلک پورته شو شیرسنګ هم خپلي لښکري راټولي
په ملتان کي هم دوه تنه انګریزان ووژل شو جارج لارنس چي د احال
ولید نو د خپلي ښځي سره په شاهدره کي د سردار سلطان محمد خان طلائي
ځای ته ورغی او هلته یې پناه واخیسته خو سردار سلطان محمد د وی
د واره سکهانو ته وسپارل خو سکهانو خپله کمزوري حس کړله نو د افغا
نستان د حکومت سره یې د سردار سلطان محمد خان په واسطه خبري -
پیل کړې او د امیر دوست محمد خان نه یې کومک وغوښت سلطان محمد خان
دوست محمد خان ته دا موضوع ولیکله او د ځواب په انتظار وو امیر
دوست محمد خان هم د افغانستان د خلکو نه ناچار شو چي غوښتل یې خپلي
ځمکي بیا تر لاسه کړي څه لښکري د پنځه زره تنو نه د سردار محمد اکرم خان
او سردار شمس الدین او سردار شاه دوله په مشرۍ کي د ګجرات جګړې

ته چې د اباسیند او جیلم په منځ کې ور ولېږل چې د سکهانو مرسته
وکړي - شېر سنګ او چتر سنګ د کرنل هربرټ د فوځونو سره مخامخ
ودرېږي مخکې په درېیو جنګونو کې په ملتان کې ګټې کړې وې په (۲۴)
فرورۍ ۱۸۴۹ م کې جنګ جوړ شو او د اکرم خان لښکر مات کړی
شو او شېر سنګ هم نه شو بایللی وو او په راولپنډۍ کې انګرېزانو
ته تسلیم شو انګرېزان د افغانانو او امیر دوست محمد خان نه په -
وېره کې وو خو خبر شو چې امیر دوست محمد خان د پېښور نه -
جلال آباد ته لاړ او میدان په ګټه د انګرېزانو پلاس کې ورغی او
لارډ دلهوزی د پنجاب په مستقل دولت د فتح اعلان وکړو او
دلیپ سنګ د رنجیت سنګ ځوی یې لندن ته تبعید کړ او په پنجاب
باندې لارنس د چیف کمشنر په حیث مقرر کړی شو او کشمیر خود
ګلاب سنګ په سازش لا مخکې د انګرېزانو لاس ته ورغلی وو
او د برطانیه عظمیٰ دولت د افغانستان شرقي ګاونډی شو چې د
افغانستان په تاریخ کې د انګرېزي سیاست او فعالیت د پروخراش
واقعات شته دی - او افغانستان سل کاله موده د پرنګیانو نه ډېر
کړاونه او مصیبتونه، جنګونه، مادي او معنوي تاوانونه ولیدل -
پرنګیانو یو پلو د افغانستان شرقي برخې ونیولې او د بله پلوه د ایران
د قاجاري دولت سره د افغانستان د غربي برخو د نیولو د پاره
سازشونه وکړل چې په نتیجه کې یې د خراسان ایالتونه له افغا

نستان نه بېل او ایراني قاجاري دولت د خپلې خاورې جز کړي.
افغانستان د هند په لار کې واقع وو هر زورګیر به چې د هند
د نیولو د پاره راروان شو نو لومړی به د افغانستان د آزادۍ
خواه ملت سره مخامخ شو او دې ملت به خپله توره او شهادت
او زړه ورتیا ورښودله، انګرېزانو د هند د ساتنې او د روس
د خطر نه د هند د دفاع په غرض د افغانستان سره خاصه دلچسپي
لرله او پټ او ښکاره یې دا کوشش وو چې د افغانستان حکومتونه
او افغاني موجودیت لرې کړي او افغانستان انګرېزان قبضه
او تصرف کړي او د روس وسانو مخنیوی وکړای شي د دې مقصد
د پاره انګرېزانو رنګارنګ نقشې جوړې کړې او ډېر سیاسي فعالیتونه
یې وکړل خو آخر یې د افغانستان د اشغال د پاره په (۱۸۳۹م)، کې لومړی
جنګ او (۱۸۷۸م)، کې دویم جنګ د افغانانو سره پیل شو چې په
دواړو جنګونو کې د پرنګیانو مغرور لښکر فوځ سره دنوړه او
قوت ماتې وکړه او د افغاني خاورې نه په ډېر ذلت او سپکاوي
وشړل او افغانانو د خپلې خاورې د تمامیت او ملي نوامیس پخپلو
په شاهرو قربانو وساتل او آخر په (۱۹۱۹م)، کې خپل ملي استقلال
هم له انګرېزانو نه واخیست د دې واقعاتو تفصیل او یاد د افغانستان
په ټولو معاصرو تاریخونو کې شته دی او د هر چا له او د تاریخ
د مینه والو له نظره به تېر شوي دي او بیا بیا یاد به یې ضروري

نه وي د لته او په دې کتاب کې موږ د افغاني ملت هغه ګرشادونه
او میړانې ښودلې چې په تېرو وختونو کې د زورواکو او ظالمانو
په مقابل کې کړې دي او هغه ظلمونه مو خلکو ته د ښکاره کړلو
کوشش کړی دی چې پردو زورګیرو ظالمانو په افغاني ملت
کړي دي او د دې ملت د اتحاد او ورکاوي کوشش کړی دی او دا
ملت د خپل قوت په زور له دغه بحرانونو نه وتلي دي او زمونږ
کوشش دا دی چې خلکو او د راتلونکو نسلونو ته دا وښایو چې افغانانو
یوازې په دې زمانه کې د روس د لوی جهاني طاقت سره جنګ نه دی
کړی او ماتې نه ده ورکړې ، بلکه هر کله او هر وخت یې د هر زورواکي
او زورګیر سره جګړې او جنګونه کړي دي او آخر بریالي شوي دي
او سنی تاریخي پېښې چې د دې زمانې د تاریخي مهمو پېښو نه دي
په غور وګوره چې سرو ساتو په (١٣٥٢ هـ.ش)، کې د داوُد خان په
واسطه په افغانستان کې خنګه توطیه او کودتا وکړه او بیا خنګه
پر دو سرو ساتو په (١٣٥٧ هـ.ش)، کې د نور محمد تره کي په واسطه
کې د تا وکړه او داوُد د منځ نه لاړ او سره د خپلې کورنۍ وړو
او غټو وژل شو او په (١٣٥٨ هـ.ش)، کې بیا نور محمد تره کی څنګه
د منځ نه لاړ او حفیظ الله امین اقتدار په لاس کې واخیست
په هغه کال (١٩٧٩ م)، کال کې په (٢٧)، د ستمبر په میاشت کې روسانو
ببرک کارمل چې د روسانو پلاس کې په ماسکو کې شوندکاوه کابل

ته راوست شو او حفیظ الله امین د منځ نه وړې شو او روسانو
په افغانستان فوځي هوائي یرغل وکړو او په افغانستان دخپل
فوځي قوت په زور مسلط شو او یولکو څلویښت (۱۴۰۰۰۰) زره
لږ و ډېر فوځ یې په افغانستان کې واچاوه او افغاني مسلمانان
هجرت کولو ته مجبور شو او څو میلونه افغانان له افغانستان نه
ووتل، درې میلونه په پاکستان کې ځای کړې شو او یو نیم
میلون مهاجر په ایران کې ځای کړې شو او نور اروپا، امریکا
او ځینې نورو مسلمانو ملکونو ته په هجرت لاړل او افغانانو
د روسانو سره په جګړو پیل وکړو او نهه (۹) کاله موده یې
د روسانو سره سخت جنګونه وکړه او پخپلو بې مثاله قربانیو یې آخر
روسان دې ته اړ کړه چې د افغانستان نه ووځي او د اپریل،
(۱۹۸۸م)، کال د جینوا معاهدې په بهانه کړه او د دغه کال د اګست
په میاشت کې د روس نیمایی فوځ له افغانستان نه ووتلو او د (۱۵)
فروري (۱۹۸۹م) کال پورې د روس ټول فوځ له افغانستان نه په
تللو او وتلو مجبور شو سره د دې چې (۲۰) زره پکې مړه او څو زره پکې
زخمي شو او د اکتر نجیب الله یې چې د ببرک کارمل د لرې کولو
نه پس د روسانو منځ ته راوستلی وو په واګه د مجاهدینو حملو ته
پرېښود، مجاهدینو په مارچ کې (۱۹۸۹م)، کې خپل عبوري حکومت
جوړ کړو او جناب صبغت الله مجددي د مملکت صدر او عبد رب رسول سیاف

د حکومت صدراعظم وټاکل شو - او د عبوري حکومت لومړی غونډه په افغانستان کې دېکتیا په ولایت کې په لسم د مارچ وکړه او په (۶) مارچ (۱۹۸۹م)، کې افغاني مجاهدینو په جلال آباد خپله حمله پیل کړه - او جنګ روان دی- موږ دا وروستني واقعات ځکه مختصر ولیکل چې دا واقعات د افغانستان د انګریزانو سره د لومړي جنګ او دویم جنګ او دریم د استقلال د ګټلو د جنګ قصې مفصلې زما په لیکلي کتاب (د افغانستان لنډ تاریخ)، کې او په "نولسمه پېړۍ کې د افغانی تاریخ څه برخه" زما په بل کتاب کې مفصلې راغلې دي، بناغلي لوستونکي دې لطفاً هغه ولولي او د نولونه وروستی برخه د روس سره جنګ چې کله د افغانستان دا جنګ خلاص شي او افغانان خپل هوډ ترسره کړي او په خپل وطن شي او خپل ملي او اسلامي حکومت جوړ کړي انشأالله نو او نور محترم لیکوال به دا برخه ولیکي او لوستونکو ته به مفصل مواد پلاس ورشي انشاالله په دې کتاب کې موږ د افغان ملت د تېرو زمانو د مجاهدو او مبارزو او پردو سره د مقابلو ذکر او یادکړی دی، له دې امله چې محترم لوستونکي پوه شي چې د تاریخ په اوږدو کې دې ننګیالي ملت د هر پردي زورګیر سره مقابله او مجادله کړې ده او اخر بریالي شوي دي، دا یواځې روس نه دی چې د افغان میړني ملت د جنګ جګړو سره مخامخ او زرونه عسکري تلف شوي دي، د هغې

زماني هر نړوال چې د افغانستان د بېولو فکر او خیال کړی دی
د سر په کاسه کې یې او به څکلي او بېرته ناکام په شاتللی دی
او د دې مسلمان افغان ملت د مېړانې قصې پاتې دي. موږ
خپله دالیکنه هدلته د افغان ملت د بقا او فتحې په دوعا بس
کوو. نَصْرٌ مِّنَ اللهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ

والسّلام.

۳۰ مارچ ۱۹۸۹م کال
۴۰ ج «سیال» مومند

مننه

دا به بې انصافي وي که زه د ټول اسلامي د ملي افغاني
تاریخ د ترتیب او تدوین په سلسله کې جناب فاضل عالم بې
ریا خوش خلق د پېر مهربان دوست مولانا فضل منان صاحب
د یو نیورستي بک ایجنسي مالک او منتظم هېر کوم د جناب
مولانا صاحب د فیضونو د کې ناستې پاستې په ماغونډې یو ې
مایه چا کې د پښتو د تاریخ لیکو په باب څه همت را پیدا کړ او
د غسې د ا نه کار ته چې زما د وسې نه پوره ته وو او نه ماځان او سن

او سال هم د اجازت نه کولو چې د ا د روند کار به څنګه وکړی شم؟ -
خو د لوی خدای جل جلاله په فضل او توفیق او د جناب مولانا فضل منان صاحب په ترغیب او تشویق ماغوندې یو کمزوري چا دومره د روند کار ته ملا وتړله او په هره مرحله کې د لیکوالو محترمو دوستانو نه د راهنمائي طمعه لرم او اُمید کوم چې ما به بیا هم نه پرېږدي او ما به په خپلو ګټورو مشورو سرفرازه کړي او زما په دې هڅه د غه لیکوبه تنقید نه برای تنقید - تنقید برای اصلاح وکړي او زما مټ به مضبوط او قوي کړي زماستړیګې به د درنو لیکوالو د مرستو پلو ته تل انتظار کې وي په آخر کې د خپل درانه عالم فاضل مشفق مهربان د پښتو د خدمت په لار کې فداکاره او سرباز مولانا فضل منان صاحب نه بیا بیا مننه کوم او د ده مینه او محبت به تل زما په زړه کې وي که خدای جل جلاله او هم د خطاط خان بهادر « سرچوال » څخه ډېره مننه کوم او د لوی خدای جل جلاله څخه یې د دنیا او آخرت کامیابي غواړم چې زما د کتاب په لیکو کې یې ډېر زحمت تېر کړی دی تل دې وي چې عالمان او علمپرستان یا وي.

دلته د رشید او شریف خوان رشید صاحب د مکتبه سرحد د منتظم اعلیٰ هم مشکور یم چې د کتاب په ترتیب کې یې ډېره مرسته او اسره کړې دي.

په ډېر احترام او درناوی
م.ج «سیال» مومند.
۱۹۸۹ع کال.